د افغانستان اسلامي جمهوريت
د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست

# فقه

## نهم ټولګی

## د ديني مدارسو لپاره




۱۳۹۸ هـ.ش

شرح مختصر القدوري-۳

کتاب‌های درسی مربوط وزارت معارف بوده، خرید و فروش
آن ممنوع است.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# فقه

## (قدوري- د جنایاتو برخه)

## نهم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)

۱۳۹۸هـ . ش.

## مؤلفان

- دکتور شیر علي ظریفي
- محمد عارف لودین

## علمي ایډیټ

- سید فاضل شاه
- حبیب الله فوزي
- مولوي خلیل الله فیروزي

## د ژبې ایډیټ

- فضل الله نیازی

## دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه

- پوهندوی عبدالله حاتم
- مولوي عین النعیم فیضي

## إشراف

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی	دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې	هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی	د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو	د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي	پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي	هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي	لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به	لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر	وایو الله اکبر وایو الله اکبر

# د پوهنې د وزير پيغام

الحمدالله رب العالمين والصلوة والسلام على نبيه و رسوله محمد و على أله و اصحابه اجمعين اما بعد:

د پوهنې تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هيواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختيا کې بنسټيز او ارزښتمن رول لري.

تعليمي نصاب بايد د وخت په تيريدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتياوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختيا ومومي.

د تعليمي نصاب په ډګر کې، چې د بيا کتلو لپاره ورته ډېره اړتيا موجوده ده، يو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقايد او د اسلام د سپېڅلي دين احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پيغام په توګه به د قيامت تر ورځې پورې د بشريت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاريخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعليماتو د سيستم په رامنځته کولو، پراختيا او بډاينه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعليمي نصاب په تدريجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارف او اسلامي علومو کې دقيقه مطالعه دا څرګندوي چې زموږ د تعليمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتياوو او د اسلام د دين له ثوابتو او طبيعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختيا موندلې ده.

زموږ ګران هيواد افغانستان د علمي ځلند تاريخ په درلودلو سره يو وخت د علم او زده کړې يو لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې يې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقايد، تفسير، حديث، فقه، د فقهي اصولو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ ددې وينا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ځپو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعليماتو د ځومره والي او څرنګوالي له مخې زيات بدلون موندلی او د هېواد کوچنيانو او ځوانانو په ډېره مينه او ليوالتيا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کيفي او کمي پراختيا او په هغې کې د اسلامي زده کړو نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هيواد د ډاډ وړ عالمانو، استادانو او نامتو ماهرينو ته بلنه ورکړې چې د تعليمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زياتې ګټې اخيستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د دود تعليمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونه له کمولو او زياتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه يې لا واضح او څرګند کړي او د فعاليتونو، ارزونو او مناسبو تمرينونو په زياتولو يې نور هم پسې بډای کړي.

هيله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هيواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستاينی وړ زيار د الله تعالی د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعليماتو په ودې او پراختيا کې ګټور پای ته ورسيږي.

وبالله توفيق

دکتور محمد ميرويس بلخي

د پوهنې وزير

## مقدمه

### ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!

د هېواد اوسنیو حالاتو او د دیني مدرسو اړتیاوو ته په پاملرنه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د معارف وزارت د ښوونیز نصاب عمومي ریاست دا ویتیله چې د مدرسو د متوسطه دورې د فقهې په مضمون کې د قدوري کتاب بنسټ وګرځول شي، په ملي ژبو د هغه ژباړه ترسره، د کتاب محتوا په لوستونو وویشل شي او د بغلي مناسبو عناوینو په ترڅ کې په لنډ ډول شرحه شي، څو له یو لوري هېوادوال باوري شي چې بچیان یې د حنفي فقهې یو معتمد متن لولي او له بل لوري زده کوونکو ته د حنفي فقهې مطالب د هغوی په خپله ژبه وړاندې شي، نو په دې توګه، به "اصالت" او "نوښت" دواړه په پام کې نیول شوي وي.

د مدرسو په متوسطه دوره کې د فقهې د مضمون له لوستلو څخه عمده هدف زده کوونکو ته د فقهې د اصطلاحاتو وروپېژندل، د فقهې له مهمو مسألو سره د هغوی آشنا کول او د فقهې د علم د عمومي جوړښت ورمعرفي کول دي، څو زده کوونکي د طهارت له باب څخه په پیل، د عباداتو، معاملاتو، شخصي احوالو، جنایاتو او مرافعاتو په بابونو باندې مرور وکړي، د فقهې په هر باب کې د ضروري زده کړو په تر لاسه کولو یې د مضمون مبادي په ذهن کې پاخه او په راتلونکې کې د پراخې مطالعې لپاره جوګه شي.

نو ځکه د شرحې په مهال کوښښ شوی څو یوازې د قدوري د متن خدمت وشي او د اړتیا په وخت په لنډه توګه د مسایلو دلیلونه بیان شي. نور مذاهب، د هغوی دلیلونه او بیا یې له حنفي مذهب سره پرتله د مدرسو د دې دورې له اهدافو څخه نه وو، نو د درسونو له اوږدوالي څخه د مخنیوي لپاره، دا څېزونه نه دي راوړل شوي.

د لیکنې په مهال د قدوري له مختلفو نسخو څخه کار اخیستل شوی، په لږو مواردو کې چې د نسخو تر منځ توپیر وو، د قدوري د شروحو لکه "الجوهرة" او "اللباب" په مرسته غوره نسخه انتخاب او شرحه شوې.

دا کتاب نه یوازې دا چې په مدرسو کې به د درسي نصاب په توګه لوستل کېږي بلکه- ان شاء الله- په کورونو او نورو علمي مرکزونو کې به د حنفي مذهب د باوري متن په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کېږي، ځکه زموږ په ملي ژبو دا کار یو بې ساری نوښت دی.

**یادونه**: ځرنګه چې له ډېره وخته را پدې خوا په نړۍ کې مریونه او وینځې شتون نه لري، نو د قدوري هغه متن چې په دې مسایلو راڅرخېږي، موږ له نصاب څخه حذف کړی، ځکه د هغو مسایلو په راوړلو، نور هغه موضوعات چې لومړی توب لري، له لوستلو څخه پاته کېږي.

درانه علماء او ګران لوستونکي که په کتاب کې له کومې علمي او یا فني خطا سره مخ کېږي، نو له موږ سره دې خپل وړاندیزونه او مشورې هرومرو شریکې کړي.

**د کتاب د تدریس لاره**: ځرنګه چې د کتاب حجم هغه ته د ټاکلي وخت په پرتله زیات دی نو ښاغلي ښوونکي به له پوره چمتو والي وروسته د ژباړې په مرسته د قدوري متن زده کوونکو ته ترجمه کوي.

کله چې زده کوونکو د کلماتو ژباړه زده کړه نو د درس واړه عنوانونه به په تخته لیکي او د شرحې مطابق به یې له کتاب څخه د باندې زده کوونکو ته بیانوي.

دکتاب پښتو برخه یوازې د مآخذ په توګه کارول کیږي، په تدریس کې ځانګړی وخت نه لري.

الله تعالی دې د دې کتاب مؤلفینو، مدرسینو او لوستونکو ته ستر اجر او د عمل توفیق وربه برخه کړي.

وباالله توفیق

# لړلیک

**سرليك** **پاڼه**


۱-جنايات........................................................۱
۲-قصاص........................................................۷
۳-د دياتو احکام................................................۱۴
٤-د سر زخمونه او نور مسايل..................................۲۰
٥-د ټول بدن زخمونه..........................................۲٤
٦-د پوال لوېدل، ټکر د جنین دیت او د قتل کفاره................۳۲
۷-قسامت......................................................۳٦
۸-عاقله........................................................٤۳
۹-حدود........................................................٤۷
۱۰-د زنا د حد بېلا بېل حکمونه.................................٥٥
۱۱-د شرب حد..................................................٦۲
۱۲-د قذف حد..................................................٦٦
۱۳-د غلا حد...................................................۷٤
۱٤-د غلا او لار شکونې حد.....................................۸٤
۱٥-شراب.......................................................۹۳
۱٦-د ښکار احکام...............................................۹٦
۱۷-ذبحې.......................................................۱۰٤
۱۸-قرباني.......................................................۱۱۱
۱۹-د قسم حکمونه (۱)..........................................۱۱۷
۲۰-د قسم حکمونه (۲)..........................................۱۲٥
۲۱-د قسم حکمونه (۳)..........................................۱۳۱
۲۲-په قسم کې وخت او زمانه ټاکل................................۱۳۷
۲۳-د دعوا کتاب.................................................۱٤۳
۲٤-دعوا (۲).....................................................۱٥۰
۲٥-دعوا (۳).....................................................۱٥٦
۲٦-د پلورونکي او پيرودونکي ترمنځ په بيه کې اختلاف..............۱٦٦
۲۷-د اجارې په اړه د مؤجر او مستاجر اختلاف......................۱۷٦

| سرليك | پاڼه |
|---|---|


۲۸-د شهادت کتاب.................................................. ۱۷۷
۲۹-د شهادت قبلېدل او نه قبلېدل.................................. ۱۸۲
۳۰-په شهادت باندې شهادت........................................ ۱۸۸
۳۱-د قضا اداب................................................... ۱۹۶
۳۲-یو ضاقي ته د بل قاضي لیک.................................... ۲۰۲
۳۳-د مالونو وېشلو احکام.......................................... ۲۱۰
۳٤-د ځمکې د وېشلو حکمونه...................................... ۲۱۷
۳٥-اکراه (۱)..................................................... ۲۲۳
۳٦-اکراه (۲)..................................................... ۲۲۷
۳۷-د سیر (جهاد) احکام (۱)...................................... ۲۳۲
۳۸-د سیر (جهاد) احکام (۲)...................................... ۲۳۸
۳۹-د سیر (جهاد) احکام (۳)...................................... ۲٤٤
٤۰-د سیر (جهاد) احکام (٤)...................................... ۲٥۰
٤۱-د سیر (جهاد) احکام (٥)...................................... ۲٥٥
٤۲-د عشري او خراطي ځمکو او جزیې بیان........................ ۲٦۳
٤۳-د مرتدانو او د باغیانو د احکامو بیان.......................... ۲۷۲
٤٤-د منعه شویو او مباحو شیانو بیان............................... ۲۸۰
٤٥-د وصیت حکمونه (۱).......................................... ۲۸۸
٤٦-د وصیت حکمونه (۲).......................................... ۲۹۸
٤۷-د میراث حکمونه (۱).......................................... ۳۰٦
٤۸-د میراث حکمونه (۲).......................................... ۳۱۲
٤۹-ذوی الارحام................................................... ۳۲۰
٥۰-عول........................................................... ۳۲٤
٥۱-مناسخه........................................................ ۳۳۲

# جنایات

علماوو اسلامي فقه په څلورو سترو برخو ویشلې ده: عبادات، معاملات، شخصي احوال (د کورنۍ فقه) او جنایات، چې درې لومړنۍ برخې يې په مخکنیو ټولګیو کې بیان شوې او نن د جنایاتو لومړی لوست لولو.

د امام قدوري د ترتیب له مخې د ښکار، سوګند، دعوا او د اثبات د وسایلو، قضاء او میراث احکام هم د کتاب په وروستی برخه کې بیان شوي دي.

د جنایاتو په فقه کې له دوه ډوله احکامو څخه بحث کیږي: د جرایمو احکام او د عقوباتو احکام جرایم د عقوباتو له مخې په درې ډوله دي:

**لومړی**: **د انسان پر نفس(ځان) باندې واقع شوي جرایم**، چې قتل او زخم ته شاملیږي او د هغو جزاء قصاص، دیت او یا ارش دی. دغه عقوبات شریعت ځانګړې کړې دي چې د بنده حق دی او د حق د څښتن په بښلو سره ساقطیږي.

**دویم**: **د حدودو جرایم**، چې غلا، لار شکونې، زنا، قذف، ارتداد او بغاوت ته شاملیږي، چې عقوبات يې د شریعت له خوا ټاکل شوي دي او د ټولنې حق ګڼل کیږي، چې د تشریف لپاره يې نسبت الله تعالی ته کیږي، او له اثبات وروسته د چا په عفو کولو سره نه ساقطیږي.

**دریم**: **تعزیري جرایم**، هغه جرایم دي چې عامه نظم په خطر کې اچوي، نورو ته ضرر رسوي او په پورتنیو جرایمو کې شامل نه دي. دغه جرایم په شریعت کې ټاکلې جزا نه لري او د جزا ټاکل يې چارواکو ته سپارل شوی دی.

د افغانستان د جزاء قانون یوازې د دغه وروستي ډول (تعزیري) جرایمو جزاوې په ګوته کړې دي، او د دوو لومړنیو ډولونو د احکامو پریکړه د حنفي فقهې په رڼا کې ترسره کیږي.

كِتَابُ الْجِنَايَاتِ

(١) الْقَتْلُ عَلَى خَمْسَةِ أَوْجُهٍ عَمْدٌ وَشِبْهُ عَمْدٍ وَخطَأٌ وَمَا أُجْرِيَ مُجرَى الْخَطَأِ، وَالْقَتْلُ بِسَبَبٍ.

(٢) فَالْعَمْدُ مَا تعَمَّدَ ضَرْبَهُ بِسِلَاحٍ أَوْ مَا أُجْرِيَ مُجْرَى السِّلَاحِ فِي تَفْرِيقِ الْأَجْزَاءِ كَالْمُحَدَّدِ مِنْ الْخَشَبِ، وَالْحَجَرِ، وَالنَّارِ. وَ مُوجَبُ ذَلِكَ الْمَأْثَمُ، وَالْقَوَدُ إِلَّا أَنْ يَعْفُوَ الْأَوْلِيَاءُ وَلَا كَفَّارَةَ فِيهِ.

(٣) وَشِبْهُ الْعَمْدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ أَنْ يَتَعَمَّدَ ضَرْبَهُ بِمَا لَيْسَ بِسِلَاحٍ وَلَا مَا أُجْرِيَ مُجْرَى السِّلَاحِ. وقال أبو يوسف و محمدٌ: إِذَا ضَرَبَهُ بِحَجرٍ عَظِيْمٍ أو خَشَبَةٍ عَظِيْمَةٍ فَهُوَ عَمْدٌ. وَشِبْهُ الْعَمْدِ عِنْدَهُمَا أَنْ يَتَعَمَّدَ ضَرْبَهُ بِمَا لَا يَقْتُلُ غَالِبًا.

(٤) وَمُوجَبُ ذَلِكَ عَلَى الْقَوْلَيْنِ الْمَأْثَمُ، وَالْكَفَّارَةُ وَلَا قَوَدَ فِيهِ وَفِيهِ الدِّيَةُ الْمُغَلَّظَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ.

(٥) وَالْخَطَأُ عَلَى وَجْهَيْنِ: خَطَأٌ فِي الْقَصْدِ: وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ شَخْصًا يَظُنُّهُ صَيْدًا فَإِذَا هُوَ آدَمِيٌّ وَخطَأٌ فِي الْفِعْلِ: وَهُوَ أَنْ يَرْمِيَ غَرَضًا فَيُصِيبُ آدَمِيًّا. وَمُوجَبُ ذَلِكَ الْكَفَّارَةُ، وَالدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ وَلَا مَأْثَمَ فِيهِ.

(٦) وَمَا أُجْرِيَ مُجْرَى الْخَطَأِ مِثْلُ النَّائِمَ يَنْقَلِبُ عَلَى رَجُلٍ فَيَقْتُلُهُ فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْخَطَأِ.

(٧) وَأَمَّا الْقَتْلُ بِسَبَبٍ: كَحَافِرِ الْبِئْرِ وَوَاضِعِ الْحَجَرِ فِي غَيْرِ مِلْكِهِ. وَمُوجَبُ ذَلِكَ إِذَا تَلِفَ فِيهِ آدَمِيٌّ: الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ وَلَا كَفَّارَةَ فِيهِ.

**ژباړه:**

## د جناياتو كتاب

١_ **قتل په پنځه ډوله دی**: عمد، شبه عمد، خطا، جاري مجرى خطا (د خطا په څېرقتل) او قتل په سبب سره.

٢_ **عمد**: هغه قتل ته وايي چې يو څوك (بل شخص) په قصدي توګه په وسله او يا هغه شي

ووهي چې د بدن په ېېلولو او ټوټه کولو کې د وسلې کار ورکوي، لکه تېره لرگی، کاڼي او اور.
د دې قتل موجَب (اثر مرتب) گناه او قصاص دی، مگر دا چې د مقتول اولیاء قصاص عفوه کړي او په دې قتل کې کفاره نشته.

**۳ـ شبه عمد**: د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په نزد، شبه عمد قتل دا دی، چې یو څوک (بل شخص) په قصدي توگه په یو داسې شي ووهي چې هغه وسله او یا د هغې پر ځای کاریدونکی (پرې کوونکی) شی نه وي.

امام ابو یوسف او محمد (رحمهما الله) ویلي: که څوک په غټه تیږه او یا غټ لرگي ووهي، دا هم عمد دی. شبه عمد قتل د هغوی په نزد دا دی، چې په داسې یوه شي یې ووهي، چې غالباً هغه شی وژونکی نه وي.

**٤ـ** د دواړو قولونو پر بنسټ د دې قتل موجَب (اثر مرتب) گناه او کفاره ده، په دې قتل کې قصاص نشته او پر عاقله وو باندې مغلظ دیت لازمیږي.

**۵ـ په خطا سره قتل** په دوه ډوله دی: **یو په قصد کې خطا**: لکه چې پر یو شي د ښکار گومان وکړي او ویې ولي، بیا څرگند شي چې هغه انسان دی.

**په فعل کې خطا**: لکه چې څوک یوه نښه ولي، گولی په انسان ولگیږي او مړ شي.

پر دې قتل دا اثر مرتبیږي، چې پر قاتل کفاره او پر عاقله وو یې دیت لازمیږي او گناه پکې نشته.

**۶ـ جاري مجرا د خطا**: لکه یو ویده شخص چې بل څوک له څان لاندې کړي، او مړ یې کړي(لکه: مور چې خپل ماشوم له څان لاندې کړي). د دې **قتل حکم** د خطا د قتل د حکم په څېر دی.

**۷ـ قتل په سبب**: لکه (د بل چا په ملك کې) کوهی ویستونکی او هغه څوک چې تیږه یې له خپل ملك پرته په بل ملك کې ایښې وي (او هغه د قتل لامل وگرځي).

د دې **قتل حکم**: کله چې یو څوک په دې سره تلف شي، نو په عاقله وو باندې دیت دی او په دې قتل کې کفاره نشته.

شرحه:

**قتل په پنځه ډوله دی:**

۱ـ **عمد قتل**: (عَمد) د عین په فتحې او د میم په سکون سره، قصد ته وایي. عمد قتل هغه قتل دی چې د وژنې په قصد ترسره شوی وي، په سنن الدارقطني کې راغلي چې رسول اللهﷺ فرمایي {الْعَمْدُ قَوَدٌ} قصدي وژنه قصاص لازموي. ځکه قصد یو پټ شی دی او موږ پر هغه باندې نه پوهیږو، نو په هغه آله چې قاتل کارولې ده، د وژلو د قصد په شتون استدلال کوو، که آله د قتل لپاره تیاره، پرې کوونکې او تیره وه که هغه د اوسپنې وی او یا د بل څه، نو د امام صاحب په نزد پر هغې باندې قتل قصدي وژنه ده او د صاحبینو په نزد په داسې درنو شیانو وژنه چې غالبا وژونکي دي، قصدي وژنه ده.

**د عمد قتل حکم**: عمد قتل دوه ډوله جزا لري: اخروي او دنیوي.

**الف**: **اخروي جزاء**:

په قصدي توګه وژنه له ډیرو لویو ګناهونو څخه ده، الله تعالی فرمایي: {وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا}. [البقرة: ۹۳]

**ژباړه**:"او څوك چې یو مومن په قصدي توګه ووژني نو جزا یې دوزخ دی، چې په هغه کې به تل اوسیږي، الله تعالی وربانديې په غصه دی، له خپل رحمت نه یې لرې کړی او ستر عذاب یې ورته تیار کړی دی"

**ب**: **دنیوي جزاء**: په دنیا کې د عمد قتل جزاء قصاص دی، کله چې د قصاص شرطونه بشپړ شي، قاتل قصاصاً وژل کیږي، الله تعالی فرمایی: {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى}] البقرة: ۱۷۸}

**ژباړه**:"پر تاسې باندې په وژل شویو قصاص لازم ګرځول شوی دی"

۲ـ **شبه عمد**:

که قاتل د وهلو قصد ولري او د وژلو قصد ونه لري، خو وهل قتل ته ورسیږي، دغه ډول قتل

ته شبه عمد وايي.

د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد پر درنې آلې باندې قتل لکه په غټه تيږه او لرګي، شبه عمد دی او د صاحبينو په نزد عمد دی، ځکه چې دا شيان غالبا وژونکي آلات دي.

**د شبه عمد قتل حکم**:په داسې ډول قتل باندې درې اثره مرتبيږي:

**الف**: **اخروي جزا**: ځکه چې يو معصوم الدم انسان يې وژلی دی او دليل يې بيان شو.

**ب**: **کفاره**: د مؤمن غلام آزادول او که يې پيدا نکړ، نو دوه مياشتې پرله پسې روژې دې ونيسي.

ج: **مغلظ ديت**: چې بيان به يې راشي.

**۳_ قتل خطا**: دا په دوه ډوله دی: يو په قصد کې خطا او بل په فعل کې خطا چې دا دواړه د مؤلف له تمثيل څخه څرګنديږي.

**د قتل خطا حکم**: کفاره او خفيف ديت دی، الله تعالی فرمايي: {وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ} تر {فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ} [البقرة: ۹۲]

**ژباړه**:" او څوک چې کوم مؤمن په خطا سره ووژني؛ نو د هغه کفاره دا ده چې يو مؤمن غلام له غلامی نه آزاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته د وينو بيه ورکړي...... او که څوک غلام ونه مومي، نو پرله پسې دوه مياشتې دې روژې ونيسي"

**۴_ جاري مجرى د خطا (د خطا په څېر قتل)**: چې قاتل اصلاً د وژنې اراده نه وې کړې او له ارادې پرته له ده څخه دغه عمل ترسره شوی وي، لکه ويده شخص چې يو څوک تر ځان لاندې کړي، يا د چا له لاسه خښته ولويږي او بل څوک ورباندې مړ شي.

**د دې قتل حکم**: د دې حکم د خطا د قتل د حکم په څېر دی.

**۵_ قتل په سبب**: لکه د مالک له اجازې پرته د بل چا په ملک کې څاه کيندل او يا تيږه اچول چې يو څوک ورباندې مړ شي.

**د دې قتل حکم** يوازې ديت دی، کفاره پکې نشته.

## ارزونه

۱. د قتل د ډولونو نومونه واخلئ او بیا د هر یوه تعریف وکړئ.

۲. د لاندې قتلونو نومونه واخلئ او حکم یې څرګند کړئ.

آ - چا په عامه لاره کې ډبره کېښوده، له امله یې موټر واوښت او خلک مړه شول.

ب- که د چاکو په وسیله یو څوک ووژني.

ج- مور خپل زوی په خوب کې تر ځان لاندې کړ او هغه یې وواژه.

د- یوه شخص غوښتل چې یوه هوسۍ د ښکار په نیت وولي، خو مرمۍ خطا شوه او یو شخص ورباندې ووژل شو.

# قصاص

په انساني ټولنه کې داسې خلک شته چې د نورو پر نفس باندې تېرى کوي، که هغوی د خپلو اعمالو په جزاء ونه رسول شي، وژل او وینه تویول به په ټولنه کې زیات شي، نو مجرمان باید تر ټولو دمخه د خپلو کړنو جزاء وپېژني، تر څو له جرم څخه ډډه وکړي، که کوم جنایت له دوی څخه صادرېږي، نو باید ځانګړی قانون شتون ولري، تر څو د هغو په پلي کولو سره عدالت ټینګ شي او له خپلسرو انتقامونو څخه مخنیوی وشي. زموږ نننی لوست د قصاص په هکله دی.

(١) وَالْقِصَاصُ وَاجِبٌ بِقَتْلِ كُلِّ مَحْقُونِ الدَّمِ عَلَى التَّأْبِيدِ إِذَا قُتِلَ عَمْدَاً.

(٢) وَيُقْتَلُ الْحُرُّ بِالْحُرِّ، وَالْحُرُّ بِالْعَبْدِ وَ الْمُسْلِمُ بِالذِّمِّيِّ.

(٣) وَلَا يُقْتَلُ المسلمُ بِالْمُسْتَأْمَنِ، وَيُقْتَلُ الرَّجُلُ بِالْمَرْأَةِ، وَالْكَبِيرُ بِالصَّغِيرِ، وَالصَّحِيحُ بِالْأَعْمَى وَالزَّمِنِ.

(٤) وَلَا يُقْتَلُ الرَّجُلُ بِابْنِهِ، وَلَا بِعَبْدِهِ، وَلَا بِمُدَبَّرِهِ، وَلَا بِمُكَاتِبِهِ، وَلَا بِعَبْدِ وَلَدِهِ.

(٥) وَمَنْ وَرِثَ قِصَاصًا عَلَى أَبِيهِ سَقَطَ.

(٦) وَلَا يُسْتَوْفَي الْقِصَاصُ إِلَّا بِالسَّيْفِ.

(٧) وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًا عَمْدًا فَلَمْ يَزَلْ صَاحِبَ فِرَاشٍ حَتَّى مَاتَ فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ.

(٨) وَمَنْ قَطَعَ يَدَ غَيْرِهِ مِنْ الْمَفْصِلِ عَمْدًا قُطِعَتْ يَدُهُ، وَلَوْ كَانَتْ أَكْبَرَ مِنْ يَدِ الْمَقْطُوعِ. وَكَذَلِكَ الرِّجْلُ وَمَارِنُ الْأَنْفِ، وَالْأُذُنُ.

(٩) وَمَنْ ضَرَبَ عَيْنَ رَجُلٍ فَقَلَعَهَا فَلَا قِصَاصَ فِيهَا، فَإِنْ كَانَتْ قَائِمَةً وَذَهَبَ ضَوْءُهَا فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ، تُحْمَى لَهُ الْمِرْآةُ وَيُجْعَلُ عَلَى وَجْهِهِ قُطْنٌ رُطَبٌ وَتُقَابَلُ عَيْنُهُ بِالْمِرْآةِ حَتَّى يَذْهَبَ ضَوْءُهَا.

(١٠) وفي السِّنِّ الْقِصَاصُ.
(١١) وَفِي كُلِّ شَجَّةٍ يُمْكِنُ فِيهَا الْمُمَاثَلَةُ الْقِصَاصُ. وَلَا قِصَاصَ فِي عَظْمٍ إِلَّا فِي السِّنّ.
(١٢) لَيْسَ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ شِبْهُ عَمْدٍ، إِنَّمَا هُوَ عَمْدٌ أَوْ خَطَأٌ.
(١٣) وَلَا قِصَاصَ بَيْنَ الرَّجُلِ، وَالْمَرْأَةِ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ، وَلَا بَيْنَ الْحُرِّ، وَالْعَبْدِ، وَلَا بَيْنَ الْعَبْدَيْنِ
(١٤) وَيَجِبُ الْقِصَاصُ فِي الْأَطْرَافِ بَيْنَ الْمُسْلِمِ، وَالْكَافِرِ.
(١٥) وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ مِنْ نِصْفِ السَّاعِدِ أَوْ جَرَحَهُ جَائِفَةً، فَبَرِئَ مِنْهَا فَلَا قِصَاصَ عَلَيْهِ.
(١٦) إِنْ كَانَتْ يَدُ الْمَقْطُوعِ صَحِيحَةً، وَيَدُ الْقَاطِعِ شَلَّاءَ أَوْ نَاقِصَةَ الْأَصَابِعِ فَالْمَقْطُوعُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ قَطَعَ الْيَدَ الْمَعِيبَةَ وَلَا شَيْءِ لَهُ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْأَرْشَ كَامِلًا.
(١٧) وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا شَجَّةً فَاسْتَوْعَبَتِ الشَّجَّةُ مَا بَيْنَ قَرْنَيْهِ وَهِيَ لَا تَسْتَوْعِبُ مَا بَيْنَ قَرْنَيْ الشَّاجِّ فَالْمَشْجُوجُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ اقْتَصَّ بِمِقْدَارِ شَجَّتِهِ يَبْتَدِئُ مِنْ أَيِّ الْجَانِبَيْنِ شَاءَ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْأَرْشَ.
(١٨) لَا قِصَاصَ فِي اللِّسَانِ، وَلَا فِي الذَّكَرِ إِذَا قُطِعَ،إِلَّا أَنْ يُقْطَعَ الْحَشَفَةُ.
(١٩) وَإِذَا اصْطَلَحَ الْقَاتِلُ وَأَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ عَلَى مَالٍ، سَقَطَ الْقِصَاصُ، وَوَجَبَ الْمَالُ قَلِيلًا كَانَ أَوْ كَثِيرًا، وَإِنْ عَفَا أَحَدُ الشُّرَكَاءِ أَوْ صَالَحَ مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى عِوَضٍ سَقَطَ حَقُّ الْبَاقِينَ مِنَ الْقِصَاصِ وَكَانَ لَهُمْ نَصِيبُهُمْ مِنَ الدِّيَةِ.
(٢٠) وَإِذَا قَتَلَ جَمَاعَةٌ وَاحِدًا اقْتُصَّ مِنْ جَمِيعِهِمْ.
(٢١) وَإِذَا قَتَلَ وَاحِدٌ جَمَاعَةً، فَحَضَرَ أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِينَ قُتِلَ بِجَمَاعَتِهِمْ، وَلَا شَيْءَ لَهُمْ غَيْرُ ذَلِكَ، وَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ، قُتِلَ لَهُ وَسَقَطَ حَقُّ الْبَاقِينَ.
(٢٢) وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقِصَاصُ فَمَاتَ سَقَطَ الْقِصَاصُ.
(٢٣) وَإِذَا قَطَعَ رَجُلَانِ يَدَ رَجُلٍ عَمْدًا فَلَا قِصَاصَ عَلَى وَاحِدٍ مِنْهُمَا، وَعَلَيْهِمَا نِصْفُ الدِّيَةِ.

(٢٤) وَإِذَا قَطَعَ وَاحِدٌ يَمِيْنَيْ رَجُلَيْنِ فَحضرَا فَلَهُمَا أَنْ يَقْطَعَا يَمِينَهُ وَيَأْخُذَا مِنْهُ نِصْفَ الدِّيَةِ يَقْتَسِمَانِهَا نِصْفَيْنِ، وَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ مِنْهُمَا قَطَعَ يَدَهُ وَلِلْآخِرِ عَلَيْهِ نِصْفُ دِيَةٍ.

(٢٥) وَمَنْ رَمَى رَجُلًا عَمْدًا فَنَفَذَ السَّهْمُ مِنْهُ إِلَى آخَرَ فَمَاتَا فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ لِلْأَوَّلِ، وَالدِّيَةُ لِلثَّانِي عَلَى عَاقِلَتِهِ.

**ژباړه**:

(١)قصاص د داسې شخص په قصدي وژلو واجبېږي چې وينه يې په دوامداره توګه محفوظه او محترمه وي.

(٢) اصيل شخص په اصيل او په مريي(غلام)، او مسلمان په ذمي باندې وژل کيږي.

(٣) مسلمان په مستأمن باندې نه وژل کيږي، سړی په ښځه، لوی په واړه او روغ په ړانده او شل وژل کيږي.

(٤) سړی په خپل زوی، په خپل غلام، په خپل مدبر، په خپل مکاتب او د خپل زوی په غلام نه وژل کيږي.

(٥) که څوک د داسې قصاص وارث شي چې هغه د ده په پلار لازم وي، قصاص ترې ساقطيږي.

(٦) قصاص يوازې د توري په واسطه اخيستل کيږي.

(٧) چا چې يو شخص قصدا زخمي کړ او هغه شخص په بستر کې وي تر دې چې مړ شي، قصاص پرې لازميږي.

(٨) که چا د بل چا لاس له بند څخه پرې کړ، لاس يې پرې کيږي، که څه هم لاس يې له پرېکړای شوي لاس څخه غټ وي، همدا شان پښه، د پوزې نرمي او غوږ.

(٩) که څوک کوم شخص په سترګه ووهي او هغه ترې راوباسي، پرهغه قصاص نشته، که چيرې سترګه ځای پر ځای وه او روښنايي يې له منځه تللې وه، نو پرهغه باندې قصاص لازم دی. هينداره به ورته ګرميږي، دهغه پر مخ به لمده پنبه ايښودل کيږي او د هغه سترګه به ورته

مخامخ کیږي، تر څو يې روښنايي (بينايي) له منځه ولاړه شي.

(۱۰) په غاښ کې قصاص دی.

(۱۱) د سر په هر زخم کې چې مماثلت پکې ممکن وي، قصاص دی او په هډوکي کې قصاص نشته، مګر يوازې په غاښ کې.

(۱۲) له نفس څخه په کم (جرم) کې شبه عمد نشته، يوازې عمد دی او يا خطا دی.

(۱۳) د ښځې او نر په منځ کې له نفس څخه په کم کې قصاص نشته، همدارنګه د اصيل او مريي په منځ کې او د دوو مريانو په منځ کې قصاص نشته.

(۱٤) د مسلمان او کافر په منځ کې په اطرافو کې قصاص شته دی.

(۱۵) که چا د يوه شخص لاس د مړوند له نيمايي څخه پرې کړ او يا يې په ځيته کې زخمي کړ او له هغه زخمه جوړ شو، نو په هغه قصاص نشته.

(۱٦) که د لاس پرې کوونکي لاس شل و او يا يې د لاس ګوتې نه وې، نولاس پرې کړې اختيار لري: که غواړي د هغه عيبجن لاس دې پرې کړې او نور شی ورته نشته، او که غواړي کامل ارش(مالي تاوان) دې واخلي.

(۱۷) که چا د يو شخص سر زخمي کړ او دې زخم د هغه د سر(د ښکرد منبت) د ساحې دواړې خواوې ونيولې، خو د دې زخم مساحت د زخمي کوونکي د سر(د ښکرد منبت) دواړه خواوې نه رانيسي، نو زخمي اختيار لري که وغواړي د زخم د مساحت په اندازه دې قصاص واخلي او د سر له هرې خوا څخه يې چې خوښه وي پيل دې وکړي او که غواړي پوره مالي تاوان دې واخلي.

(۱۸) په ژبه او ذکر کې قصاص نشته، مګر په هغه صورت کې چې حشفه (د ذکرسر) پرې شي.

(۱۹) کله چې قاتل او د مقتول اولياء له يو بل سره پر يوه مال سوله وکړي، قصاص ساقطيږي او مال لازم ګرځي، که هغه لږ وي او يا ډېر. که په قصاص کې له شريکانو څخه يوه عفوه وکړه او يا د خپلې برخې په مقابل کې يې پر يو څه سوله وکړه، په قصاص کې د نورو شريکانو برخه

ساقطیږي او هغوی به خپله برخه له دیت څخه اخلي.

(۲۰) کله چې یوه ډله خلك یو شخص قصداً ووژني، ټول پرې قصاص کیږي.

(۲۱) که یو تن یوه ډله خلك ووژني، او د مقتولینو اولیاء حاضر شي، په ټولو وژل کیږي، له هغه پرته د بل شي مستحق نه ګرځي او که یو تن حاضر شي د هغه لپاره وژل کیږي او د نورو حق ساقطیږي.

(۲۲) که پرچا قصاص واجب شي او هغه مړ شي، قصاص ساقطیږي.

(۲۳)کله چې دوه کسان د یوه شخص لاس پرې کړي، نو پر یوه هم قصاص نشته، او پر هر یوه نیمايي دیت دی.

(۲٤) که یو شخص د دوو کسانو دواړه ښي لاسونه پرې کړي او دواړه حاضر شي، نو دواړه کولای شي چې د ده ښی لاس پرې کړي او تر څنګ یې نیم دیت ترې واخلي او په دوو برخو به یې سره وویشي او که یو له هغو څخه حاضر شو  او د ده لاس یې ور پرې کړ، نو د هغه بل شخص لپاره پر ده نیم دیت لازمیږي.

(۲۵) که څوك یو شخص په غشي وولي او دغه غشی له بل تن څخه هم ووځي او دواړه مړه شول، نو پر ده د لومړي شخص لپاره قصاص او د دویم شخص لپاره د ده پرعاقلې دیت دی.

**شرحه**:

قصاص په لغت کې د پرې کولو او مساوات په معنا دی. د فقه د علم په اصطلاح کې جنایت کار ته د هغې کړنې په څېر سزا ورکول دي چې ده پر مجني علیه ترسره کړې دی.

**د قصاص مستحق**: قصاص د مجني علیه او یا د هغه د وارثانو حق دی چې د هغوی په بښنلو ساقطیږي.

**په قصاص کې مساوات**: الله تعالی فرمایي: { كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى }[البقره: ۱۷۸]  " پر تاسو باندې په وژل شوو کې قصاص فرض شوی دی".

د قصاص له معناګانو څخه مساوات دی، جاني سره باید داسې عمل وشي چې ده له مجني

عليه سره تر سره کړی دی، نه کم او نه زيات.

**په نفس کې مساوات**: د قتل په صورت کې مساوات يوازې د معصوم الدم نفس په وژلو کې دی چې د هغه عصمت د تل لپاره وي، له همدې امله اصيل په غلام، سړی په ښځه، مسلمان په ذمي، لوی په واړه او روغ په ناروغ او معيوب وژل کيږي، ځکه دوی ټول د تل لپاره معصوم الدم دي.

خو مستأمن (هغه غيرمسلم شخص چې په اجازې سره له دار حرب څخه د ټاکلې مودې لپاره اسلامي هېواد ته داخل شوی وي) څرنگه چې هغه په دوامداره توگه معصوم الدم نه دی، نو مسلمان او ذمي پرهغه باندې نه وژل کيږي.

**په مادون النفس (زخمونو) کې مساوات**: په مادون النفس زخمونو کې د زخم په اندازه او څرنگوالی کې مساوات لازم دی، که زخم په داسې ډول وي چې مساوات په هغه کې ممکن نه وي، لکه د هډوکو ماتول چې غالباً مساوات د جزاء له جنايت سره ناممکن دی، نو په هغه کې مالي تاوان لازميږي او قصاص نشته.

څرنگه چې غاښ له بيخه ايستل کيږي له دې امله په هغه کې مساوات ممکن دي، نو قصاص پکې لازميږي.

په ژبه او د سړي تناسلي آله کې قصاص نشته، ځکه چې مساوات ممکن نه دی او حشفه (د ذکر سر چې له حلقې وروسته راوتلی وي) چې مشخص دی، نو مساوات او قصاص په کې راتلای شي.

**له نفس سره د اطرافو توپير**: د حنفي امامانو په نزد له اطرافو (مادون النفس) سره د مالونو په څېرمعامله کيږي، نو څرنگه چې په مالي ارش کې د سړي او ښځې، د اصيل او غلام ديت توپير لري، د هغو په منځ کې په زخمونو (مادون النفس)کې قصاص نشته، ځکه د هغو په ماليت کې مساوات نشته او په قصاص کې مساوات لازم دی. په خلاف د نفس، ځکه يوازې په هغه کې عصمت الدم د تل لپاره شرط دی.

**د قصاص سقوط**: قصاص په عفوې او سولې ساقطيږی، که د قصاص له مستحقينو څخه يې

ځيني خپلې برخې عفوه او يا سوله وکړي، د دوی عفوه او سوله صحت لري او د نورو حق ساقطيږي او د هغوی د برخې به دیت ورکوي.

**د څو تنو له خوا د يو تن وژل**: که يو ټولی کسان قصداً يو شخص ووژني، هغوی ټول پرې قصاص کيږي.

**د يوه شخص له خوا د څو تنو وژل**: کله چې يو تن څو کسه ووژني، د ټولو وارثان کولای شي چې هغه ووژني، که د يوه مقتول وارثان وړاندې والی وکړي او قاتل ووژني، د نورو حق او ورسره ديت هم ساقطيږي، ځکه په قصدي قتل کې د دوی حق د قاتل وژل و او اوس قاتل شتون نه لري. همدارنګه که قاتل په خپل طبيعي مرګ مړ شي، قصاص ساقطيږي او ديت هم نه لازميږي.

**د دوو کسانو لخوا د يوه شخص لاس غوځول او بالعکس**:

که دوه تنه د يو تن لاس غوځ کړي، هغه يوازې د ديت مستحق دی، ځکه د دوو کسانو دلاسونو ارزښت د يوه شخص له لاس څخه ډېر دی او له غړو سره د مال معامله کيږي، نو د دوی په منځ کې د قصاص مساوات نشته.

که يو شخص د دوو کسانو ښي لاسونه غوځ کړي، هغوی د ده ښی لاس غوڅوي او نيمايي ديت ورڅخه اخلي او په خپلو منځونو کې يې برابر تقسيموي او که يوه لاس ورغوڅ کړ د بل لپاره يې ديت دی.

## ؟ ارزونه

۱. قصاص تعريف کړئ او مستحق يې څرګند کړئ.

۲. په قصاص کې مساوات شرط دی، په نفس او مادون النفس کې مساوات واضح کړئ او د اعضاوو توپير له نفس سره بيان کړئ.

۳. قصاص کله ساقطيږي؟ په يو تن جاني او څو تنو مجني عليهم کې د قتل او جرحې د قصاص صورت بيان کړئ.

# د دیاتو احکام

د معصوم الدم انسان پر ځان او اطرافو باندې د تېري جزا قصاص او یا دیت دی. د قصاص اړوند احکام مو په تېر لوست کې ولوستل او د دیتونو احکام به په دې لوست کې ولولو.

كِتَابُ الدِّيَاتِ

(١) إذَا قَتَلَ رَجُلٌ رَجُلًا شِبْهَ عَمْدٍ فَعَلَى عَاقِلَتِهِ دِيَةٌ مُغَلَّظَةٌ وَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ.

(٢) وَدِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ (رحمهما الله): مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَرْبَاعًا: خَمْسٌ وَعِشْرُوْنَ بِنْتُ مَخَاضٍ، وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بِنْتُ لَبُوْنٍ، خَمسٌ وَعِشْرُوْنَ حِقَّةً، خَمسٌ وَعِشْرُوْنَ جَذِعَةً.

(٣) وَلَا يَثْبُتُ التَّغْلِيظُ إلَّا فِي الْإِبِلِ خَاصَّةً، فَإِنْ قَضى بِالدِّيَةِ مِنْ غَيْرِ الْإِبِلِ لَمْ تَتَغَلَّظْ.

(٤) وَقَتْلُ الْخَطَأِ يَجِبُ فِيهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ، وَالْكَفَّارَةُ عَلَى الْقَاتِلِ.

(٥) وَالدِّيَةُ فِي الْخَطَأِ: مِائَةٌ مِنْ الْإِبِلِ أَخْمَاسًا: عِشْرُوْنَ بِنْتُ مَخَاضٍ، وَعِشْرُونَ اِبْنُ مَخَاضٍ، وَعِشْرُوْنَ بِنْتُ لَبُوْنٍ، وَعِشْرُونَ حِقَّةً، وَعِشْرُوْنَ جَذِعَةً.

(٦) وَمِنْ الْعَيْنِ أَلْفُ دِينَارٍ وَمِنْ الْوَرِقِ عَشَرَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ.

(٧) وَلَا تَثْبُتُ الدِّيَةُ إلَّا مِنْ هَذِهِ الْأَنْوَاعِ الثَّلَاثَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: منها وَمِنْ الْبَقَرِ مِائَتَا بَقَرَةٍ وَمِنْ الْغَنَمِ أَلْفَا شَاةٍ، وَمِنْ الْحُلَلِ مِائَتَا حُلَّةٍ كُلُّ حُلَّةٍ ثَوْبَانِ.

(٨) وَدِيَةُ الْمُسْلِمِ، وَالذِّمِّيِّ سَوَاءٌ.

(٩) وَفِي النَّفْسِ الدِّيَةُ، وَفِي الْمَارِنِ الدِّيَةُ، وَفِي اللِّسَانِ الدِّيَةُ، وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ، وَفِي الْعَقْلِ إذَا ضُرِبَ رَأْسُهُ فَذَهَبَ عَقْلُهُ الدِّيَةُ، وَفِي اللِّحْيَةِ إذَا حُلِقَتْ فَلَمْ تَنْبُتْ الدِّيَةُ، وَفِي شَعْرِ الرَّأْسِ الدِّيَةُ، وَفِي الْحَاجِبَيْنِ الدية، وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي الْيَدَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي

الرِّجْلَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي الْأُذُنَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي الْأُنْثَيَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي ثَدْيَيِ الْمَرْأَةِ الدِّيَةُ، وَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ نِصْفُ الدِّيَةِ، وَفِي أَشْفَارِ الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ، وَفِي أَحَدِهِمَا رُبْعُ الدِّيَةِ.

(١٠) وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدَيْنِ، وَالرِّجْلَيْنِ عُشْرُ الدِّيَةِ، وَالْأَصَابِعُ كُلُّهَا سَوَاءٌ. وَكُلُّ أُصْبُعٍ فِيهَا ثَلَاثُ مَفَاصِلَ فَفِي أَحَدِهَا ثُلُثُ دِيَةِ الْأُصْبُعِ، وَمَا فِيهَا مَفْصِلَانِ فَفِي أَحَدِهِمَا نِصْفُ دِيَةِ الْأُصْبُعِ

(١١) وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنْ الْإِبِلِ. وَالْأَسْنَانُ وَالْأَضْرَاسُ كُلُّهَا سَوَاءٌ.

(١٢) وَمَنْ ضَرَبَ عُضْوًا فَأَذْهَبَ مَنْفَعَتَهُ، فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ، كَمَا لَوْ قَطَعَهُ، كَالْيَدِ إِذَا شُلَّتْ، وَالْعَيْنِ إِذَا ذَهَبَ ضَوْءُهَا.

**ژباړه:**

## د ديتونو كتاب

(١) كله چې يو شخص بل شخص په شبه عمد قتل ووژني، پر عاقله وو باندې مغلظ ديت او پر قاتل كفاره ده.

(٢) د شبه عمد ديت د امام ابوحنيفه او ابو يوسف (رحمهما الله) په نزد **څلور ډوله** سل اوښان دي: پنځه ويشت بنت مخاض(يوكلنې جونگۍ)، پنځه ويشت بنت لبون(دوه كلنې جونگۍ)، پنځه ويشت حقې(درې كلنې اوښې) او پنځه ويشت جذعې(څلور كلنې اوښې).

(٣) مغلظ ديت يوازې په اوښانو كې راتلای شي، كه له اوښانو پرته په بل شي سره د ديت د حكم فيصله وشي، ديت نه مغلظ كيږي.

(٤) په خطا قتل كې ديت پر عاقله وو او كفاره پر قاتل باندې واجبه ده.

(٥) په خطا قتل كې ديت له پنځه ډوله اوښانو څخه سل اوښان دي: شل بنت مخاض، شل ابن مخاض، شل بنت لبون، شل حقې او شل جذعې.

(٦) له سرو زرو څخه زر ديناره او له سپينو زرو څخه لس زره درهمه دي.

(۷) د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد ديت يوازې په همدې دريو ډولونو(اوښانو، سرو زرو او سپينو زرو) کې ثابت دی. امام ابويوسف او امام محمد (رحمهما الله) وايي چې له همدې ډولونو څخه او له ِغوايانو څخه دوه سوه سرونه، له پسونو څخه زر پسونه، او له حلې (جامو) څخه دوه سوه جوړې، چې هره حله دوه جامې دي(ديت کيدای شي).

(۸) د مسلمان او ذمي ديت سره يوشان دی.

(۹) په نفس کې کامل ديت دی، د پوزې په نرمۍ کې کامل ديت دی، په ژبه کې کامل ديت دی، په ذکر کې کامل ديت دی. په عقل کې،کله چې په سر باندې ووهل شي او عقل يې ولاړ شی کامل ديت دی. په ږيره کې، چې کله ږيره و ايستل شي او ويښتان بيا راشنه نشي، بشپړديت دی. او د سر په ويښتانو او په دوو وريځو کې ديت دی، په دواړو سترګو کې ديت دی، په دواړو شونډو، په دواړو خصيتينو او د ښځو په دواړو تيونو کې ديت دی. په هر يوه ( له يادو شويو دوه ګونو شيانو) کې د ديت نيمايي دی او د دواړو سترګو په اشفارو (د ښو د ټوکېدلو ځای) کې ديت دی او په يوه د هغو کې د ديت څلورمه ده.

(۱۰) د لاسونو او پښو په هره يوه ګوته کې د ديت عشر (لسمه) ده، ټولې ګوتې سره برابرې دي او د درې بنديزه ګوتو د يوه بند په پرې کولو کې د ګوتې د ديت ثلث (دريمه) ده. د هغې ګوتې چې دوه بنده لري، د ګوتې د ديت نيمايي دی.

(۱۱) په هر غاښ کې پنځه اوښان دي، د غاښونو واړه او غټ ټول سره برابر دي،

(۱۲) که يو شخص د چا يو غړی ووهي او ګټه يې له منځه يوسي، ټول ديت لازميږي، لکه دا چې د هغه غړی يې پرې کړی وي، لکه لاس چې شل شي او يا د سترګې روښنايي له منځه ولاړه شي.

**شرحه**: **د ديت تعريف**: په عربي ژبه کې (ديت) چې ورکولو يا اداکولو ته ويل کيږي له «وَدَی القاتلُ القتيلَ يَدِيه دِيةً» څخه اخيستل شوی دی کله چې قاتل د مقتول ولي ته د نفس په بدل کې مال ورکړي. ((دية)) په اصل ((ودیٌ)) و، د کلمې (ف) توری حذف شو، لکه (عدة) له (وعد) او(زنة) له (وزن) څخه او د (ت) توری د کلمې په پای کې ورزيات شو. وروسته د هغه

مال لپاره چې د نفس په بدل کې ورکول کیږي ونومول شو.

په شرعي اصطلاح کې د شریعت له مخې ټاکل شوي مال ته وايي چې د انسان او یا دهغه د یوه غړي په بدل کې لازمېږي.

او هغه يې له دې امله دیت نومولی دی چې غالبا ورکول کیږي، ځکه د انسان نفس محترم دی، هغه مال چې د هغه په بدل کې لازمیږي باید ورکړل شي.

**ارش**: د شریعت له خوا ټاکل شوی دیت دی چې د مادون النفس او یا د بدن د غړو په بدل کې ورکول کیږي.

**د شبه عمد او د خطا قتل دیت**: په شبه عمد کې دیت مغلظ او د خطا په قتل کې مخفف دی چې د هغه اندازه د مؤلف په متن کې روښانه شوې ده.

**د هغو مالونو ډولونه چې په دیت کې ورکول کیږي**: د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په نزد له اوښانو، سرو او سپینو زرو پرته په بل جنس کې دیت نه ثابتېږي.

اوښان: سل اوښان.

سره زر: زر دیناره.

سپین زر: لس زره درهمه.

د صاحبینو په نزد دیت په پورتنیو دریو ډولونو سربېره په دریو نورو شیانو سره هم اداء کیږي:

غوایان: سل غوایان.

پسونه: دوه سوه پسونه.

حله: دوه سوه جوړه جامې.

**هغه غړي چې کامل دیت پکې واجبیږي**: د انسان د بدن له غړیو څخه د یوه ګونو غړو په له منځه وړلو کې لکه پوزه او ژبه کامل دیت لازمیږي، په دوه ګونو غړیو کې لکه دوې سترګې، په څلور ګونو غړیو کې، لکه څلور بانه، چې ټول له منځه یووړل، شي کامل دیت لازمیږي.

په لاندې غړیو کې کامل دیت لازمیږي:

۱. نفس

۲. پوزه
۳. ژبه.
٤. ذکر.
٥. دواړه لاسونه.
٦. دواړه پښې.
۷. دواړه سترګې.
۸. دواړه غوږونه.
۹. دواړه شونډې.
۱۰. دواړه ورو‌ځې.
۱۱. دواړه تیونه.
۱۲. ږیره.
۱۳. د عقل زوال.
١٤. دواړه خصیتین.
١٥. د سر ویښتان.
١٦. د دواړو سترګو باڼه.
۱۷. د دواړو لاسونو ګوتې.
۱۸. د دواړو پښو ګوتې.

**د دوه ګونو غړیو یا تر هغو د زیاتو دیت**

هغه غړي چې په انسان کې دوه دي، لکه دوه سترګې د هغو پر نقصان باندې بشپړ دیت دی او له هغو څخه د هرې یوې په نقصان باندې د دیت نیمايي لازمیږي.

هغه غړي چې په انسان کې څلور دي، لکه د سترګو د بڼو بېخونه په هر یوه د هغو کې د دیت ربع لازمیږي.

په هره یوه ګوته کې د دیت عُشر دی او څرنګه چې د لاس او پښو ګوتې د جلا استعمال لپاره

دي، نو له يوه جنس څخه نه شميرل کيږي.

په هرغابښ کې د يوه بشپړ ديت شلمه برخه واجبيږي.

**د غړيو د منفعت له منځه تلل:**

د يوه غړي د منفعت په له منځه تللو کې د هغه غړي بشپړ ديت لازميږي، ځکه دا غړی داسې وګرځېده لکه چې په بشپړه توګه له منځه تللی وي.

## ارزونه

۱_ ديت لغتاً او اصطلاحا تعريف کړئ.

۲_ په قتل خطا او شبه عمد کې له اوښانو څخه د ديت اندازه بيان کړئ.

۳_ د ديت اندازه په پنځو ډولونو کې پرته له اوښانو بيان کړئ.

٤_ په لاندې صورتونو کې د ديت اندازه بيان کړئ:

الف: د يوه لاس پرې کول. ب: د دوو غابښونو ايستل.

۵_ د هغې ګوتې چې درې بنده لري او هغې ګوتې چې دوه بنده لري، د يوه بند په پرې کولو کې د ديت اندازه په جلا، جلا توګه څرګنده کړئ.

# د سر زخمونه او نور مسايل

سر د حواسو مجمع ده او مخ ته هم شريعت عزت وربښلی دی، په حديث کې د تاديب لپاره د مخ له وهلو څخه منعه شوې ده، له همدې امله اسلامي شريعت هم د انسان په بدن کې د مخ او سر د ارزښت له مخې جلا احکام تشريع کړي دي چې په دې لوست کې د سر د ټپونو احکام او ځينې نور مسائل لولو.

(١) وَالشِّجَاجُ عَشَرَةٌ: ١- الْحَارِصَةُ، ٢- وَالدَّامِعَةُ، ٣- وَالدَّامِيَةُ،٤- وَالْبَاضِعَةُ، ٥- وَالْمُتَلَاحِمَةُ، ٦- وَالسِّمْحَاقُ ٧ - وَالْمُوضِحَةُ ٨- وَالْهَاشِمَةُ ٩- وَالْمُنَقِّلَةُ ١٠- وَالْآمَّةُ.

(٢) فَفِي الْمُوضِحَةِ الْقِصَاصُ إذَا كَانَتْ عَمْدًا، وَلَا قِصَاصَ فِي بَقِيَّةِ الشِّجَاجِ، وَمَا دُونَ الْمُوضِحَةِ فَفِيهَا حُكُومَةُ عَدْلٍ.

(٣) فَفِي الْمُوضِحَةِ إذَا كَانَتْ خَطَأً نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ، وَفِي الْهَاشِمَةِ عُشْرُ الدِّيَةِ، وَفِي الْمُنَقِّلَةِ عُشْرٌ وَنِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ، وَفِي الْآمَّةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ.

(٤) وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ، فَإِنْ نَفَذَتْ فهِيَ جَائِفَتَانِ فَفِيهِمَا ثُلُثَا الدِّيَةِ.

(٥) وَفِي أَصَابِعِ الْيَدِ نِصْفُ الدِّيَةِ،وَإِنْ قَطَعَهَا مَعَ الْكَفِّ فَفِيهَا نِصْفُ الدِّيَةِ، وَإِنْ قَطَعَهَا مَعَ نِصْفِ السَّاعِدِ، فَفِي الْأَصَابِعِ وَالْكَفِّ نِصْفُ الدِّيَةِ، وفي الزيادة حكومة عدل.

(٦) وَفِي الْأُصْبُعِ الزَّائِدَةِ حُكُومَةُ عَدْلٍ.

(٧) وَفِي عَيْنِ الصَّبِيِّ وَذَكَرِهِ وَلِسَانِهِ إذَا لَمْ تُعْلَمْ صِحَّتُهُ حُكُومَةُ عَدْلٍ.

**ژباړه:**

١ــ د سر او مخ ټپونه لس ډوله دي:

١. حارصه (هغه زخم چې پوستکی وگروي (داغ جوړ کړي).

٢. دامعه (چې وينه ورڅخه را ښکاره شي او ونه بهيږي).

۳. دامیه (چې له هغه ځخه وینه روانه شي).

٤. باضعه (چې پوستکی پرې کړي).

۵. متلاحمه (چې غوښه غوڅه کړي).

٦. سمحاق ( هغه نازك پوستكي ته ورسیږي چې د غوښې او د سرد هډوکي تر منځ دی).

۷. موضحه (چې د سرهډوکي ته ورسیږي او هغه ښکاره کړي).

۸. هاشمه (چې هډوکی مات کړي).

۹. منقله (چې هډوکی وروسته له ماتولو له خپل ځای ځخه انتقال کړي).

۱۰. آمه (چې د دماغ ام (بیخ) ته ورسیږي یعني له هډوکي ځخه تېر شي او هغه ځای ته ورسیږي چې هلته ماغزه دي).

۲_ که موضحه تېپ قصدي وي، په هغې کې قصاص شته. د مخ او سر په نورو ټپونو کې قصاص نشته. له موضحې په کمو (زخمونو) کې د عادل پریکړه ده.

۳_ په موضحه ټپ کې، که په خطا سره وي، د دیت شلمه برخه ده، په هاشمه کې د دیت لسمه برخه ده. په منقله کې، د دیت لسمه او د لسمې نیمایي ده، په آمه کې د دیت درېمه برخه ده.

٤_ په جائفه(هغه زخم چې جوف ته ورسیږي)کې د دیت درېمه برخه ده که چیرې جائفه بلې خوا ته تېره شي، نو هغه دوه جائفې دي، دیت یې د یوه دیت دوه ثلثه دی.

۵_ د لاس په گوتو کې د دیت نیمایي دی. که گوتې له ورغوي سره پرې کړي، په هغه (دواړو) کې د دیت نیمایي دی. که هغه له نیم مرونډ سره پرې کړي، نو په گوتو او ورغوي کې د دیت نیمايي دی او له هغه ځخه په زیات کې د منصف فیصله ده.

٦_ په اضافي گوته کې د عادل حکم دی.

۷_ د ماشوم په سترگو، ذکر او ژبه کې چې روغتیا یې معلومه نه وي، د عادل حکم دی.

**شرحه**:

**د شجاج (د سر او مخ ټپونو) تعریف**: شجاج په لغت کې د شجه جمع ده او هغه د سر او مخ ټپي کېدلو ته وايي او جراحت ترهغه عام دی، د ټول بدن په ټپونو یې اطلاق کیږي، شجاج او

جراحت  د اصطلاح له مخې، همدا معنی لري.

**د شجاج ډولونه**: شجاج په لس ډوله دی، که په پوستکي (خاپ یا داغ) منځ ته راشي بې له دې چې وینه ښکاره شي، هغه ته (حارصه) وايي. که وینه ښکاره شي، خو بهر ته راونه وځي هغه (دامعه) بولي. که وینه جاري شي هغه (دامیه) ده، که پوستکی څیري شي هغه (باضعه) او که غوښه غوڅه کړي هغه (متلاحمه)، که د هډوکي او غوښې تر منځ پردې ته ورسیږي، هغه (سمحاق). که په خپله هډوکي ته ورسیږي هغه(موضحه)، که هډوکی مات کړي هغه(هاشمه)، که هډوکی له ماتولو وروسته له خپل ځای څخه وښوروي، هغه منقله او که له هډوکي تېر شي دماغ ته ورسیږي هغه په (آمه) سره نوموي.

**په شجاج کې قصاص**: لکه څرنګه چې مو وویل قصاص د جرم او جزا په منځ کې له مساوات څخه عبارت دی او یاد شوی مساوات یوازې په موضحه کې ممکن دی، او په نورو ټپونو کې د جرم او جزا په منځ کې د توپیر او مغایرت احتمال ډېر دی، نو په غیر موضحه کې قصاص نه لازمیږي.

**د شجاج تاوان**: د سر او مخ په شپږو ډولونو: حارصه، دامعه، دامیه، باضعه، متلاحمه او سمحاق کې د منصف پریکړه لازمیږي. په نورو ډولونو کې ارش مقدردی چې په متن کې یې بیان شوی دی.

**د منصف پریکړه**: د انصاف پریکړه د ټپونو له هغه مالي تاوان څخه عبارت دی چې د شریعت له خوا په هغو کې کوم تاوان ټاکل شوی نه وي، د نفس په بدل کې ټاکل شوي تاوان ته دیت وايي او د بدن د کوم غړي او یا زخم په بدل کې ټاکل شوي تاوان ته ارش وايي، خو دیت او ارش کله، کله د یو بل په ځای استعمالیږي.

**د منصف د پریکړې د ټاکلو څرنګوالی**: عادل شخص چې په طبابت او د ټپونو په ارشونو کې د تجربې څښتن وي، هغه په خپله قاضي وي او یا د قاضي له خوا ګومارل شوي شخص وي، په کوم زخم کې چې د انصاف پریکړه لازمه شوې وي، هغه له هغه زخم سره پرتله کوي چې ارش پکې لازم شوی وي او د هغه په تناسب ورته تاوان ټاکي.

**جایفه**: هغه زخم ته وايي چې جوف ته ورسیږي، که هغه د نس جوف (منځ)وي او که د سینې،

جایفه له شجه څخه جلا او ځانګړی زخم دی چې حکم یې په متن کې واضح شوی دی.

**د لاس د ګوتو دیت**: د یوه لاس په ټولو ګوتو کې د دیت نیمایي برخه ده، نو په یوه ګوته کې لس اوښان دي، او په پنځو ګوتو کې د دیت نیمایي برخه پنځوس اوښان کیږي.

په ورغوي کې ګوتې اصل دی، ځکه په هغو نیول ترسره کیږي، له همدې امله حنفي علماوو رحمهم الله ویلي دي: په هغه صورت کې چې لاس پرې شي، د هغه د دیت اندازه په لاس کې د موجودو پرې شویو ګوتو د دیت په اندازه ده، که په لاس کې یوه ګوته وه، که دوه او که درې(نورې ګوتې مخکې له منځه تللې وي) دیت د هغو ګوتو په اندازه لازمیږي.

که له ورغوي او ګوتو سره مړوند هم پرې شي د ورغوي او پنځو ګوتو لپاره د دیت نیمایي دی او د مړوند لپاره یوازې د عدل حکومت لازمیږي.

**د ماشوم د ځینو ټپونو پیژندل**: که د ماشوم د ځینو ټپونو د اغیز پیژندنه ناممکنه شي، په هغو کې د انصاف پریکړه لازمیږي. مثلاً که د ماشوم سترګه زخمي شي او روغتیا او ناروغتیا یې څرګنده نه وه، ځکه چې ماشوم خپل حالت نشي بیانولای، نو د انصاف پریکړه لازمیږي.

د ذکر د روغتیا پېژندل په حرکت ورکولو او د ژبې په تلفظ سره کیږي او ماشوم دغسې ازموینه نشي تر سره کولای.

## ارزونه

١. د سر او مخ د لس ګونو ټپونو نومونه واخلئ او تعریف یې کړئ.

٢. موضحه د عمد او خطا په صورت کې څه حکم لري؟

٣. په منقله، آمه او جائفه کې د دیت څومره برخه لازمیږي؟

٤. یوه شخص په خطا سره د بل چا لاس پرې کړ او مخکې له دې چې روغ شي، هغه یې په خطا مړ کړ، څومره دیت واجبیږي؟

٥. دیت، ارش او د انصاف پریکړه له یو بل سره پرتله کړئ؟

٦. د انصاف پریکړه څنګه ټاکل کیږي؟

# د ټول بدن زخمونه

د سر او مخ له ټپونو سربيره که په بدن کې نور ټپونه رامنځته شول، د هغې حکم به څه وي؟ په دې لوست کې د دې پوښتنې ځواب او د قصاص د ديت اړوند نور احکام تر بحث لاندې نيول کيږي.

(١) وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا مُوضِحَةً فَذَهَبَ عَقْلُهُ أَوْ شَعْرُ رَأْسِهِ، دَخَلَ أَرْشُ الْمُوضِحَةِ فِي الدِّيَةِ، وَإِنْ ذَهَبَ سَمْعُهُ، أَوْ بَصَرُهُ، أَوْ كَلَامُهُ فَعَلَيْهِ أَرْشُ الْمُوضِحَةِ مَعَ الدِّيَةِ.

(٢) وَمَنْ قَطَعَ أُصْبُعَ رَجُلٍ فَشُلَّتْ أُخْرَى إِلَى جَنْبِهَا، فَفِيهِمَا الْأَرْشُ، وَلَا قِصَاصَ فِيهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٣) وَمَنْ قَلَعَ سِنَّ رَجُلٍ فَنَبَتَتْ أُخْرَى سَقَطَ الْأَرْشُ.

(٤) وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا شَجَّةً فَالْتَحَمَتْ وَلَمْ يَبْقَ لَهَا أَثَرٌ ونبت الشَّعْرُ سَقَطَ الْأَرْشُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: عَلَيْهِ أَرْشُ الْأَلَمِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: عَلَيْهِ أُجْرَةُ الطَّبِيبِ.

(٥) وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًا جِرَاحَةً لَمْ يُقْتَصَّ مِنْهُ حَتَّى يَبْرَأَ.

(٦) وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ خَطَأً، ثُمَّ قَتَلَهُ قَبْلَ الْبُرْءِ فَعَلَيْهِ الدِّيَةُ، وَسَقَطَ أَرْشُ الْيَدِ.

(٧) وَكُلُّ عَمْدٍ سَقَطَ فِيهِ الْقِصَاصُ بِشُبْهَةٍ، فَالدِّيَةُ فِي مَالِ الْقَاتِلِ. وَكُلُّ أَرْشٍ وَجَبَ بِالصُّلْحِ فَهُوَ فِي مَالِ الْقَاتِلِ.

(٨) وَإِذَا قَتَلَ الْأَبُ ابْنَهُ عَمْدًا فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ.

(٩) وَكُلُّ جِنَايَةٍ اعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي فَهِيَ فِي مَالِهِ، وَلَا يُصَدَّقُ عَلَى عَاقِلَتِهِ.

(١٠) وَعَمْدُ الصَّبِيِّ، وَالْمَجْنُونِ خَطَأٌ، وَفِيهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ.

(١١) وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ، أَوْ وَضَعَ حَجَرًا، فَتَلِفَ بِذَلِكَ إِنْسَانٌ فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ، وَإِنْ تَلِفَ فِيهِ بَهِيمَةٌ فَضَمَانُهَا فِي مَالِهِ

(١٢) وَإِنْ أَشْرَعَ فِي الطَّرِيقِ رَوْشَنًا، أَوْ مِيزَابًا فَسَقَطَ عَلَى إِنْسَانٍ فعطب فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ
وَلَا كَفَّارَةَ عَلَى حَافِرِ الْبِئْرِ وَوَاضِعِ الْحَجَرِ.
(١٣) وَمَنْ حفَرَ بِئْرًا فِي مِلْكِهِ فَعَطِبَ فِيهَا إِنْسَانٌ لَمْ يَضْمَنْ.
(١٤) وَالرَّاكِبُ ضَامِنٌ لِمَا وَطِئَتْ الدَّابَّةُ، بِيَدِهَا أَوْ كَدَمَتْ، وَلَا يَضْمَنُ مَا نَفَحَتْ بِرِجْلِهَا أَوْ بِذَنَبِهَا
(١٥) فَإِنْ رَاثَتْ أَوْ بَالَتْ فِي الطَّرِيقِ، فَعَطِبَ بِهِ إِنْسَانٌ لَمْ يَضْمَنْ.
(١٦) وَالسَّائِقُ ضَامِنٌ لِمَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا أَوْ رِجْلِهَا. وَالْقَائِدُ ضَامِنٌ لِمَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا دُونَ رِجْلِهَا.
(١٧) وَمَنْ قَادَ قِطَارًا فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا وطئ، وَإِنْ كَانَ مَعَهُ سَائِقٌ فَالضَّمَانُ عَلَيْهِمَا.

## ژباړه

(١) که چا یو سړی په موضحه ټپ ټپي کړ، چې عقل یې زایل شو او یا یې د سر ویښتان توی شول، د موضحه زخم تاوان(د عقل او یا ویښتانو) په دیت کې داخل دی. او که اوریدل، لیدل، او یا خبرې کول یې له منځه ولاړل، نو بیا دې باندې د موضحې د زخم له تاوان سره بشپړ دیت لازمیږي.

(٢) که چا د کوم شخص ګوته پرې کړه او ترخنګ یې بله ګوته شله شوه، نو په دواړو کې ارش واجبیږي او د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد پکې قصاص نشته.

(٣) که څوک د چا غاښ وباسي او پر ځای یې بل غاښ راشین شو، ارش (دیت) ساقطیږي.

(٤) اوڅوک چې یو شخص پر سر ټپي کړي، بیا هغه ټپ جوړ شي، د ټپ کوم اثر پاتې نشي او د زخم پرځای ویښتان راشنه شول، نو د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په نزد دیت ساقطیږي، ابویوسف (رحمه الله) وایي چې د هغه د درد لپاره ارش دی او امام محمد (رحمه الله) وایي: پرهغه باندې د ډاکټر مزدوري(لګښت) ده.

(٥) که یوه شخص بل څوك ټپي کړ، له هغه څخه قصاص نه اخېستل کیږي، ترڅو چې (زخم) جوړ شي.

(٦) او چا چې د یوه شخص لاس په خطا پرې کړ، او مخکې له دې چې روغ شي، هغه یې مړ کړ، پر هغه یو دیت دی، او دلاس ارش ورڅخه ساقطیږي.

(٧) هر قصدي جنایت چې قصاص یې د شبهې په سبب ساقط شي، دیت یې د قاتل په مال کې لازمیږي. هر هغه مال چې د سولې په سبب واجب شي هغه د قاتل له مال څخه اداء کېږي.

(٨) او کله چې پلار خپل زوی ووژني، نو دیت یې پر پلار باندې د پلار له مال څخه د درېو کالو په موده کې لازمیږي.

(٩) هر هغه جنایت چې جنایتکار پرې اقرار وکړي، دیت یې د جنایتکار په مال کې دی او پر عاقلې باندې نه شمېرل کیږي.

(١٠) د صغیر او لیوني قصدي (جنایت) خطاګڼل کیږي، او په هغه کې پر عاقله باندې دیت دی.

(١١) که چا په لاره کې څاه وکیندله، یا یې په لاره کې تیږه کېښوده او یو انسان پرې تلف شو، نو د هغه دیت د هغه پر عاقله باندې واجبیږي، او که په هغې (څاه) کې څاروی تلف شي، د هغه تاوان د څاه کنونکي په مال کې دی.

(١٢)که کوم شخص په لاره کې څېره جوړه کړه او یا یې لارې ته ناوه راویستله، او پر چا ولویده، او مړ یې کړ، دیت یې د هغه پر عاقله باندې واجبیږي. د څاه په کیندونکي او د تیږې په ایښودونکي کفاره نشته.

(١٣) که چا په خپل ملکیت کې څاه وکیندله او کوم انسان پکې ولوید او مړ شو، پر هغه باندې تاوان نه لازمیږي.

(١٤) که کوم څاروي څوك تر پښو لاندې کړ، یا یې چا ته په لاسونو زیان ورساوه او یا یې پرې خوله ولګوله، نو پر حیوان سپور شخص یې ضامن دی(باید تاوان ورکړي) او د لکۍ او یا د

وروستيو پښنو په لغتو وهلو سره پر هغه  تاوان نشته.

(١٥) که حيوان په لارکې خوشايي او يا بولې وکړي او د هغه په سبب انسان له منځه ولاړ شي، پر سپرلی سپور شخص ضامن نه دی.

(١٦) د حيوان بيونکی د هغه شي ضامن دی چې حيوان هغه د مخې يا شا په پښه زيانمن کړي. او د حيوان راښکونکی (کش کوونکی) د هغه شي ضامن دی چې د حيوان د مخې په پښه لګيږي نه د شا په پښه.

(١٧) د ځارويو د ليکې(قطار) راښکونکی د هغه شي ضامن دی چې ځاروي يې تر پښنو لاندې کړي او که له هغه سره د شا له لوري ملګری ځارونکی وي، نو تاوان يې پر دواړو دی.

**شرحه**:

**د هغه ټپ حکم چې له امله يې دوه شيان له منځه ولاړشي**: که چا يو څوك په موضحه ټپ داسې ټپي کړچې له امله يې د هغه عقل او ويښتان په ټوليزه توګه له منځه ولاړل، په دې صورت کې د عقل او يا ويښتانو لپاره يو ديت واجبيږي او د موضحه ديت پکې شامليږي، خو که د موضحه ټپ له امله ليدل او يا اوريدل له منځه ولاړل، د موضحه ديت د ليدلو يا اوريدلو له ديت سره يو ځای لازميږي.

**په دې اړه قاعده دا ده**: کله چې په يوه غړي کې جنايت رامنځته شي او په هغه غړي کې دوه نور شيان له منځه يوسي (لکه موضحه ټپ چې عقل او يا د سر ويښتان له منځه يوسي)، نو لږ ارش په ډېر کې داخليږي، او که اثر يې په دوو نورو غړو کې څرګند شي (لکه موضحه ټپ چې ليدل او اوريدل له منځه يوسي) که جنايت خطا وي، نو په ديت کې يې تداخل نه رامنځته کيږي، که په قصد وي د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد د ټولو لپاره مال لازميږي او په هيڅ يوه کې هم قصاص نشته، د صاحبينو په نزد د هغه ځای لپاره چې په هغه کې جنايت په نيغه (مستقيما) رامنځته شوی وي، قصاص لازميږي او د هغه ځای لپاره چې په غير مستقيم ډول زيانمن شوی وي، ديت لازميږي.

دغه قاعده سره له تفصیله دګوتې د پرې کولو په هغه ځای کې چې د یوې ګوتې د پرې کولو تر څنګ بله ګوته شله شوې وي، پلې شوې ده، نو د امام صاحب په نزد د دواړو لپاره ارش لازمېږي او د صاحبینو په نزد د پرې کړلې شوې ګوتې لپاره قصاص او د شلې ګوتې لپاره ارش لازمېږي.

**د هغه ایستل شوي غاښ حکم چې پر ځای یې بل غاښ راشین شوی وي**: که څوک د چا غاښ وباسي او د هغه پر ځای بل غاښ را شین شي، نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د غاښ دیت ساقطیږي او د صاحبینو (رحمهما الله) په نزد دیت نه ساقطیږي، ځکه چې جنایت د دیت د وجوب باعث ګرځیدلی دی او د دویم غاښ راټوکېدل د الله تعالی له خوا نوی نعمت دی چې دیت نه ساقطوي.

**امام ابوحنیفه** (**رحمه الله**) **فرمايي**: په دې ځای کې جنایت معناً زایل شوی دی، ځکه چې د دیت وجوب د منفعت د فوت کېدلو په وجه و، خو کله چې بل غاښ راوټوکید، منفعت پر خپل ځای پاتې شو او د بل غاښ په را ټوکېدلو منبت فاسد نه شو، نو نه د هغه منفعت فوت شوی او نه یې زینت له منځه تللی دی.

**د سر هغه زخم چې په بشپړه توګه جوړ شي او کومه نښه یې پاتې نشي**: د ټپونو بدل که هغه د منصف پریکړه وي او که ارش، د زخم له رغیدو وروسته تاکل کېږي او که په زخم کې د ټپي کېدو هیڅ نښه پاتې نشي، د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد تاوان ساقطیږي، ځکه تاوان د هغه عیب او داغ لپاره دی چې په زخم پاتې کیږي او په هغه صورت کې چې د زخم هیڅ نښه پاتې نشي او یوازې درد یې پاتې وي، نو په دردونو کې مالي تاوان نشته، لکه په اتفاق سره چې په ښېرو وهلو کې مالي تاوان نشته.

د امام ابویوسف (رحمه الله) په نزد باید د دردونو لپاره څه ورکړل شي او د امام محمد (رحمه الله) په نزد د ناروغۍ د لګښتونو تاوان د طبیب اجوره او دوا ورته ورکول کیږي.

**د ټپونو قصاص یوازې د زخمونو له رغېدلو وروسته رامنځته کیږي**: ځکه ممکنه ده چې قتل د مرګ سبب شي او په هغه صورت کې په نفس کې قصاص دی، نو د مُوجَب له تعیین

ځخه مخکې باید قصاص وا نه خیستل شي.

**پرقاتل او عاقله باندې د دیت د وجوب بیان**: هر هغه قصدي قتل چې قصاص پکې د شبهې له امله ساقط شي، مثلاً: پلار خپل زوی قتل کړي، یا لس کسه یو تن په قتل ورسوي چې یو یې پلار وي. په دې صورت کې دیت د قاتل له ماله وي چې په دریو کلونو کې اداء کیږي.

کله چې دیت د سولې یا اقرار په کولو واجب شي، هغه هم د قاتل له مال څخه دی او فورا اداء کیږي.

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت شوی دی: (لَا تَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ عَمْدًا وَلَا عَبْدًا وَلَا صُلْحًا وَلَا اعْتِرَافًا)[1] پرعاقله هغه تاوان نشته چې د عمد جنایت، دغلام جنایت، سولې، او اقرارله امله لازم شوی وي.

**د ماشوم او لیوني جنایت**: که کوم نا بالغ تن یا کوم لیوني په قصد سره څوك وواژه، د دوی عمد هم خطاګڼل کیږي، نو په هغه کې قصاص نه واجبیږي، بلکې پرعاقله وو باندې یې دیت دی او تر څنګ یې د مقتول له میراث څخه هم نه محرومیږي، ځکه له میراثه محرومیدل یو ډول عقوبت دی او دوی دواړه د سزا اوعقوبت وړ نه دي.

**په لارو کې جنایت**: که چا په عامه لاره کې څاه وکیندله، یا یې کومه تیږه کېښودله چې له امله یې کوم انسان تلف شو، نو دیت یې د هغه شخص پر عاقله باندې دی او که په هغه سره مال له منځه ولاړ شي د هغه تاوان پر خلاف کار شخص دی.

ځکه عاقله شرعاً د مالونو د اتلاف تاوان پر غاړه نشي اخېستلای.

په لاره کې د مضرو شیانو لکه لرګیو، خس او خاشاکو او نورو شیانو د غورځولو حکم، لکه په لارکې د تیږې د ایښودلو په شان دی.

په پورتنیو تیري کوونکو اشخاصو باندې د قتل کفاره نه لازمیږي.

که چا په خپل ملکیت (جایداد) کې څاه کیندلې وه او یا یې تیږه ایښې وه او له امله یې کوم شخص یا مال تلف شو، په هغه کې کوم تاوان نه لازمیږي.

---

۱. آخرجه في الموطا رواية محمد بن حسن الشيباني باب دية العمد.

**د ځاروي جنايت**: له کومو شيانو څخه چې ځان ساتنه ممکنه نه وي، په هغو کې ضمان او تاوان هم نشته او له کومو شيانو څخه چې اجتناب ممکن وي او د يو چا له خوا په تېري کولو سره رامنځته شي په هغو کې تاوان لازميږي.

نو که چيرې د يو چا سورلی د تگ په حالت يو څوک تر پښو لاندې کړ او يا يې په سر ووهي او هغه تلف شي او يا پرې خوله ولگوي، په دې صورتونو کې پر سورلی سپور شخص ضامن او تاوان ورکوونکی دی، ځکه چې ځان ساتنه ورڅخه ممکنه وه او که چيرې د يوه سپاره شخص سورلی د تگ په حال کې يو څوک د شا له لوري په لغته او يا په لکی باندې ووهي، نوضمان(تاوان) په کې نشته، ځکه د تگ په حال کې ورڅخه مخنيوی ممکن نه دی.

همدا شان که سپرلۍ په لاره کې خوشايان او بولې وکړي او پر هغه باندې څوک وښوييږي او زيان ورته ورسيږي، نو تاوان نه لري.

خو که سپرلۍ يې په لاره کې ودروله او داسې پېښه رامنځته شوه، بيا تاوان لري، ځکه په دې صورت کې تېری د ده له لوري شوی دی.

که چا يو ځاروی روان کړی و، دی يې تر شا روان و او ځاروي څوک د مخې او يا د شا د پښې لاندې کړ او هغه مړ شو، نو بيوونکی ضامن دی، ځکه دغه کار د ده د نظر لاندې ترسره شوی دی چې له هغه څخه ډډه کول ممکن و.

که يو چا د ځاروي جلب نيولی و او مخ لور ته يې راکاږلو او د مخې په پښه يې څوک هلاک شو، بيوونکی يې ضامن دی.

## فعاليت

زده کوونکي دې د موټر او د ابې (سپرلی) په وسيله د انسان او ځاروي تلف کېدل پرتله کړي او د هغه د حکم په اړه دې خپل نظر څرگند کړي.

## ارزونه

۱. د هغه زخم په اړه قاعده څه ده چې له امله یې دوه شیان تلف شي؟ دغه قاعده سره له اتفاقي او اختلافي مواردو د مثالونو په ترڅ کې څرګنده کړئ.

۲. که څوک د یو چا غابښ له منځه یوسي او د هغه غابښ په ځای بل غابښ رواخیژي، د امام صاحب او صاحبینو(رحمهم الله) په نزد څه حکم لري؟ د دواړو خواوو دلیلونه ولیکئ.

۳. که د سر ټپ په ټولیزه توګه روغ شي او هیڅ نښه یې پاتې نشي، د احنافو د دریواړو امامانو (رحمهم الله) په نزد څه اثر پرې مرتبیږي؟ او ولې؟

٤. په لاندې صورتونو کې کوم دیت د قاتل له مال څخه او کوم پرعاقله باندې دی؟

- عمد قتل چې قصاص پکې د شبهې له وجې ساقط شي.
- هغه دیت چې د سولې په وجه لازمیږي.
- هغه دیت چې د اقرار په سبب لازمیږي.
- هغه دیت چې د ماشوم او یا لیوني د کړنو له امله لازمیږي.
- په سبب سره قتل.

٥. که یو څوک په لارکې تیره کیږدي، یا ناکاره توکي واچوي، او په هغه باندې کوم شخص یا مال تلف شي، څه اثر پرې مرتبیږي؟

٦. د څاروي جنایت په داسې حالت کې چې څوک پرې سپور وي، یا یې د شا له خوا بیایي او یا یې مخې ته راکاږي، څه حکم لري؟

# د دیوال لویدل، ټکر، د جنین دیت او د قتل کفاره

د انسان پر بدن باندې د ځینو جنایاتو لکه د کوږ دیوال راپرېوتل، ټکر او په جنین باندې د مور په ګېډه کې جنایت چې په تېرو لوستونو کې ورته اشاره نه ده شوې، په دې لوست کې بیانیږي.

(١) إِذَا مَالَ الْحَائِطُ إِلَى طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ، فَطُولِبَ صَاحِبُهُ بِنَقْضِهِ، وَأُشْهِدَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَنْقُضْ فِي مُدَّةٍ يَقْدِرُ عَلَى نَقْضِهِ فِيهَا حَتَّى سَقَطَ، ضَمِنَ مَا تَلِفَ بِهِ مِنْ نَفْسٍ أَوْ مَالٍ. وَيَسْتَوِي أَنْ يُطَالِبَهُ بِنَقْضِهِ مُسْلِمٌ أَوْ ذِمِّيٌّ

(٢) وَإِنْ مَالَ إِلَى دَارِ رَجُلٍ، فَالْمُطَالَبَةُ إِلَى مَالِكِ الدَّارِ خَاصَّةً.

(٣)وَإِذَا اصْطَدَمَ فَارِسَانِ فَمَاتَا، فَعَلَى عَاقِلَةِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دِيَةُ الْآخَرِ.

(٤) وَإِنْ ضَرَبَ رَجُلٌ بَطْنَ امْرَأَةٍ فَأَلْقَتْ جَنِينًا مَيِّتًا فَعَلَيْهِ غُرَّةٌ. وهي نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ.

(٥) وَإِنْ أَلْقَتْهُ حَيًّا، ثُمَّ مَاتَ فَعَلَيْهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ. وَإِنْ أَلْقَتْهُ مَيِّتًا،ثُمَّ مَاتَتِ الأُمُّ، فَعَلَيْهِ دِيَةٌ وَغُرَّةٌ، وَإِنْ مَاتَتِ الأُمُّ ثُمَّ أَلْقَتْهُ مَيتاً، فَعَلَيْهِ دِيَةٌ فِي الأُمِّ وَلَا شَيْءَ فِي الجَنِيْنِ.

(٦) وَمَا يَجِبُ فِي الْجَنِيْنِ مَوْرُوثٌ عَنْهُ، وَلاَ كَفَّارَةَ فِي الْجَنِيْنِ.

(٧) وَالْكَفَّارَةُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ وَالْخَطَأ: عِتْقُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، وَلاَ يُجْزِيُ فِيهِمَا الْإِطْعَامُ.

**ژباړه**:

(١) کله چې یو دیوال د مسلمانانو د لارې خواته کوږ شو او له څښتن څخه یې غوښتنه وشي چې هغه وران کړي او په دې خبره شاهدان هم ونیول شي، خو هغه دغه دیوال په کومه موده

کې چې ورانولای شو، وران نه کړ، تردې چې دیوال وغورځید، نو که انسان او یا مال پرې تلف شي، باید د دیوال خاوند یې تاوان ورکړي. مسلمان او ذمي د دیوال د ورانولو په غوښتنه کې یو برابر دي.

(۲) که کوم دیوال د یو چا د کور په طرف کوږ شو، نو د دغه دیوال د ورانولوغوښتنه یوازې د کور په څښتن پورې اړه لري.

(۳) کله چې پر آس دوه سپاره کسان له یو بل سره ټکر وکړي او دواړه مړه شي، نو د هر یوه پر عاقله باندې د بل دیت دی.

(٤) که چاکومه (حامله) ښځه په ګېډه ووهله او مړ جنین (ماشوم) یې وغورځاوه، نو پر هغه تاوان (غره) لازم دی او غره د عشرنیمایي(د دیت شلمه برخه)ده.

(٥) که یې ماشوم ژوندی وغورځېده او له هغه وروسته مړشو، نو بشپړ دیت پرې لازمیږي. که یې ماشوم مړ وغورځاوه او له هغه وروسته پخپله ښځه هم مړه شوه، نو پر وهونکي باندې دیت او غره لازمیږي. که مور مړه شوه او له هغه وروسته مړ ماشوم ولوید، د مور دیت په بشپړ ډول دی او په جنین (ماشوم) کې څه شی نشته.

(٦) هغه څه چې په جنین کې واجبیږي، له هغه څخه په میراث وړل کیږي او د جنین په قتل کې کفاره نشته.

(۷) د شبه عمد او خطا قتل کفاره، د مسلمان مریي آزادول دي، که چا مریی ونه موند، نو د دوو میاشتو پرله پسې روژې دې ونیسي او خواړو ورکول پکې بسنه نه کوي (د روژې ځای نه نیسي).

## شرحه:

**د کاږه دیوال احکام**: که یو دیوال د عامې لارې خوا ته کوږ شو، خلکو د هغه د ورانولو غوښتنه وکړه او د دیوال څښتن دومره وخت کې چې هغه یې ورانولای شو، وران نکړ، تر دې چې هغه ولوید او یو څوک یې وواژه یا یې د چا مال تلف کړ، د قیاس له مخې، د دیوال

خاوند ضامن نه دی، چې دا د امام شافعي او امام محمد (رحمهما الله) قول دی، ځکه په دې کې د مالك تقصیر او نیمګړتیا نشته، د دیوال بناء د ده په ملك کې ده او د هغه کړېدل د مالك کار نه دی. خو د استحسان له مخې هغه ضامن دی، ځکه کله چې دیوال کوږ شو، د هغه د لویدو ګواښ و، د هغه د ورانولو غوښتنه هم وشوه بیایې هم وران نه کړ، نو د دیوال نه ورانول تېری ګڼل کیږي.

همدارنګه که د چا دیوال د بل چا د کور خواته ورکوږ شو او د کور خاوند د هغه د ورانولو غوښتنه وکړه، خو د دیوال خاوند، هغه وران نکړ، د هغه د نړېدلو په صورت کې که هر شی تلف شو د دیوال خاوند به د هغه تاوان ورکوي او په دې صورت کې یوازې د کور د خاوند په غوښتنه ملزم ګرځي، نه د بل چا په غوښتنه.

**ټکر**: کله چې دوه سپاره یو له بله سره ټکر وکړي او دواړه مړه شي، نو هر یوه مقابل لوری په خطا وژلی دی او په خطا قتل کې دیت پر عاقله باندې لازمیږي.

**د وهلو په ذریعه د جنین (اولاد) سقط(غورځیدل)**: د جنین په اسقاط باندې که هغه په عمدي توګه وي او که په خطا سره، غره لازمیږي.

**غُرّة**: دلته د تاوان په معنا ده چې اندازه یې پنځه سوه درهمه ده یعنې: د هلك غره د سړي د دیت شلمه برخه او د انجلۍ غره د ښځې د دیت لسمه ده، چې د دې موضوع نور مسایل په متن کې څرګند دي.

**د قتل کفاره**:د شبه عمد او د خطا په قتل کې کفاره لازمیږي، د قتل کفاره د مومن غلام (مریی) له آزادولو څخه عبارت ده او که یې هغه ونه موندلو دوې میاشتې دې پرله پسې روژې ونیسي. ځکه الله تعالی فرمایي: {وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ} تر دې قوله د الله تعالی {فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ} [النساء: ۹۲]

" او څوك چې کوم مؤمن په خطا سره ووژني؛ نو د هغه کفاره دا ده چې یو مؤمن له غلامۍ نه آزاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته د وینو بیه ورکړي، نو که څوك غلام ونه مومي پر له پسې دې دوه میاشتې روژې ونیسي.

## ارزونه

۱. که د کوم شخص دیوال د مسلمانانو عامې لارې او یا د بل چا د کور په لور کوږ وي، د هغه څښتن باید څه وکړي او د نورو وجیبه څه ده؟

۲. هغه مهال چې دوه سپاره یو له بله سره ټکر شي او له هغوی څخه یو یا دواړه مړه شي، نو په دې پېښه څه اثر مرتبېږي؟

۳. د قتل د کفارې ډولونه سره له دلیل بیان کړئ.

# قسامت

په اسلامي شریعت کې د انسان نفس ډېر ارزښت لري. له همدې امله که قاتل څرګند وي په هغه یې قصاص او یا دیت لازم کړی دی. خو که چیرې مقتول په داسې حالت کې وموندل شي چې د وژلو نښې او آثار په هغه کې څرګندې شي او وژونکی یې معلوم نه وي، څرنګه چې د معصوم الدم نفس وینه هدر اوبیځایه نه ځي، نو د سیمې د نژدې خلکو په منځ کې قسامت صورت نیسي او د مړي دیت پر هغوی باندې تحمیلیږي چې په دې لوست کې به د قسامت تعریف، احکام او د هغه اړوند موضوعات بیان شي.

باب القسامة

(١) وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي مَحَلَّةٍ لَا يُعْلَمُ مَنْ قَتَلَهُ اُسْتُحْلِفَ خَمْسُونَ رَجُلًا مِنْهُمْ يَتَخَيَّرُهُمْ الْوَلِيُّ:( فَيَحْلِفُونَ بِاَللَّهِ مَا قَتَلْنَاهُ وَلَا عَلِمْنَا لَهُ قَاتِلًا). فَإِذَا حَلَفُوا قُضِيَ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِالدِّيَةِ.

(٢) وَلَا يُسْتَحْلَفُ الْوَلِيُّ ثُمَّ يُقْضَي لَهُ بِالْجِنَايَةِ.

(٣) وإِنْ لَمْ يَكْمُلْ أَهْلُ الْمَحَلَّةِ، كُرِّرَتْ الْأَيْمَانُ عَلَيْهِم حَتَّى يَتِمَّ خَمْسِينَ.

(٤) وَلَا يَدْخُلُ فِي الْقَسَامَةِ صَبِيٌّ، وَلَا مَجْنُونٌ وَلَا امْرَأَةٌ، وَلَا عَبْدٌ.

(٥) وَإِنْ وُجِدَ ميت لَا أَثَرَ بِه، فَلَا قَسَامَةَ، وَلَا دِيَةَ، وَكَذَلِك إن كَانَ الدَّمُ يَسِيلُ مِنْ أَنْفِه، أَو مِنْ دُبُرِهِ أَوْ مِنْ فَمِه. فإِنْ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْه، أَوْ من أُذُنَيْهِ فَهُوَ قَتِيلٌ.

(٦) وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيلُ عَلَى دَابَّةٍ يَسُوقُهَا رَجُلٌ، فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ دُونَ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ.

(٧) وَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي دَارِ إِنْسَانٍ فَالْقَسَامَةُ عَلَيْه، وَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِه.

(٨) وَلَا يَدْخُلُ السُّكَّانُ فِي الْقَسَامَةِ مَعَ الْمُلَّاكِ عند أبي حنيفة، وَهِيَ عَلَى أَهْلِ الْخُطَّةِ

دُونَ الْمُشْتَرِينَ، وَلَوْ بَقِيَ مِنْهُمْ وَاحِدٌ.

(٩) وَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي سَفِينَةٍ فَالْقَسَامَةُ عَلَى مَنْ فِيهَا مِنَ الرُّكَّابِ، وَالْمَلَّاحِينَ.

(١٠) وَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي مَسْجِدِ مَحَلَّةٍ، فَالْقَسَامَةُ عَلَى أَهْلِهَا، وَإِنْ وُجِدَ فِي الْجَامِعِ، أَوْ الشَّارِعِ الْأَعْظَمِ، فَلَا قَسَامَةَ فِيهِ، وَالدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ.

(١١) وَإِنْ وُجِدَ فِي بَرِّيَّةٍ لَيْسَ بِقُرْبِهَا عِمَارَةٌ، فَهُوَ هَدَرٌ.

(١٢) وَإِنْ وُجِدَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ، كَانَ عَلَى أَقْرَبِهِمَا.

(١٣) وَإِنْ وُجِدَ فِي وَسَطِ الْفُرَاتِ يَمُرُّ بِهِ الْمَاءُ فَهُوَ هَدَرٌ.

(١٤) فَإِنْ كَانَ مُحْتَبَسًا بِالشَّاطِئِ، فَهُوَ عَلَى أَقْرَبِ الْقُرَى مِنْ ذَلِكَ الْمَكَانِ.

(١٥) وَإِنْ ادَّعَى الْوَلِيُّ الْقَتْلَ عَلَى وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِعَيْنِهِ، لَمْ تَسْقُطْ الْقَسَامَةُ عَنْهُمْ.

(١٦) وَإِنْ ادَّعَى عَلَى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ، سَقَطَتْ عَنْهُمُ الْقَسَامَةُ.

(١٧) وَإِذَا قَالَ الْمُسْتَحْلَفُ: قَتَلَهُ فُلَانٌ أُسْتُحْلِفَ بِاللَّهِ (مَا قَتَلْتُهُ وَلَا عَرَفْتُ لَهُ قَاتِلًا غَيْرَ فُلَانٍ).

(١٨) وَإِذَا شَهِدَ اثْنَانِ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ عَلَى رَجُلٍ مِنْ غَيْرِهِمْ أَنَّهُ قَتَلَهُ، لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا.

## ژباړه:

(١) كه په كومه محله كې مړى پيدا شي او معلومه نه وه چې هغه چا وژلى دى، د محلې پنځوسو كسانو ته قسم وركول كيږي، چې هغه به د (مقتول) ولي په ګوته كوي (داسې قسم به كوي): په الله قسم كوو چې نه مو وژلى دى او نه يې قاتل پيژنو، كله چې يې قسم وكړ، نو د محلې په خلكو د ديت وركولوحكم كيږي.

(٢) او د مقتول ولي ته قسم نه وركول كيږي، ترڅو د ده په نفع د جنايت حكم وكړل شي.

(٣) كه د محلې اوسيدونكي پنځوسو تنو ته ونه رسيدل، هغوى ته دې دويم ځلې قسم وركړل

شي، ترڅو پنځوس پوره شي.

(٤) وړوکی، لیونی، ښځه او مریی په قسامت کې نه داخلیږي.

(٥) که مړی پیدا شو او د (قتل) اثر او نښه وربانديې نه وه، نو نه قسامت شته او نه دیت. همدارنګه (قسامت او دیت نشته) که وینه یې له پوزې یا له مقعد او یا له خولې څخه بهیدلې وه. که چیرې له دواړو سترګو او غوږونو څخه یې وینه راوتلې وه، نو هغه مقتول ګڼل کیږي.

(٦) کله چې مقتول د داسې سپرلۍ د پاسه وموندل شي، چې یو سړی یې بیایي، نو دیت د دغه بیوونکي پر عاقله باندې دی، نه د محلې پر خلکو.

(٧) که مقتول د چا په کور کې پیدا شو، قسامت په هغه او دیت یې پرعاقله باندې لازمیږي.

(٨) د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد، څوک چې په محله کې استوګن دي د محلې له خاوندانو سره په قسامت کې نه داخلیږي، قسامت د خطې په خلکو باندې دی نه په مشتریانو، اګر که یوازې یو تن د خطې له اهل څخه پاتې وي.

(٩) که مقتول په کښتی کې پیدا شي، قسامت د کښتی په سپرو خلکو او د کښتې په کار کوونکو باندې واجب ګرځي، که مقتول د محلې په جومات کې پیدا شي، قسامت د هغې محلې پر خلکو واجبیږي.

(١٠) که مقتول په جامع جومات کې او یا په عمومي سړک کې پیدا شي، نو په هغه کې قسامت نشته او دیت یې په بیت المال باندې دی.

(١١) که مقتول په داسې دښته او بیدیا کې پیدا شو چې نژدې ورته ابادۍ شتون نه درلود، د هغه وینه هدر ده.

(١٢) که مقتول د دوو کلیو په منځ کې پیدا شو، قسامت یې په نژدې کلي دی.

(١٣) که مقتول د فرات (سیند) په منځ کې پیدا شو چې اوبه وربانديې رواني وي، هغه هدر دی.

(١٤) او که په ساحل کې ایسار شوی و، نو (قسامت) یې په نژدې کلي دی.

(١٥) که د مقتول ولي د محلې په يوه ټاکلي شخص دعوا وکړه، له هغو څخه قسامت نه ساقطيږي.

(١٦) که د محلې له خلکو پرته يې په بل شخص دعوا وکړه له هغوی څخه قسامت ساقطيږي.

(١٧) که هغه شخص چې قسم ورکول کيږي وويل: دا فلاني وژلی دی، هغه ته دې په الله قسم ورکړل شي چې: (ما نه دی وژلی او له هغه فلاني څخه پرته د ده بل قاتل نه پيژنم).

(١٨) او کله چې د محلې دوه تنه په يوه شخص چې د دې محلې له اوسيدونکو څخه نه وي شاهدي ورکړي چې هغه وژلی دی، د دوی شهادت نه قبليږي.

**شرحه**:

**د قسامت تعريف**: قسامت په لغت کې قسم ته وايي او د شرعې په اصطلاح کې: کله چې مقتول په يوه محله کې پيدا شي د هغې محلې د اوسيدونکو له خوا چې د مقتول د ولي لخوا په ګوته کيږي، د پنځوسو تنو قسم خوړل دي، داسې چې په هر ځل به وايي: و الله نه ما وژلی او نه يې قاتل پيژنم. هغه وخت چې دوی دغه ډول قسم وکړ، په دوی باندې د ديت حکم کيږي.

**د قسامت مشروعيت**: د قسامت د مشروعيت په اړه په بخاري او مسلم کې روايت دی چې دوه تنه صحابيان (عبدالله بن سهل او محيصه) خيبر ته ولاړل، له دوی څخه هلته (عبدالله بن سهل) ووژل شو او د خيبر يهود په دغه مهال له مسلمانانو سره په سوله کې وو، هغوی يې له وژنې څخه انکار وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم د مقتول وارثانو ته وويل: قسم وخورئ د خپل صاحب د بدل او عوض حقدار ګرځئ، دوی وويل: موږ څنګه قسم وخورو په داسې حال کې چې نه موږ هلته وو او نه مو ليدلی دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: نو يهود په پنځوسو قسمونو سره خپل ځان ستاسې له دعوا څخه آزاد وي، هغوی وويل: چې موږ څنګه له کافر قوم څخه قسم واخلو؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل لوري (د بيت

المال) څخه دوی ته دیت ورکړ.[1]

**له قسم څخه انکار**: که یوتن او یا ټولو له قسامت څخه انکار وکړ، قاضي تر هغه پورې دوی بندي کوي چې قسم او یا اقرار وکړي.

**پر قسم باندې مرتب اثر**: کله چې د محلې خلک قسم وخوري، نو د امام شافعي (رحمه الله) په نزد برئ الذمه ګڼل کیږي، پرهغوی باندې دیت نه واجبیږي، ځکه قسم په شریعت کې براءت ورکوونکی دی، نه الزام راوړونکی.

خو د احنافو په مذهب کې د محلې خلک له قسم څخه وروسته دیت ورکوي، دوی په هغه اثر دلیل نیسي چې په هغه کې عمر رضي الله عنه د وداعه پر قوم باندې قسم او دیت دواړه لازم کړي وو.[2]

**په کوم حالت کې قسم نه ورکول کیږي**: که په مړي باندې د تیري کوم اثر نه و، قسامت نشته او د قتل د اثر په پیژندلوکې به له اهل خبره وو څخه پوښتنه کیږي چې دا مهال دا کار عدلي طب کوي.

**د چا په کور کې د مړي پیدا کېدل**: په هغه صورت کې چې مړی د چا په کور کې پیدا شي، قسامت د کور په خاوند دی، د کور سړي به تکرارا قسم کوي، تر څو پنځوس قسمونه بشپړ شي، او دیت د ده پر عاقله باندې دی، ځکه د ده مرسته او قوت د ده له عاقلې څخه دی.

**د خطې اهل، مالکین او نوي راغلي اوسیدونکي**: د خطې له اهل څخه مراد هغه کسان دي چې امام کوم ښار فتح کړي او په غازیانو یې تقسیم کړي، چې هر یوه ته د هغوی د برخې لیکل شوی کاغذ ورکړ شوی وي.

مالکین هغو خلکو ته وایي چې په یوه محله کې د جایداد خاوندان وي.

نوي راغلي خلک هغه کسان دي چې په یوه محله کې اوسیږي خو د خطې له اهل او مالکینو څخه نه وي.

١. صحیح البخاری باب الموادعة والمصالحة مع المشرکین بمال وغیره. صحیح مسلم باب القسامة. د حدیث شمیره ٤٤٣٤.

٢. رواه عبدالرزاق في مصنفه (نصب الراية في تخريج آحاديث الهداية).

د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف (رحمهما الله) په نزد قسامت د خطې په خلکو باندې دی که څه هم له هغوی څخه یو تن پاتې وي، او که هغوی خپلې ځمکې خرڅې کړې وي، قسامت پر مالکینو باندې دی، نه په نویو راغلیو کسانو، ځکه د خطې اهل اصل دي او اخیستونکي دخیل او نوي راغلي خلك دي او د امنیت د ساتنې مسؤلیت پر اصلي خلکو دی، نه پر نویو راغلیو، نو تقصیر له هغوی څخه ګڼل کیږي.

امام ابویوسف (رحمه الله) وایي: د خطې اهل، اخیستونکي او اوسیدونکي ټول په قسامت کې داخل دي، ځکه د تدبیر او د ساحې د ساتنې واك په ملکیت او سکونت دواړو پورې تعلق نیسي، نو تقصیر له ټولو څخه ګڼل کیږي.

**د قسامت اهل**: قسامت یوازې پر سړیو باندې واجب دی، پر ماشوم، لیوني، ښځې او مریي باندې قسامت نشته، ځکه د هلك او لیوني قسم اعتبار نه لري، او ښځه او غلام د نصرت او د امنیت د ساتنې اهل نه دي، نو د قتل مسؤلیت پر هغوی باندې نه اچول کیږي، خو ړوند او محدود په قذف کې د نصرت له اهل څخه ګڼل کیږي او په قسامت کې داخلیږي.

**په ټاکلي شخص د قتل دعوا**: که د مقتول ولي د محلې له خلکو څخه چې مقتول پکې پیدا شوی دی، پر یوه ټاکلي شخص باندې دعوا وکړه، قسامت له نورو څخه نه ساقطیږي، ځکه مدعي علیه(په چا چې دعوا شوې) یو له هغو څخه دی، او که د بلې محلې له خلکو څخه یې پر یوه شخص دعوا وکړه، قسامت د محلې له خلکو څخه چې مقتول پکې پیدا شوی دی ساقطیږي، ځکه پر نورو دعوا کول ضمنا د محلې خلکو ته  ابرا کول دي.

**پرنورو د قتل شاهدي**: که د محلې له خلکو څخه دوه تنه په یوه بل شخص د قتل شاهدي ورکړي، چې هغه د محلې له خلکو یا له محلې څخه وتلی بل شخص وي، د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد د هغوی شاهدي نه قبلیږي، ځکه شاهدان دلته د تورنو (خصم) بڼه لري او په شاهدی ورکولو کې له خپل ځان څخه د خصومت دفع کوونکی ګڼل کیږي.

او صاحبین (رحمهما الله) وایي: د دوي شاهدي قبلیږي، ځکه دوی د خصم کیدلو په درشل

کې ول او کله چې یې په بل چا شاهدي وویله، د مقتول ولي دوی پرېښودل او هغه بل شخص یې خصم وګرځاوه، نو دوی متهم نه ګڼل کیږي، حقوق او جنایات د دوو عادلو کسانو په شاهدۍ ثابتیږي.

او په هغه صورت کې چې د مقتول ولي په یوه معین شخص دعوا وکړي، نو د احنافو د امامانو په اتفاق د مدعي علیه شاهدي پر نورو باندې نه قبلیږي، ځکه هغه له خپل ځان څخه د خصومت په دفع کې متهم (تورن) ګڼل کیږي.

## ارزونه

۱ـ قسامت د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ.

۲ـ د قسامت په مشروعیت باندې دلالت کوونکی حدیث ولیکئ؟

۳ـ په قسامت کې له قسم نه په انکار کولو څه اثر مرتبیږي؟

٤ـ د محلې د خلکو په قسم خوړلو چې مقتول پکې پیدا شوی وي، څه اثر مرتبیږي؟

٥ـ په لاندې مواردو کې شرعي حکم بیان کړئ:

- موندل شوی مړی چې د وژلو نښې پرې ونه میندل شي.
- د چا په کور کې د مقتول پیدا کیدل.

٦ـ د مثال په ترځ کې اهل خطه، مالکان او نوي راغلي استوګن، تعریف کړئ.

۷ـ اهل قسامه څوک دي؟

۸ـ په کومه محله کې چې مقتول پیدا شي، که د مقتول ولی د محلې په ټاکلي شخص د قتل دعوا وکړي، آیا په دې صورت کې قسامت د دې محلې له نورو خلکو څخه ساقطیږي؟ او د دې محلې څخه په بهر خلکو دعوا څرنګه ده؟

۹ـ پر نورو کسانو باندې د محلې د خلکو داسې ګواهي چې قتل هغوی کړی دی، د امام صاحب او صاحبینو ترمنځ په دې اړه اختلاف دی، د دوی نظرونه سره له دلائلو بیان کړئ.

# عاقله

د اسلام له نظره د ټولنې وګړي له يوه پلوه، يو له بله جلا او خپلواک دي او له همدې امله يو د بل په جرم نه نيول کېږي، خو له بله پلوه له يو بل سره په تړاو کې دي چې ټول بايد د تيري کوونکو لاس لنډ کړي، امنيت ټينګ کړي او که چيرې د دوی له ډلې څخه کومه خطا پېښه شي، نو د ټولنيز تکافل په څرګندولو سره بايد دوی د ديت په ورکړه کې ګډون وکړي. د نن ورځې په لوست کې د عاقلې، چې د يو شخص د ديت ورکوونکې ده، د احکامو په اړه څرګندونه کوو.

كِتَابُ الْمَعَاقِلِ

(١) الدِّيَةُ فِي شَبَهِ الْعَمْدِ، وَالْخَطَإِ، وَكُلُّ دِيَةٍ وَجَبَتْ بِنَفْسِ الْقَتْلِ عَلَى الْعَاقِلَةِ.

(٢) وَالْعَاقِلَةُ: أَهْلُ الدِّيوَانِ إِنْ كَانَ الْقَاتِلُ مِنْ أَهْلِ الدِّيوَانِ، يُؤْخَذُ مِنْ عَطَايَاهُمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ، فَإِنْ خَرَجَتْ الْعَطَايَا فِي أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِ سِنِينَ أَوْ أَقَلَّ أُخِذَ مِنْهَا.

(٣) وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الدِّيوَانِ فَعَاقِلَتُهُ قَبِيلَتُهُ، وَتُقَسَّطُ عَلَيْهِمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ، لَا يُزَادُ الْوَاحِدُ عَلَى أَرْبَعَةِ دَرَاهِمَ، فِي كُلِّ سَنَةٍ دِرْهَمٌ وَدَانِقَانِ وَيُنْقَصُ مِنْهُمْ فَإِنْ لَمْ تَتَّسِعْ الْقَبِيلَةُ لِذَلِكَ ضُمَّ إِلَيْهَا أَقْرَبُ الْقَبَائِلِ مِنْ غَيْرِهِمْ. وَيَدْخُلُ الْقَاتِلُ مع الْعَاقِلَةِ، فَيَكُونُ فِيمَا يُؤَدِّي كَأَحَدِهِمْ.

(٤) وَلَا تَتَحَمَّلُ الْعَاقِلَةُ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ عُشْرِ الدِّيَةِ، وَتَتَحَمَّلُ نِصْفَ الْعُشْرِ فَصَاعِدًا، وَمَا يَنقَصَ مِنْ ذَلِكَ فَفِي مَالِ الْجَانِي

(٥) وَلَا تَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ جِنَايَةَ الْعَبْدِ، وَلَا تَعْقِلُ الْجِنَايَةَ الَّتِي اعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي، إِلَّا أَنْ يُصَدِّقُوهُ

وَلَا تَعْقِلُ مَا لَزِمَ بِالصُّلْحِ.

## ژباړه:

### د معاقلو کتاب

(۱) دیت په شبه عمد او خطا قتل کې او هر هغه دیت چې په نفس قتل سره واجب شي پرعاقله باندې لازمېږي.

(۲)که چېرته قاتل د دیوان له اهل څخه وي، نو عاقله یې د هغه د دیوان اهل دي، چې په درې کلونو کې د هغوی له تنخاگانو څخه اخیستل کیږي او که چېرې هغوی ته عطیې (تنخاگانې) د دریو کلونو څخه په لږه یا زیاته موده کې ورکړل شوې، نو له هماغو (عطیو) څخه به اخیستل کیږي.

(۳) څوک چې د دیوان له اهل څخه نه وي، نو عاقله یې خپله قبیله ده، د دیت ادا کول دې د دریو کلونو په موده کې په داسې ډول وویشل شي، چې د هغوی هریوه ته، له څلورو درهمو څخه زیات ونه رسیږي، په هر کال کې یو درهم او دوه دانقه (دانق د یو درهم شپږمه برخه ده) او له دې کچې څخه نورهم کمبدلای شي. که چېرته دې قبیلې پوره نشوای کړای، نو بله نژدې قبیله ورسره یوځای کیږي، قاتل په عاقله کې داخل او په دیت ورکولو کې د دوی د یوتن په څېر دی.

(٤) عاقله د دیت له شلمې برخې څخه لږه نه پورته کوي او د دیت شلمه برخه یا له هغې څخه به ډیره برخه پورته کوي او هغه څه چې له دې څخه لږوي د جانی له مال څخه ورکول کیږي.

(٥) عاقله به د مریې د جنایت دیت نه ورکوي اونه د هغه جنایت تاوان ورکوي، چې جاني پرهغه باندې اعتراف کړی وي، مگر په هغه صورت کې چې دوی د هغه اعتراف رښتینی وگڼي او نه هغه تاوان ورکوي، چې په سوله لازم شوی وي.

## شرحه

**د معاقل شرحه**: معاقل (د میم په زور او د قاف په پیښ) د معقلة جمع ده چې د عقل یعنې دیت په معنا ده. عقل د منع په معنا ده او دیت ته له دې امله عقل وایي، چې د وینو تویولو مخه

نيسيي.

**عاقله**: د يوه چا عاقله هغه کسانو ته ويل کيږي، چې د هغه مرسته کوي او د قتل او جرح پر مهال د هغه د جنايت له امله ديت ورکوي.

د امام ابوحنيفه (رح) له نظره د يوه سړي عاقله د هغه د ديوان اهل دي او هغوي هغه کسان دي، چې په عسکري نظم کې له هغه سره په يو لښکر کې ځای لري اود دوی نومونه په يوه ديوان کې ليکل شوي وي. او که چيرته هغه شخص د ديوان له اهل څخه نه و، نو د هغه عاقله د هغه قبيله ده او د امام شافعی (رح) په نظر ديت د قبيلې په خلکو پورې اړه لري، ځکه چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وخت کې همدا دود و.

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) دليل دا دی: کله چې حضرت عمر (رضي الله عنه) د اصحابو په عمومي ټولنه کې ديوان تأسيس کړ، ديت يې د ديوان پر اهل باندې وټاکه، چې هيچا ترې انکار ونه کړ، نو دا پدې معنا ده چې پرې اجماع شوې ده او دا چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې همکاری او مرسته د قبيلې او نسب له خلکو څخه اخيستل کيده، خو د ديوان له تدوين څخه وروسته، مرستې او همکاری د ديوان په اهل پورې تړاو پيدا کړ.

**د ديت د ورکړې څرنګوالی**: ديت د ديوان د اهل له عطاياو څخه په دريو کلونو کې اخيستل کيږي، چې له هر سړی څخه په کال کې يو درهم او د بل درهم دريمه او يا کم اخيستل کيږي، چې د دريو کلونو په ترڅ کې په هر سړي باندې څلور درهمه يا کم له څلورو درهمو څخه راځي.

عطايا: عطايا له هغه مالونو څخه عبارت وو چې په کال کې يو يا دوه ځلې مجاهدينو ته ورکول کيدل او رزق هغه مال ته ويل کېده چې په هره مياشت کې به هغوی ته لکه د نن ورځې د معاش په څير ورکول کيده.

**هغه ديتونه چې پر عاقله باندې واجبيږي**:

۱. د شبه عمد قتل ديت.

۲. د خطا قتل ديت.

۳. په سبب سره د قتل ديت.

٤. که څوك په لارې ته څېره یا ناوه راوباسي او هغه د یو چا پر سر راوغورځیږي او هغه ووژل شي.

٥. که چېرته کوم ماشوم یا لېونی داسې خطا وکړي چې په هغې کې دیت وي.

٦. که چېرته کوم سړی د مریي په برخه کې په خطا یی سره د کوم جنایت مرتکب شي.

**هغه دیتونه چې پرعاقله باندې نه واجبیږي:**

١. هر هغه عمدي جنایت، چې په هغه کې د شبهې له امله قصاص له منځه تللی وي.

٢. که پلار خپل زوی په عمدي ډول په قتل ورسوي، دیت به یې په دریو کلونو کې له خپل مال څخه ورکوي.

٣. د مریي جنایت.

٤. هغه جنایت چې جاني پرې اعتراف وکړي.

٥. هغه څه چې په سولې سره لازم شوی وي.

٦. هغه دیت چې اندازه یې د ټول دیت له شلمې برخې څخه کمه وي.

**هغه جاني، چې عاقله ونه لري:**

څوك چې د کوم جنایت مرتکب شي او عاقله ونلري، تر څو یې دیت پر عاقله لازم شي، نو دیت یې له بیت المال څخه ورکول کیږي، ځکه چې بیت المال د مسلمانانو وروستنی وارث او متکفل دی.

## ؟ ارزونه

١. عاقله څه معنا لري؟

٢. که چېرته قاتل د دیوان له اهل څخه وی، عاقله یې څوك دي او که د دیوان له اهل څخه نه وي عاقله یې څوك دي، توضیح یې کړئ؟

٣. که چېرته کوم سړی په لار کې څېره یا ناوه جوړه کړي او هغه د چا پر سر راوغورځیږي او هغه مړ شي، د دیت ورکړه د چا پرغاړه ده؟

٤. عاقله د دیت د عشر له نیمایي څخه لږ متحمله کیږي او که څنګه؟

# حدود

په هوسا دنيوي ژوندانه کې د انسانانو د ځان، مال، عقل او ناموس ساتنه له سترو اړتياو څخه ګڼل کيږي. که امنيت نه وي، د ټولنې د وګړو ژوند ګډوډيږي او د ټولو خلکو نيکمرغي او هوساينه له منځه ځي. له همدې امله اسلامی شريعت د خلکو د اړينو چارو د تنظيم لپاره ټينګ نظام تشريع کړی دی، چې د دې امنيتي نظام د حکمونو له جملې څخه يو هم حدود دي چې په دې او راتلونکو لوستونو کې به د حدودو د ډولونو او احکامو يادونه وکړو.

كِتَابُ الْحُدُودِ

(١) الزِّنَا يَثْبُتُ بِالْبَيِّنَةِ وَالْإِقْرَارِ. فَالْبَيِّنَةُ: أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَةٌ مِنَ الشُّهُودِ عَلَى رَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ بِالزِّنَا، فَسَأَلَهُمُ الْإِمَامُ عَنِ الزِّنَا مَا هُوَ؟ وَكَيْفَ هُوَ؟ وَأَيْنَ زَنَى؟ وَبِمَنْ زَنَى؟ وَمَتَى زَنَى؟ فَإِذَا بَيَّنُوا ذَلِكَ، وَقَالُوا: رَأَيْنَاهُ وَطِئَهَا فِي فَرْجِهَا كَالْمِيلِ فِي الْمُكْحُلَةِ سَأَلَ الْقَاضِي عَنْهُمْ فَإِنْ عُدِّلُوا فِي السِّرِّ، وَالْعَلَانِيَةِ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ.

(٢) وَالْإِقْرَارُ: أَنْ يُقِرَّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلَى نَفْسِهِ بِالزِّنَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِي أَرْبَعَةِ مَجَالِسَ مِنْ مَجَالِسِ الْمُقِرِّ كُلَّمَا أَقَرَّ رَدَّهُ الْقَاضِي فَإِذَا تَمَّ إِقْرَارُهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ سَأَلَهُ الْقَاضِي عَنِ الزِّنَا: مَا هُوَ: كَيْفَ هُوَ؟ وَأَيْنَ زَنَى؟ وَبِمَنْ زَنَى؟ فَإِذَا بَيَّنَ ذَلِكَ لَزِمَهُ الْحَدُّ.

(٣) فَإِنْ كَانَ الزَّانِي مُحْصَنًا رَجَمَهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى يَمُوتَ، يُخْرِجُهُ إِلَى أَرْضٍ فَضَاءٍ، يَبْتَدِئُ الشُّهُودُ بِرَجْمِهِ، ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ، فَإِنِ امْتَنَعَ الشُّهُودُ مِنَ الِابْتِدَاءِ سَقَطَ الْحَدُّ.

(٤) وإِنْ كَانَ مُقِرًّا ابْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ.

(٥) وَيُغْسَلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ.

(٦) وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُحْصَنًا وَكَانَ حُرًّا فَحَدُّهُ مِائَةُ جَلْدَةٍ يَأْمُرُ الْإِمَامُ بِضَرْبِهِ بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ ضَرْبًا مُتَوَسِّطًا وَيُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ، وَيُفَرَّقُ الضَّرْبُ عَلَى أَعْضَائِهِ، إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ

فَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ خَمْسِينَ كَذَلِكَ.

(٧) فَإِنْ رَجَعَ الْمُقِرُّ عَنْ إِقْرَارِهِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ أَوْ فِي وَسَطِهِ قُبِلَ رُجُوعُهُ وَخُلِّيَ سَبِيلُهُ.

(٨) وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ وَيَقُولَ لَهُ: لَعَلَّكَ لَمَسْتَ أَوْ قَبَّلْتَ.

(٩) وَالرَّجُلُ، وَالْمَرْأَةُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ، غَيْرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا تُنْزَعُ عَنْهَا ثِيَابُهَا إِلَّا الْفَرْوَ، وَالْحَشْوَ وَإِنْ حُفِرَ لَهَا فِي الرَّجْمِ جَازَ.

(١٠) وَلَا يُقِيمُ الْمَوْلَى الْحَدَّ عَلَى عَبْدِهِ إِلَّا بِإِذْنِ الْإِمَامِ.

## ژباړه:

### د حدودو کتاب

(١) زنا په شاهدانو او اقرار ثابتيږي. شاهدان دا دي، چې څلور تنه پر ښځه يا نر باندې د زنا کولو شهادت ورکړي، نو امام له دوی څخه پوښتنه کوي، چې زنا څه شی دی؟ څه ډول ده؟ په کوم ځای کې يې زنا وکړه؟ د چا سره يې زنا وکړه؟ څه وخت يې زنا وکړه؟ نو چې دا بيان يې وکړ او ويې ويل: دا سړی مو وليد چې هغه ښځه يې په فرج کې داسې وطی کړه، لکه سلايي په رنجړومه کې قاضی به د شاهدانو د عدالت په اړه پوښتنه کوي. نو که دوی په پټه او ښکاره ډول عادلان وپيژندل شول: د دوی د شهادت پربنسټ به حکم وکړي.

(٢) اقرار: دا دی چې عاقل او بالغ اقرارکوونکی څلور ځلې، په څلورو (مختلفو) مجلسونو کې، پرخپل ځان باندې د زناکولو اقرار وکړي، هر وار بې چې اقرار وکړ، قاضي به هغه ردوي، کله چې د ده اقرار څلور ځلې بشپړشو، قاضي به ورنه د زنا پوښتنه وکړي، چې زنا څه ده؟ او څه ډول وي؟ او زنا يې په کوم ځای کې وکړه؟ او له چا سره يې زنا وکړه؟ کله چې يې دا بيان کړل، حد پرې لازميږي.

(٣) که زانی محصن و، هغه په تيږو سنگساريږي، ترڅې چې مړ شي، زاني به پراخې ځمکې ته وباسي، شاهدان يې په ويشتلو پيل کوي، او بيا امام او وروسته نورخلک، که شاهدانو له پيل

کولو څخه ډډه وکړه، حد له منځه ځي.

(٤) که چا په زنا اعتراف کړی و، لومړی به امام او ورپسی به خلك (په تيږو ويشتلو) پيل کوي.

(٥) (رجم شوي) ته غسل او کفن ورکول کيږي او د جنازې لمونځ پرې کيږي.

(٦) که زاني غيرمحصن او اصيل (ازاد) و، حد يې سل دُرې دي. امام يې په هغه متروکه چې غوټه ونه لري په منځني ضرب د وهلو امر ورکوي، کميس ترې ويستل کيږي او د ټول بدن په جلا، جلا ځايونو به يې وهي، خو پر سر، مخ او فرج به يې نه وهی او که غلام و، نو پنځوس دُرې به وهل کيږي.

(٧) که اقرار کوونکی د حد له تنفيذ څخه دمخه وګرځيد او يا يې په منځ کې له اقرار څخه رجوع وکړه بيرته ګرځيدل يې منل کيږی او آزاد پريښودل کيږی.

(٨) د امام لپاره مستحب دي، چې هغه ته له اقرار څخه ګرځيدل تلقين کړي او ورته ووايې: کېدای شي چې تا هغه لمس کړې يا مچې کړې وي.

(٩) د حد د تنفيذ په برخه کې ښځه او نر برابر دي پرته له دې چې د ښځې کميس نه ويستل کيږي، خو هغه لباس چې پوستين وي يا له پنبې څخه ډك شوی وي ويستل کيږي او که د هغې د رجم پر مهال يې هغې ته ځمکه وکنستله، څه باك نه لري.

(١٠) بادار پرخپل مريي باندې حد نشي قايمولی، مګر وروسته د امام له اجازې څخه.

## شرحه

**د حد پېژندنه**: حد په عربي ژبه کې دمنع په معنا ده، له همدې امله بواب(ورساتونکي) ته حداد وايي، ځکه چې هغه نور خلك له ننوتلو څخه منع کوي.

حد په شريعت کې هغه عقوبت دی، چې د شريعت له خوا ټاکل شوی او د الله تعالی حق شمېرل کيږي. هغه عقوبت چې د شريعت له خوا ټاکل شوی وي، خو د بندګانو حق وي، قصاص بلل کيږي او هغه چې د عقوبت ټاکل يې قاضي ته موکول شوی وي د تعزير په نوم

يادېږي.

**د حد ډولونه**: حد پنځه ډوله دی، ۱ـ د زنا حد ۲ـ د قذف حد ۳ـ د شرابو حد ٤ـ د غلا حد ٥ـ د حرابې (لار شکونې) حد.

**د زنا تعريف**: په زنا کې هغه مهال حد واجبېږي کله چې: د عاقل او بالغ سړي د حشفې زياته برخه د هغې ښځې په قبل (فرج) کې داخله شي چې اشتها ورته راځي او د ده د نکاح او رقبې له ملکيت، يا دې دواړو ملکيتونو ته ورته ملکيت څخه خالي وي.

**د تعريف شرحه**: له پورتني تعريف څخه څرګندېږي چې د لاس اچول، مچې اخيستل، په غېږ کې نيول او داسې نور د جماع مقدمات دي، چې د حد موجب نه دي. همدارنګه که سړی، لېونی يا نابالغه وي، د هغه عمل هم زنا نه ګڼل کيږي.

هغه ښځه چې اشتها ورته نه راځي، لکه وړه انجلۍ چې په طبيعي ډول هغې ته د چا رغبت نه کيږي، د هغې سره يوځای کيدل، حد نه لازموي.

د دبرله لارې يوځای کيدل، سره له دې چې حرام دي، خو حد پرې نه لازميږي.

همدا راز که څوک خپله باينه معتده يا په درې طلاقو طلاقه شوې ښځه وطي کړي په هغې کې حد نشته، ځکه چې د نکاح د ملک له شبهې څخه خالي نه دی.

او که هغه وينځه يې، چې د ده او د نورو ترمنځ شريکه وه وطي کړه، په هغې کې حد نشته، ځکه چې په هغې کې د رقبې د ملکيت شبه ده.

**د زنا حد**: کله چې زنا په قطعي توګه پرته له شبهې ثابته شي، نو پر قاضي لازم دي، چې د زنا په سزا پريکړه وکړي. که چېرته زاني او زانيه (محصن او محصنه) وي، د هغوی حد رجم دی او که نه، نو د حر حد سل درې او د مريي پنځوس درې دي.

**د زنا حکم**: زنا په قطعي توګه حرامه ده، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا﴾ (الاسراء/ ۳۲ آيت)

ژباړه: او زنا ته مه نژدې کيږئ، په تحقيق سره دا کرغيړن عمل او ناوړه لاره ده.

زنا له دوه لارو په اثبات رسيږي: ۱- بينه (شاهدان) ۲- په اقرار سره.

لومړی: بینه (شاهدان):

د زنا په شاهدانو کې شرط دی، چې: ۱ـ څلور کسان وي. ۲ـ نارینه وي. ۳- اصیل (آزاد) وي.
٤- مسلمانان وي ٥- عادلان وي.

الله تعالی فرمایي: ( فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ) (النساء/ ۱۵ أیت). ژباړه: نو وغواړئ پردوی باندې څلور تنه شاهدان له تاسو څخه.

نو پر دې اساس د ښځو او مریانو شاهدي ورکول د اعتبار وړنه ده، که د شاهدانو شمیر له څلورو تنو څخه کم وي، پردوی لازم دي، چې شاهدي ونه وایي او که یې خبره ښکاره کړه، نو پردوي د قذف حد جاري کیږي.

**د شاهدۍ ورکولو او حضور څرنګوالی**: ټول شاهدان د قاضي په یوه ناسته کې حاضریږي، یو، یو پاڅیږي او شاهدي ورکوي او که د قاضي په جلا، جلا ناستو کې یې شاهدي ورکړه د دوي شهادت نه منل کیږي.

**قاضي له دوي څخه لاندنۍ پنځه پوښتنې کوي.**

۱ـ **زنا څه ده**؟ ځکه چې د زنا لفظ مجازي استعمال هم لري، په یوه حدیث کې د زنا نسبت سترګو، لاسونو او پښو ته هم شوی دی، نو له دوی څخه باید وپوښتل شي، تر څو څرګنده شي چې له زنا څخه یې اراده حقیقي زنا ده.

۲ـ **څرنګه ده**؟ ځکه ممکنه ده چې زنا د مشهود علیها سره په زور او اکراه ترسره شوې وي، نو شاهدان باید دا څرګنده کړي، چې زنا په خوښۍ او رضا سره شوې ده.

همدارنګه کیدای شي چې شاهدان یوازې د دواړو د شرمځایونو د تماس په هکله کیسه وکړي، چې هغه د حد موجب نه ګڼل کیږي، نو پکار ده چې ووایي: موږ دوي پداسې حال کې ولیدل، لکه سلایي په رنجړومي کې، یا قلم په مشوانۍ کې او له دې څخه په لږه کچه شاهدي ورکول د حد موجب نشي کیدلای.

۳ـ **په کوم ځای کې یې زنا وکړه**؟ ځکه احتمال لري چې په دار حرب او یا د یاغیانو د نفوذ په سیمه کې یې زنا کړې وي، چې په هغې کې حد نشته، ځکه هلته د عادل حاکم واکمني

نشته.

**۴_ له چا سره يې زنا وکړه؟** دا پوښتنه په دې خاطر کوي، ځکه امکان لري چې دغه ښځه يې خپله ميرمن وي او يا په هغه کې ورته کومه شبهه وي، چې ګواهان پرې نه پوهيږي او کېدای شي چې ووايي: مونږ ښځه ونه پيژندله چې په دې صورت کې حد ساقطيږي.

**۵_ څه وخت يې زنا وکړه؟** دا پوښتنه ځکه لازمه ده، چې کېدای شي د هغوی په پخواني عمل يې ګواهي ويلي وي او حد د زماني په تقادم سره ساقطيږي

**د زنا د شاهدۍ په رد کې د تقادم د مودې تاثير**

د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد، د تقادم د مودې ټاکل قاضي ته سپارل شوی دی، هغه د شاهدانو حالات ګوري، چې ايا له لرې ځايه راغلي دي،کوم د توجيه وړ قهري( هغه عذر چې له واکه بهر وي) ښکاره عذر يې درلود، چې دوي يې وروسته کړل اوکه څنګه؟ اود صاحبينو (رحمهماالله) په نزد، د تقادم موده يوه مياشت ده، د يوې مياشتې له بشپړيدو وروسته، پر زنا شاهدي ورکول نه منل کيږي.

**د زنا په شاهدۍ کې د تقادم د اعتبار دليل**: کله چې شاهدانو د زنا فعل وليده، د شريعت له مخې دوی اختيار لري، چې پر مجرمينو پرده اچوي او دوی رسوا نه کړي؛ چې دا يو ښه کار دی. يا دا چې مجرمينو د جزا ورکولو، نورو ته د زجر او د څښتن تعالی د حد د اقامې لپاره قاضي ته ځي او شاهدي ورکوي، خو که زنا يې وليده او د قاضي حضور ته ولاړ نشول، نو ځرګنده شوه چې لومړی خيار يې غوره وګاڼه: اوس وروسته د يوې مودې له تيريدلو دوي شاهدي ورکوي، نو داسې بريښي چې دوی شخصي دښمنی شاهدۍ ته اړ باسلي دي، نو د دوي شاهدي نه قبليږي.

**د شاهدانو عدالت**: کله چې د پورتنيو مطلبونو په پام کې نيولو سره، شاهدانو شاهدي ورکړه، قاضي په ښکاره او پټه د دوی د عدالت پوښتنه کوي او د دوی په ښکاره عادلوالي بسنه او اکتفا نه کوي، ځکه چې د حدودو په اثبات او اقامه کې بايد له احتياط څخه کار واخيستل شي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (ادرءوا الحدود ما استطعتم).

**ژباړه**: څو مو چې وس وي، حدود له منځه یوسئ (مخنیوی یې وکړئ)، نو که شاهدان په پټه او ښکاره عادلان وپیژندل شول، د هغوی په ګواهی به فیصله کوي.

**دویم اقرار**

اقرار دا دی چې یو بالغ او عقلمن شخص، څلور ځلې، د اقرارېه څلورو ناستو کې پرخپل ځان د زناکولو اعتراف وکړي، هر ځلې چې اقرار وکړي، قاضي به هغه رد کړي او د هغه په اقرار به خپله ناخوښي څرګنده کړي او هغه به له خپل مجلس څخه وشړي، تر دې اندازې پورې چې هغه ونه ویني. او که چېرې په څلورم ځل راغی او اقرار یې سرته ورساوه، قاضي له هغه څخه هغه پوښتنې کوي چې مخکې (په بینه) کې بیان شوي دي، او یوازې د زنا د مهال پوښتنه به نه کوي، ځکه چې مخکیتوب (تقادم) د شاهدی په رد کې اغیزمن دی، خود اقرار په ردولو کې اغیز نه لري.

**د محصن زاني حد**: که زاني محصن وي هغه ترهغه وخته پورې په تېږو ویشتل کیږي (سنګساریږي) ترڅو مړشي.

**د رجم څرنګوالی**: زاني به پراخې ځمکې یا دښتې ته وباسي، که چېرته نارینه وي؛ نو نه تړل کیږي او نه ورته ځای کنده کیږي او که ښځه وي، نو که قاضي وغوښتل ځای به ورته کنده کړي، ترڅو یې ستر اوعورت وساتل شي او که غوښتل یې د نارینه په څېر دې بې له کندې په ولاړه سنګسار کړي، ځکه کیدای شي چې د تېږو ویشتلو پر مهال وتښتي او له اقرار څخه وګرځي.

په هغه صورت کې چې اقرار یې کړی وي، امام د هغه په سنګسارولو پیل کوي، بیا نورخلک.

او که چېرته زنا په شاهدۍ سره ثابته شوې وي، شاهدان به په سنګسارولو پیل کوي، ځکه ممکنه ده د شهادت د اداء کولو پرمهال یې خپل کار بابیزه او بې ارزښته ګڼلی وي او د سنګسار په وخت د هغې عظمت محسوس کړي او له شاهدۍ څخه رجوع وکړي، وروسته به امام او بیا به نور خلک زناکار په کاڼو ولي.

جلد: که چېرته زاني محصن نه وی سل دُرې وهل کيږي. الله تعالی فرمايي: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ﴾[النور/٢].

**ژباړه**: زناکوونکې ښځه او زناکوونکی سړی هريو له دوی څخه سل دُرې ووهئ.

د دې أيت حکم د محصن او غير محصن په هکله عام دی، خو د محصن په برخه کې نسخ شوی دی او د نورو په اړه په خپل حال باقي پاتې دی.

**د وهلو څرنګوالی**: امام د لرګي په هغې امسا سره چې خنډونه ونلري د زاني په وهلو امرکوي او وهل بايد د ټپ او خوږ ترمنځ(درميانه) وي. له نارينه څخه د پرتوګ پرته نورې جامې ويستل کيږي او په ولاړه له سر، مخ او فرج پرته پر ټول بدن باندې وهل کيږي، ځکه سر د حواسو مجمع او مخ د ښکلاو مجمع ګڼل کيږي، نو نه بايد چې د شخص حواسو او ښکلاوو ته زيان ورسيږي، همدارنګه د زاني د فرج په وهلو سره د هغه د مړينې احتمال وجود لري.

## ارزونه

١. حد تعريف کړئ اود ډولونو نومونه يې واخلئ؟

٢. زنا تعريف کړئ او بيان کړئ چې ولې له ورې جلۍ سره، چې غير مشتهاة وي او يا له باينې معتدې سره جماع کول، د زنا د حد موجب نه ګرځي؟

٣. د زنا د اثبات يوه لاره شاهدان دي ـ د زنا د شاهدانو د شرطونو نومونه واخلئ، بيا څرګنده کړئ، چې قاضي له دوی څخه د کومو څيزونو پوښتنه کوي؟ او ولې؟

٤. د زنا په شاهدۍ کې د تقادم موده څومره ده؟ او ولې تقادم ته اعتبار ورکړلای شوی دی؟

٥. د شاهدانو ښکاره او پټ تعديل څه ډول وي؟ بيان يې کړئ؟

٦. د زنا د حد د ثبوت دويمه لاره، پر زنا اقرار کول دي. د معتبر اقرار څرنګوالی بيان کړئ؟

٧. د ثبوت اود شرطونو له پوره کيدو څخه وروسته، د زنا جزا رجم يا جلد وي. د رجم او جلد کيفيت بيان کړئ؟

# د زنا د حد بيلابيل حکمونه

(١) وَإِذَا رجع أَحَدُ الشُّهُودِ بَعْدَ الْحُكْمِ قَبْلَ الرَّجْمِ ضُرِبُوا الْحَدَّ وَسَقَطَ الرَّجْمُ فَإِنْ رَجع بَعْدَ الرَّجْمِ حُدَّ الرَّاجِعُ وَحْدَهُ وَضَمِنَ رُبُعَ الدِّيَةِ وَإِنْ نَقَصَ عَدَدُ الشُّهُودِ عَنْ الْأَرْبَعَةِ حُدُّوا.

(٢) وَشَرْطُ إِحْصَانِ الرَّجْمِ: أَنْ يَكُونَ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا مُسْلِمًا قَدْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَدَخَلَ بِهَا وَهُمَا عَلَى صِفَةِ الْإِحْصَانِ.

(٣) وَلَا يُجْمَعُ فِي الْمُحْصَنِ بَيْنَ الْجَلْدِ، وَالرَّجْمِ، وَلَا يُجْمَعُ فِي الْبِكْرِ بَيْنَ الْجَلْدِ وَالنَّفْيِ إِلَّا أَنْ يَرَى الْإِمَامُ فِي ذَلِك مَصْلَحَةً فَيُعَزِّرُ بِهِ عَلَى مِقْدَارِ مَا يَرَاهُ.

(٤) واذا زَنَى الْمَرِيضُ وَحَدُّهُ الرَّجْمُ رُجِمَ، وَإِنْ كَانَ حَدُّهُ الْجَلْدُ لَمْ يُجْلَدْ حَتَّى يَبْرَأَ.

(٥) وَإِذَا زَنَتْ الْحَامِلُ لَمْ تُحَدَّ حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا، وَإِنْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدَ فَحَتَّى تَتَعَالَى مِنْ نِفَاسِهَا.

(٦) وَإِذَا شَهِدُوا بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ وَلَمْ يَقْطَعْهُمْ عَنْ إِقَامَتِهِ بُعْدُهُمْ عَنْ الْإِمَامِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمْ إِلَّا فِي حَدِّ الْقَذْفِ خَاصَّةً.

(٧) وَمَنْ وَطِئَ أَجْنَبِيَّةً فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ عُزِّرَ.

(٨) وَمَنْ زُفَّتْ إِلَيْهِ غَيْرَ امْرَأَتِهِ، وَقَالَتْ النِّسَاءُ: إِنَّهَا زَوْجَتُك فَوَطِئَهَا فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِ الْمَهْرُ.

(٩) وَمَنْ وَجَدَ امْرَأَةً عَلَى فِرَاشِهِ فَوَطِئَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ، وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا فَوَطِئَهَا لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ الْحَدُّ، وَمَنْ أَتَى امْرَأَةً فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوهِ أَوْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَيُعَزَّرُ وقال أبو يوسف وَمُحَمَّدٌ: هُوَ كَالزِّنَا.

(١٠) وَمَنْ وَطِئَ بَهِيمَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ.

(١١) وَمَنْ زَنَى فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْ فِي دَارِ الْبَغْيِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْنَا لَمْ نُقِمْ عَلَيْهِ الْحَدَّ.

**ژباړه:**

(١)که له شاهدانو څخه يو تن د رجم له حکم څخه وروسته او د حد له اقامې څخه مخکې له شاهدۍ څخه وګرځيد، ټول شاهدان د (قذف) په حد وهل کيږي او رجم له منځه ځي او که د رجم د اقامې څخه وروسته له شهادت څخه وګرځيده، نو يوازې هماغه شخص چې له شهادت څخه ګرځېدلی، حد پرې جارې کيږي او د ديت څلورمه برخه به هم ورکوي او که چيرته د شاهدانو شمير له څلورو څخه کم شو، پرهغوی (د قذف) حد قايميږي.

(٢ ) د رجم د احصان شرط دا دی چې (شخص) به آزاد، عقلمن، بالغ او مسلمان وي او ښځه به يې په سمه توګه په نکاح کړې وي او له هغې سره به يې په داسې حال کې جماع سرته رسولې وي چې دوی (نر او ښځه) دواړه د احصان د صفتونو خاوندان وي.

(٣ ) په دُرې وهل (جلد) او په تيږو ويشتل (رجم) دواړه د محصن په حق کې نه جمع کيږي، دره وهل (جلد) او نفی کول (تبعيد)، د باکرې په حق کې نه جمع کيږي، خو په هغه صورت کې چې امام يې مصلحت وګڼي، نو کومه موده چې هغه ورته لازمه وګڼله، له هغه ځايه څخه يې تبعيدوي.

(٤) که رنځور زنا وکړه او د هغه حد رجم و، سنګساريږي او که حد يې جلد وي تر هغه وخته پورې چې روغ شوی نه وي، په دُرو نه وهل کيږي.

(٥) که اميدوارې (حاملې) زنا وکړه، د حمل د وضعې تر وخته پرې حد نه قايميږي او (د حمل له وضعې وروسته) که چېرته حد يې جلد وي، ترهغه وخته پورې چې له نفاسه نه وي وتلې حد پرې نه قايميږي او که چېرته حد يې رجم وي، پرته له ځنډه رجم کيږي.

(٦ ) که شاهدان د تېر شوي حد د اقامې لپاره شاهدي ورکړي، پداسې حال کې چې له امام څخه د دوی لرې والي دوی د حد له اقامې څخه نه منع کول، د دوی شهادت د قذف له حده

پرته په بل حد کې نه منل کیږي.

(۷) که یوه سړي پردۍ ښځې سره له فرج پرته جماع وکړه، تعزیریږي.

(۸) که د واده په شپه یوه چاته ښځه ورولیږل شوه، چې هغه د ده ښځه نه وه، او ښځو وویل: چې ستا ښځه ده؛ بیا ده له هغې سره جماع وکړه. پرهغه حد نشته او مهر پرې لازمیږي.

(۹) که چا په خپله بستره کې کومه ښځه ومیندله او له هغې سره یې جماع وکړه، پرهغه حد شته او که څوك له داسې ښځې سره واده وکړي، چې نکاح یې له ده سره روا نه وي او له هغې سره جماع وکړي، حد پرې نه واجبیږي. که چا له کومې ښځې سره د دبر له لارې جماع وکړه او یا یې د لوط د قوم عمل تر سره کړ، د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد پر هغه حد نشته او تعزیریږي، خو ابو یوسف او محمد ((رحمهما الله) وایي: دا عمل د زنا په څېر دی (حد پرې جاري کیږي).

(۱۰) که چا د څاروي سره جماع وکړه، حد پرې نشته.

(۱۱) او که چا په دار حرب یا د باغیانو په دار کې زنا وکړه، نو بیا دار اسلام ته را وګرځید، پر هغه حد نه قایموو.

## شرحه

**د قاضي له حکم مخکې له شهادت څخه ګرځېدل**: که له شاهدانو څخه یو تن د قاضي له حکم مخکې له شهادت څخه وګرځي، د حنفي مذهب د درې واړو امامانو په نزد، حد له مشهود علیه څخه ساقطیږي او پر ټولو شاهدانو د قذف حد لازمیږي.

**د قاضي له حکم وروسته او مخکې له رجمه له شهادت څخه ګرځېدل**: که شاهد د قاضي له حکم څخه وروسته او له رجم مخکې له شهادت څخه وګرځیده، نو له مشهود علیه څخه د زنا حد ساقطیږي او د شیخینو (رحمهما الله) په نزد ټول شاهدان د قذف په حد مجازات کیږي، ځکه هغه درې کسان چې په خپله شاهدۍ پاتې شوي دي؛ د زنا په شهادت کې یې شرط کړای شوی شمېر نه دی بشپړ کړی، نو له دې امله د دوی شاهدي رد ده او قاذفان ګڼل

کیږي او هغه شخص چې له خپلې شاهدۍ ګرځېدلی دی، سره له دې چې اوس مهال په خپل قذف باقي پاتې نه دی، خو د پخواني تور له امله مجازات کیږي اود امام محمد (رحمه الله) په نزد څرنګه چې د قاضي له حکم څخه وروسته ګرځېدلی، نو یواځې پر ګرځېدونکي باندې د قذف حد لازمیږي، نه پر نورو باندې، ځکه د دوی شهادت د قاضي په حکم تایید شوی دی، د شیخینو دلیل دا دی: څرنګه چې د حد قایمول، د قاضي د حکم تنفیذ دی، نو د حکم له یوې برخې څخه شمېرل کیږي او اقامې صورت ندی نیولی، ځکه چې د قاضي د حکم له بشپړتیا مخکې، خنډ منځ ته راغی، د قاضي حکم فسخ شو، نو شهادت د قاضي د حکم په واسطه نه دی تایید شوی.

**له رجم وروسته له شهادت څخه ګرځېدل**

که د مشهود علیه له رجم څخه وروسته، یو له شاهدانو له خپل شهادت څخه وګرځي: یوازې ګرځېدونکی د کنځلو (قذف) په حد وهل کیږي او د دیت څلورمه برخه به دسنګسار شوي وارثانو ته ورکوي، ځکه چې هغه خپل ځان دروغجن په ګوته کړ، په خپل حق کې په دروغو اقرار کول صحت لري، د ده مخکنی شهادت یوازې د ده په خپله برخه کې دروغ ګڼل کیږي، نو د خپل ځان په اړه د ده په دروغجن شهادت سره دوه پایلې منځ ته راځي.

۱ـ د مخکني تور له امله د قذف حد. ۲ـ د دیت د څلورمې برخې ورکول، ځکه چې د مشهود علیه وژنه د څلورو کسانو په واسطه منځ ته راغلې، نو د وژنې څلورمه برخه د ګرځېدونکي پورې تړاو پیدا کوي او د نورو په حق کې یې رجوع کومه اغیزه نه لري.

**د رجم د احصان شرطونه**: احصان په دوه ډوله دی: الف ـ د قذف احصان: هغه دا چې مقذوف شخص له زنا څخه پاک وي او په زنا تورن شي چې بیا تور لګوونکی د تهمت لګولو په سبب د قذف په حد محکومیږي.

ب ـ د رجم احصان: هغه دا چې شخص د لاندې شرطونو درلودونکی وي: ۱ـ بلوغ ۲ـ عقل ۳ـ اسلام ٤ـ حریت ٥ـ صحیحه نکاح ٦ـ له خپلې ښځې سره یوځای کیدل ۷ـ یوځای کیدل یې پداسې حال کې وي چې په ښځه او میړه دواړو کې د احصان شرطونه شتون

ولري.

که شخص نر وي او یا ښځه، که له نا بالغه زوج، لیوني، نا مسلمان، مریې او یا په فاسده نکاح کې سره یوځای شي، نو په دې جماع سره محصن نه ګڼل کیږي.

**له رجم سره د جلد او له جلد سره د نفې یو ځای کول**

په حنفي مذهب کې د محصن زاني جزا یوازې رجم دی او د غیر محصن زانی جزا فقط سل درې دي. امام شافعي (رحمه الله) وايي: که زاني محصن وي، له رجم سره جلد هم یوځای کیږي او په غیرمحصن کې د جلد سره له وطن څخه د یو کال لپاره شړل هم یوځای کیږي.

زموږ دلیل د الله تعالی دا قول دی: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ﴾ [النور/۲]. ژباړه: زنا کونکې ښځه او زنا کونکی سړی، هر یو له دې دواړو څخه سل درې ووهئ: او دا د ټول حد بیان دی، نو پر سلو دُرو باندې زیاتوالی باید د حد له وجې نه وي، خو که قاضي یې لازم وګڼي، کولای شي چې مجرم د تعزیر له مخې تبعید کړي.

**د شهادت په سقوط کې، پر حدودو د تقادم اغیز:** څرنګه چې په ټولو حدودو کې، پرته د قذف له حد څخه د شخص دعوا لازمه نه ده، نو شاهدان پرته له مخکنۍ دعوا څخه محکمې ته ځي، شاهدي ورکوي او پرته له عذره ځنډ، د دوی شهادت بې اعتباره کوي. خو څرنګه چې د قذف په حد کې د مقذوف د دعوا وړاندې کول شرط دي، ترڅو چې هغه دعوا نه وي کړې، شاهدان شاهدي نشی ورکولای؛ نو څرنګه چې دوی معذور دي، نود تقادم له امله د دوی شهادت نه بې اعتباره کیږي.

**د زنا د حد په سقوط کې له محارمو سره د نکاح اغیز:** له محارمو سره نکاح کول نا مشروع عمل دی او هیڅکله هم جماع نه حلالوي، خو د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد کله چې یو سړی له خپلو محارمو سره نکاح وتړي او له هغې سره جماع وکړي، پر هغه باندې حد نه لازمیږي، ځکه کوم وخت چې د نکاح ارکان منځ ته راشي اوسړی له ښځې سره ایجاب او قبول سرته ورسوي، نود نکاح ارکان بشپړیږي، اوس که چېرته د نکاح په شرطونو کې کوم خلل وي، چې له هغې جملې څخه د ښځې نه حلالوالی دی: د ارکانو شتون یوه شبهه منځ

ته راولي چې حد له منځه وړي، خوسره له دې هم مجرم د تعزير له جزا څخه برائت نشي حاصلولای او د تعزير په جزا مجازات کيږي.

او د امام ابو يوسف او محمد (رحمهما الله)په ګډون د جمهورو علماوو په نزد، نکاح په محارمو کې شبه منځ ته نه راوړي او مجرم د زنا په حد مجازات کيږي.

**د لواطت حکم:**

که چيرته کوم سړی له کومې ښځې يا نارينه سره لواطت وکړي د امام ابوحنيفه(رحمه الله) په نزد، د تعزير په جزا مجازات کيږي. ځکه چې داسې ناوړه عمل يې سرته رسولی، چې په هغه کې حد نشته، خو تعزير لري او د صاحبينو په نزد دا د زنا په څيردی، نو حد پکې شته دی.

او له څارويو سره يوځای کيدل زنا نه ده، خو ناوړه عمل دی، چې په هغه کې تعزير لازميږي.

**په دار حرب يا دار بغي کې زنا:**

که څوک پداسې ځای کې د زنا په جرم اخته شي، چې هلته د عادل حاکم تسلط نه وي، لکه دار حرب او دار بغی، نود طرفينو (ابوحنيفه او محمد رحمهما الله) په نزد، حد وربانديې نشته، ځکه چې په هغه ځای کې د عادل حاکم لاس رسی وجود نه لري، نو د دې عذر له امله حد نه لازميږي او کله چې دار اسلام ته راشي بيا هم پرې حد نشته، ځکه چې زنا له پيل څخه د حد موجب نه وه.

او د ابو يوسف په نزد حد پرې لازميږي، ځکه چې عاقل، بالغ او مسلمان شخص د زنا په جرم اخته شوی، چې بايد مجازات شي.

فعاليت: هغه مسئلې چې په شرحه کې نه دي راغلي او په متن کې شتون لري. هريو له زده کوونکو څخه دې غور وکړي او هغه دې راوباسي او ماده په ماده دې هغه نورو زده کوونکو ته ولولي.

## ؟ ارزونه

۱. که چېرې د زنا د حد له شاهدانو څخه یوتن په لاندینیو صورتونو کې له شهادت څخه وګرځیده، نو پردې ګرځیدنې باندې څه اثر مرتبیږي؟

ـ پر حد باندې د قاضي له حکم څخه مخکې.

ـ د قاضي له حکم وروسته او د حد له اقامې څخه مخکې.

ـ وروسته له رجم څخه.

۲. احصان په څو ډوله دی؟ د رجم د احصان شرطونه بیان کړئ؟

۳. آیا د محصن زاني لپاره د رجم او جلد ترمنځ او دغیر محصن زاني لپاره د جلد او شړلو ترمنځ جمع راتلای شي؟

٤. که چېرې ناروغ سړی یا حامله زنا وکړي، د دوی سره د حد د اقامې په برخه کې څه معامله صورت نیسي؟ د رجم او جلد په برخه کې یې حکم بیان کړئ؟

٥. ولې د قذف په حد کې تقادم کومه اغیزه نه لري؟ او په نورو حدودو کې د هغه حکم څه ډول دی؟

٦. له محارمو سره نکاح کول څه حکم لري؟ اختلاف سره له دلایلو بیان کړئ؟

۷. لواطت څه حکم لري؟ پرهغه چې کوم اثر مرتبیږي، هغه بیان کړئ؟

۸. په دارحرب او یا د باغیانو لښکر ته نژدې زناکول څه حکم لري؟

# د شرب حد

بَابُ حَدِّ الشُّرْبِ

(١) وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَأُخِذَ وَرِيحُهَا مَوْجُودٌ، فَشَهِدَ عَلَيْهِ الشُّهُودُ بِذَلِكَ، او اقرَ فعلَيْه الْحَدُّ، وِانْ أَقَرَّ بَعْدَ ذَهَابِ رايحتِهَا، لَمْ يُحَدَّ.

(٢) وَمَنْ سَكِرَ مِنْ النَّبِيذِ حُدَّ.

(٣) وَلَا حَدَّ عَلَى مَنْ وُجِدَ مِنْهُ رَائِحَةُ الْخَمْرِ أَوْ تَقَيَّأَهَا، وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ حَتَّى يُعْلَمَ أَنَّهُ سَكِرَ مِنْ النَّبِيذِ وَشَرِبَهُ طَوْعًا، وَلَا يُحَدُّ حَتَّى يَزُولَ عَنْهُ السُّكْرُ.

(٤) وَحَدُّ الْخَمْرِ، وَالسُّكْرِ فِي الْحُرِّ ثَمَانُونَ سَوْطًا، يُفَرَّقُ عَلَى بَدَنِهِ كَمَا ذَكَرْنَا فِي الزِّنَا، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا فَحَدُّهُ أَرْبَعُونَ سَوْطًا.

(٥) وَمَنْ أَقَرَّ بِشُرْبِ الْخَمْرِ، اوَالسُّكْرِ، ثُمَّ رَجَعَ، لَمْ يُحَدَّ.

(٦) وَيَثْبُتُ الشُّربُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ و بِإِقْرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً، وَلَا يُقْبَلُ فِيهِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ.

**ژباړه:**

**د شرابو حد:**

(١) که چا شراب وڅښل او په داسې حال کې ونيول شو، چې بوی يې موجود و او ګواهانو پرې شاهدي ورکړه او يا يې په داسې حالت کې اقرار وکړ چې د شرابو بوی موجود و، نو پر هغه باندې حد لازميږي. او که د شرابو د بوی له لرې کيدو څخه وروسته يې اعتراف وکړ، حد پرې نه جاري کيږي.

(۲)څوک چې له نبیذو (د حبوباتو او مېوې له اوبو) څخه نشه شو، حد پرې جاري کیږي.

(۳) له چا څخه چې د شرابو بوی راغی او یا یې هغه قی کړل، پرهغه باندې حد نه لازمیږي.

څوک چې نشه وي، تر هغه پورې حد پرې نه جاري کیږي، تر څو څرګنده شي، چې د مېوې له اوبو څخه نشه شوی او هغه یې په خپله خوښه څښلي دي، پرنشه شخص تر هغه پورې حد نه پلی کیږي، ترڅو چې نشه ترې لرې شوې نه وي.

(٤) د آزاد شخص د شرابو او نشې حد اتیا دُرې دی، چې د بدن په بېلا بیلو برخو به وهل کیږي، لکه څرنګه چې مو په زنا کې یادونه وکړه او که مریی وي، حد یې څلوېښت دُرې دی.

(٥) څوک چې د شرابو په څښلو، یا په نشه کیدلو اقرار وکړي او بیا ورڅخه وګرځي، حد پرې نه جاري کیږي.

(٦) د شرابو څښل د دوه کسانو په شهادت او یا پر خپل ځان باندې په یوځل اقرارکولو سره ثابتیږي او په دې کې د ښځو شاهدي له نارینه وسره نه منل کیږي.

**شرحه**:

**د شرابو حد**: د شراب څښونکي شخص له وهلو څخه عبارت دی چې اتیا درې دي.

**د شرابو د حد د وجوب لامل**:

د شرابو د څښلو حد په دوه څیزونو واجبیږي:

۱ـ د شرابو څښل، که لږ وي او یا ډیر ۲ ـ په نبیذو نشه کېدل.

شراب: له شرب څخه اخیستل شوی، شرب په لغت کې څښلو ته وایي او شراب څښل کیدونکې مائع ده او هغه شراب چې لږ او ډیر یې حرام دي د شرعې په اصطلاح کې هغه ته خمر ویل کیږي چې د انګورو له هغو خامو اوبو څخه عبارت دي چې د وخت په تېرېدو سره

ځوبن کوي، تېزېږي (نشه رامنځ ته کوي) او ځګ وغورځوي، دا د امام ابو حنيفه (رحمه الله) نظر دی او د صاحبينو په نزد د ځګ غورځول شرط نه دي، ځکه چې د حرمت لامل ټينګيدل (نشه رامنځ ته کول) دي، چې پر هغه بسنه (اکتفا) کيږي.

نبيذ: نبيذ د مېوې، شاتو او د حبوباتو اوبو ته وايي، لکه د مميزو، د خرما، د غنمو، د اوربشو او داسې نورې اوبه.

**د نشه يي مشروباتو د حد وجوب**

د شرابو په څښلوکې که هغه لږ وي او يا ډېر، حد لازميږی او په نورو څښل کيدونکو توکوکې يوازې هغه وخت حد لازميږي، چې پرکالی (سکر) منځ ته راولي. د بنګو (چرسو) پواسطه نشه کيدل، حد نه لازموي.

**سکر**: سکر نشه کيدلو ته وايې او نشه شخص هغه کس دی چې خبرې يې ګډې وډې وي او اپلتې وايي.

**د شراب څښلو د حد د اثبات لار**: د شرابو حد د دوه نارينه شاهدانو په شهادت، يا پخپله د شخص په اقرار سره ثابتيږي.

**د شرابو په حد کې تقادم**:د شرابو حد د تقادم له امله له منځه ځي او دهغه د تقادم موده د شرابويا د نشه يي مادې بوی دی، کله چې بوی له منځه ولاړ شي، وروسته له هغه شاهدي او اقرار حد نه واجبوي.

دا حکم د شيخينو (رحمهما الله) په نزد دی، اود ابن مسعود (رضي الله عنه) له رايې څخه يې اخيستی دی. د امام محمد(رحمه الله) په نزد په اقرارکې د تقادم موده هيڅ اغيزه نه لري اود تقادم د مودې شهادت يوه مياشت ده، ځکه چې زناکې هم يوه مياشت اعتبار لري. که چېرې شاهدانو کوم سړی وليد چې شراب يې څښل او يا نشه و او سمدلاسه د محکمی لوري ته روان شو، خود لارې د لرېوالي له امله يې بوی له خولې څخه ورک شو او يا يې نشه ختمه شوه، نو د ټولو يادو شوو امامانو په نزد، حد پرې جاري کيږي.

### د شرابو او يا د نشې بوی

که له یو شخص څخه د شرابو بوی حس شو، یا یې شراب قی کړې او یا د نشې په حالت کې ولیدل شو، په دې واړو صورتونو کې پرې حد نه جاري کېږي، ځکه کیدای شی چې د کوم بل شي بوی وي او یا یې په اکراه او یا یې د اضطرار له امله څښلي وي.

## ارزونه

١. د شرابو حد تعریف کړئ؟

٢. کوم عملونه د شرابو حد واجبوي؟

٣. د لاندینیو اصطلاحاتو معنا بیان کړئ: شراب، نبیذ، سکر

٤. د شرابو حد په څه ډول ثابتېږي؟

٥. تقادم د شرب په حد کې څه اغیز لري؟ د شیخینو او محمد(رحمهم الله ) مذهب په دې اړه بیان کړئ؟

## دولسم لوست

# د قذف حد

پر معصوم او بیګناه مسلمان باندې د زنا د تور په لګولو سره د هغه عزت او ټولنیز حیثیت ته ډېر زیان رسیږي، نو د هغه د حرمت او درناوي د خوندیتوب په خاطر اسلامي شریعت د هغه سپکاوی او په ځانګړې ډول په هغه پورې د زنا تور لګول حرام کړی دی، چې په دې لوست کې به د دې جرم د سزا په اړه معلومات درکړو.

بَابُ حَدِّ الْقَذْفِ

(١) إِذَا قَذَفَ الرَّجُلُ رَجُلًا مُحصنًا أَوِ امْرَأَةً مُحْصَنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَا، وطَالَبَ الْمَقْذوفُ بِالْحَدِّ، حَدَّهُ الْحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوْطًا إِنْ كَانَ حُرًّا، يُفَرِّقُ عَلَى أَعْضَائِهِ وَلَا يُجَرَّدُ عنه ثِيَابهُ غَيْرَ أَنَّهُ يُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ، وَإِنْ كَانَ عَبْدا جَلَدَهُ أَرْبَعِيْنَ سَوْطاً.

(٢) وَالْإِحْصَانُ أَنْ يَكُونَ الْمَقْذُوفُ حُرًّا، عَاقِلًا، بَالِغًا، مُسْلِمًا، عَفِيفًا عَنْ فِعْلِ الزِّنَا.

(٣) وَمَنْ نَفَى نَسَبَ غَيْرِهِ فَقَالَ: لَسْتَ لِأَبِيكَ أَوْ يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مَيِّتَةٌ مُحْصَنَةٌ، وَطَالَبَ الابْنُ بِحَدِّهَا، حُدَّ الْقَاذِفُ.

(٤) وَلَا يُطَالِبُ بِحَدِّ الْقَذْفِ لِلْمَيِّتِ إِلَّا مَنْ يَقَعُ الْقَدَحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذْفِهِ.

(٥) وَإِنْ كَانَ الْمَقْذُوفُ مُحْصَنًا، جَازَ لِابْنِهِ الْكَافِرِ وَالْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ بِالْحَدِّ. وَلَيْسَ لِلْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ مَوْلَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ الْمُسْلِمَةِ.

(٦) وإِنْ أَقَرَّ بِالْقَذْفِ ثُمَّ رَجَعَ، لَمْ يُقْبَلْ رُجُوعُهُ.

(٧) وَمَنْ قَالَ لِعَرَبِيٍّ: يَا نَبْطِيُّ! لَمْ يُحَدَّ. وَمَنْ قَالَ لِرَجُلٍ: يَا ابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ! فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ. وَإِذَا نَسَبَهُ إِلَى عَمِّهِ أَوْ إِلَى خَالِهِ أَوْ زَوْجِ أُمِّهِ، فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ.

(٨) وَمَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا فِي غَيْرِ مِلْكِهِ لَمْ يُحَدَّ قَاذِفُهُ.

(٩) وَالْمُلَاعَنَةُ بِوَلَدٍ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا.

(١٠) وَمَنْ قَذَفَ عَبْداً اَوْ أَمَةً أَوْ كَافِرًا بِالزِّنَا أَوْ قَذَفَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ الزِّنَا فَقَالَ: يَا فَاسِقُ! أَوْ يَا كَافِرٌ! أَوْ يَا خَبِيثُ! عُزِّرَ. وَإِنْ قَالَ يَا حِمَارُ! يَا خِنْزِيرُ! لَمْ يُعَزَّرْ.

(١١) وَالتَّعْزِيرُ أَكْثَرُهُ تِسْعَةٌ وَثَلاثُونَ سَوْطًا، وَأَقَلُّهُ ثَلاثُ جَلَدَاتٍ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيرِ خَمْسَةً وَسَبْعِينَ سَوْطًا. وَإِنْ رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يَضُمَّ إِلَى الضَّرْبِ فِي التَّعْزِيرِ الْحَبْسَ فَعَلَه.

(١٢) وَأَشَدُّ الضَّرْبِ التَّعْزِيرُ، ثُمَّ حَدُّ الزِّنَا، ثُمَّ حَدُّ الشُّرْبِ، ثُمَّ حَدُّ الْقَذْفِ.

(١٣) وَاذا حَدَّهُ الْإِمَامُ أَوْ عَزَّرَهُ، فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدَرٌ.

(١٤) وَإِذَا حُدَّ الْمُسْلِمُ فِي الْقَذْفِ، سَقَطَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ تَابَ، وَإِنْ حُدَّ الْكَافِرُ فِي الْقَذْفِ ثُمَّ أَسْلَمَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ.

## ژباړه

**د قذف حد:**

(١) كه څوك محصن سړی يا محصنه ښځه په صريحو ټكو سره په زنا تورنه كړي او مقذوف د حد غوښتنه وكړي، نو كه (قاذف) آزاد و، حاكم به يې په مختلفو غړو اتيا دړې وهي او جامې به ترې نه ويستل كيږي، مګر ځين او مالوچ لرونكې جامې به ترې ويستل كيږي. كه (قاذف) مريی و، څلوېښت دړې به يې ووهي.

(٢) احصان دې ته وايي چې مقذوف آزاد، عاقل، بالغ، مسلمان او له زنا څخه پاك وي.

(٣) چا چې د بل شخص نسب نفي كړ او ويې ويل: ته دې د پلار (زوی) نه يې، يا ای د زناكارې زويه! (په داسې حال كې) چې مور يې محصنه مړه شوې وي، او زوې يې د حد غوښتنه وكړي، قاذف په حد كيږي.

(٤) د مړي لپاره د قذف د حد غوښتنه يوازې هغه څوك كولای شي، چې قذف يې په نسب كې د عار لامل ګرځي.

(۵) که مقذوف محصن وي، کافر او مريي زوی ته يې د حد غوښتنه روا ده، خو مريی نشي کولای چې په قذف کې د خپلې آزادۍ او مسلمانۍ مور لپاره د خپل بادار د حد غوښتنه وکړي.

(٦) که چا په قذف اقرار وکړ او وروسته (له خپل اقراره) وګرځېد، رجوع يې نه منل کيږي.

(۷) که چا عربي ته وويل: ای نبطي! (نبط يو قوم دی چې تور رنګونه لري او عرب نه دي) نه په حد کيږي. که چا يو سړي ته وويل: ای د آسمان د اوبو زويه! قاذف نه دی او که هغه يې کاکا، ماما يا د مور مېړه (پلندر) ته منسوب کړ، نو قاذف نه دی.

(۸) که چا د خپل ملک پرته له بل چا سره حرامه جماع وکړه، پر قاذف حد نه جاري کيږي.

(۹) په ولد باندې د لعان کوونکې (ښځې) قاذف نه په حد کيږي.

(۱۰) که چا مريی، وينزه يا کافر په زنا تورن کړ يا يې مسلمان له زنا پرته په بل خه تورن کړ او ورته يې وويل: ای فاسقه! يا ای کافره! يا ای خبيثه! تعزير کيږي. او که ورته يې وويل: ای خره! يا ای خنزيره! نه تعزير کيږي.

(۱۱) د تعزير زياته اندازه نهه دېرش درې او کمه يې درې دُرې دي. امام ابويوسف وايي: تعزير تر پنځه اويا درو هم رسيږي. که امام مناسبه وګڼله، پر تعزير حبس هم ورزياتولای شي. سخت وهل په تعزير کې دي، بيا په زنا، بيا په شرابو او بيا په قذف کې.

(۱۲) که امام خوک په حد يا تعزير کړي او (ورڅخه) مړشي، وينه يې هدر ده (تاوان نه لري).

(۱۳) که مسلمان په قذف کې په حد شي که توبه هم وباسي، ګواهي يې ساقطيږي. که کافر په قذف کې په حد شي او بيا مسلمان شي ګواهي يې منل کيږي.

## شرحه

**د قذف تعریف**: قَذْف د(قاف) په فتحې او د (ذال) په سکون سره غورځولو او ویشتلو ته وایي او د شرعې په اصطلاح کې په زنا باندې د سړي یا ښځې تورنولو او د نسب نفې کولو ته ویل کیږي.

**د قذف د حد مشروعیت**: الله تعالی د النور په سورت کې د قذف پر تحریم سربېره هغه ته سزا هم ټاکلې ده او فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ (النور: ٤) ژباړه: هغه چې په پاك لمنو ښځو (د زنا) تور لګوي، بیا څلور شاهدان تېر نه کړي، هغوی اتیا درې ووهئ او د هغو شاهدي هیڅ کله مه منئ، او هغوی فاسقان دي.

**د قذف شرطونه او سزا**: له متن څخه څرګنده ده چې د قذف په حد کې د مقذوف لپاره احصان شرط دی چې وروسته په متن کې تعریف شوی. همدا راز د زنا د تور لګولو ټکي هم باید صریح او ښکاره وي، پر دې سربېره مقذوف باید د حد غوښتنه وکړي.

لکه څرنګه چې په آیت کې راغلي دي د آزاد قاذف انسان سزا اتیا درې او د مریي سزا څلوېښت درې دي ځکه چې د مریانو حد د آزادو کسانو په نیمایي دی. د حد د جاري کولو په وخت کې به د قاذف له سر او مخ پرته د بدن نور بېلابېل ځایونو په درو وهل کیږي، خو په یو ځای وهلو سره محدود مړ نشي. د دې لپاره چې مجرم (قاذف) د خپل ناوړه عمل سزا په سمه توګه ووینې او په وهلو وردردیږي له هغه څخه اضافه جامې لکه څادر، واسکټ، کورتۍ او همدا راز هغه پېړې جامې چې د دردولو مخه نیسي، ویستل کیږي، خو لکه څرنګه چې د قذف حد تر ټولو حدودو خفیف دی، نو له دې امله له محدود څخه خپلې عامې جامې نه ویستل کیږي.

**د محصن تعریف**: د متن له بیان سره سم محصن هغه چا ته ویل کیږي چې آزاد، عاقل، بالغ، مسلمان او عفیف وي، عفیف هغه څوك دی چې د زنا، د شبهې او فاسدې نکاح له لارې

يې د کومې ښځې سره جماع نه وي کړې.

**د قذف د حد سببونه**: د قذف جرم په دوو ډولونو رامنځ ته کیږي:

۱- د زنا په صريحو ټکو(الفاظو).

۲- د نسب په نفی کولو.

**په صريحو ټکو(الفاظو)**: د قذف د حد یو سبب دا دی چې په صريحو ټکو سره په یو شخص باندې د زنا تور ولګول شي. لکه څرنګه چې یادونه وشوه د زنا د تور لګولو ټکي باید صریح او ښکاره وي، لکه ای زناکاره! یا تا زنا کړې او داسې نور. که یو شخص بل ته ووایي: تا زنا کړې، او دریمګړی ووایي: رښتیا دې وویل، نو په دریمګړي حد نه لازمیږي، ځکه د زنا د تور په اړه د دریمګړي وینا صریحه نه ده، د کنایې په ټکو سره د زنا تور لګول حد نه لازموي، لکه چې یو څوک بل ته ووایي: ای فاجره! څرنګه چې د (فاجر) ټکی د کنایې په ډول د زانې لپاره کارول کیږي او صریح نه دی نو قذف نه ګڼل کیږي.

**د نسب نفي کول**: چې د فقهې په کتابونو کې د زنا د تور جارمجرا ګڼل کیږي، د قذف د حد بل سبب دی. د نسب د نفی کولو مثال دا دی چې څوک چا ته ووایي: ته د فلاني زوی نه یې، یعنې د پلار نوم یې واخلي. یا داسې ووایي: ای د زناکارې زویه! په دې صورت کې قاذف د نوموړي شخص نسب د هغه د معلوم پلار څخه نفې کړی او په حقیقت کې یې د هغه مور په زنا تورنه کړې ده او هغه مقذوفه ده، په دې اساس مور به د حد غوښتنه کوي، نو که د نوموړي شخص مور محصنه مړه شوې وي، دی به د خپلې مور په ځای د قاذف د حد غوښتنه کوي، خو که مور یې ژوندۍ او محصنه وي نو پخپله به د قاذف د حد غوښتنه کوي او بل څوک یې استازیتوب نشي کولای. د غیابت په صورت کې یې هم زوی استازیتوب نشي کولای، ځکه چې په حدودو کې نیابت صحیح نه دی.

**د حد په غوښتلو کې استازيتوب**: د نسب د نفی کولو په صورت کې اصلي مقذوف هغه څوک دی چې د زنا تور پرې لګېدلی وي، لکه په پورتني مثال کې مور، نو له قاذف څخه د

حد غوښتنه د مقذوف حق دی، خو که هغه مړ وي نو په استازيتوب يې د حد غوښتنه يوازې هغه څوك كولای شي چې د قذف له امله يې نسب ته ننگ او عار متوجه شوی وي، لكه پلار، زوی او لمسی او د استازي لپاره احصان شرط نه دی. په دې بنسټ كه استازی كافر يا مريی هم وي، د حد غوښتنه كولای شي. ورور او خور د حد غوښتنه څكه نشي كولای چې په قذف سره د هغوی نسب ته ننگ او عار ندی متوجه شوی.

**له پورتنۍ قاعدې څخه استثنا**: دا چې مريی كولای شي د استازي په توگه د قاذف د حد غوښتنه وكړي، خوله دې قاعدې څخه يو شخص مستثنا دی او هغه دا چې مريی له خپل بادار څخه د حد غوښتنه نشي كولای، يعنې كه بادار د خپل مريي پر مور قذف ولگوي، مريی نشي كولای چې د خپلې مور په استازيتوب له محكمې څخه پر خپل بادار د حد جاري كولوغوښتنه وكړي، په دې دليل چې مريی د خپل بادار څخه د خپل ځان د قذف په صورت كې د حد غوښتنه نشي كولای نو د بل چا په استازيتوب خو په طريقه اولی د حد غوښتنه نشي كولای.

**له اقراره گرځېدل**: د قذف حد د قاذف په اقرار يا د دوو گواهانو په تېرولو ثابتيږي. اقرار كوونكی كولی شي له قذف پرته په نورو حدودو لكه زنا او شرابو كې له خپل اقرارڅخه بېرته وگرځي، څكه چې نوموړي حدود د الله حقونه دي، خو د قذف په حد كې اقرار كوونكی څكه له خپل اقراره نشي گرځېدلی چې په دې حد پورې د بنده حق تړاو لري او غالب دی.

**د قذف ناڅرگند ټكي**: د قذف لپاره دا شرط و چې تور بايد د زنا په صريحو ټكو لگېدلی وي. له دې كبله كه څوك د خپل قوم پرته بل قوم ته منسوب كړل شي لكه عرب توكمه شخص ته ترك وويل شي يا پښتون شخص ته د عرب خطاب وشي، نو قذف نه گڼل كيږي.

د (يا ابن ماء السماء!: ای د اوبو زويه!) په خطاب هم څوك قاذف نه شمېرل كيږي څكه چې دا لقب د سخاوت په معنا كارول كيږي كه څه هم په ظاهر كې نسب نفې كوي.

د كاكا، ماما او پلندر ټكی هم په عرف كې د پلار لپاره كارول كيږي نو له دې كبله كه څوك

کوم شخص کاکا، ماما یا پلندر ته منسوب کړي قاذف نه شمېرل کیږي.

**پرملاعنې قذف**: که ښځه ماشوم وزېږوي او مېړه يې دعوه وکړي چې نوموړی ماشوم له ده څخه نه، بلکې حرامي دی او په نتیجه کې دواړه لعان وکړي، نو د نوموړې ښځې قاذف نه په حد کیږي، ځکه د زوی نسب يې له مېړه څخه ثابت نه دی او د زنا یوه نښه موجوده ده، نو ښځه محصنه نه ګڼل کیږي، خو که لعان يې له ماشوم پرته ترسره کړی و، بیا ښځه محصنه ده او قاذف يې د حد مستوجب دی.

**په تورونو کې تعزیر**: که حد له دې کبله ساقط شو چې مقذوف محصن نه و نو قاذف تعزیر کیږي. که څوک مسلمان ته فاسق، کافر یا خبیث ووايي تعزیر کیږي، خو که په مسلمان کې فسق موجود و او چا ورته فاسق وویل، قاذف نه تعزیر کیږي. چا ته په خره یا خنزیر ویلو څوک نه تعزیر کیږي، ځکه چې دا ډول تکي د انسان په هکله هیڅ حقیقت نه لري او ښکاره دروغ دي نو اساسا په تور او قذف کې نه شمېرل کیږي.

**تعزیر او د هغه اندازه**: تعزیر په لغت کې رټلو او ردولو ته وايي. په اصطلاح کې تعزیر هغې سزا ته ویل کیږي چې شریعت يې اندازه نه وي ټاکلې او په هغو ګناهونو کې مجرم ته ورکول کیږي چې حد او کفاره پکې نه وي. د تعزیر لږه اندازه درې دُرې ده ځکه له درېو څخه په کمو دروکې درد او تکلیف نه حس کیږي او زیاته اندازه يې نهه دېرش دُرې ده. په السنن الکبری للبیهقي کې راغلي دي چې پیغمبر (علیه السلام) فرمایي: «مَنْ بَلَغَ حَدًّا فِى غَيْرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنَ الْمُعْتَدِينَ». ژباړه: چا چې د (تعزیر) سزا د حد اندازې ته ورسوله، هغه له تیري کوونکو څخه دی. نو څرنګه چې د مریي حد څلوېښت درې دی، د تعزیر زیاته اندازه نهه دېرش وټاکل شوه. امام ابویوسف وايي: د آزاد انسان کم حد اتیا درې دی او علي (کرم الله وجهه) به تعزیر پنځه اویا درو ته رساوه، نو د تعزیر زیاته اندازه پنځه اویا درې ده.

**د درو وهلو مراتب**: تر ټولو سخت وهل په تعزیر کې دي، ځکه چې د درو شمېر يې کم دی، بیا سخت وهل په زنا کې دي چې په هکله يې الله فرمایلي: ﴿وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي

دِينِ اللَّهِ)(النور: ۲ ) ژباړه: او نه دې نیسي تاسې په (دواړو زناکارانو) کې زړه سوی په (انفاذ د حکم) د الله کې. له زنا وروسته سخت وهل په شرابو کې دی کله چې یې جرم ثابت شي او وربیسي بیا د قذف حد دی.

د تلاوت شوي آیت (وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ) له مخې پر حد سربېره د محدود شوي شخص بله سزا دا ده، چې د تل لپاره یې شاهدي د منلو وړ نه ده، که توبه یې باسلې هم وي.

## فعالیت

زده کوونکي دې پر افرادو او ډلو باندې د تورونو او قذف لګولو د زیانونو په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱. قذف تعریف او د حرمت دلیل یې وواياست.

۲. د آزاد انسان او مریي د قذف سزا په پوره توګه بیان کړئ.

۳. محصن تعریف کړئ.

٤. د قذف د حد سببونه بیان کړئ.

٥. د تعزیر لږه او زیاته اندازه د امامانو د اختلاف سره بیان کړئ.

# د غلا حد (۱)

په تېرو لوستونو کې هغه حدود بیان شول چې موخه یې د انسان د نفس او عزت ساتنه وه، اوس په دې لوست کې د غلا حد بیانیږي چې موخه یې د انسانانو د مالونو ساتنه ده.

كِتَابُ السَّرِقَةِ وَقُطَّاعِ الطَّرِيقِ:

(۱) إِذَا سَرَقَ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ، أَوْ مَا قِيمَتُهُ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ، مَضْرُوبَةً كَانَتْ أَوْ غَيْرَ مَضْرُوبَةٍ، مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ، وَجَبَ الْقَطْعُ.

(۲) وَيَجِبُ الْقَطْعُ بِإِقْرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً، أَوْ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ.

(۳) وَإِذَا اشْتَرَكَ جَمَاعَةٌ فِي سَرِقَةٍ فَأَصَابَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ، قُطِعَ، وَإِنْ أَصَابَهُ أَقَلُّ لَمْ يُقْطَعْ.

(٤) وَلَا قَطْعَ فِيمَا يُوجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ، كَالْخَشَبِ، وَالْقَصَبِ، وَالْحَشِيشِ، وَالسَّمَكِ، وَالطَّيْرِ، وَالصَّيْدِ، وَكذلك فِيمَا يُسْرِعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ، كَالْفَوَاكِهِ الرَّطْبَةِ، وَاللَّبَنِ، وَاللَّحْمِ، وَالْبِطِّيخِ، وَالْفَاكِهَةِ عَلَى الشَّجَرِ، وَالزَّرْعِ الَّذِي لَمْ يُحْصَدْ.

(٥) وَلَا قَطْعَ فِي الْأَشْرِبَةِ الْمُطْرِبَةِ، وَلَا فِي الطُّيور، وَلَا فِي سَرِقَةِ الْمُصْحَفِ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حِلْيَةٌ،وَلَا فِي صَلِيبِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَا فِي الشِّطْرَنْجِ وَلَا النَّرْدِ. وَلَا قَطْعَ عَلَى سَارِقِ الصَّبِيِّ الْحُرِّ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حليٌ وَلَا قَطْعَ فِي الدَّفَاتِرِ إِلَّا فِي دَفَاتِرِ الْحِسَابِ. وَلَا قَطْعَ فِي سَرِقَةِ الكَلْبِ وَلَا فَهْدٍ وَلَا دُفٍّ وَلَا طَبْلٍ وَلَا مِزْمَارٍ.

(٦) وَيُقْطَعُ فِي السَّاجِ، وَالْقَنَا، وَالْأَبَنُوسِ، وَالصَّنْدَلِ وَإِذَا اتُّخِذَ مِنْ الْخَشَبِ أَوَانٍ أَوْ أَبْوَابٌ قُطِعَ فِيهَا.

(٧) وَلَا قَطْعَ عَلَى خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ، وَلَا نَبَّاشٍ، وَلَا مُنْتَهِبٍ، وَلَا مُخْتَلِسٍ.

(٨) وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ، وَلَا مِنْ مَالٍ لِلسَّارِقِ فِيهِ شَرِكَةٌ.

(٩) وَمَنْ سَرَقَ مِنْ أَبَوَيْهِ، أَوْ وَلَدِهِ، أَوْ ذِي رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْهُ، لَمْ يُقْطَعْ.

(١٠) وَكَذَا إِذَا سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنَ الْآخَرِ، وَالسَّارِقُ مِنَ الْمَغْنَمِ.

(١١) وَالْحِرْزُ عَلَى ضَرْبَيْنِ حِرْزٌ لِمَعْنًى فِيهِ،كَالْبُيُوتِ، وَالدُّورِ، وَحِرْزٌ بِالْحَافِظِ، فَمَنْ سَرَقَ شَيْئًا مِنْ حِرْزٍ أَوْ غَيْرِ حِرْزٍ وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ يَحْفَظُهُ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقَطْعُ.

(١٢) وَلَا قَطْعَ عَلَى مَنْ سَرَقَ مِنْ حَمَّامٍ، أَوْ مِنْ بَيْتٍ أُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُولِهِ.

(١٣) وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُهُ عِنْدَهُ قُطِعَ.

(١٤) وَلَا قَطْعَ عَلَى الضَّيْفِ إِذَا سَرَقَ مِمَّنْ أَضَافَهُ.

(١٥) وَإِذَا نَقَبَ اللِّصُّ الْبَيْتَ فَدَخَلَ، فَأَخَذَ الْمَالَ وَنَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ الْبَيْتِ، فَلَا قَطْعَ عَلَيْهِمَا، وَإِنْ أَلْقَاهُ فِي الطَّرِيقِ، ثُمَّ خَرَجَ فَأَخَذَهُ، قُطِعَ، وَكَذَلِكَ إِنْ حَمَلَهُ عَلَى حِمَارٍ فَسَاقَهُ فَأَخْرَجَهُ.

(١٦) وَإِذَا دَخَلَ الْحِرْزَ جَمَاعَةٌ فَتَوَلَّى بَعْضُهُمْ الْأَخْذَ قُطِعُوا جَمِيعًا.

(١٧) وَمَنْ نَقَبَ الْبَيْتَ وَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ، فَأَخَذَ شَيْئًا، لَمْ يُقْطَعْ. وَإِنْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي صُنْدُوقِ الصَّيْرَفِيِّ، أَوْ فِي كُمِّ غَيْرِهِ، فَأَخَذَ الْمَالَ، قُطِعَ.

## ژباړه

**د غلا او لار شكوني كتاب:**

(١) كله چې عاقل او بالغ انسان لس درهمه يا هغه څه چې بيه يې لس درهمه وي، سكه پرې وهل شوي وي او كه نه، له داسې حرز (ساتنځي) څخه چې شبهه پكې نه وي، غلا كړي (دلاس) غوڅول يې واجبيږي.

(٢) پر خپل ځان باندې د غله يو ځل اقرار يا د دوو شاهدانو شاهدي د غله د لاس غوڅول واجبوي.

(۳) که (یوه) ډله په غلا کې شریکه شي او هر یوه ته لس درهمه ورسیږي، (لاسونه یې) غوځیږي او که له دې څخه کمې وررورسیږي، لاسونه یې نه غوځیږي.

(٤) په هغو شیانو کې (دلاس) غوځول نشته چې په دار اسلام کې بې ارزښته او مباح وي، لکه لرګي، دورمې، واښه، کب او ښکار. همدا راز هغه شیان چې ژر خرابیږي لکه تازه میوې، شیدې، غوښه، هندوانه، په ونه کې میوې او هغه کښت چې لو شوی نه وي.

(٥) د نشه یي مشروباتو په غلا کولو کې (د لاس) غوځول نشته، همدارنګه په مرغانو او مصحف کې هم غوځول نشته، که څه هم مصحف په ډیر ارزښتناک او قیمتي پوښ کې تاو وي.

د سرو زرو او سپینو زرو په صلیب، شطرنج او نرد (یو ډول لرګی چې لوبې وربانديې کیږي) په غلا کې غوځول نشته. د آزاد کوچني پرغلا کوونکي (دلاس) غوځول نشته که څه هم په تن او جامو کې یې ګاڼه وي. په کتابونو کې (دلاس) غوځول نشته مګر د حساب په کتابونو کې(لاس غوځول) شته. د سپي، پړانګ، چمبې، ډول او رباب (په غلا کولو) کې (لاس) غوځول نشته.

(٦) د ساج، نېزې، بانس، او صندل (په غلا) کې (لاس) غوځیږي. که له لرګیو څخه لوښي یا دروازې جوړې شي او څوک یې غلا کړې، لاس یې غوځیږي.

(۷) په خاین سړي، خاینې ښځې، کفن کش، منتهب (هغه څوک چې په زور له چا څخه مال اخلي) او مختلس (هغه څوک چې د غفلت په حال کې له چا څخه په بیړه شی تښتوي) باندې لاس غوځول نشته.

(۸) له بیت المال څخه د غلا کوونکي لاس نه غوځیږي، همدا راز د هغه غله لاس هم نه غوځیږي چې له خپل شریک مال څخه غلا وکړي.

(۹) چا چې له خپل مور، پلار، زوی یا محرم خپلوان څخه غلا وکړه (لاس) یې نه غوځیږي.

(۱۰)همدا راز که ښځې او مېړه له يو بل څخه غلا وکړه، يا چا له غنيمت څخه غلا وکړه لاس يې نه غوڅيږي.

(۱۱)حرز (ساتنځی) په دوه ډوله دی: (يو) هغه ساتنځی دی چې (اساسا د يوشي د ساتنې لپاره وي) لکه خونې او کورونه او بل هغه ساتنځی چې د ساتونکي په واسطه وي.

چا چې له ساتنځي يا له ساتنځي پرته له داسې ځای څخه چې (د مال) څښتن هلته وي او ساتي يې، غلا وکړي د لاس غوڅول يې واجب دي.

(۱۲) چا چې له حمام يا له داسې خونې څخه غلا وکړه چې ټولو خلکو ته د ورننوتلو اجازه وي، لاس يې نه پرې کيږي.

(۱۳) چا چې له جومات څخه مال غلا کړ او څښتن يې ورسره و، لاس يې غوڅيږي.

(۱٤) که ميلمه له خپل کوربه څخه غلا وکړه، لاس يې نه غوڅيږي.

(۱۵) که غل کور سوری کړي، ورننوځي، مال راواخلي او له کوره بهر سړي ته يې ورکړي، نو په دواړو (لاس) غوڅول نشته، خو که لاري ته يې وغورځاوه، بيا راووت او وايې خيست (لاس يې غوڅيږي، همدا راز که پر خره يې بار کړ او بهر يې راوويست (لاس يې غوڅيږي).

(۱٦) که ساتنځي ته يوه ډله غله ننوځي او ځينې يې مال راواخلي د ټولو (لاسونه) غوڅيږي.

(۱۷) که چا کور سوری کړ، لاس يې ورننويست او مال يې راواخيست، لاس يې نه غوڅيږي، که د صراف په بکس يا د بل چا په جېب کې يې لاس ننويست او مال يې راواخيست، لاس يې غوڅيږي.

## شرحه

**د سرقت تعريف**: (سرقة) په عربي لغت کې په پټه د بل چا مال اخيستلو ته وايي. په اصطلاح کې د مکلف انسان له خوا په پټه د بل چا د داسې مال اخيستلو ته وايي چې محرز (ساتل شوي) او اندازه يې لس درهمه يا د لسو درهمو له ارزښت سره برابر وي.

**د سرقې (غلا) د حد مشروعیت**: د غلا حد د الله تعالی په دې قول ثابت شوی دی: ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ﴾ (المائدة: ۳۸) ژباړه: د غل او غلې لاسونه پرې کړئ، لپاره د سزا د هغه عمل چې دواړو کړی، جزا له جانبه د الله تعالی.

د غلا د حد لپاره شرط ده، چې غل باید عاقل او بالغ وي، ځکه لېونی او کوچنی په شرعي احکامو مکلف نه دي.

**د غلا نصاب**: د غلا د حد نصاب لس شرعي درهمه او یا دومره مال دی چې د لسو شرعي درهمو ارزښت ولري. په قرآن کریم کې د غلا د حد په بیان کې نصاب نه دی ټاکل شوی، خو په احادیثو کې یې نصاب لس درهمه ټاکل شوی دی، چې له هغې جملې څخه د مسند احمد دا حدیث دی: ﴿لاَ تُقْطَعُ يَدُ السَّارِقِ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ﴾. ژباړه: د غله لاس له لسو درهمو څخه په کمو کې نه غوڅېږي.

په درهمو کې سکه وهل شوي درهم له هغو درهمو سره برابر دي چې سکه وربانديې نه وي وهل شوي او د سپینو زرو په توګه وي.

**ساتنځی**: د غلا د حد لپاره بل شرط حرز(ساتنځی) دی. حرز په لغت کې د مال ساتلو ځای ته ویل کیږي. حرز په دوه ډوله دی: یو هغه ودانۍ دي چې د مالونو د ساتنې لپاره جوړې شوي دي، لکه کورونه، دوکانونه او داسې نور. دوهم ډول حرز د ساتونکي په وسیله دی، یعنې د کور او دکان پرته په هوار میدان یا سرک د ساتونکي په وسیله د مالونو ساتنه کیږي. که چیرې په پورتنیو وسیلو مال نه وي ساتل شوی او څوک یې غلا کړي، حد وربانديې نشته لکه څوک چې له پتې څخه درمند غلا کړي حد وربانديې نشته.

د حرز د شرط کېدو دلیل د پیغمبر (علیه السلام) دا حدیث دی چې د بیهقي په سنن کبری کې راغلی دی: لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ مُعَلَّقٍ فَإِذَا أَوَاهُ الْجَرِينُ فَفِيهِ الْقَطْعُ. ژباړه: (په ونو کې) د ځوړندو میوو (په غلا کې (دلاس) غوڅول نشته، کله چې میوې په ساتنځي کې کېښودل شي نو (لاس) پکې غوڅیږي.

څرنګه چې حرز د غلا د حد لپاره شرط دی، نو تر څو چې غل، غلا شوی مال له حرز څخه بهر نه وي ويستلی حد ورباندې نه لازميږي. همدا راز په حرز کې به شبهه نه وي، که په حرز کې شبهه وه لکه څوک چې له محرم خپلوان څخه غلا وکړي حد ورباندې نه لازميږي، ځکه د محرم خپلوان کور د خپلوان لپاره بشپړ حرز نه شمېرل کيږي او په حرز کې يې شبهه موجوده ده.

**د ډله ييزې غلا نصاب**: که زيات کسان په غلا کې سره شريک شي او دومره مال غلا کړي چې په برابر وېش کې هر يو تن ته د لسو درهمو په اندازه مال ورسيږي، د ټولو لاسونه غوڅيږي که څه هم ځينې کور ته ننوتلي وي او ځينې نور ورسره بهر مرسته کوونکي وي، خو که ټولو ته د لسو درهمو له اندازې څخه کمه برخه ورسيږي، بيا پر يوه هم حد نه جاري کيږي، ځکه د حد موجب نصاب دی او د يوه برخه هم نصاب ته نه ده رسېدلې.

**د مباحو شيانو غلا**: هغه مباح شيان چې ډېر مالي ارزښت نه لري او زيات موندل کيږي، له يوې خوا اخيستونکي ورته زيات ميلان نه لري او له بلې خوا ورکوونکي يا عام خلک ورباندې بخل نه کوي، نو زياتره د دې ډول شيانو په لاس ته راوړلو کې څوک له زور څخه کار نه اخلي.

همدا راز په عام ډول د داسې شيانو ساتنه او حرز هم کامل نه وي، په دې اساس د داسې شيانو د ساتنې لپاره د حد لازمولو ته اړتيا نشته، نو که څوک دا ډول شيان غلا کړي حد پرې نه لازميږي لکه لرګي، واښه او داسې نور چې په متن کې بيان شوي دي.

په هغو شيانو کې چې ژر باسي کيږي او فاسديږي، له دې کبله حد نشته چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې اړه داسې فرمايلي دي:" لَا قَطْعَ فِي الطَّعَامِ ". ژباړه: په خوراکي (توکو) کې (لاس) غوڅول نشته. په دې حديث کې له خوراکي توکو څخه مقصد هغه شيان دي چې ژر باسي کيږي لکه تازه ميوې، شېدې، غوښه او داسې نور.

په دې بنسټ چې حرز د غلا د حد لپاره شرط ګڼل کيږي، نو د هغو کښتونو په غلا کولو کې چې لو شوي نه وي، حد نشته.

**د لاندې شيانو په غلا کولو کې حد نشته:**

۱- مسکرات: له دې امله چې ځينې يې متقوم مال نه شمېرل کيږي او بل دا چې کېدای شي غله دغه مسکرات د ضايع کولو او له منځه وړلو په موخه اخيستي وي.

۲- صليب، د موسيقۍ آلات، شطرنج او د وخت ضايع کولو نور وسايل: په دې دليل چې دا منکرات دي او بايد له منځه يوړل شي، نو احتمال لري چې اخيستونکي د ماتولو او له منځه وړلو لپاره غلا کړې وي.

۳- مصحف (قرآن کريم): د مصحف په غلا کولو پر چا حد نه جاري کيږي که څه هم قرآن کريم په داسې څه کې تاو شوی وي چې مالي ارزښت يې د غلا نصاب ته ورسيږي، ځکه احتمال لري چې غلا کوونکي مصحف د تلاوت لپاره اخيستی وي، همدارنګه که د مصحف د پوښ ارزښت د نصاب حد ته رسېدلی وي، د مصحف تابع ګڼل کيږي، نو کله چې په متبوع کې حد نه وي په تابع کې هم حد نه لازميږي.

٤- آزاد کوچنی: د آزاد کوچني په غلا کولو کې حد نه لازميږي ځکه چې آزاد کوچنی د حر انسان په توګه شرعا مال نه دی.

٥- سپی، پړانګ او ورته ځناور: ځرنګه چې دا ځناور مباح الاصل دي، نو په مباح الاصل شيانو کې حد نشته.

**د کتابونو حکم:** کتابونه د حد له مخې په درې ډوله دي:

۱- **ديني کتابونه لکه د تفسير، حديثو او فقهي کتابونه:** دا ډول کتابونه د مصحف په څېر دي او پر غلاکوونکي يې حد نه پلی کيږي.

۲- بې لارې کوونکي کتابونه: دا ډول کتابونه د صليب او موسيقۍ د آلاتو حکم لري، يعني کېدای شي غل هغه د له منځه وړلو لپاره اخيستي وي، چې حد وربانديې نشته.

۳- هغه کتابچې چې د سوداګريزو معاملو د يادداښت او حساب لپاره دي، که د دې ډول کتابونو ارزښت نصاب ته ورسيږي، نو پرغله باندې يې حد لازميږي.

**مسئله**: یو شمېر قیمتي لرګي لکه نښتر چې د خلکو په وړاندې زیات مالي ارزښت لري او عادتا په خوندي ځایونو کې ساتل کیږي، په غلا کولوکې یې حد لازمیږي، ځکه چې د مباح الاصل او بې ارزښته مالونو په کتار کې نه راځي. په همدې ډول که د لرګو څخه لوخي او نور قیمتي شیان جوړ شي، په غلا کوونکي یې حد شته.

**پر لاندې کسانو د غلا حد نه لازمیږي:**

۱- **خائن**: هغه څوك دی چې امانت په داسې طریقه خپل کړي چې ظاهرا د مال ساتونکی او په باطن کې مال ته غل وي.

۲- **مختلس**: هغه څوك چې د مال د څښتن په موجودیت کې په ښکاره ډول، د څښتن د غفلت په حال کې له هغه څخه مال اخلي او تښتي.

۳- **منتهب**: هغه څوك چې په زور له چا څخه مال اخلي.

په پورتنیو کسانو باندې د سنن الترمذي د دې حدیث له امله حد نشته چې په اړه یې پیغمبر (علیه السلام) فرمایلي دي: (لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ وَلاَ مُنْتَهِبٍ وَلاَ مُخْتَلِسٍ قَطْعٌ). ژباړه: پر خائن، غاصب او مختلس د (لاس) غوڅول نشته.

همدا راز په پورتنیو کسانو د غلا تعریف هم نه تطبیقیږي، یعنې په خائن کې د حرز او په مختلس او منتهب کې د پټوالي شرطونه شتون نه لري، کوم چې د غلا په تعریف کې ذکر شوي وو.

۴- **کفن کش**: هغه څوك دی چې له ښخو شویو مړو څخه کفن باسي او هغه غلا کوي، څرنګه چې قبر حرز نه دی، د مړو څخه د کفن ویستل هم د غلا د شرعي تعریف لاندې نه راځي، نو ځکه پرکفن کش حد نه جاري کیږي.

۵- **له بیت المال او خپل شرکت څخه غلاکوونکی**: که څوك له بیت المال او یا داسې مال څخه غلا وکړي چې دی هم پکې شریك وي، حد پرې نه جاري کیږي. په بیت المال کې ټول ولس حق لري چې غل هم د هغوی له ډلې څخه دی، نو په دې بنسټ چې له خپل

مال څخه يې غلا کړې ده، حد ورباندې نشته. که غازي په غنيمت کې برخه وال وي او له نومورې غنيمت څخه غلا وکړي، نو په دې دليل چې په غنيمت کې برخه وال دی، پرهغه باندې حد نه لازميږي.

٦- د پلار، زوی، مېره، ښځې او محرم خپلوان څخه په غلا کولو کې ځکه حد نشته چې له يو خوا د دوی تر منځ بشپړ حرز شتون نه لري او له بله پلوه د دوی تر منځ يو د بل په مال اخيستلو کې وسعت او پراخي شته چې د حد د وجوب خنډ گرځي.

٧- که ميلمه له کوربه، يا څوك له حمام، دوکان او يا بل داسې ځای څخه غلا وکړي چې هلته د عامو خلکو د ورتگ اجازه وي، حد پرې نشته او دليل يې د حرز نشتوالی دی، خو که له يادو شويو ځايونو څخه په داسې وخت کې غلا وکړي چې عامو خلکو ته پکې د ورتگ اجازه نه وي، نو حد ورباندې شته او حرز بشپړ گڼل کيږي.

که څوك له مسجد څخه شيان غلا کړي چې څښتن يې ورسره موجود وي، حد ورباندې شته او که د مال څښتن ويده هم وي، ساتونکی گڼل کيږي، يعنې نومورې غلا له حرز څخه غلا ده.

**يادونه**: له کور څخه غلا هغه مهال معتبره گڼل کيږي، چې غل کور ته ننوځي او له ځان سره غلا کړې مال بهر ته راوباسي، که چېرې غل کور يا کوټې ته داخل نشي او له بهر څخه لاس ورتېر کړي او مال غلا کړي، حد پرې نه لازميږي، همدا راز که کور يا کوټې ته داخل شي خو د مال سره له کوره راونه وځي، بلکې يوه بل شخص ته چې له کوره بهر ولاړ دی مال ورکړي او هغه يې يوسي، پر يوه هم حد نه جاري کيږي، خو که څوك د صراف بکس ته لاس دننه کړي او پيسې ورڅخه غلا کړي، که څه هم بکس ته نه دی ننوتی، حد ورباندې شته، ځکه بکس ته ننوتل ممکن نه دي او د بکس د حرز ماتول همدا دي چې لاس ورتېر شي.

**ډلييزه غلا**: که گڼ کسان حرز ته ننوځي، خو ځينې يې مال راواخلي او بهر ته يې راوباسي او ځينې نور يې له دوی سره مرسته وکړي خو مالونه له حرزه بهر راونه باسي، پر ټولو حد

لازميږي. په دې مثال کې ځینو کسانو چې مرسته کړې او مالونه يې له حرزه بهر نه دي راويستي، که څه هم غلا نه ده بشپړه کړې، خو په ډلييزه غلا کې يوازې مرسته د حد لپاره کفايت کوي او له بله پلوه ډلييزې غلاګانې په همدې طريقه سرته رسي، نو که حد وربانديې جاري نشي د غلا مخه نه نيول کيږي. د همدې دلايلو په اساس که څوك په ډلييزه غلا کې مال له حرزه بهر هم راونه باسي او يوازې په داخل کې مرسته وکړي، حد وربانديې جاري کيږي.

## فعاليت

آيا د انسانانو په اختطاف کې حد شته؟ زده کوونکي دې په دې اړه خپل نظرونه يو بل ته څرګند کړي.

## ارزونه

١. سرقه تعريف کړئ.

٢. د غلا د حد د مشروعيت دلايل روښانه کړئ.

٣. د غلا نصاب بيان کړئ.

٤. حرز تعريف او ډولونه يې روښانه کړئ.

٥. ولې د مصحف په غلا کولو کې حد نشته؟

٦. مختلس او غاصب (منتهب) تعريف کړئ او هم وواياست چې ولې پر دوی بانديې حد نشته.

# د غلا او لار شکوني حد (۲)

په دې لوست کې به د غلا د سزا په پاتې مسایلو او د لارو شکوونکو په حد بحث وکړو.

(۱) وَتقْطَعُ يَمِينُ السَّارِقِ مِنْ الزَّنْدِ وَتُحْسَمُ، فَإِنْ سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، فَإِنْ سَرَقَ ثَالِثًا لَمْ يُقْطَعْ، وَخُلِّدَ فِي السَّجْنِ حَتَّى يَتُوبَ.

(۲) وَإِنْ كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرَى أَوْ أَقْطَعَ أَوْ مَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنَى لَمْ يُقْطَعْ.

(۳) وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبَ بِالسَّرِقَةِ، فَإِنْ وَهَبَهَا مِنْ السَّارِقِ، أَوْ بَاعَهَا اياه أَوْ نَقَصَتْ قِيمَتُهَا من النِّصَابِ، لَمْ يُقْطَعْ.

(٤) وَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا فَقُطِعَ فِيهَا وَرَدَّهَا، ثُمَّ عَادَ فَسَرَقَهَا وَهِيَ بِحَالِهَا، لَمْ يُقْطَعْ. فَإِنْ تَغَيَّرَتْ عَنْ حَالِهَا، مِثْلُ ان كَانَ غَزْلًا فَسَرَقَهُ، فَقُطِعَ فِيهِ، فَرَدَّهُ ثُمَّ نُسِجَ فَعَادَ فَسَرَقَهُ قُطِعَ. وَإِذَا قُطِعَ السَّارِقُ، وَالْعَيْنُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ رَدَّهَا، وَإِنْ كَانَتْ هَالِكَةً لَمْ يَضْمَنْ.

(٥) وَإِنْ ادَّعَى السَّارِقُ أَنَّ الْعَيْنَ الْمَسْرُوقَةَ مِلْكُهُ، سَقَطَ الْقَطْعُ عَنْهُ وَإِنْ لَمْ يُقِمْ بَيِّنَةً.

(٦) وَإِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمْتَنِعُونَ، أَوْ وَاحِدٌ يَقْدِرُ عَلَى الِامْتِنَاعِ فَقَصَدُوا قَطْعَ الطَّرِيقِ فَأُخِذُوا قَبْلَ أَنْ يَأْخُذُوا مَالًا وَلَا قَتَلُوا نَفْسًا، حَبَسَهُمُ الْإِمَامُ حَتَّى يُحْدِثُوا تَوْبَةً

(٧) وإِنْ أَخَذُوا مَالَ مُسْلِمٍ، أَوْ ذِمِّيٍّ، وَالْمَأْخُوذُ إذَا قُسِمَ عَلَى جَمَاعَتِهِمْ أَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ فَصَاعِدًا، أَوْ مَا قِيمَتُهُ ذَلِكَ، قَطَعَ الْإِمَامُ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ.

(٨) وَإِنْ قَتَلُوا وَلَمْ يَأْخُذُوا مَالًا قَتَلَهُمْ الْإِمَامُ حَدًّا، فان عَفَا الْأَوْلِيَاءُ عَنْهُمْ لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَى عَفْوِهِمْ.

(٩) وَإِنْ قَتَلُوا وَأَخَذُوا الْمَالَ فَالْإِمَامُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ قَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ، وَقَتَلَهُمْ أو صَلَبَهم، وَإِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ صَلَبَهُمْ: وَيُصْلَبُ حَيا، ويُبْعَجُ بَطْنُهُ بِالرُّمْحِ إِلَى أَنْ يَمُوت، وَلَا يُصْلَب أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّام.

(١٠) فَإِنْ كَانَ فِيهِمْ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ، أَوْ ذُو رَحِمٍ مُحْرَّمٍ مِنَ الْمَقْطُوْعِ عَلَيْهِ سَقَطَ الْحَدُّ عَنْ الْبَاقِينَ وَصَارَ الْقَتْلُ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ: إِنْ شَاءُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاءُوا عَفَوْا.

(١١) وَإِنْ بَاشَرَ الْقتل وَاحِدٌ مِنْهُمْ أُجْرِيَ الْحَدُّ عَلَى جَمَاعَتِهِم.

## ژباړه

(١) د غله ښی لاس له مړوند څخه غوڅیږي او (په غوړو) داغ کیږي، که دوهم ځل یې غلا وکړه کینه پښه به یې غوڅیږي، که دریم ځل یې بیا غلا وکړه (لاس او پښه یې) نه غوڅیږي، خو تر هغې به زندان کې اچول کیږي، ترڅو چې توبه وباسي.

(٢) که د غله کیڼ لاس شل یا غوڅ و، یا یې ښی پښه غوڅه وه (لاس او پښه یې) نه غوڅیږي.

(٣) د غله لاس ترهغې نه غوڅیږي، ترڅو چې د مال خاوند، چې غلا ورڅخه شوې حاضر نشي او د غلا (د حد د پلي کولو) غوښتنه ونکړي، که (غلا شوی مال) یې غله ته وبښلو، یا یې په هغه باندې وپلوره، یا یې ارزښت له نصاب څخه کم شو، نو (لاس او پښه یې) نه غوڅیږي.

(٤) که چا یو عین غلا کړ او (لاس او پښه) یې پکې غوڅ شول او هغه (عین) یې بیرته (څښتن ته) رد کړ، بیا یې دویم ځلي هغه (په داسې حال کې) غلا کړ چې په خپل (پخواني) حال و، (لاس یې) نه غوڅیږي، که له خپل (پخواني) حال څخه یې بدلون موندلی و، مثلا تار یې غلا کړ او (لاس یې) پکې غوڅ شو او (تار یې څښتن ته) رد کړ، بیا (له تار څخه ټوکر) واوبدل شو او غلا یې کړ (لاس یې) غوڅیږي. د غله (لاس) چې غوڅ شي او (غلا شوی مال) یې په لاس

کې وي، (ښځېنتن ته دې) رد کړي او که له منځه تللی و، تاوان نه لري.

(۵) که غل دعوه وکړه چې غلا شوی مال د ده ملکیت دی، (لاس) غوڅول ورڅخه ساقطیږي، که څه هم په خپلې دعوا ګواهان تېر نه کړي.

(٦) که یوه ډله یا یو تن چې له ځان څخه د دفاع توان ولري (د لارې د بندولو لپاره وسله ورسره وي)، د لار شکولو په هوډ راووځي، خو مخکې له دې چې څوک ووژني او یا د چا مال واخلي، ونیول شي، امام به دوی بندیان کړي، تر څو توبه وباسي.

(۷) که لارشکوونکو له مسلمان یا ذمي څخه مال واخیست او اخیستل شوی (مال دومره و چې) که د دوی په ډله ووېشل شي هر یوه ته لس درهمه یا زیات، یا دومره مال چې قیمت یې (لس درهمه) وي، ورسیږي، امام به د دوی لاسونه او پښې (یو د بل) خلاف غوڅوي.

(۸) که لارشکوونکو لارویان ووژل او له هغوی څخه یې مال وانه خیست، امام به لارشکوونکي حداً وژني، که (د مړو) اولیاءو ببښنه وکړه، ببښنې ته دې ارزښت نه ورکول کیږي.

(۹)که لارشکوونکو څوک ووژل او مال یې هم ترې واخیست، امام اختیار لري، که یې خوښه وه د دوی لاسونه او پښې به (یو د بل) خلاف غوڅې کړي، وبه یې وژني او په دار به یې وځړوي او که یې خوښه وه دوی به ووژني او که یې خوښه وه دوی به په دار وځړوي: دوی به ژوندي په دار ځړول کیږي او خېټې به یې په نېزه سورې کیږي، ترڅو مړه شي. له درې ورځو څخه به زیات په دار نه ځړول کیږي.

(۱۰) که په (لارشکوونکو) کې کوچنی، لېونی یا (د مجنی علیه) محرم خپلوان موجود و، له پاتې کسانو څخه هم حد ساقطیږي او د (قصاص حق) یې اولیاءو ته نقلیږي، که د هغوی خوښه وه یا به یې قصاص کړي او یا به ورته ببښنه وکړي.

(۱۱) که قتل یو تن ترسره کړی و، بیا هم حد به په (ټوله) ډله جاري کیږي.

## شرحه

**د لاس غوڅول**: لکه څرنګه چې مو ولوستل په مبارک آیت کې د غلا حد د لاس غوڅول ښودل شوی دی. د دې تر څنګ د پیغمبر (علیه السلام) سنتو روښانه کړې ده چې د غله ښی لاس به له مرونده څخه غوڅیږي، له غوڅېدو وروسته به په ایشېدلوغوړو سره داغیږي، ترڅو یې رګونه بند شي، وینه یې ودریږي او د وینې د بهېدو له امله مړ نشي، ځکه په شریعت کې د لاس له غوڅولو څخه موخه، عبرت او رټنه ده، نه د غله وژل.

که غل په دویم ځل غلا وکړي نو د کیڼ لاس په ځای به یې کیڼه پښه له ښنګرو څخه غوڅه شي. دا له دې امله چې د ښي لاس له پرېکولو وروسته که د غل کیڼ لاس هم غوڅ شي نو د شیانو له نیولو او خپلو لومړنیو اړتیاوو له پوره کولو ناتوانه کیږي، په همدې بنسټ که د غله کیڼ لاس او ښی پښه شله یا غوڅه وي، حد پرې نه جاري کیږي، ترڅو په ژوندانه کې له زغم پورته ستونزو سره مخ نشي.

که غل دوه ځلې په حد شي او ښی لاس اوکیڼه پښه یې غوڅه شي او دریم ځل بیا غلا وکړي، نو د پورتني یاد شوي دلیل په اساس حد وربانديې نه جاري کیږي او حاکم به یې تر هغې بندي کوي، ترڅو له غلا څخه توبه وباسي. علي (کرم الله وجهه) د همداسې یوه غله په اړه وویل: له الله څخه حیا راځي چې نوموړی غل په داسې حال پرېږدم چې یو لاس هم ونه لري، نه خوراک وکولای شي او نه ځان پاک کړای شي او په همدې عمل د صحابه و اجماع هم ده.

**د غلا دعوه**: د غلا د حد د جاري کولو لپاره شرط ده چې هغه څوک چې غلا ورڅخه شوې (خصم) پر غله دعوه وکړي او د سزا غوښتنه وکړي، ځکه پر مالونوباندې د تیري په صورت کې له غوښتنې او دعوا پرته جرم نه ښکاره کیږي. د لاس د غوڅولو پر مهال هم د خصم موجودیت شرط دی، ځکه د خصم د نه شتون په صورت کې دا شبهه پر ځای پاتې کیږي چې کېدای شي خصم غلا شوی مال پر غله وبلوري یا یې ورته وبښي او حد ساقط شي.

**د یوه مال دوه ځلې غلا کول**: که څوک یو مال غلا کړي او حد وربانديې جاري شي، خو

له حد وروسته نومورړی مال په داسې حال کې غلا کړي چې له پخواني حالت څخه يې بدلون نه وي موندلی، نو حد پرې نه جاري کيږي ځکه د همدې مال د حرمت د له منځه وړلو له امله يو ځل په حد شوی دی، نو د هتك حرمت تکرار، د حد د تکرار موجب نه ګرځي، خو که مال بدلون موندلی و، لکه په لومړی غلا کې تار و او په دوهمه غلا کې په ټوکر بدل شوی و، نو ټوکر نوی او بدل مال ګڼل کيږي او حرمت يې پر ځای پاتې دی، په دې بنسټ د ټوکر پرغله باندې حد جاري کيږي.

**د غلا شوي مال تاوان(ضمان)**: غل د غلا شوي مال ضامن نه دی ځکه زمونږ په مذهب کې د لاس غوڅول او ضمان دواړه سره نه جمع کيږي. په دې اساس که غلا شوی مال د غله سره هلاک شوی وي غل ضامن نه دی، خو که نومورړی مال له غل سره سلامت پاتې وي، څښتن ته يې سپارل پرې لازم دي، ځکه دغه مال په غلا کيدلو سره د څښتن له ملکيت څخه نه دی وتلی.

**پرغلا کړي مال دعوه**: که غل په غلا شوي مال دعوه وکړي چې د ده خپل ملکيت دی، که څه هم په دې دعوه کوم ګواه تېر نکړي حد ساقطيږي، ځکه دا دعوه د رېښتينولی له احتمال څخه خالي نه ده، له بله پلوه احتمال د حد په ثبوت کې شبهه واردوي او حدود په شبهاتو سره له منځه ځي.

**د قطع الطريق (لارشکولو) تعريف**: په ښکاره ډول د خلکو د مال اخيستلو، وژلو او يا ډارولو لپاره په داسې ډول راوتل چې په خپل قوت باوري او د مرستې له رسېدو څخه لرې وي، د لارې شکول بلل کيږي چې فقهاوو د (حدالحرابه) په نامه هم ياد کړی دی.

**د لارشکولو د حد مشروعيت**: د لارشکوونکو سزا د الله (جل جلاله) په دې وينا کې بيان شوې ده چې فرمايي: (إِنَّمَا جَزَاء الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ* إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ

عَلَيۡهِمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ (المائدة: ٣٣-٣٤)

**ژباړه**: بېشکه سزا د هغو کسانو چې جګړه کوي د الله او د هغه د رسول له (دوستانو) سره او کوښښ کوي په ځمکه کې د فساد، دوی دې ووژل شي، یا دې په دار کړل شي، یا دې پرې کړای شي لاسونه او پښې د دوی له یو بل سره مخالفې(ښی لاس او کیڼه پښه)، یا دې وشړل شي له ځمکې. دا (سزا) دغو (لارشکوونکو) ته رسوایي ده په دنیا کې او دوی ته په أخرت کې لوی عذاب دی. خو هغه کسان چې توبه وباسي مخکې له هغه نه چې قادر شئ پر هغوی باندې، نو پوه شئ په دې چې بېشکه الله ښه مغفرت کوونکی، ډېر رحم والا دی.

**د لارشکولو د حد د پلي کولو شرطونه**: د دې حد د لزوم لپاره د یو لړ شرطونو پوره کېدو ته اړتیا ده چې په لاندې ډول دي:

١- لارشکوونکی باید عاقل او بالغ وي، ځکه حد د جنایت له کبله رامنځته کیږي او د کوچنیانو او لېونو عمل ته جنایت نشي ویل کېدای.

٢- د لارې شکول باید ښکاره وي او لارشکوونکي باید د دومره زور او توان لرونکي وي چې لارې وشکوي او له ځان څخه دفاع وکړای شي. له همدې شرط څخه په متن کې د (ممتنعین) په ټکي تعبیر شوی دی.

٣- لارشکوونکی باید سړی وي، ښځې د زړه د نرمۍ او کمزورۍ له امله د دې توان نه لري چې لارې وشکوي.

٤- لارشکوونکي باید د وسلې لرونکي وي، که څه هم له لرګي او یا کاڼي څخه کار واخلي.

٥- د لارشکولو د ځای او ښار تر منځ باید د شرعي سفر په اندازه واټن موجود وي. د امام ابویوسف په نظر که لارشکوونکي د شپې له خوا په ښار کې لاره وشکوي، حد وربانديې جاري کیږي او همدا مفتی به قول دی.

**د لارشکوونکو سزاګانې**: د لارشکوونکو جنایت څلور صورتونه او هر صورت یې جلا سزا

لري چې په لاندې ډول دي:

۱- که لارشکوونکي د لارشکولو په نیت راووځي، خو مخکې له دې چې جنایت تر سره کړي د حاکم له خوا ونیول شي، په دې صورت کې د دوی سزا بندي کېدل دي، دوی به په بند کې وي، ترڅو چې له دې ناوړه عمل څخه توبه وباسي.

۲- که څوك د لارشکولو په نیت راووځي او له کوم مسلمان یا ذمي څخه مال واخلي، خو څوك ونه وژني. په دې صورت کې که له اخیستل شوي مال څخه هر لارشکوونکي ته د غلا د نصاب په اندازه مال رسېږي، نو له ټولو څخه به ښی لاس او کینه پښه حداً غوڅیږي.

۳- که لارشکوونکي یوازې قتل وکړي او مال وانخلي، په دې صورت کې به یې حاکم حداً وژني نه قصاصاً، ځکه د اولیاءو ښښنه د حد په ساقطېدلو کومه اغېزه نه لري، یعنې د مړو د اولیاءو د ښښنې سره سره پردوی حد جاري کیږي.

٤- که لارشکوونکي د مال په اخیستلو سربېره څوك ووژني، په دې صورت کې حاکم اختیار لري چې لارشکوونکو ته له لاندې درېو سزاګانو څخه یوه سزا خوښه کړي:

ا- د ښي لاس او کینې پښې پرې کول او وروسته بیا د هغه وژل او په دار کول.

ب- یوازې وژل.

ج- په دار ځړول: په دار د ځړولو طریقه دا ده چې په یوه ولاړ لرګي پورې به ژوندی وتړل شي، بیا به یې خېټه په نېزه ووهل شي، ترڅو مړ شي. په دار ځړول شوی به له درې ورځو زیات پر دار نه پاتې کیږي.

**د حد سقوط**: که په لارشکوونکو کې کوچنی، لېونی یا د مجنی علیه محرم خپلوان موجود وي، حد ساقطیږي، د وژلو په صورت کې د مړي قصاص د وارثانو حق ګرځي، که قتل د قصاص موجب وي هغوی واك لري چې قصاص اخلي او که ښښنه کوي.

که د لارشکوولو په جنایت کې مړی د یو تن په لاس وژل شوی وي، نو ټول پرې وژل کیږي، ځکه هغه دا قتل د نورو په مرسته کړی او ټول حداً وژل کیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د غلا او لارشکونې په توپیرونو وغږیږي.

## ارزونه

۱_ که پر چا باندې دوه ځلې د غلا حد جاري شي او دریم ځل غلا وکړي سزا یې څه ډول ده؟

۲_ قطع الطریق تعریف کړئ.

۳_ د لارشکولو د حد مشروعیت د أیت په ترڅ کې بیان کړئ.

٤_ د لارشکولو د حد د جاري کېدو شرطونه بیان کړئ.

٥_ د لارشکولو د جنایت څلور صورتونه بیان کړئ.

٦_ د لارشکولو د دریم صورت سزا بیان کړئ.

# شراب

د شرابو او نشه يي توکو زيانونه له هيڅ عاقل انسان څخه پټ نه دي. له همدې امله اسلامي شريعت هغه ناروا ګرځولي او د شراب څښونکي لپاره يې سزا ټاکلې ده. په نننۍ لوست کې به د مشروباتو روا او ناروا ډولونه ولولو.

(١) كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ:

(٢) الْأَشْرِبَةُ الْمُحَرَّمَةُ أَرْبَعَةٌ:

(أ) الْخَمْرُ وَهُوَ عَصِيرُ الْعِنَبِ إِذَا غَلَى وَاشْتَدَّ وَقَذَفَ بِالزَّبَدِ.

(ب) وَالْعَصِيرُ إِذَا طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ أَقَلُّ مِنْ ثُلُثَيْهِ.

(ج) وَنَقِيعُ التَّمْرِ

(د) وَنَقِيعُ الزَّبِيبِ إِذَا غَلَا وَاشْتَدَّ.

(٣) وَنَبِيذُ التَّمْرِ، وَالزَّبِيبِ إِذَا طُبِخَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَدْنَى طَبْخٍ، حَلَالٌ وَإِنْ اشْتَدَّ، إِذَا شَرِبَ مِنْهُ مَا يَغْلِبُ فِي ظَنِّهِ أَنَّهُ لَا يُسْكِرُهُ مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَلَا طَرَبٍ.

(٤) وَلَا بَأْسَ بِالْخَلِيطَيْنِ.

(٥) وَنَبِيذُ الْعَسَلِ، والتِين، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالذُّرَةِ حَلَالٌ وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ.

(٦) وَعَصِيرُ الْعِنَبِ إِذَا طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ ثُلُثَاهُ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ حَلَالٌ وَإِنْ اشْتَدَّ.

(٧) وَلَا بَأْسَ بِالِانْتِبَاذِ فِي الدُّبَّاءِ، وَالْحَنْتَمِ ، وَالْمُزَفَّتِ، وَالنَّقِيرِ.

(٨) وَإِذَا تَخَلَّلَتْ الْخَمْرُ حَلَّتْ، سَوَاءٌ صَارَتْ خَلًّا بِنَفْسِهَا أَوْ بِشَيْءٍ طُرِحَ فِيهَا. وَلَا يُكْرَهُ تَخْلِيلُهَا.

## ژباړه

(۱) **د مشروباتو کتاب**

(۲) حرام مشروبات (څښل کېدونکي) څلور دي:

آ- شراب: د انګورو اوبه چې وایشیږي، تُندې شي او ځګ وکړي.

ب- د انګورو اوبه چې کله (په اور) پخې شي او له دوه ثلثه کمې ورڅخه لاړې شي.

ج- ایشول شوې خرما چې کله تنده شي.

د- ایشول شوي ممیز چې کله تند شي.

(۳) د خرما او ممیزو اوبه چې لږې (په اور) پخې شي حلالې دي، که څه هم تندې شي او د څښلو مقصد یې نشه او مستي حاصلول نه وي او د څښونکي غالب ګومان دا وي چې نشه نه راولي.

(٤) خلیطین (د خرما او ممیزو ګډې شوې اوبه چې لږې پخې شوې وي) باک نه لري.

(٥) د شاتو، انځرو، غنمو، وربشو او جوارو اوبه روا دي که څه هم په اور پخې نشي.

(٦) د انګورو اوبه چې (په اور) دومره پخې شي چې دوه برخې یې لاړې شي او یوه برخه یې پاتې شي، که ټینګې هم شي، څښل یې روا دي.

(۷) په دباء (هغه لوښی چې له کدو څخه جوړ شوی وي) حنتم (د شرابو جوړولو لپاره یو ډول شین رنګ لرونکی لوښی) مزفت(هغه لوښی چې له ختې جوړ او په قیر یا غوړو غوړ شوی وي) او نقیر (هغه لرګی چې د منځ په سوري کولو او توږلو سره ترې لوښی جوړ شوی وي) کې د نبیذو جوړول روا دي.

(۸) که له شرابو څخه سرکه جوړه شي څښل یې روا دي، برابره ده چې شراب په خپله سرکه شوي وي او که د بل شي په ورګډولو په سرکه بدل شي. له شرابو څخه سرکه جوړول، کراهیت نه لري.

## شرحه

**د شرابو حرمت**: د شرابو حرمت په قرآن کریم او سنتو کې بیان شوی. الله (جل جلاله) فرمایي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ

**الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ)** (المائدة: ۹۰)

ژباړه: ای مومنانو! شراب، قمار، بتان او غشي (دفال) پلیت دي، له شیطاني کارونو څخه دي، نو ځان ورڅخه وساتئ.

د امام مسلم په صحیح کې راغلي چې پیغمبر (علیه الصلاة و السلام) فرمایلي دي: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ» هر نشه راوړونکی شراب دی، او هر شراب حرام دی.

**د حرامو شرابو ډولونه**: په تفصیلي ډول هغه شراب چې څښل یې حرام دي، په څلور ډوله دي چې په لاندې کرښو کې به هر ډول تعریف او حکم به یې بیان شي.

۱- **خمر**: د امام ابوحنیفه په نظر د انګورو اوبه دي چې په اور له پخولو پرته په خپله سره جوش وکړي، تندي او تأثیر یې دومره شي چې څښونکی مست کړي او ځګ پورته کړي. امام ابویوسف او امام محمد د خمرو لپاره ځګ نیول شرط نه ګڼي. د خمرو څښل حرام او پر څښونکی یې حد جاري کیږي. د خمر لغوي معنا پټول دي، څرنګه چې شراب د انسان پر عقل پرده اچوي، په خمر ونومول شو.

۲- **عصیر**: د انګورو هغو اوبو ته ویل کیږي چې تر هغې پورې په اور وایشول شي چې له دوه ثلثو څخه لږه برخه یې هوا ته بخار شي. د شرابو دې ډول ته طلاء هم وایي. د خمر او عصیر توپیر دا دی چې خمر له اور پرته او عصیر د اور په وسیله ایشول کیږي. د عصیر حرمت د خمر له حرمت څخه کم دی او د عصیر په څښلو مسلمان تر هغې نه په حد کیږي ترڅو چې نیشه نشي.

۳- **نقیع التمر**: دې ته وایي چې خرما په اوبو کې واچول شي او پر اور له کېښودلو پرته د وخت په تیریدلو یې خوږوالی له منځه ولاړ شي، اوبه یې ټینګې شي، جوش وکړي او ځګ پیدا کړي. د امام ابویوسف او امام محمد په نظر د عصیر په څېر په دې کې هم د ځګ شتون شرط نه دی.

۴- **نقیع الزبیب**: که له ممیزو سره پورتنی تعامل تر سره شي نقیع الزبیب بلل کیږي.

د شرابو دا ډولونه هم حرام دي خو حرمت یې خمرو ته نه رسیږي او له نېشې راوړلو پرته د حد موجب نه ګرځي.

**نبيذ التمر**: د خرما اوبو ته نبيذ التمر او د مميزو اوبو ته نبيذالزبيب ويل کيږي. که چېرې دا دواړه په اور وايشول شي، نو څښل يې روا دي که څه هم په ايشولو سره ټينګې شي او ځګ پيدا کړي. البته د رواوالي شرط يې دا دی چې د څښلو موخه يې مستي او ساعت تېرې نه وي او هم به يې ګومان دا وي چې نېشه نه راولي. له دې شرطونو پرته يې څښل روا نه دي.

د نقيع التمر او نبيذ التمر تر منځ توپير دا دی چې نقيع التمر له اور پرته ايشيږي او نبيذ التمر پر اور د کېښودلو په نتيجه کې ايشيږي لکه په خمر او عصير کې چې توپير بيان شو.

**خليطين**: د روا شرابو دوهم ډول خليطين دی. له خليطينو څخه مقصد د خرما او مميزو ګډې شوې اوبه دي چې په اور باندې وايشول شي، د خليطينو څښل روا دي.

د شرابو په لوښو کې د نبيذو جوړول روا دي، ځکه لوښي په خپل ذات کې د حل او حرمت لامل نه دي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې حديث له مخې: ((کُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ)) ټول نېشه راوړونکي شيان لکه چرس، بنګ او افين ناروا دي او بايد ورڅخه ډډه وشي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د محترم استاذ په مرسته د نشه يي توکو په زيانونو وغږيږي.

## ارزونه

١- د شرابو او نشه يي توکو د حرمت دليل وواياست.

٢- حرام شراب په څو ډوله دي؟

٣- خمر تعريف کړئ.

٤- نقيع التمر تعريف او حکم يې بيان کړئ.

٥- نبيذ الزبيب تعريف او حکم يې بيان کړئ.

٦- دباء، مزفت او نقير تعريف کړئ.

# د ښکار احکام

الله (جل جلاله) په انسانانو پراخه نعمتونه پيرزو کړي دي او د ځمکې پر مخ يې د دوی د ګټې لپاره بې شميره شيان پيدا کړي دي. له دغو نعمتونو څخه يو هم په ځمکه کې هغه وحشي ژوي دي چې الله (جل جلاله) يې ښکار روا کړی دی. په نننی لوست کې به د ښکار اړوند احکام ولولو.

(١) كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ:

(٢) وَيَجُوزُ الاصْطِيَادُ بِالْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ، وَالْفَهْدِ، وَالْبَازِيِّ وَسَائِرِ الْجَوَارِحِ الْمُعَلَّمَةِ.

(٣) وَتَعْلِيمُ الْكَلْبِ: أَنْ يَتْرُكَ الْأَكْلَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ.

(٤) وَتَعْلِيمُ الْبَازِيِّ: أَنْ يَرْجِعَ إِذَا دَعَوْتَهُ.

(٥) فَإِنْ أَرْسَلَ كَلْبَهُ الْمُعَلَّمَ، أَوْ بَازِيَّهُ أَوْ صَقْرَهُ، وَذَكَرَ اسْمَ اللَّهِ تَعَالَى عليه عِنْدَ إِرْسَالِهِ، فَأَخَذَ الصَّيْدَ وَجَرَحَهُ فَمَاتَ حَلَّ أَكْلُهُ، وإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْكَلْبُ لَمْ يُؤْكَلْ، وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ الْبَازِيُّ أُكِلَ.

(٦) وَإِنْ أَدْرَكَ الْمُرْسِلُ الصَّيْدَ حَيًّا وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يُذَكِّيَهُ، فَإِنْ تَرَكَ تَذْكِيَتَهُ حَتَّى مَاتَ لَمْ يُؤْكَلْ، وَإِنْ خَنَقَهُ الْكَلْبُ وَلَمْ يَجْرَحْهُ لَمْ يُؤْكَلْ.

(٧) وَإِنْ شَارَكَهُ كَلْبٌ غَيْرُ مُعَلَّمٍ أَوْ كَلْبُ مَجُوسِيٍّ أَوْ كَلْبٌ لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ لَمْ يُؤْكَلْ.

(٨) وَإِذَا رَمَى الرَّجُلُ سَهْمًا إِلَى صَيْدٍ فَسَمَّى اللَّهَ تَعَالَى عِنْدَ الرَّمْيِ أُكِلَ مَا اصاب إِذَا جَرَحَهُ السَّهْمُ فَمَاتَ، وَإِنْ أَدْرَكَهُ حَيًّا ذَكَّاهُ، وَإِنْ تَرَكَ تَذْكِيَتَهُ حَتَّى مَاتَ لَمْ يُؤْكَلْ.

(٩) وَإِذَا وَقَعَ السَّهْمُ بِالصَّيْدِ فَتَحَامَلَ حَتَّى غَابَ عَنْهُ وَلَمْ يَزَلْ فِي طَلَبِهِ حَتَّى أَصَابَهُ

مَيِّتًا أُكِلَ،

وَإِنْ قَعَدَ عَنْ طَلَبِهِ فَأَصَابَهُ مَيِّتًا لَمْ يُؤْكَلْ.

(١٠) وَإِذَا رَمَى صَيْدًا فَوَقَعَ فِي الْمَاءِ فَمَاتَ لَمْ يُؤْكَلْ، وَكَذَلِكَ إِذَا وَقَعَ عَلَى سَطْحٍ أَوْ جَبَلٍ ثُمَّ تَرَدَّى مِنْهُ إِلَى الْأَرْضِ فَمَاتَ لَمْ يُؤْكَلْ، وَإِنْ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ ابْتِدَاءً أُكِلَ.

(١١) وَمَا أَصَابَ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ لَمْ يُؤْكَلْ، وَإِنْ جَرَحَهُ أُكِلَ، وَلَا يُؤْكَلُ مَا أَصَابَتْهُ الْبُنْدُقَةُ إِذَا مَاتَ مِنْهَا.

(١٢) وَإِذَا رَمَى إِلَى صَيْدٍ فَقَطَعَ عَضْوًا مِنْهُ أُكِلَ، وَلَا يُؤْكَلُ الْعُضْوُ، وَإِنْ قَطَعَهُ أَثْلَاثًا، وَالْأَكْثَرُ مِمَّا يَلِي الْعَجزَ أُكِلَ، وَإِنْ كَانَ الْأَكْثَرُ مِمَّا يَلِي الرَّأْسَ أُكِلَ الْأَكْثَرُ، وَلَا يُؤْكَلُ الْأَقَلُّ.

(١٣) وَلَا يُؤْكَلُ صَيْدُ الْمَجُوسِيِّ، وَالْمُرْتَدِّ، وَالْوَثَنِيِّ.

(١٤) وَمَنْ رَمَى صَيْدًا فَأَصَابَهُ وَلَمْ يُثْخِنْهُ وَلَمْ يُخْرِجْهُ مِنْ حَيِّزِ الِامْتِنَاعِ فَرَمَاهُ آخَرُ فَقَتَلَهُ فَهُوَ لِلثَّانِي، وَيُؤْكَلُ، وَإِنْ كَانَ الْأَوَّلُ أَثْخَنَهُ فَرَمَاهُ الثَّانِي فَقَتَلَهُ لَمْ يُؤْكَلْ، وَالثَّانِي ضَامِنٌ لِقِيمَتِهِ لِلْأَوَّلِ غَيْرَ مَا نَقَصَتْهُ جِرَاحَتُهُ.

(١٥) وَيَجُوزُ اصْطِيَادُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنْ الْحَيَوَانِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ.

## ژباړه

**(١) د ښکار او ذبحو بیان**

(٢) په تعلیمي سپي، پړانګ، باز او ټولو تعلیمي ځېروونکو ښکار کول روا دي.

(٣) د سپي تعلیم دا دی چې درې ځلې د ښکار غوښه (پرته له خوړلو) پرېږدي.

(٤) د باز تعلیم دا دی چې ته له هغه ځخه د بېرته راتګ غوښتنه وکړې، نو هغه راوګرځي.

(٥) که (ښکاري) خپل تعلیمي سپی، باز یا بانښه (په ښکار پسې) ولېږي او د لېږلو په وخت یې د الله نوم ورباندې یادکړ، که ښکار یې ونیو، ټپي یې کړ او مړ شو، خوراک یې روا دی. که سپي ورڅخه خوراک وکړ، د ښکارخوړل روا نه دي، که باز ورڅخه خوراک وکړ، خوراک

يې روا دی.

(٦) که ښکاري ښکار ژوندی وموند، نو پر هغه واجب دي چې حلال يې کړي، که يې حلال نه کړ او مړ شو، غوښه يې نه خوړل کيږي او که سپي ښکار زندی کړ او ټپي يې نه کړ، خوړل يې جواز نه لري.

(٧) که بل ناتعليمي سپي يا د مجوسي سپي يا داسې سپي ورسره په ښکار کې ګډون وکړ چې د الله نوم پرې نه و ياد شوی، خوړل يې جواز نه لري.

(٨) که سرې د ښکار په لور غشی وويشت او د ويشتلو په وخت يې (د الله) نوم ياد کړ، که غشي ښکار ټپي کړ او مړ شو، خوراک يې روا دی. که يې ژوندی وموند حلال به يې کړي، که يې حلال نه کړ او مړ شو، نه خوړل کيږي.

(٩) که غشی په ښکار ولګېد او هغه يې له ځان سره يوړ، تر دې چې له سترګو پناه شو، خو ښکاري يې په لټه کې و ترڅو يې مړ پيدا کړ، نو خوړل يې روا دي، خو که کښېناست(لټون يې پرېښود) او وروسته يې مړ وموند، خوړل يې روا نه دي.

(١٠) که چا ښکار وويشت، په اوبو کې وغورځېد او مړ شو، خوراک يې روا نه دی، همدا راز که په بام يا غره وغورځېده او له هغه ځايه ځمکې ته راورغړېده، خوړل يې روا نه دي، که لومړی پر ځمکه وغورځېد، خوړل يې روا دي.

(١١) که ښکار د معراض (نيزې) په اړخ ولګېد، نه خوړل کيږي، که يې په څوکه ټپي شو، بيا يې خوړل روا دي. که په بندقه (له ختې جوړ ګرد غونډاری) ولګېد او مړ شو، خوړل يې روا نه دي.

(١٢) که يې ښکار وويشت او کوم غړی يې ورڅخه پرې کړ، خوړل يې روا دي او (غوڅ شوی غړی يې نه خوړل کيږي. که يې درې ټوټې کړ او زياته برخه يې لکۍ لور ته وه خوړل کيږي، او که زياته برخه يې د سر لور ته وه، زياته (برخه) يې خوړل کيږي او لږه يې نه خوړل کيږي.

(١٣) د مجوسي، مرتد او بت پرست د ښکار(خوړل) روا نه دي.

(١٤) که چا ښکار و ویشت خو مرګوني ونه لګیده او د ښکاري له ولکې څخه ووت، بیا بل چا و ویشت او ویې واژه، نو (ښکار) د دویم تن دی او خوړلی شي. که لومړي تن مرګې حال کړ، بیا دویم و ویشت او ویې واژه، نه خوړل کیږي او دویم تن یې د لومړي تن لپاره د قیمت ضامن دی او د ټپ نقصان به ورڅخه کمیږي.

(١٥) هغه ژوي چې غوښه یې خوړل کیږي یا نه خوړل کیږي، ښکار یې روا دی.

## شرحه

**د صید** (ښکار) **تعریف**: صید په لغت کې د ښکار شوي شي او هم د ښکار کولو د عمل په معنا راغلی.

په اصطلاح کې صید د هغه وحشي او تښتېدونکي ساکښ نوم دی چې د الوتلو، تښتېدلو یا له ځانه د دفاع کولو له امله له چل او حیلې پرته نه نیول کیږي.

**د ښکار مشروعیت**: د ښکار مشروعیت د الله پاك له دې وینا څخه ثابت دی چې فرمایي: (أُحِلَ لَکُمْ صَیْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَکُمْ وَلِلسَّیَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَیْکُمْ صَیْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا) (المائدة: ٩٦) ژباړه: حلال کړای شو تاسې ته ښکار د بحر او طعام د بحر، لپاره د ګټې اخیستلو ستاسې، او لپاره د مسافرو، او حرام کړی شو په تاسې ښکار د وچې څو چې تاسې محرمان یی.

**ښکاري حیوانات**: د ټولو هغو څیرونکو ځناورو د ښکار خوړل روا دي چې انیاب (داړونکي غاښونه) ولري او د ښکار تعلیم اخلي لکه سپی، پړانګ او نور، همدا راز د هغو الوتونکو مرغانو د ښکار خوړل هم روا دي چې څیرونکې پنجې ولري او د ښکار تعلیم اخلي لکه باز، باښه او داسې نور.

**د ښکار شرطونه**: د ښکار غوښه دلاندې شرطونو د پوره کولو په صورت کې حلاله ده:

١- ښکاري حیوان باید تعلیمي وي.

۲- د ليږلو په وخت وربانديې د الله پاک نوم ياد شوی وي.

۳- ښکار يې په زخمي کولو سره وژلی وي.

٤- که ښکاري حيوان له ځناورو څخه وي، بايد له ښکار څخه يې غوښه نه وي خوړلې.

**د ښکار تعليم**: د سپي تعليم دا دی چې درې ځلې د ښکار غوښه پرته له خوړلو ښکاري ته راوړي. د باز تعليم دا دی چې د څښتن په بلنه هغه ته ورشي، په دې بنسټ که باز له ښکار شوي شي څخه غوښه وخوري پاتې غوښه حلاله ده.

کله چې ښکار په ټپي کېدو او وينې بهېدو سره مړ شي غوښه يې حلاله ده، خو که ښکار له ويشتلو وروسته ښکاري ته ژوندی په لاس ورشي لازمه ده چې حلال يې کړي، بيا هم که د وخت د تنګوالي يا د چړې د نه موجوديت له امله ښکار د وينې د بهېدو په صورت کې مړ شو غوښه يې حلاله ده.

**د حلالې ډولونه**: حلاله په دوه ډوله ده: يوه اختياري ذبحه ده چې په عامو حالاتو کې د چړې او غوخوونکو شيانو په واسطه د حيوان د مرى د غوخولو په وسيله رامنځته کيږي. دويمه اضطراري يا د اړتيا پر مهال حلاله ده، يعني کله چې اختياري ذبحه ممکنه نه وي او حيوان په کوم تېره شي ووهل شي او د وينې بهېدو له امله ساه ورکړي، لکه د ښکار صورت.

بايد وويل شي چې په دواړو حلالو کې دا شرط ده چې په داسې تېره شي سره ترسره شي چې وينه وبهوي، په ذبحه کې د اوسپنې څخه جوړه وسيله شرط نه ده.

اضطراري ذبحه هغه مهال روا ده چې اختياري ذبحه ممکنه نه وي، که چيرې اختياري ذبحه ممکنه وه نو په اضطراري ذبحې سره د حيوان حلالول روا نه دي. د پورتني صورت احکام او د ښکار نور زيات احکام په همدې اصل ولاړ دي.

**د ښکار ورکېدل**: که ښکار له ويشتلو او ټپي کېدلو وروسته ورک شي او د لټون په صورت کې مړ پيدا شي او د ښکاري د ويشتلو اثر وربانديې وي، خوړل يې روا دي، خو که ښکاري يې لټون پرېږدي او وروسته يې مړ ومومي، نو غوښه يې حلاله نه ده، ځکه کېدای شي مړينه

يې د کوم بل سبب له مخې وي.

**د مړينې د سبب ناڅرګندتيا**: که ښکار وروسته له ويشتلو په اوبو کې وغورځيږي، يا هم په لوړ ځای لکه بام او غره باندې وغورځيږي او له غورځېدلو وروسته ځمکې ته راورغړيږي، غوښه يې ځکه روا نه ده چې د ښکار د مړينې اصلي سبب معلوم نه دی چې آيا د ويشتلو له امله مړ دی او که د رغړيدلو يا په اوبو کې د غورځېدو له امله مړ دی. په دې صورتونو کې احتياط دا دی چې حرمت په حلالوالي مقدم وشمېرل شي.

**معراض او بندقه**: معراض د نيزې په څېر اوږد لرګی دی چې څوکه يې تېره او غوڅول کولای شي. که ښکار د معراض په ډډه ولګيږي، نه خوړل کيږي ځکه چې د معراض ډډه غوڅول نه کوي، خو که په څوکه يې ولګيږي خوراک يې روا دی په دې دليل چې څوکه يې تېره او غوڅول کوي.

بندقه له خټې څخه جوړ شوی غونډاری دی چې نه پرې کول کوي او نه وينه بهوي بلکې غوښه ټکوي او هډوکی ماتوي، نو په دې بنسټ په بندقه د لګېدلی ښکار خوړل روا نه دی.

**د ښکار څو ټوټې کېدل**: که ښکار داسې وويشتل شي چې د بدن يوه ټوټه لکه لاس يا پښه ورڅخه جلا شي د نوموړې ټوټې خوړل د پيغمبر (عليه السلام) د دې حديث له مخې چې ترمذي روايت کړی، روا نه دي: مَا قُطِعَ مِنَ الْبَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهُوَ مَيْتَةٌ. ژباړه: هغه (ټوټه) چې له ژاروي څخه جلا شي او (ژاروی) ژوندی و نو (هغه ټوټه) مرداره ده.

که ښکار دوه ټوټې شي خو د سرلور ته لږه او د لکۍ لور ته ټوټه زياته وي نو ټول ځکه حلال دی چې غوڅه شوې برخه د ورمېږ رګونو ته نږدې او حلال ګڼل کيږي. خو که د سر لور ته ټوټه زياته او د لکۍ لور ته کمه وي نو د ژوندي حيوان ټوټه ګڼل کيږي اود پورتني حديث له مخې د کمې برخې خوړل روا نه دي.

**په ښکار کې د دوو تنو ګډون**: که يو ښکاري ښکار وولي، خو وينې ورڅخه ونه بهوي او دومره يې ناتوانه نه کړي چې له الوت او تېښتې څخه ووځي. په دې وخت کې دويم ښکاري

نوموړی ښکار وولي، وینې یې وبهوي او ناتوانه یې کړي او یا یې ووژني. په دې صورت کې ښکار د دویم ښکاري حق دی، ځکه د لومړي ښکاري ویشتلو اغېز نه دی کړی او پیغمبر (علیه السلام) فرمایي: (الصید لمن أخذه) ښکار د هغه چا (حق) دی چې ویې نیوه.

که ښکاري ښکار داسې وولي چې وینې یې وبهیږي او دومره ناتوانه شي چې له الوتو او یا تېښتې څخه ووځي، په دې وخت کې دویم ښکاري هغه وولي او مړ شي، ښکار مردار او دویم ښکاري، لومړي ښکاري ته د ښکار ضامن دی. ښکار ځکه مردار ګڼل کیږي چې د لومړي ښکاري په ویشتو سره ښکار له تېښتې وتلی او ژوندی دی نو باید چې اختیاري ذبحه شي یعنې په چاړه حلال شي خو دوهم ښکاري په اضطراري ذبحې سره له هغه ساه وویسته او مردار شو. همدا راز د لومړي ښکاري له خوا د ښکار په ویشتلو او له تېښتې په ویستلو سره ښکار د لومړي ښکاري ملکیت ګرځېدلی او دویم ښکاري پر هغې تېری کړی، نو باید تاوان ورکړي، خو چې ښکار ټپي دی په ضامن باندې د ټپي ښکار قیمت ورکول لازم دي نه د روغ ښکار قیمت.

**ښکار کېدونکي حیوانات**: هغه حیوانات چې غوښه یې خوړل کیږي د ښکار موخه یې روښانه ده، خوهغه حیوانات چې غوښه یې نه خوړل کیږي د پوستکي، وېښتانو او هډوکو لاس ته راوړلو لپاره یې ښکار روا دی، همدا راز د ځینو حیواناتو له ضرر څخه د ځان خوندي کولو په خاطر هم د هغوی ښکار روا دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې په لینده د ویشتل شوې مرغۍ چې په ویشتلو وژل شوې وي، د شرعي حکم په اړه د لوستل شوي درس په رڼا کې خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- صید تعریف کړئ.

۲- د ښکار د مشروعیت دلیل ووایاست.

۳- د شریعت له مخې د کوم سپی او باز ښکار حلال دی؟

٤- که ښکار په ویشتلو سره څو ټوټې شي، څه حکم لري؟

٥- که یو ښکاري ښکار وولي او دوهم ښکاري هم هغه په ویشتلو سره ووژني، څه حکم لري؟ په تفصیل سره یې بیان کړئ.

٦- د هغو حیواناتو ښکار چې غوښه یې نه خوړل کیږي، ولې روا دی؟

# ذبحې

قرآن کريم مونږ ته د پاکو شيانو د خوړلو او د مردارو د خوراک څخه د ځان ساتلو امر کړی. له دې کبله د پاکو او مردارو غوښو پېژندل د هر مسلمان دنده ده. په نننۍ لوست کې به د ذبحې (حلالې)، د پاکو اوناپاکو غوښو ډولونه او احکام ولولو.

(١) وَذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ، وَالْكِتَابِيِّ حَلَالٌ، وَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الْمَجُوسِيِّ، وَالْمُرْتَدِّ، وَالْوَثَنِيِّ وَالْمُحْرِمِ.

(٢) وَإِنْ تَرَكَ الذَّابِحُ التَّسْمِيَةَ عَمْدًا فَالذَّبِيحَةُ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ، وَإِنْ تَرَكَهَا نَاسِيًا أُكِلَتْ.

(٣) وَالذَّبْحُ بَيْنَ الْحَلْقِ، وَاللَّبَّةِ.

(٤) وَالْعُرُوقُ الَّتِي تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ: الْحُلْقُومُ، وَالْمَرِيءُ، وَالْوَدَجَانِ، فَإِذَا قَطَعَهَا حَلَّ الْأَكْلُ، وَإِنْ قَطَعَ أَكْثَرَهَا فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا بُدَّ مِنْ قَطْعِ الْحُلْقُومِ، وَالْمَرِيءِ وَأَحَدِ الْوَدَجَيْنِ.

(٥) وَيَجُوزُ الذَّبْحُ بِاللِّيطَةِ، وَالْمَرْوَةِ، وَبِكُلِّ شَيْءٍ أَنْهَرَ الدَّمَ إِلَّا السِّنَّ الْقَائِمَةَ، وَالظُّفْرَ الْقَائِمَ.

(٦) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَحُدَّ الذَّابِحُ شَفْرَتَهُ. وَمَنْ بَلَغَ بِالسِّكِّينِ النُّخَاعَ و قَطَعَ الرَّأْسَ كُرِهَ لَهُ ذَلِكَ، وَتُؤْكَلُ ذَبِيحَتُهُ.

(٧) وَإِنْ ذَبَحَ الشَّاةَ مِنْ قَفَاهَا، فَإِنْ بَقِيَتْ حَيَّةً حَتَّى قَطَعَ الْعُرُوقَ جَازَ وَيُكْرَهُ. وَإِنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوقِ لَمْ تُؤْكَلْ.

(٨) وَمَا اسْتَأْنَسَ مِنْ الصَّيْدِ فَذَكَاتُهُ الذَّبْحُ، وَمَا تَوَحَّشَ مِنْ النَّعَمِ فَذَكَاتُهُ الْعَقْرُ وَالْجَرْحُ.

(٩) وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْبَقَرِ، وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ فَإِنْ نَحَرَهَا جَازَ وَيُكْرَهُ.

(١٠) وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ فَإِنْ ذَبَحَهَا جَازَ وَيُكْرَهُ.

(١١) وَمَنْ نَحَرَ نَاقَةً أَوْ ذَبَحَ بَقَرَةً أَوْ شَاةً، فَوَجَدَ فِي بَطْنِهَا جَنِينًا مَيِّتًا لَمْ يُؤْكَلْ أَشْعَرَ أَوْ لَمْ يُشْعِرْ.

(١٢) وَلَا يَجُوزُ أَكْلُ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ، وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنْ الطَّيْرِ. وَلَا بَأْسَ بِغُرَابِ الزَّرْعِ، وَلَا يُؤْكَلُ الْأَبْقَعُ الَّذِي يَأْكُلُ الْجِيَفَ.

(١٣) وَيُكْرَهُ أَكْلُ الضَّبُعِ، وَالضَّبِّ، وَالْحَشَرَاتِ كُلِّهَا.

(١٤) وَلَا يَجُوزُ أَكْلُ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ، وَالْبِغَالِ وَيُكْرَهُ أَكْلُ لَحْمِ الْفَرَسِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْأَرْنَبِ.

(١٥) وَإِذَا ذُبِحَ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَهُرَ لَحْمُهُ وَجِلْدُهُ إِلَّا الْآدَمِيَّ وَالْخِنْزِيرَ، فَإِنَّ الذَّكَاةَ لَا تَعْمَلُ فِيهِمَا.

(١٦) وَلَا يُؤْكَلُ مِنْ حَيَوَانِ الْمَاءِ إِلَّا السَّمَكُ، وَيُكْرَهُ أَكْلُ الطَّافِي مِنْهُ. وَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْجِرِّيثِ وَالْمَارْمَاهِيِّ.

(١٧) وَيَجُوزُ أَكْلُ الْجَرَادِ وَلَا ذَكَاةَ لَهُ.

## ژباړه

(١) د مسلمان او كتابي حلاله روا ده. د مجوسي، مرتد، بت پرست او محرم حلاله نه خوړل كيږي.

(٢) كه ذبحه كوونكي (د ذبحه كولو په وخت، د الله) نوم يادول قصداً پرېښود، ذبحه شوى حيوان مردار دى او نه خوړل كيږي، خو كه په هېره يې پرېښوده، خوړل كيږي.

(۳) ذبحه به د حلق او لبې (د سینې د سر هډوکو تر منځ ژور ځای) په منځ کې وي.

(٤) هغه رګونه چې په ذبحه کې غوڅیږي څلور دي: حلقوم، مري او دوه غټ رګونه، کله یې چې ټول غوڅ کړل خوړل یې روا دي، که یې زیاتره غوڅ کړل هم د ابوحنیفه په نزد روا دي. امام ابویوسف او امام محمد (رحمهماالله) ویلي: د حلقوم، مري او د یو غټ رګ غوڅول ارین دي.

(٥) د ګنې په پترۍ او تېره تېره ذبحه روا ده، همدا راز (ذبحه) په هر هغه شي چې وینه وبهوي روا ده، مګر په غاښ او نوک چې پخپل ځای کې وي، روا نه ده.

(٦) مستحب ده چې (ذبحه کوونکی) خپله چاړه تېره کړي. مکروه ده چې څوک (د ذبحې په مهال) چاړه نخاع ته ورسوي یا سر غوڅ کړي، خو (د ذبحه شوي حیوان غوښه خوړل) روا دي.

(۷) که یې پسه د څټ له لوري ذبحه کړ او د رګونو تر غوڅولو ژوندی پاتې و، ذبحه روا ده، خو سره له کراهیته. که د رګونو له پرې کولو وړاندې مړ شو، نه خوړل کیږي.

(۸) هرهغه ښکاري ژوی چې اهلي شوی وي حلاله یې ذبحه کول دي او هغه څاروي چې صحرایي شي حلاله یې په تېغ وهل او ټپي کول دي.

(۹) د غوا او پسه ذبحه کول مستحب دي، که یې نحر کړل، له کراهیت سره روا دی.

(۱۰) د اوښ نحر کول مستحب دي، که یې ذبحه کړ، له کراهیت سره روا ده.

(۱۱) که چا اوښه نحر کړه یا یې غوا یا مېږه ذبحه کړه او د هغې په خېټه کې یې مړ بچی وموند، نه خوړل کیږي، برابره ده چې خلقت یې بشپړ شوی وي او که نه.

(۱۲) هغه ځناور چې داړونکي غاښونه لري، د غوښې خوړل یې روا نه دي، همدا راز د (ښکار) منګولې لرونکي مرغه خوړل روا نه دي. د کښتونو کارغه (خوړل) باک نه لري، برګ کارغه چې مرداري خوري، نه خوړل کیږي.

(۱۳) د کفتار (حیوان دی چې له سپي کوچنی او له ګیدړ لوی دی) سمساري او ټولو حشراتو

خوړل مکروه دي.

(۱٤) د کورنیو خرو او کچرو د غوښو خوړل روا نه دي. د امام ابوحنیفه په نزد د أس غوښه خوړل مکروه دي، د سوی خوړل باک نه لري.

(۱٥) کله چې هغه حیوانات چې غوښه یې نه خوړل کیږي، ذبحه شي، پوستکی اوغوښه یې پاکیږي، پرته د انسان او خنزیر، چې حلالول د هغوی پر پوستکي او غوښې اغېز نه لري.

(۱٦) د اوبو له حیواناتو څخه یوازې کب خوړل کیږي او د اوبو په سر د ګرځیدونکي (مړ کب خوړل) مکروه دي. د جریث (یو ډول ګرد کب دی) او مارماهي خوړل باک نه لري.

(۱۷) د ملخ خوړل روا دي او (ملخ) حلاله نه لري.

## شرحه

**د ذبحې او نحر تعریف**: (ذبح) په لغت کې څیرولو ته وایي او په اصطلاح کې په دریو معناګانو استعمال شوې.

۱- د حلق غوڅول: د سینې د پورتني هډوکې څخه پورته تر زنې پورې حلق بلل کیږي. ذبحه په دې معنا د نحر په مقابل کې استعمالیږي، ځکه نحر د حیوان د سینې په سر کې د دوو هډوکو تر منځ د ژور ځای په تېغ وهلو او غوڅولو ته وایي.

د ذبحې او نحر توپیر لکه څنګه چې یې له تعریفونو څخه ښکاري دا دی چې ذبح د لبې (د سینې د سر د هډوکو تر منځ ژور ځای) څخه پورته او نحر په لبه کې رامنځته کیږي. دویم دا چې ذبح د غوایانو او پسونه لپاره دی او نحر د اوښانو لپاره دی.

۲- مطلق حلالو ته ویل کیږي، د نحر په معنا وي او که د ذبحې. نحر د حیوان د سینې په سر کې د دوو هډوکو تر منځ د ژور ځای سره د غاړې غوڅول.

۳- د حیوان حلال ګرځول، برابره ده چې د ذبحې، نحر او یا هم په اِضطراري حالت کې په تېره تیغ د ویشتلو په وسیله وي چې دې ته (عقر) هم وایي.

**د چا ذبحه حلاله ده؟** د مسلمان او کتابي په لاس ذبحه شوی حیوان حلال دی. الله پاک فرمایي: ﴿وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ﴾ (المائدة: ٥) **ژباړه**: طعام (ذبیحه) د هغو کسانو چې ورکړې شوی دوی ته کتاب، حلال دی تاسو ته.

اصل دا دی چې څوک آسماني کتاب لري یا د آسماني کتاب د پیروی دعوا لري لکه اهل کتاب (یهود او نصارا)، نو د دوی ذبیحه حلاله ده.

د ذبحه کوونکي لپاره بلوغ او نرتوب شرط نه دی، بلکې مُمیز کوچنی او کوچنۍ انجلۍ چې بسم الله یې زده او د ذبحې توان ولري ذبیحه یې روا ده.

په متن کې د (وذبیحة المسلم...) څخه مقصد د ذبحې ټولې معناګانې دي یعنې د مسلمان او کتابي ذبحه، نحر او عقر ټول روا دي.

د مجوسي ذبیحه د پیغمبر (علیه السلام) د دې حدیث چې بیهقي روایت کړی، په بنسټ روا نه ده چې فرمایي: سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ أَهْلِ الْكِتَابِ غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ.
ژباړه: د (مجوسو) سره د اهل کتابو لار غوره کړئ، پرته د هغوی د ښځو سره د نکاح کولو او د هغوی د ذبیحو خوړلو.

مرتد ملت نه لري او بت پرست په آسماني کتاب عقیده نه لري نو ذبیحه یې روا نه ده.

هغه رګونه چې په ذبحه کې باید پرې شي، څلور دي:

۱- **حلقوم**: هغه نلکه ده چې سږو ته تللې او حیوان پرې ساه باسي او تنفس کوي.

۲- **مرۍ**: معدې ته تللې هغه تونه ده چې اوبه او خواړه پکې معدې ته ځي.

۳- **ودجان**: (ودجان) د ودج تثنیه ده. ودجان د وینې هغه دوه لوی رګونه دي چې د ورمېږ په مخې ته اړخ کې ځای لري او حلقوم او مرئ د دې دواړو په منځ کې واقع دي.

**په غاښ او نوک ذبحه**: په داسې غاښ او نوک باندې ذبحه روا ده چې د حیوان او انسان په وجود کې نښتي نه وي بلکې له خپل ځایه ویستل شوی وي، څکه چې د نسائي او احمد په روایت کړي حدیث کې راغلي: (انهر الدم بما شئت). وینه وبهوه په کوم شي چې دې خوښه

وي. نو څرنګه چې غاښ او نوک زخمي کوونکې او وينه بهوونکې آله ده، ذبحه وربانديې روا ده، البته که غاښ او نوک په حيوان کې نښتي وي او ويستل شوي نه وي نو د بخاري د حديث له مخې ذبحه وربانديې صحيح نه ده چې فرمايي: مَا أَنْهَرَ الدَّمَ، وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ فَكُل، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ. **ژباړه**: هغه (آله) چې وينه وبهوي، او د الله نوم وربانديې ياد شي، (داسې مذبوحه) خوره، پرته له غاښ او نوک څخه.

کله چې غاښ په خپل ځای کې وي، نوغوخول نه کوي بلکې ټکول کوي، او حيوان هله ذبحه کيږي چې غوڅ شي او وينه يې وبهيږي.

ذبحه کوونکی بايد د ذبحې په مهال د حيوان له ځورولو او بې اړتيا دردولو څخه ډډه وکړي.

په همدې بنسټ غوره ده چې ذبحه کوونکی چاړه تېره کړي او هم دا چې د حيوان له ساه وتلو وړاندې د هغه ورمېږ غوڅ نه کړي او د ورمېږ په منځ کې د مغزو سپين تار ته چې د نخاع شوکي په نامه ياديږي چاړه ونه رسوي.

که ښکاري حيوان يا مرغه لکه هوسۍ او کوتره لاس ته راشي او ذبحه کوونکی يې په ذبحه کولو برلاسی شي، نو يوازې په ذبحه کولو حلاليږي. همدا راز که کورني حيوانات په کوم سبب وحشي حالت ته ورسيږي او رانيول يې له وسې بهر وي، روا ده چې د ذبحې په ځای له لرې څخه په تيغ وويشتل شي او د وينې په بهولو سره يې ساه ووځي او حلال شي، يعنې د پورتني عذر له امله کورني حيوانات د وحشي حيواناتو په حکم کې راځي.

**د حلالو او حرامو حيواناتو پېژندل**: د ټولو هغو څيرونکو ځناورو غوښه چې د ښکار غاښونه ولري، حرامه ده لکه سپی، زمری، ليوه او داسې نور. د دې حکم دليل د بخاري دا حديث دی: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ كُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِى مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ: پيغمبر (عليه السلام) د هر هغه ځناور د (غوښې) خوړلو څخه نهی کړې چې د ښکار غاښ لري او (هم يې) د هر هغه مرغه (د غوښې) له خوړلو منع کړې چې (د ښکار) نوکان ولري.

د پورتني حديث له مخې د هغو مرغانو غوښه هم حرامه ده چې د ښكار منګولې (تېره نوكان) ولري لكه باز، تپوس او داسې نور.

د هغو كارغانو د غوښو خوړل روا دي چې كښتونه خوري، ځكه د ښكار منګولې نه لري او پاك شيان خوري، خو هغه كارغان چې مرداري خوري د هغوى غوښې هم نه خوړل كيږي، يعني د كارغانو غوښې د هغوى د خوراك تابع دي.

## فعاليت

زده كوونكي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د لسو حلالو او لسو مردارو مرغانو نومونه واخلي، دوهمه ډله دې د لسو حلالو څارويو او لسو مردارو ځناورو نومونه واخلي.

## ارزونه

١- ذبحه او نحر تعريف كړئ

٢- د كومو كسانو ذبحه حلاله او د كومو ذبحه مرداره ده؟

٣- هغه رګونه چې بايد په ذبحه كې پرې شي څو او كوم كوم دئ؟

٤- آيا په غاښ او نوك ذبحه روا ده؟

٥- د ذبحې مستحبات بيان كړئ.

٦- د حلالو او حرامو ژويو د پېژندلو قاعده بيان كړئ.

# قرباني

په تېر لوست کې مو د عامو ذبحو حکمونه ولوستل، په دې لوست کې به د یوې ځانګړې ذبحې (قربانۍ) احکام ولولو.

(١) كِتَابُ الْأُضْحِيَّة:

(٢) الْأُضْحِيَّةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِم مُقِيم مُوسِر، فِي يَوْمِ الْأَضْحَى، عَنْ نَفْسِهِ وَعَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَار، يَذْبَحُ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ شَاةً أَوْ يَذْبَحُ بَدَنَةً أَوْ بَقَرَةً عَنْ سَبْعَةٍ.

(٣) وَلَيْسَ عَلَى الْفَقِيرِ، وَالْمُسَافِرِ أُضْحِيَّةٌ.

(٤) وَوَقْتُ الْأُضْحِيَّةِ يَدْخُلُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ، إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجُوزُ لِأَهْلِ الْأَمْصَارِ الذَّبْحُ حَتَّى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلَاةَ الْعِيدِ، فَأَمَّا أَهْلُ السَّوَادِ فَيَذْبَحُونَ بَعْدَ الْفَجْرِ.

(٥) وَهِيَ جَائِزَةٌ فِي ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ: يَوْمُ النَّحْرِ وَيَوْمَانِ بَعْدَهُ.

(٦) وَلَا يُضَحَّى بِالْعَمْيَاءِ وَلَا الْعَوْرَاءِ وَلَا الْعَرْجَاءِ الَّتِي لَا تَمْشِي إِلَى الْمَنْسَكِ، وَلَا الْعَجْفَاءِ. وَلَا تُجْزِئُ مَقْطُوعَةُ الْأُذُنِ و الذَنَبِ، وَلَا الَّتِي ذَهَبَ أَكْثَرُ أُذُنِهَا، فَإِنْ بَقِيَ أَكْثَرُ الْأُذُنِ والذَّنَبِ جَازَ.

(٧) وَيَجُوزُ أَنْ يُضَحَّى بِالْجَمَّاءِ وَالْخَصِيِّ والجَرْبَاءِ وَالثَّوْلَاءِ.

(٨) وَالْأُضْحِيَّةُ مِنَ الإِبِلِ، وَالبَقَرِ، وَالْغَنَمِ، يُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ الثَنِيُّ فَصَاعِدًا إِلَّا الضَّأْنَ فَإِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِئُ.

(٩) وَيَأْكُلُ مِنْ لَحْمِ الْأُضْحِيَّةِ، وَيُطْعِمُ الأَغْنِيَاءَ وَالفُقَرَاءَ، وَيَدَّخِرُ. وَيُسْتَحَبُّ أَنْ لَا يَنْقُصَ الصَّدَقَةَ مِنَ الثُّلُث، وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا أَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ آلَةً تُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْت.

(١٠) وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَذْبَحَ أُضْحِيَّتَهُ بِيَدِهِ إِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبحَ. وَيُكْرَهُ أَنْ يَذْبَحَهَا الْكِتَابِيُّ.

(۱۱) وَإِذَا غَلِطَ رَجُلَانِ فَذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أُضْحِيَّةَ الْآخَرِ أَجْزَأَ عَنْهُمَا وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا.

## ژباړه

**(۱) د قربانۍ کتاب**

(۲) قرباني په هر آزاد، مسلمان، مقيم، بډای باندې د لوی اختر په ورځ د خپل ځان او کوچنيو اولادونو لپاره واجب ده. له هر يو تن څخه به يو پسه حلالوي او له اوو تنو څخه به يو اوښ يا يوه غوا حلالوي.

(۳) په مسافر او فقير قرباني نشته.

(٤) د قربانۍ وخت د اختر د ورځې د سهار په راختو پيل کيږي، مگر د ښار خلکو ته (قرباني ذبح کول) تر هغې روا نه دي چې امام د اختر لمونځ نه وي کړی. د باندېو خلك به د سهار د راختو وروسته قرباني کوي.

(٥) قرباني ذبح کول په درې ورځو کې روا دي: د اختر ورځ او د هغې پسې دوه ورځې.

(٦) په دواړو سترگو ړوند، په يوه سترگه ړوند، داسې گوډ څاروی چې د قربانۍ ځای ته نشي تللی او خوار حيوان به نه قرباني کوي. په غوږغوڅي او لکۍ غوڅي (څاروي قرباني) نه کيږي او نه په هغه چې د غوږ زياته برخه يې له منځه تللې وي، که د غوږ او لکۍ زياته برخه يې پاتې وي (قرباني ورباندې) روا ده.

(۷) په بې ښکرو، خصي، د پوستکي په ناروغۍ اخته او لېوني (څاروي) باندې (قرباني) کيږي.

(۸) په اوښانو، غواگانو او پسونو قرباني کيږي. په دې ټولو کې په دوه غاښي باندې قرباني کيږي، خو که وری دوه غاښی شوی هم نه وي، قرباني پرې کيږي.

(۹) قرباني کوونکی د قربانۍ غوښه پخپله خوړلای شي، فقيرانو او شتمنو ته يې ورکولای شي

او هغه ذخیره کولای هم شي. مستحبه ده چې د صدقې برخه له درېمې څخه کمه نه کړي، پوستکی به یې خیراتوي او یا به ورڅخه داسې آله جوړوي چې په کور کې استعمالیږي.

(۱۰) که یې شه ذبحه کولای شوه غوره دا ده چې پخپل لاس د قربانۍ (څاروی) ذبحه کړي.

په اهل کتابو یې ذبحه کول مکروه دي.

(۱۱) که دوه کسان تېروتل او د یو بل قرباني یې ذبحه کړه، د دواړو قرباني وشوه او په یو هم تاوان نشته.

## شرحه

**د (آضحیة) تعریف**: (ضحیة) په لغت کې د لمر راختلو او وریسې وخت ته ویل کیږي.

(اُضحیة) د (همزې) په پېښ او د (ي) په شد سره چې جمع یې (أضاحي) ده، هغه څاروي ته ویل کیږي چې د لمر راختلو په وخت کې ذبحه کیږي.

په اصطلاح کې اضحیة (قرباني) هغه څاروي ته ویل کیږي چې د نحر په ورځو کې الله پاک ته د نږدې کېدو په موخه ذبحه کیږي.

**د قربانۍ حکم**: د امام ابوحنیفه(رحمه الله) په نزد قرباني واجب ده او دلیل یې د پیغمبر (علیه السلام) دا حدیث دی چې ابن ماجه روایت کړی: مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ، وَلَمْ يُضَحِّ، فَلاَ يَقْرَبَنَّ مُصَلاَّنَا.

**ژباړه**: څوک چې بډای وي او قرباني ونکړي، زمونږ د لمانځه ځای(عیدګاه) ته دې نه راځي.

**د قربانۍ کوونکی شرطونه**: په قربانۍ کوونکي کې باید لاندې شرطونه بشپړ وي:

۱- آزاد وي، په مریي باندې قرباني نشته.

۲- مسلمان وي، په کافر قرباني نشته.

۳- مقیم وي، په مسافر قرباني نشته.

٤- بډای (غني) وي، په فقیر قرباني نشته. په هغه چا چې د فطر صدقه لازم وي، قرباني هم وربانديږ واجب ده. یعنې هغه څوك چې د خپلو اړتیاوو څخه دومره مال اضافه ولري چې د زکات نصاب ته ورسیږي، قرباني ورباندې واجب ده.

٥- د قربانۍ د وخت یعنې د نحر د ورځو راتګ.

امام ابوحنیفه (رحمه الله) د قربانۍ لپاره بلوغ شرط نه ګڼي، په دې بنسټ که صغیر غني وي قرباني ورباندې واجب ده، پلار به د خپلو غني اولادونو له شتمنۍ څخه د هغوی لپاره قرباني کوي.

**د قربانۍ وخت**: د قربانۍ وخت د اختر ورځې د سهار په راختو سره پیل کیږي خو هغه خلك چې په ښار یعنې داسې ځای کې اوسیږي چې د اختر لمونځ ورباندې واجب وي، هغوی به تر هغې قرباني نه کوي چې امام د اختر لمونځ نه وي کړی، یا لمر زوال نه وي کړی، په بیهقي کې راغلي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: مَنْ ذَبَحَ مِنْكُمْ قَبْلَ الصَّلاَةِ فَلْيُعِدْ ذَبِيحَتَهُ.

ژباړه: چا چې له تاسو څخه د (اختر) له لمانځه وړاندې قرباني وکړه نو قرباني دې بیا وکړي.

هغه خلك چې په بانډو کې اوسیږي او د اختر لمونځ ورباندې واجب نه وي، هغوی کولای شي چې د سهار له راختو سره قرباني وکړي، ځکه په هغوی د اختر لمونځ نشته، نو د پورتني حدیث د حکم لاندې نه راځي.

**هغه عیبونه چې له امله یې په څاروي قرباني نه کیږي، په لاندې ډول دي**:

١- په یوه سترګه ړوندوالی.

٢- په دواړو سترګو ړوندوالی.

٣- داسې ګوډوالی چې له امله یې څاروی د قربانۍ ځای ته نشي تللی.

٤- داسې خواروالی چې له امله یې د حیوان په هډوکو کې ماغزه نه وي.

د پورتنیو شرطونو دلیل دا حدیث دی چې په معاني الاثار کې راغلی: أَرْبَعٌ لَا يُجْزِئُ فِي الضَّحَايَا، الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا، وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ عَرَجُهَا، وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا،

وَالْعَجْفَاءُ الَّتِي لَا تُنْقِي. څلور (څاروي) دي چې قرباني ورباندې نه کيږي. ړوند چې ړوندوالی يې ښکاره وي. ګوډ چې ګوډوالی يې ښکاره وي، ناروغ چې ناروغتيا يې ښکاره وي، خوار چې له خوارۍ يې په هډوکو کې ماغزه نه وي.

۵- د ټول غوږ يا د غوږ د زياتره برخې غوڅوالی.

۶- د ټولې لکۍ يا د لکۍ د زياتره برخې غوڅوالی.

د دې شرط دليل د نسائي دا حديث دی: أمرنا رسول الله (صلى الله عليه و سلم) أن نستشرف العين والاذن. مونږ ته پيغمبر (عليه السلام) امر وکړ چې (د قربانۍ په مهال د حيوان) سترګه او غوږ ووينو. د غوږ په څېر لکۍ هم د حيوان د بدن غړی دی او په قربانۍ کې د غړو زياتې برخې ته اعتبار ورکول کيږي. په دې سربېره د حيوان نور غړي لکه پوزه، ژبه هم د دې حکم لاندې دي.

**د حيوان هغه عيبونه چې په قربانۍ اغېزه نه لري**: د لاندنيو عيبونو په شتون کې په حيوان قرباني کيږي:

۱- د ښکر نشتوالی، برابره ده چې له موره بې ښکره پيدا شوی وي او که وروسته مات شوی وي. دا ځکه ښکر په حيوان کې مقصود نه دی.

۲- خصيتوب.

۳- د پوستکي ناروغي چې غوښې ته نه وي رسېدلې.

٤- ليونتوب هم په حيوان کې عيب نه شمېرل کيږي.

**د قربانۍ څاروي**: د قربانۍ څاروي په دوه ډوله دي: يو ډول هغه لوی څاروي دي چې تر اوو کسانو پورې پکې شريکېدلای شي لکه اوښان، غوايان او سنډاګان. په دې ډول څارويو هغه وخت قرباني صحيح ده چې دوه غاښي شي. اوښان په پنځه کلنۍ کې دوه غاښي کيږي، او غوايان او سنډاګان په دوه کلنۍ کې دوه غاښي کيږي. د غاښونو ښکاره کيدل په کې شرط نه دي چې کلونه پوره شي.

دويم ډول واړه څاروي دي چې له يوه څخه زيات کسان په کې شريک کېدلای نشي لکه پسه او وزه. د دوی لپاره شرط يو کلن کېدل دي، خو که د شپږ مياشتيني ورى بدن دومره غټ او څرب و چې د يو کلنو پسونو سره يې توپير نه کېده، قرباني وربانديې روا ده.

د قربانۍ د غوښې خوړل، فقيرانو او شتمنو ته ورکول او د هغه سپما کول ټول روا دي.

د قرباني شوي څاروي پوستکی به خيراتوي. که يې داسې آله ورڅخه جوړه کړه چې عام خلک ورڅخه ګټه اخلي يا په کور کې کارول کيږي روا ده. قصاب ته په مزدورۍ کې د قربانۍ غوښه يا پوستکی ورکول روا نه دي.

## ارزونه

١- أضحية تعريف کړئ.

٢- د امام ابوحنيفه(رحمه الله)په نظر قرباني په کوموکسانو واجب ده؟

٣- د قربانۍ وخت په تفصيل سره څرګند کړئ.

٤- هغه کوم کوم عيبونه دي چې له امله يې په څاروي قرباني نه کيږئ؟

٥- هغه عيبونه کوم دي چې په شتون کې يې په څاروي قرباني کيږي؟

٦- اوښ، غوايې او پسه څه وخت د قربانۍ وړ ګرځي؟

# د قسم حکمونه (۱)

د دې لپاره چې څوک خپله خبره پیاوړې کړي، یا د کوم کار د کولو یا نه کولو هوډ قوي کړي، د الله په پاک نامه قسم کوي. که چیري څوک د الله پاک د نوم اخیستلو سره سره نوموړی کار سر ته ونه رسوي په هغه د کفارې ورکول لازم دي. په راتلونکو لوستونو کې به د قسم او کفارې حکمونه په تفصیل سره ولولو.

(۱) كِتَابُ الْأَيْمَانِ

(۲) الْأَيْمَانُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَضْرُبٍ: يَمِينٌ غَمُوسٌ، وَيَمِينٌ مُنْعَقِدَةٌ، وَيَمِينٌ لَغْوٌ.

(ا) فَالْغَمُوسُ هِيَ: الْحَلِفُ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ، يَتَعَمَّدُ الْكَذِبَ فِيهِ، فَهَذِهِ الْيَمِينُ يَأْثَمُ بِهَا صَاحِبُهَا، وَلَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا الاسْتِغْفَارُ.

(ب) وَالْيَمِينُ الْمُنْعَقِدَةُ: هِيَ الْحَلِفُ عَلَى الْأَمْرِ الْمُسْتَقْبَلِ أَنْ يَفْعَلَهُ، أَو لا يَفْعَلَهُ، فَإِذَا حَنِثَ[۱] فِي ذَلِكَ لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ.

(ج) وَالْيَمِينُ اللَّغْوُ: أَنْ يَحْلِفَ عَلَى أَمْرٍ مَاضٍ، وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّهُ كَمَا قَالَ، وَالْأَمْرُ بِخِلَافِهِ، فَهَذِهِ نَرْجُو أَنْ لَا يُؤَاخِذَ اللَّهُ بِهَا صَاحِبَهَا.

(۳) وَالْعَامِدُ فِي الْيَمِينِ وَالْمُكْرَهُ وَالنَّاسِي سَوَاءٌ.

(٤) وَمَنْ فَعَلَ الْمَحْلُوفَ عَلَيْهِ مُكْرَهًا أَوْ نَاسِيًا سَوَاءٌ.

(٥) وَالْيَمِينُ بِاللَّهِ تَعَالَى، أَوْ بِاسْمٍ مِنْ أَسْمَائِهِ كَالرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، أَوْ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِهِ كَعِزَّةِ اللَّهِ وَجَلَالِهِ وَكِبْرِيَائِهِ، إِلَّا قَوْلَهُ (وَعِلْمِ اللَّهِ) فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ يَمِينًا، وَإِنْ حَلَفَ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِ الْفِعْلِ، كَغَضَبِ اللَّهِ وَسَخَطِهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا.

(٦) وَمَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا كَالنَّبِيِّ، وَالْقرآن، وَالْكَعْبَة.

۱. حنث په لغت کې ګناه ته وايي او په اصطلاح کې د قسم ماتولو ته وايي.

(٧) وَالْحَلِفُ بِحُرُوفِ الْقَسَمِ، وَحُرُوفُهُ: الْوَاوُ كَقَوْلِهِ: وَاللَّهِ، وَالْبَاءُ كَقَوْلِهِ: بِاللَّهِ، وَالتَّاءُ كَقَوْلِهِ: تَاللَّهِ.

(٨) وَقَدْ تُضْمَرُ الْحُرُوفُ فَيَكُونُ حَالِفًا، كَقَوْلِهِ: (اللَّهِ لَأَفْعَلَنَّ كَذَا) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ إِذَا قَالَ: (وَحَقِّ اللَّهِ) فَلَيْسَ بِحَالِفٍ.

(٩) وَإِذَا قَالَ:(أُقْسِمُ )أَوْ (أُقْسِمُ بِاللَّهِ) أَوْ (أَحْلِفُ) أَوْ (أَحْلِفُ بِاللَّهِ) أَوْ( أَشْهَدُ) أَوْ(أَشْهَدُ بِاللَّهِ) فَهُوَ حَالِفٌ، وَكَذَلِكَ قوله (وعَهْدُ اللَّهِ، وَمِيثَاقُهُ، وَعَلَيَّ نَذْرٌ، أَوْ نَذْرُ اللَّهِ، وإِنْ فَعَلْت كَذَا فَأَنَا يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ أَوْ كَافِرٌ) فَهُوَ يَمِينٌ.

(١٠) وَإِنْ قَالَ:(إِنْ فَعَلْت كَذَا فَعَلَى غَضَبُ اللَّهِ، أَوْ أَنَا زَانٍ، أَوْ شَارِبُ خَمْرٍ، أَوْ آكِلُ رِبًا) فَلَيْسَ بِحَالِفٍ.

(١١) وَكَفَّارَةُ الْيَمِينِ: عِتْقُ رَقَبَةٍ، يُجْزِئُ فِيهَا مَا يُجْزِئُ فِي الظِّهَارِ، وَإِنْ شَاءَ كَسَا عَشَرَةَ مَسَاكِينَ لِكُلِّ وَاحِدٍ ثَوْبًا فَمَا زَادَ، وَأَدْنَاهُ مَا تَجُوزُ فِيهِ الصَّلَاةُ، وَإِنْ شَاءَ أَطْعَمَ عَشَرَةَ مَسَاكِينَ، كَالْإِطْعَامِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ، فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَحَدِ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ، فَإِنْ قَدَّمَ الْكَفَّارَةَ عَلَى الْحِنْثِ لَمْ يُجْزِهِ.

## ژباړه

### (١) د قسمونو كتاب

(٢) قسمونه په درې ډوله دي: د غموس قسم، منعقد قسم او لغو قسم.

(ا) غموس قسم په تېر شوي كار باندې قسم كولو ته وايي چې قصدا پكې دروغ ووايي. په دې ډول قسم باندې (قسم كوونكى) ګناهګارېږي، كفاره پكې نشته او يوازې (له الله تعالى) څخه ښښنه غواړي.

(ب) منعقد قسم په راتلونكې كې د يو كار په كولو يا نه كولو قسم خوړلو ته وايي، كله چې په دې كې حانث شي كفاره وربانديې لازمېږي.

(ج) د لغوي قسم دې ته وايي چې څوك په تېر شوي كار قسم وخوري او ګومان كوي چې دى ښتګه وايي (خبره) همغسې ده، خو حقيقت د هغې په خلاف وي، په دې (ډول قسم) كې له الله تعالى څخه هيله لرو چې خاوند يې مواخذه نكړي.

(٣) په قسم كې قصد كوونكى، مُكرَه (هغه څوك چې په زور وربانديې قسم وكړل شي) او هېروونكى سره برابر دي.

(٤) كه چا اكراهاً يا په هيره هغه كار وكړ چې ورڅخه يې قسم خوړلى و، دواړه سره برابر دي.

(٥) په الله تعالى، د (الله) له نومونو څخه په كوم نوم، لكه رحمن او رحيم، د هغه له صفتونو څخه په كوم صفت لكه د الله په عزت، جلال او كبرياء سره قسم خوړل (شرعي) قسم دى، مګر د الله په علم قسم كول، قسم نه دى. كه د الله د فعلي صفتونو څخه لكه د الله په غضب او د الله په قهر يې قسم ياد كړ، قسم كوونكى نه دى.

(٦) چا چې له الله (جل جلاله) پرته په بل چا لكه نبي (عليه السلام)، قرآن او كعبې قسم وكړ، قسم نه دى.

(٧) قسم د قسم په ټكو خوړل كيږي، د قسم ټكي (دا دي) واو لكه (والله) باء لكه (بالله) تاء لكه (تالله).

(٨)كله (د قسم) ټكي مضمر وي، خو د سړي قسم صحيح وي، لكه دا وينا: (الله لافعلن كذا: قسم په الله چې داسې به كوم) امام ابوحنيفه(رحمه الله) ويلي: كه يې وويل: (وحق الله: قسم د خداى په حق) قسم كوونكى نه دى.

(٩) چې يې وويل: (أُقسم: قسم كوم) يا (أُقسم باللّٰه: قسم كوم په الله) يا (أحلف: قسم كوم) يا (أحلف باللّٰه: قسم كوم په الله) يا (أشهد: شاهدي وركوم) يا (أشهد باللّٰه: شاهدي وركوم په الله) نو قسم كوونكى دى، همدا رانګه دا وينا يې: (وعهد اللّٰه: د الله په عهد) يا (وميثاقه: د الله په ټينګه وعده) يا (علي نذرٌ: په ما باندې نذر دى) يا (نذرٌ للّٰه: په ما باندې د الله لپاره نذر دى) يا:

که دا کار مې وکړ زه به یهودي یم، یا به نصراني یم، یا به کافر یم. نو دا قسم دی.

(۱۰) که یې وویل: (که مې دا کار وکړ) په ما دې د الله غضب وي، یا د الله قهر وي، یا زه به زناکار یم، یا (زه به) شراب څښونکی یم، یا (زه به) د سود خوړونکی یم، نو قسم نه دی.

(۱۱) د قسم کفاره د مریي آزادول دي او په کفاره کې یې هغه مریی منل کیږي کوم چې په ظهار کې منل کیږي. او که یې خوښه شوه لسو مسکینانو ته به جامې ورکړي، هر یوه ته یوه جامه یا له هغې زیاته. کمه جامه هغه ده چې لمونځ پکې کیږي، او که یې خوښه شوه لسو مسکینانو ته به ډوډۍ ورکړي لکه په ظهار کې ډوډۍ ورکول، که په (دې پورتنیو) شیانو قادر نه شو درې ورځې پرله پسې روژې به نیسي، که یې کفاره په حانث کېدو وړاندې کړه روا نه ده.

## شرحه

**د یمین (قسم) تعریف**: یمین په لغت کې قوت او پیاوړتیا ته وایي او په اصطلاح کې هغه عقد ته ویل کیږي چې قسم کوونکي د هغه په بنسټ د یو کار د کولو یا نه کولوهوډ قوي کړي. قسم ته ځکه یمین ویل کیږي چې د قسم په وسیله انسان خپله خبره پیاوړې کوي له دې امله په عربي ژبه کې ښي لاس ته چې قوي او پیاوړی دی، یمین ویل کیږي.

مثلاً احمد په الله قسم وکړ چې نن به د ښوونځي کتابتون ته لس کتابونه اخلم. د دې کار په کولو کې احمد د الله پاک نوم یاد کړ او داسې عقد یې رامنځته کړ چې د هغې په وسیله یې د کتابونو د اخیستلو عزم او هوډ غښتلی کړ.

**د قسم ډولونه**: قسم په درې ډوله دی:

۱- **غموس قسم**: غمس په لغت کې په اوبو کې لاس ننویستلو ته وایي او په اصطلاح کې په تېر شوي کار قسم کولو ته وایي چې قسم کوونکی پکې قصدا دروغ وایي، د بېلګې په ډول، که یو سړی ووایي: په الله قسم چې پرون ښار ته تللی وم، او دی ښه پوهیږي چې پرون ښار ته نه و تللی. دې ډول قسم ته ځکه د غموس قسم وایي چې کوونکی یې اور ته داخلیږي. د طبراني

په روایت کې پیغمبر (علیه السلام) د یو شخص په اړه فرمایلي: إِنْ هُوَ حَلَفَ كَاذِبًا، أَدْخَلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ النَّارَ: ژباړه: که هغه په دروغو قسم کړی وي، الله به یې اور ته داخل کړي.

د غموس په قسم کې کفاره نشته، ځکه قسم یو عقد دی چې په راتلونکي کې د یو کار د کولو یا نه کولو په اړه منعقد کیږي او په تېره شوې زمانه قسم ښکاره دروغ دي چې دا لویه ګناه ده او په کفارې سره نه روا کیږي. په غموس باندې د دې قسم نومول مجازاً دي او په حقیقت کې دا قسم نه دی، لکه د آزاد انسان پلورلو ته چې مجازا بیعه ویل کیږي. د دې ګناه څخه د پاکوالي لپاره لازمه ده چې قسم کوونکی د الله پاک څخه د دې دروغو ویلو ښښنه وغواړي.

۲- **منعقد قسم**: دې ته وایي چې څوک په راتلونکي کې د یو کار په کولو یا پرېښودلو قسم وکړي، د بېلګې په ډول ووایي: قسم په الله چې سبا به ښار ته ځم. که دا شخص سبا ورځ ښار ته لاړ نشي حانث (د قسم ماتوونکی) شمېرل کیږي او کفاره ورباندې د دې آیت په بنسټ لازمه ده چې فرمایي: ﴿وَلَـكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الأَيْمَانَ﴾ (المائدة: ۸۹) **ژباړه**: مګر (الله پاک) نیسي تاسې په (ماتولو) د هغه (عهد) چې کلک کړی وي تاسو په قسمونو.

۳- **لغو قسم**: دې ته وایي چې څوک په تېر شوي کار قسم وکړي او ګومان کوي چې دی څنګه وایي خبره همغسې ده، خو حقیقت د هغې پر خلاف وي، د بېلګې په ډول حامد فکر کوي چې نن د میزان څلورمه نېټه ده او وایي: قسم په الله نن د میزان څلورمه نېټه ده، خو په حقیقت کې د میزان څلورمه نه بلکې اتمه نېټه وي.

په لغو قسم کې کفاره نشته او امید دی چې الله پاک به ورباندې څوک ونه نیسي. د غموس قسم سره د لغو قسم توپیر دا دی چې په غموس قسم کې قسم کوونکی قصدا په دروغو قسم کوي او ښه پوهیږي چې قسم یې د واقعیت سره موافق نه دی، خو په لغو قسم کې قسم کوونکی ګومان کوي چې خبره یې له واقعیت سره برابره ده خو خطا شوی وي.

**په هېره یا د اکراه سره قسم**: که څوک په قصد، هېره یا د زور لاندې منعقد قسم وکړي قسم یې صحیح او ټول په حکم کې سره برابر دي، ځکه په یوه حدیث کې روایت شوي: ثَلَاثٌ

جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ الطَّلَاقُ وَالْعَتَاقُ وَالْيَمِينُ[1]. ژباړه: درې شيان دي چې رېښتيا يې هم رېښتيا او ټوکې يې هم رېښتيا دي: طلاق، عتاق او قسم.

همدا راز که څوك د يوه کار له نه کولو څخه قسم وکړي او وروسته په قصد، د زور له لاندې يا په هېره سره هغه کار وکړي حانث کيږي او کفاره ورباندې لازم ده.

قسم يوازې په الله تعالی صحيح دی او په درې ډوله دی:

۱- **د الله تعالی په نومونو**: د الله تعالی په ټولو نومونو قسم صحيح دی که څه هم خلك په هغه نوم له قسم کولو سره اشنا نه وي.

۲- **د الله تعالی په ذاتي صفتونو**: د الله تعالی ذاتي صفتونه هغه دي چې په ضد يې نه موصوفيږي، لکه سمع، قدرت، حيات او نور. دا ځکه چې د الله تعالی په ذاتي صفتونو باندې قسم کول د خلکو تر منځ اشنا او پېژندل شوي دي. البته د الله په(علم) باندې چې ذاتي صفت دی قسم کول ځکه قسم نه شمېرل کيږي چې د خلکو په منځ کې د الله په علم سره قسم کول نااشنا دي او رواج نه لري او علم د معلوم په معنا استعماليږي.

۳- **د الله تعالی په فعلي صفتونو قسم**: د الله تعالی فعلي صفتونه هغه دي چې په ضد يې موصوفيږي، لکه غضب او رحمت. ځرنګه چې د الله تعالی په فعلي صفتونو قسم کول د خلکو تر منځ آشنا او متعارف نه دي، نو د فعلي صفتونو په قسم کولو هم بنده حالف (قسم کوونکی) نه شمېرل کيږي.

لنډه دا چې د الله په ټولو نومونو قسم کول صحيح او قسم کوونکی حالف ګرځي، خو په صفتونو کې د خلکو تر منځ دود او أشنايي معتبره ده.

په بنسټيز ډول له الله تعالی پرته په بل هيڅ شي باندې قسم کول روا نه دي، او نه ورباندې څوك قسم کوونکی ګرځي. له همدې امله په قرآن، کعبه او پيغمبر قسم کول صحيح نه دي، خو ځينې علماء وايي: په قرآن باندې په قسم خوړلو، قسم منعقد کيږي، نو که چا په قرآن قسم وکړ او حانث شو کفاره ورباندې لازميږي.[2]

۱. د دې روايت په اړه ابن حجر ليکلی: لم أجده هكذا. په دې ډول مې پيدا نکړ: الدراية: ۲/۹۰.
۲. فتح القدير، القنايه کتاب الايمان.

**د قسم توري**: په عربي ژبه کې د قسم توري درې دي: واو لکه والله، باء لکه بالله او تاء لکه تالله. کله کله دا حروف مضمر (پټ) وي لکه د (الله لافعلن کذا) د دې جملې په سر کې واو مضمر دی.

**په حق الله قسم**: د امام ابوحنيفه په نظر په (حق الله) قسم ځکه صحيح نه دی چې د حق الله څخه مقصد د الله طاعت دی او قسم يوازې په الله صحيح دی نه د هغه په طاعت. د امام محمد په نظر په حق الله قسم کول ځکه صحيح دي چې (حق) د الله له صفاتو څخه دی او په صفاتو قسم صحيح دی.

**د قسم صيغې**: په عربي ژبه کې د (أحلف) (أقسم) او (أشهد) صيغې په قسم کې مستعملې او قسم ورباندې صحيح دی، همدا راز د (عهد) او (ميثاق) صيغې د يمين په معنا راځي او قسم ورباندې صحيح دی.

که څوک ووايي: پر ما باندې د الله پاک لپاره نذر دی، قسم يې صحيح دی، ځکه په ابن ماجه کې راغلي چې رسول اللهﷺ فرمايلي: مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ. ژباړه: چا چې نذر وکړ او معلوم يې نه کړ، کفاره يې د قسم کفاره ده.

**د قسم نورې جملې**: که څوک ووايي: که دا کار مې وکړ زه به يهودي يم، يا به نصراني يم، يا به کافر يم. د امام ابوحنيفه (رحمه الله)په نزد دا قسم دی او د دغه کار په کولو سره پرې د قسم کفاره لازميږي. دا په هغه وخت کې چې قسم کوونکی د يهوديت او کفر څخه د لرې والي لپاره دا خبره وکړي. دا ډول قسم ځکه صحيح دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له زمانې راهيسې په خلکو کې رواج دی او چا ناروا نه دی ګڼلی، که چېرې دا ډول قسم ناروا وای، نو رواج شوی به نه و، له دې څخه څرګنديږي چې دا جملې (زه به يهودي يم...) له قسم څخه کنايه ده که څه هم د کنايې او مکنې عنه تر منځ د اړيکې وجه معلومه نه ده.

**دا ډول جملې لکه**: (که مې دا کار ونکړ پر ما دې د الله قهر وي، يا زه به زناکار يم) ځکه قسم نه شمېرل کيږي چې په داسې ټکو قسم کول أشنا او دود نه دی.

**د قسم کفاره**: د قسم کفاره په متن کې روښانه ده. البته باید وویل شي چې مریی مطلق ذکر شوی، یعنې کفاره ورکوونکی کولای شي چې کافر یا مسلمان، کوچنی یا لوی هر مریی چې وغواړي په کفاره کې ورکړي.

کفاره ورکوونکی اختیار لري چې له مریي آزادولو، جامو او یا خوراك ورکولو څخه هر یو یې چې خوښه وي غوره کړي. که یې دا نشو کولای درې ورځې پرله پسې روژه به نیسي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په خپله سیمه کې د قسم په مروجو صیغو خبرې وکړي او هغه صیغې دې له نورو جلا کړي چې قسم ورباندې نه کیږي.

## ارزونه

١- د یمین لغوي او اصطلاحي تعریف روښانه کړئ.

٢- د یمین ډولونه بیان کړئ.

٣- د منعقد قسم حکم بیان کړئ.

٤- قسم په څه سره صحیح کیږي؟

٥- په (حق الله) قسم کول څه حکم لري؟

٦- د قسم صیغې بیان کړئ.

# د قسم حکمونه (۲)

د تېر په څېر په دې لوست کې هم د قسم د حکمونو په اړه غږېږو.

(۱) وَمَنْ حَلَفَ عَلَى مَعْصِيَةٍ، مِثْلُ أَنْ لَا يُصَلِّي، أَوَّلَا يُكَلِّمَ أَبَاهُ، أَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلَانًا، فَيَنْبَغِي أَنْ يُحَنِّثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ.

(۲) وَإِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ، ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ الْكُفْرِ أَوْ بَعْدَ إِسْلَامِهِ، فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ.

(۳) وَمَنْ حَرَّمَ عَلَى نَفْسِهِ شَيْئًا مِمَّا يَمْلِكُهُ لَمْ يَصِرْ مُحَرَّمًا عَلَيْهِ، وَعَلَيْهِ إِنْ اسْتَبَاحَهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ، فَإِنْ قَالَ:(كُلُّ حَلَالٍ عَلَيَّ حَرَامٌ) فَهُوَ عَلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ، إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ غَيْرَ ذَلِكَ.

(٤) وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِهِ، وَإِنْ عَلَّقَ نَذْرَهُ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ الشَّرْطُ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ. وَرُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ رَجَعَ عَنْ ذَلِكَ وَقَالَ: إِذَا قَالَ: (إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ حَجَّةٌ، أَوْ صَوْمُ سَنَةٍ، أَوْ صَدَقَةُ مَا أَمْلِكُه)، أَجْزَأَهُ مِنْ ذَلِكَ كَفَّارَةُ يَمِينٍ، وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ.

(٥) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ بَيْتًا فَدَخَلَ الْكَعْبَةَ، أَوْ الْمَسْجِدَ، أَوْ الْبِيعَةَ، أَوْ الْكَنِيسَةَ لَمْ يَحْنَثْ.

(٦) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَتَكَلَّمُ، فَقَرَأَ الْقُرْآنَ فِي الصَّلَاةِ، لَمْ يَحْنَثْ.

(٧) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَلْبَسُ ثَوْبًا، وَهُوَ لَابِسُهُ، فَنَزَعَهُ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ، وَكَذَلِكَ إِذَا حَلَفَ لَا يَرْكَبُ هَذِهِ الدَّابَّةَ وَهُوَ رَاكِبُهَا فَنَزَلَ فِي الْحَالِ، لَمْ يَحْنَثْ وَإِنْ لَبِثَ سَاعَةً حَنِثَ.

(٨) وَإِنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ وَهُوَ فِيهَا لَمْ يَحْنَثْ بِالْقُعُودِ، حَتَّى يَخْرُجَ ثُمَّ يَدْخُلَ.

(٩) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ دَارًا فَدَخَلَ دَارًا خَرَابًا لَمْ يَحْنَثْ.

(١٠) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فَدَخَلَهَا بَعْدَ مَا انْهَدَمَتْ وَصَارَتْ صَحْرَاءَ حَنِثَ، وَلو حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذَا الْبَيْتَ فَدَخَلَهُ بَعْدَمَا انْهَدَمَ لَمْ يَحْنَثْ

(١١) ومن حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ زَوْجَةَ فُلَانٍ فَطَلَّقَهَا فُلَانٌ ثُمَّ كَلَّمَهَا حَنِثَ. ولو حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ عَبْدَ فُلَانٍ، أَوْ لَا يَدْخُلُ دَارَ فُلَانٍ، فَبَاعَ فُلَانٌ عَبْدَهُ وَدَارَهُ ثُمَّ كَلَّمَ الْعَبْدَ أَوْ دَخَلَ

الدَّارَ لَمْ يَحْنَثْ.

(١٢) وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ صَاحِبَ هَذَا الطَّيْلَسَانِ فَبَاعَهُ ثُمَّ كَلَّمَهُ حَنِثَ، وَكَذَلِكَ إِن حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ هَذَا الشَّابَّ فَكَلَّمَهُ بَعْدَ مَا صَارَ شَيْخًا حَنِثَ، او لَا يَأْكُلُ لَحْمَ هَذَا الْحَمَلِ فَصَارَ كَبْشًا فَأَكَلَهُ حَنِثَ.

(١٣) وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذِهِ النَّخْلَةِ فَهُوَ عَلَى ثَمَرِهَا، وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذَا الْبُسْرِ فَصَارَ رُطَبًا فَأَكَلَهُ لَمْ يَحْنَثْ، ومَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ رُطَبًا فَأَكَلَ بُسْرًا مُذَنِّبًا، حَنِثَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

## ژباړه

(١) که چا په ګناه کولو قسم وکړ، مثلا (داسې قسم يې وکړ) چې لمونځ به نه کوي، خپل پلار سره به خبرې نه کوي، يا به فلانی شخص وژني، نو پکار ده چې ځان حانث کړي او د قسم کفاره ورکړي.

(٢) که کافر قسم وکړ، بيا د کفر په حال کې حانث شو يا له مسلمانېدو وروسته حانث شو نو کفاره وربانديې نشته.

(٣) که چا له خپل ملکيت څخه کوم شی په ځان حرام کړ، نوموړی شی ورباندې حرام نه ګرځي، او که يې (وروسته نوموړی شی) ځانته مباح کړ، د قسم کفاره به ورکوي. که يې وويل: ټول حلال پر ما حرام دي، نو مقصد ورڅخه د خوراک او څښاک شيان دي، مګر دا چې نيت يې بل ډول وي.

(٤) که چا په مطلقه توګه نذر ومانه، نو پوره کول يې وربانديې لازم دي. که يې نذر په کوم شرط پورې معلق کړ او شرط موجود شو، نو همغه نذر به پوره کوي. روايت شوی چې امام ابوحنيفه (رحمه الله)له دې څخه رجوع کړې او ويلي يې دي: که يې وويل: (که مې فلانی کار وکړ، نو په ما حج دی، يا يوه مياشت روژه ده، او يا د ټول مال خيراتول دي) له دې ټولو څخه د قسم کفاره ورکول بسنه کوي او دا د امام محمد (رحمه الله) قول هم دی.

(٥) که چا قسم وکړ چې کور ته به نه ننوځي، نو کعبې ته داخل شو، يا جومات، يا کليسا ته ننوت، نه حانث کيږي.

(۶) که چا قسم وکړ چې خبرې به نه کوي او په لمانځه کې يې قراءت وکړ، نه حانث کيږي.

(۷) که چا قسم وکړ چې جامې به نه اغوندي او جامې يې په ځان وي، خو سملاسي يې وباسي نه حانث کيږي. همدا راز که يې قسم وکړ چې په دې سورلۍ به نه سپريږي او وربانديې سپور وي خو سملاسي راښکته شي (نه حانث کيږي)، که يې درنګ وکړ حانث شو.

(۸) که يې قسم وکړ چې دې کور ته به نه ننوځي او دننه پکې وي، په کښيناستو نه حانث کيږي، ترڅو بهر ونه وځي او بيا رادننه نشي.

(۹) که چا قسم وکړ چې کور ته به نه ننوځي او نړېدلي کور ته ننوت، نه حانث کيږي.

(۱۰) که چا قسم وکړ چې دې کور ته به نه ننوځي، کور ونړېد او هوار شو او ورننوت، حانث شو. که يې قسم وکړ چې دې کوټې ته به نه ننوځي خو له نړېدو وروسته ورننوت، نه حانث کيږي.

(۱۱) که چا قسم وکړ چې د فلاني له مېرمنې سره به خبرې نه کوي، بيا هغه طلاقه کړه او ده ورسره خبرې وکړې، حانث شو. که يې قسم وکړ چې د فلاني له مريي سره به خبرې نه کوي، يا د فلاني کور ته به نه ننوځي، بيا هغه خپل مريی او کور خرڅ کړ او ده له هغه مريي سره خبرې وکړې او کور ته ورننوت، نه حانث کيږي.

(۱۲) که يې قسم وکړ چې د دې ځادر ښښتن سره به خبرې نه کوي، هغه ځادر وپلوره او ده ورسره خبرې وکړې، حانث شو. همدا راز که يې قسم وکړ چې د دې زلمي سره به خبرې نه کوي او له بوډاتوب وروسته يې ورسره خبرې وکړې، حانث شو. (همدا راز که يې قسم وکړ چې) د دې حمل (وري) غوښه به نه خوري، بيا هغه کبش (چاري پسه) شو او ويې خوړ حانث شو.

(۱۳) که يې قسم وکړ چې له دې خرما ونې څخه به نه خوري نو مقصد ورڅخه د خرما د ونې ميوه ده. که يې قسم وکړ چې له دې خامو خرماو څخه به نه خوري، بيا هغه (خامې خورما) پخې شوې او ويې خوړې، نه حانث کيږي. که چا قسم وکړ چې پخه خرما به نه خوري او خامه خرما (چې د پخوالي نښه پکې پيدا شوې وي) وخوري، د امام ابوحنيفه په نظر حانث کيږي.

## شرحه

**په ګناه کولو قسم**: که څوک د ګناه په کولو قسم وکړي لکه چې ووايي: په الله پاک قسم چې د پلار سره به مې خبرې نه کوم. په ده واجب دي چې د پلار سره خبرې وکړي او د قسم کفاره ورکړي، ځکه د مسلم په حديث کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَآى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِهَا وَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ: چا چې قسم وکړ او بيا ورته بل کار له هغې ښه ښکاره شو نو د (خير) کار دې وکړي او د قسم کفاره دې ورکړي.
همدا راز جوته ده چې په حانث کېدلو او د قسم په کفارې ورکولو کې ګناه نشته او د پلار سره په خبرو نه کولو کې ګناه ده.

**د کفر په حال کې قسم**: کافر نه د قسم اهليت لري او نه د کفارې ادا کولو، ځکه د کفارې ادا کول يو عبادت دی او کافر د عبادت اهل نه دی. نو په دې بنسټ د کافر قسم صحیح نه دی.

**پرځان حلال حرامول**: که چا خپل مال په ځان حرام کړ، حرام عيني نه ګرځي او که د نوموړي مال سره يې د مباح مال په څېر معامله وکړه د قسم کفاره به ورکوي.
که څوک ووايي: ټول حلال پر ما حرام دي. که څه هم د (ټول حلال) په ټکي کې جامې، سپرلۍ کور او أن تنفس کول داخل دي خو څنګه چې په قسم کې عموم مقصد نه دی او په عرف کې دا ټکی (ټول حلال) يوازې د خوراک و څښاک شيانو لپاره کارول کيږي، نو مقصد هم ورڅخه د خوراک او څښاک شيان دي او بس، خو که نيت يې د خوراک او څښاک له شيانو پرته بل شی و، د ښځې په ډول مقصد يې جامې هم وې نو بيا د هغه نيت معتبر دی.

**د نذر تعريف**: نذر د مکلف او مختار انسان له خوا په خپل ځان باندې په خپلې وينا سره د الله لپاره د داسې شي لازمولو ته وايي چې په شريعت کې ورباندې لازم نه وي.
قسم او نذر دواړه له دې امله سره ورته دي چې په دواړو کې بنده هغه شی پر ځان لازموي چې شريعت ورباندې په اصل کې نه وي لازم کړی.
نذر په دوه ډوله دی:

١- **مطلق نذر**: که څوک مطلق نذر ومني يعني بې له دې چې خپل نذر د کوم کار تر کېدو پورې مقيد کړي، پوره کول يې ورباندې لازم دي. د بېلګې په ډول صادق ووايي: د الله پاک د

رضا لپاره مې سل افغانۍ ورکول پر ځان نذر کړي. په دې صورت کې نذر مطلق دی او د کوم کار تر کېدو یا نه کېدو پورې تړل شوی نه دی.
په پورتني صورت کې په صادق باندې د سلو افغانیو ورکول لازم دي او د دې په ځای د قسم د کفارې ورکول صحیح نه دي.
**۲- مقید نذر**: که یې نذر مقید کړ او قید داسې و چې ده یې واقع کېدل نه غوښتل، د بېلگې په ډول وېې ویل: که مې موټر ټکر کړ یوه عمره به ادا کوم. په دې صورت کې کولای شي چې کفاره ورکړي او نذر پوره نکړي، ځکه دا ډول نذر د قسم په څېر دی، یعنې په حقیقت کې نذر کوونکی قسم کوي چې احتیاط به کوم او موټر به نه ټکر کوم.
البته که قید داسې و چې نذر کوونکي یې واقع کېدل غوښتل نو نذر به ورکوي او کفاره ورکول یې صحیح نه دي، د بېلگې په ډول وواېي: که الله پاك مې دا ناروغ زوی روغ کړ پنځه زره افغانۍ به خیرات ورکوم. په دې صورت کې یې زوی روغ شي نو نذر به ورکوي او د کفارې اختیار نه لري.
**د قسم یو لړ مثالونه**: که څوك قسم وکړي چې کوټې ته به نه ننوځي نو کعبې شریفې، مسجد یا کلیسا ته ننوتلو باندې نه حانث کیږي، ځکه چې کوټه هغه ځای ته ویل کیږي چې د شپې تېرولو لپاره ودانه شوې وي او یاد شوي ځایونه د اوسېدو لپاره نه دي جوړ شوي نو د کوټې تر نوم لاندې نه راځي. همدا راز که څوك له خبرو کولو قسم وکړي، په لمانځه کې په قراءت نه حانث کیږي، ځکه چې په لمانځه کې قراءت د شرعې او عرف دواړو له مخې خبرې نه گڼل کیږي.
که څوك د جامو نه اغوستلو قسم وکړي او جامې یې په ځان وي خو سملاسي خپلې جامې وباسي، په دې صورت کې که څه هم د قسم په حال کې یې جامې په ځان دي خو دا چې دا حالت د ده له توان څخه بهر دی، نه حانث کیږي، البته که وروسته له ډېرځنډه یې وباسي، حانث کیږي.
په همدې ډول د سپرلۍ مثال هم په متن کې ذکر شوی دی.
که څوك مطلقاً کور ته له ننوتلو قسم وکړي او کنډوالې ته ننوځي نه حانث کیږي، ځکه چې

کندېوالي ته په عرف کې کور نه ویل کیږي.

که څوك یوې ټاکلې کوټې ته له ننوتلو قسم وکړي، وروسته هغه کوټه ونړول شي او دی ورداخل شي، نه حانث کیږي ځکه د کوټې په نړېدو سره ورڅخه د کوټې نوم لرې کیږي.

که چا وویل: د فلاني شخص له مېرمنې سره به خبرې نه کوم، او نوموړې مېرمن یې تعین کړه، له طلاق وروسته هم ورسره په خبرو کولو حانث کیږي، ځکه په تعین سره نوموړې مېرمن مقصود ګرځېدلې او طلاق کوم اغېز نه لري.

که ووایې د فلاني شخص کور ته به نه ننوځم او د فلاني شخص مریي سره به خبرې نه کوم. که نوموړی خپل کور او مریی وپلوري، قسم کوونکی په خبرو ورسره نه حانث کیږي، ځکه دا شیان پخپله مقصود نه دي بلکې اصلي مقصود د دوی ښتن دی.

په متن کې د څادر، ځوان او وري په مثالونو کې ځکه قسم کوونکی حانث کیږي چې څادر، ځواني او د وري عمر چې وصفونه دي چې په معین او مشخص کې معتبر نه دي، بلکې په قسم کې مقصود د څادر ښتن ځوان او وری دی.

که څوك د ونې له خوراکه قسم وکړي مقصد به میوه وي، ځکه د ونې څانګې او پاڼې نه خوړل کیږي بلکې یوازې میوه خوړل کیږي.

د خرماوو بېلابېل ډولونه پخپله مقصود دي او د همدې ډولونو اختلاف د قسم باعث شوی، نو د ډول بدلون معتبر دی او د ډول د بدلون په صورت کې قسم کوونکی نه حانث کیږي.

## ارزونه

۱- په ګناه کولو د قسم په صورت کې پر بنده څه کول لازم دي؟

۲- له مسلمانېدو وړاندې د کړو قسمونو حکم بیان کړئ.

۳- نذر تعریف کړئ.

٤- مطلق نذر د مثال سره بیان کړئ.

٥- مقید نذر د مثال سره بیان کړي.

٦- که څوك مطلقا کور ته له ننوتلو قسم وکړي او کندوالې ته ننوځي ولې نه حانث کیږي؟

# د قسم حکمونه (۳)

د قسم په جملو کې د خلکو عرف او دود زيات اغېز لري، په نننی لوست کې د دغه ډول يو شمېر جملو حکم بيان شوی چې بنسټ يې د خلکو عرف دی.

(۱) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ لَحْمًا فَأَكَلَ السَّمَكَ لَمْ يَحْنَثْ.

(۲) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَكْرَعَ فِيهَا كَرْعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَمَنْ حَلَفَ لَا يَشْرَبُ مِنْ مَاءِ دِجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ حَنِثَ.

(۳) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذِهِ الْحِنْطَةِ فَأَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا لَمْ يَحْنَثْ، وَلو حَلَفَ لَا يَأْكُلُ مِنْ هَذَا الدَّقِيقِ فَأَكَلَ مِنْ خُبْزِهِ حَنِثَ، وَلَوْ اسْتَفَّهُ كَمَا هُوَ لَمْ يَحْنَثْ.

(٤) وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا فَكَلَّمَهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ إِلَّا أَنَّهُ نَائِمٌ حَنِثَ، وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَأَذِنَ لَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ بِالإِذْنِ حَتَّى كَلَّمَهُ حَنِثَ.

(٥) وَإِذَا اسْتَحْلَفَ الْوَالِي رَجُلًا لِيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ خَبِيثٍ دَخَلَ الْبَلَدَ، فَهَذَا عَلَى حَالِ وِلَايَتِهِ خَاصَّةً.

(٦) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فَوَقَفَ عَلَى سَطْحِهَا أَوْ دَخَلَ دِهْلِيزَهَا حَنِثَ، فَإِنْ وَقَفَ فِي طَاقِ الْبَابِ بِحَيْثُ إِذَا غُلِقَ الْبَابُ كَانَ خَارِجًا لَمْ يَحْنَثْ.

(۷) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الشِّوَاءَ، فَهُوَ عَلَى اللَّحْمِ دُونَ الْبَاذِنْجَانِ والْجَزَرِ.

(۸) وَإِنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الطَّبِيخَ فَهُوَ عَلَى مَا يُطْبَخُ مِنَ اللَّحْمِ.

(۹) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الرُّءُوسَ فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يُكْبَسُ فِي التَّنَانِيرِ، وَيُبَاعُ فِي الْمِصْرِ.

(۱۰) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَأْكُلُ الْخُبْزَ، فَيَمِينُهُ عَلَى مَا يَعْتَادُ أَهْلُ الْمِصْرِ أَكْلَهُ خُبْزًا فَإِنْ أَكَلَ خبز الْقَطَائِفِ أَوْ خُبْزَ الْأُرْزِ بِالْعِرَاقِ، لَمْ يَحْنَثْ.

(١١) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَبِيعُ اوَلَا يَشْتَرِيْ اوَلَا يُؤَاجِّرُ فَوَكَّلَ بِذَلِكَ لَمْ يَحْنَثْ.
(١٢) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَتَزَوَّجُ، أَوْ لَا يُطَلِّقُ، أَوْ لَا يُعْتِقُ، فَوَكَّلَ بِذَلِكَ حَنِثَ. وَمَنْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلَى الْأَرْضِ فَجَلَسَ عَلَى بِسَاطٍ أَوْ حَصِيرٍ، لَمْ يَحْنَثْ.
(١٣) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَجْلِسُ عَلَى سَرِيرٍ، أَيِ سَرِيرٍ معينٍ فَجَلَسَ عَلَى سَرِيرٍ فَوْقَهُ بِسَاطٌ حَنِثَ، وَإِنْ جَعَلَ فَوْقَهُ سَرِيرًا آخَرَ فَجَلَسَ عَلَيْهِ لَمْ يَحْنَثْ.
(١٤) وَإِنْ حَلَفَ لَا يَنَامُ عَلَى هَذَا فِرَاشٍ فَنَامَ عَلَيْهِ وَفَوْقَهُ قِرَامٌ حَنِثَ فَإِنْ جَعَلَ فَوْقَهُ فِرَاشًا آخَرَ لَمْ يَحْنَثْ.

## ژباړه

(١) که چا قسم وکړ چې غوښه به نه خوري او کب يې وخوړ، نه حانث کيږي.

(٢) که يې قسم وکړچې له دجلې (سيند) څخه به نه څښي او په لوښي يې ورڅخه وڅښلې، د امام ابوحنيفه(رحمه الله) په نزد نه حانث کيږي، ترڅو يې په خوله ترې ونه څښي. که چا قسم وکړ چې د دجلې له اوبو څخه به نه څښي او په لوښي يې ورڅخه وڅښلې، حانث کيږي.

(٣) که چا قسم وکړ چې د دې غنمو څخه به نه خوري بيا يې د هغو (غنمو) له ډوډۍ خوراک وکړ، نه حانث کيږي. که يې قسم وکړ چې له دې اوړو څخه به نه خوري او له ډوډوۍ څخه يې وخوړه، حانث شو، که يې هماغسې تير کړل نه حانث کيږي.

(٤) که يې قسم وکړ چې د فلاني سره به خبرې نه کوي، بيا يې ورسره خبرې وکړې او هغه په داسې حالت کې وي چې اورې يې خو ويده وي، حانث شو. که يې قسم وکړ چې د هغه له اجازې پرته به ورسره خبرې نه کوي او هغه ورته اجازه وکړه خو دی يې په اجازه خبر نه و او خبرې يې ورسره وکړې، حانث شو.

(٥) که والي يو سړي ته په دې قسم ورکړ چې ښار ته د هر فاسد له داخلېدو به يې خبروي، نو دا د (والي) د ولايت (د مودې) پورې خاص ده.

(٦) که چا قسم وکړ چې دې کور ته به نه ننوځي او په بام یې ودرېد او یا یې دهلیز ته ننوت، حانث شو. که د دروازې په درشل کې داسې ځای ودرېد چې د دروازې د بندېدو سره بهر پاتې کېده، نه حانث کیږي.

(٧) که چا قسم وکړ چې وریته به نه خوري نو مقصد ورڅخه غوښه ده، نه بانجان او گازرې.

(٨) که چا قسم وکړ چې پخه شوې به نه خوري، نو مقصد به ورڅخه له غوښې پاخه شوي وي.

(٩) که چا قسم وکړ چې سرونه به نه خوري نو مقصد به ورڅخه هغه وي چې په تنور کې پخیږي او په بازار کې پلورل کیږي.

(١٠) چا چې قسم وکړ چې ډوډۍ به نه خوري نو مقصد به ورڅخه هغه وي چې خلک یې عادتاً د ډوډۍ په ځای خوري، که قطائف (د ډوډۍ یوه ډول دی) یې وخوړل یا یې په عراق کې د وریجو ډوډۍ وخوړه نه حانث کیږي.

(١١) که چا قسم وکړ چې پلورل، اخیستل، یا اجاره به نه کوي او څوک یې په دې کار وکیل کړ نه حانث کیږي.

(١٢) که چا قسم وکړ چې نکاح به نه کوي، یا طلاق به نه ورکوي یا به غلام نه آزادوي او څوک یې په دې کار وکیل کړ حانث شو. که چا قسم وکړ چې په ځمکه به نه کښیني او په فرش یا پوزي کښېناست، نه حانث کیږي.

(١٣) که چا قسم وکړ چې پر کټ به نه کښیني او په داسې کټ کښېناست چې فرش ورباندې و، حانث شو، خو که د کټ د پاسه یې بل کټ واچولو او ورباندې کښېناست، نه حانث کیږي.

(١٤) که یې قسم وکړ چې په فرش به نه ویده کیږي او په داسې فرش باندې ویده شو چې له پاسه ورباندې پرده وه، حانث شو، او که یې ورباندې بل فرش واچاوه، نه حانث کیږي.

## شرحه

د قسم په مسایلو کې د خلکو عرف او دود زيات اغيز لري، د دې لوستونو په متن کې چې کوم احکام ذکر شوي دي، د هماغه وخت عرف او عادت ته یې اعتبار ورکړی، که چیرې عرف بدلون ومومي نو د قسم حکمونه هم ورسره بدلون مومي.

په متن کې د راغلو مسایلو شرحه په لاندې ډول ده:

**د کب مثال**: په متن کې د غوښې له خوړلو څخه د قسم کولو په مسئله کې راغلي چې د کب د غوښې په خوړلوسره قسم کوونکی نه حانث کيږي، ځکه چې د عرف له مخې کب ته غوښه نه ویل کيږي.

**د دجلې مثال**: که چا قسم وکړ چې له دجلې (سیند) څخه به نه څښي او په لوخي یې ورنه وڅښلې، د امام ابوحنیفه په نزد ځکه نه حانث کيږي چې د دجلې څخه د اوبو څښلو حقیقت دا دی چې په سیند خوله کیږدي او اوبه ورڅخه وڅښي او دا حقیقت مستعمل هم دی، یعنې دا کار ممکن او خلك یې عملا ترسره کوي. له بل پلوه د دجلې څخه په لوخي اوبه څښل د متن مجازي صورت دی، نو کله چې په حقیقت عمل ممکن وي مجاز ته اړتیا نشته او په مجاز سره قسم کوونکی نه حانث کيږي.

په دویم صورت کې قسم کوونکي له اوبو څخه قسم کړی نه له سیند څخه نو د لومړي صورت سره توپیر لري.

**د غنمو مثال**: که څوك د غنمو له خوراکه قسم وکړي د ډوډۍ په خوړلو ځکه نه حانث کيږي چې د غنمو خوړل رواج دی، د بېلګې په ډول خلك غنم نیني کوي او خوري یې، نو د غنمو له خوړلو همدا مطلب اخیستل کيږي، له غنمو څخه د ډوډۍ مقصد کول مجاز دی او څرنګه چې دلته حقیقت په خپله معنا حمل کېدای شي نو مجازي معنا ورڅخه اخیستل سم نه دي، لکه د دجلې د اوبو په مسئله کې چې همداسې وه.

که یې د اوړو له خوراك څخه قسم وکړ د ډوډۍ په خوړلو ځکه حانث کيږي چې اوړه نه

خوړل کیږي او کله چې د اوړو خوړل یاد شي خلك د عرف له مخې ورڅخه د ډوډۍ خوړلو مقصد اخلي، اَن دا چې که قسم کوونکی اوړه خولې ته واچوي او تېر يې کړي نه حانث کيږي، ځکه د دې قسم څخه عرفا د اوړو خوراك نه بلکې د ډوډۍ خوراك مقصد وي او قسمونه په عرف بنا دي.

**له خبرو څخه قسم**: که چا قسم وکړ چې د فلاني سره به دهغه له اجازې پرته خبرې نه کوي، هغه اجازه وکړه خو دی لا د اجازې څخه خبر نه و چې خبرې يې ورسره وکړې. په دې صورت کې که څه هم شخص اجازه کړې، خو دا چې د اذن معنا خبرول دي او قسم کوونکی د هغه له اجازې خبر نه دی، نو حانث شمېرل کيږي.

**له والي سره قسم**: که څوك له والي سره په دې قسم وکړي چې ښار ته د هر مفسد ننوتونکي څخه به خبر ورکوي، په دې صورت کې که والي له دندې گوښه شي قسم کوونکی په خبر ورکولو ځکه مکلف نه دی چې د مفسد څخه خبر ورکول د مفسد د سزا لپاره و او اوس چې والي گوښه شوی نو مفسد ته سزا نشي ورکولی، په دې بنسټ د قسم موده پای ته رسېدلې.

**له پلورلو قسم**: که څوك له پلورلو، اخيستلو يا اجارې څخه قسم وکړي نو څرنگه چې د پلورلو، اخيستلو او اجارې حقونه د عقد کوونکي پورې اړه نيسي، قسم کوونکی د اخيستلو، پلورلو او اجارې لپاره په وکيل نيولو نه حانث کيږي.

که يې د نکاح او طلاق څخه قسم وکړ او بيا يې د دې کار لپاره وکيل ونيولو ځکه حانث کيږي چې د نکاح او طلاق حقوق د ناکح او طالق پورې اړه نيسي، نه د وکيل پورې.

## فعالیت

زده کوونکي دې د قسم بېلابېلې جملې ووايي او د محترم ښوونکي په مرسته دې د هغوی حکم روښانه کړي.

## ارزونه

۱- که څوک له غوښې خوړلو څخه قسم وکړي او د کب غوښه وخوري، ولې نه حانث کیږي؟

۲- که څوک له دجلې څخه د نه څښلو قسم وکړي او په لوښي کې ورڅخه وڅښي، ولې د ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد نه حانث کیږي؟

۳- که څوک له غنموخوړلو څخه قسم وکړي، ایا د اوړو په خوړلو حانث کیږي؟

٤- که څوک له نکاح کولو او پلورلوڅخه قسم وکړي او بیا د دې کارونو لپاره وکیل ونیسي، حانث کیږي او که نه؟

# په قسم کې وخت او زمانه ټاکل

ګرانو زده کوونکو! په دې لوست کې به هم د قسم په اړه د وخت په الفاظو او يو لړ نورو مسئلو رڼا واچوو چې په دې سره به د قسم د حکمونو لړۍ بشپړه شي.

(١) وَمَنْ حَلَفَ يَمِينًا وَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللّٰهُ مُتَّصِلًا بِيَمِينِهِ، فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ، وَإِنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّهُ إِنْ اسْتَطَاعَ، فَهُوَ عَلَى اسْتِطَاعَةِ الصِّحَّةِ دُونَ الْقُدْرَةِ.

(٢) وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا حِينًا أَوْ زَمَانًا أَوْ الْحِينَ أَوْ الزَّمَانَ فَهُوَ عَلَى سِتَّةِ أَشْهُرٍ، وَكَذٰلِكَ الدَّهْرُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ، وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ أَيَّامًا فَهُوَ عَلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَلَوْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ الْأَيَّامَ فَهُوَ عَلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَعِنْدَهُمَا عَلَى أَيَّامِ أُسْبُوعٍ، وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ الشُّهُورَ فَهُوَ عَلَى عَشَرَةِ أَشْهُرٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَعِنْدَهُمَا عَلَى اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا، وَإِذَا حَلَفَ لَا يَفْعَلُ كَذَا تَرَكَهُ أَبَدًا، وَإِنْ حَلَفَ لَيَفْعَلَنَّ كَذَا فَفَعَلَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً، بَرَّ فِي يَمِينِهِ.

(٣) وَمَنْ حَلَفَ لَا تَخْرُجُ امْرَأَتُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ، فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً، فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ مَرَّةً أُخْرَى بِغَيْرِ إِذْنِهِ، حَنِثَ، و لَا بُدَّ مِنَ الْإِذْنِ فِي كُلِّ خُرُوجٍ، وَإِنْ قَالَ إِلَّا أَنْ آذَنَ لَكِ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَ ذٰلِكَ بِغَيْرِ إِذْنِهِ لَمْ يَحْنَثْ.

(٤) وَإِنْ حَلَفَ لَا يَتَغَدَّى، فَالْغَدَاءُ هُوَ الْأَكْلُ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى الظُّهْرِ، وَالْعَشَاءُ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ، وَالسَّحُورُ مِنْ نِصْفِ اللَّيْلِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ.

(٥) وَإِنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ دَيْنَهُ إِلَى قَرِيبٍ، فَهُوَ دُونَ الشَّهْرِ، وَإِنْ قَالَ إِلَى بَعِيدٍ، فَهُوَ أَكْثَرُ مِنَ الشَّهْرِ.

(٦) وَمَنْ حلَفَ لَا يَسْكُنُ هَذِهِ الدَّارَ، فَخَرَجَ مِنْهَا بِنَفْسِهِ وَتَرَكَ أَهْلَهُ وَمَتَاعَهُ فِيهَا، حَنِثَ.

(٧) وَمَنْ حلَفَ لَيَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ أَوْ لَيَقْلِبَنَّ هَذَا الْحَجَرَ ذَهَبًا انْعَقَدَتْ يَمِينُهُ، وَحَنِثَ عَقِيبَهَا.

(٨) وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ فُلَانًا دَيْنَهُ الْيَوْمَ فَقَضَاهُ ثُمَّ وَجَدَ فُلَانٌ بَعْضَهُ زُيُوفًا أَوْ بنهْرَجَةً أَوْ مُسْتَحَقَّةً، لَمْ يَحْنَثْ، وَإِنْ وَجَدَهَا سَتُّوقَةً أَوْ رَصَاصًا، حَنِثَ.

(٩) وَمَنْ حَلَفَ لَا يَقْبِضُ دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ فَقَبَضَ بَعْضَهُ، لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْبِضَ جَمِيعَهُ مُتَفَرِّقًا، وَإِنْ قَبَضَ دَيْنَهُ فِي وَزْنَيْنِ لَمْ يَتَشَاغَلْ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِعَمَلِ الْوَزْنِ، لَمْ يَحْنَثْ وَلَيْسَ ذَلِكَ بِتَفْرِيقٍ.

(١٠) وَمَنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّ الْبَصْرَةَ فَلَمْ يَأْتِهَا حَتَّى مَاتَ، حَنِثَ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ.

## ژباړه

(١) چا چې قسم وکړ او ورسره يې ان شاء الله وويل، نه حانثيږي. که قسم يې وکړ چې که يې په وس و خامخا به ورشي نو له دې (وس) څخه مطلب روغتيا ده نه (حقيقي) قدرت.

(٢) اوکه قسم يې وکړ چې له فلاني سړي سره به تر (نامعلوم) وخته يا زمانې، يا تر (معلوم) وخته يا زمانې پورې خبرې ونه کړم، دا په شپږو مياشتو(قسم) دی او د امام ابويوسف او امام محمد (رحمهما الله) په نزد (د) دهر (تکی) هم همدا شان دی. که يې قسم وکړ چې څو ورځې به ورسره خبرې ونکړي، نو دا په درې ورځو محمول دی. اوکه يې قسم وکړ چې له هغه سره به تر معلومو ورځو خبرې ونکړي، نو د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد په لسو ورځو(قسم) دی او د صاحبينو په نزد د اونۍ په ورځو(قسم) دی او که يې قسم وکړ چې تر مياشتو به ورسره خبرې ونکړي، نو د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد په لسو مياشتو قسم دی او د صاحبينو (رحمهما الله ) په نزد په دولسو مياشتو قسم دی. که يې قسم وکړ چې داسې به ونه کړم، نو هغه دې ابدا (ټول عمر) نه کوي اوکه يې قسم وکړ چې داسې به خامخا وکړم او هغه کار يې يو ځل وکړ نو قسم کې رښتونی شو.

(۳) چا چې قسم وکړ چې ښځه به یې د ده له اجازې پرته نه وځي، بیایې د یوځل لپاره ورته د وتلو اجازه ورکړه، هغه ووتله، بیا بل ځل د ده له اجازې څخه پرته ووتله، نو دی حانث شو(قسم پرې واوښت). او په هر وار (وتلو) کې اجازه اخیستل ضروري دي. او که ورته یې وویل چې مگر داچې زه درته اجازه وکړم او یو وارې یې ورته اجازه ورکړه او ووتله، له هغه وروسته د ده له اجازې پرته بیا ووتله، حانث نه گرځي (قسم نه وربانديې اوړي).

(٤) که قسم یې وکړ چې غدا (ناشته) به ونه خوري، نو غدا (ناشته) هغه خوراك دی چې له سهار راختلو څخه تر ماسپښین پورې دی او عَشَاء (هغه خوراك دی چې) د ماسپښین له لمانځه څخه تر نیمې شپې پورې دی او سُحُور (پیښلمی) له نیمې شپې څخه د سهار تر راختلو پورې دی.

(٥) که قسم یې وکړ چې ژر به خپل پور پرې کوي، نو (له ژر څخه مراد) له یوې میاشتې څخه کمه(موده) ده.

او که یې وویل تر لیرې وخت پورې (به یې اداء کړم) نو دا به له میاشتې څخه زیاته موده وي.

(٦) که چا قسم وکړ چې په دې کور کې به نه اوسیږي، نو دی پخپله له هغه (کور) څخه ووت او خپل اهل او سامان یې هلته پریښود، دی حانث گرځي.

(٧) او که چا قسم وکړ چې خامخا به آسمان ته خیژي یا به دغه ډبره په سرو زرو بدلوي، نو قسم یې وتړل شو (په ځای دی) او دی به له هغه وروسته حانث شي(قسم به پرې واوړي).

(٨) که چا قسم وکړ چې د فلاني پور به نن خامخا ورکوي او هغه یې پرې کړ بیا هغه شخص وموندہ چې د (ورکړل شوي) پور ځینې برخې ناچلې، گډ وډ او د بل چا حق دی نو دی حانث نه گرځي او که یې (ټول) کوټه یا قلعی وموندل نو حانث گرځي.

(٩)که قسم یې وکړ چې خپل پور به درهم درهم (جلا جلا) وانخلم نو (بیا) یې یو څه برخه واخیسته نو دی نه حانثیږي تر څو چې ټول لږ لږ قبض نه کړي او که خپل پور یې په دوه ځله وزن کولو سره قبض کړ چې په مینځ کې یې له وزن کولو څخه پرته بل کار ونکړ نه حانثیږي

او دا اخيستل جلا جلا نه دي.

(۱۰)که چا قسم وکړ چې خامخا به بصرې ته ځي او بيا هلته تر هغې ولاړ نشو، ترڅو چې مړ شو، نو د ژوند په اخري برخه کې حانث ګرځي.

## شرحه

په قسم کې عامه قاعده دا ده چې د هر قوم الفاظ د هغو په دود او عرف حمل کيږي، خلک چې له الفاظو څخه کومې معناوې اخلي د شريعت له مخې هغه اعتبار لري.

**د وس لرلو په صورت کې قسم**: که چا قسم وکړ چې که په وس کې و، نو هغه ته به راشي. دلته له وس لرلو څخه مقصد روغوالی دی، ځکه چې په عرف کې ورڅخه مقصد روغوالی اخيستل کيږي نه حقيقي وس.

**په قسم کې د ان شاءَ الله ويل**: که څوک له قسم څخه مخکې يا وروسته متصل ان شاء الله ووايي هغه شخص نه حانثيږي، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې معنايې دا ده: چا چې په الله قسم وکړ او ان شاء الله يې وويل، هغه په خپل قسم کې نه حانث کيږي.[1]

**په وخت او زمانې پورې تړلی قسم**: که چا په قسم کې د حين او زمان لفظ استعمال کړ، لکه قسم وکړي چې زه به تر يوه وخته يا تر يوې زمانې پورې ورسره خبرې ونکړم، که هغه نکره وي او که معرفه نو د احنافو په نزد له هغه څخه شپږ مياشتې اخيستل کيږي ځکه حين کله د لږې مودې لپاره او کله د شپږو مياشتو لپاره او کله بيا د څلويښتو کلونو لپاره استعماليږي نو شپږ مياشتې درميانه وخت دی.

**په (الدهر) قسم**: که چا په قسم کې د (الدهر) کلمه معرفه استعمال کړه، نو د عرف له مخې ټول عمر ورڅخه مراد اخيستل کيږي او که يې نکره استعمال کړه له هغه څخه مراد د صاحبينو په نزد شپږ مياشتې اخيستل کيږي.

**په(ايام) قسم**: که يې په قسم کې د ايام لفظ استعمال کړ لکه چې قسم وکړي چې تر ورځو به

۱. الموطآ برواية محمد بن الحسن الشيباني باب الاستثناء في اليمين ج ۳ ص ۱۳۶.

ورسره خبرې ونکړم، نو که يې ايام نکره ذکر کړه، نو مراد به ورځخه درې ورځې وي او که يې (الايام) معرفه ذکر کړ، نو لس ورځې ورځخه مراد اخيستل کيږي نو که يې په لسو ورځو کې ورسره خبرې وکړې حانث به شي، خو د صاحبينو په نزد د هفتې ورځې ورځخه مراد دي.

**ډېر ژر يا ليرې ويل**: که يې قسم وکړ چې ژر به خپل پور اداء کړي، نو د عرف د استعمال په بنسټ له دې ځخه له يوې مياشتې ځخه کمه موده مراد وي او که يې قسم وکړ چې په ليرې موده کې به يې اداء کړي، نو له دې ځخه مراد له يوې مياشتې ځخه زياته موده مراد ده.

**په خوراک او ځښاک کې قسم**: که چا قسم وکړ چې (غدا) به ونکړي نو له (غدا) ځخه مراد د غدا خوراک دی، او د غدا خوراک هغه دی چې د سهار له راختلو ځخه وروسته تر ماسپښينه پورې وخوړل شي، نو که څوک د همدې برخې په هر وخت کې خوراک وکړي حانث به شي. که قسم وکړي چې (عَشَاء) به ونکړي، نو مراد ورځخه هغه خوراک دی چې د ماسپښين له لمانځه ځخه تر نيمې شپې پورې وشي او که قسم وکړي چې سُحُور (پيښلمی) به ونه کړي نو مراد ورځخه هغه خوراک دی چې له نيمې شپې ځخه د سهار تر راختلو پورې وشي.

**په ناممکن عادي شي قسم**: که يو چا د داسې کار په اداء کولو قسم وکړ چې هغه عادتا ناممکن و، نو د قسم په يادولو سره سمدلاسه حانث ګرځي او قسم ورباندې اوړي، ځکه هغه د دې کار له کولو ځخه عادتا عاجز دی، لکه قسم وکړي چې زه به دا ډبره په سرو زرو اړوم.

## فعاليت

زده کوونکي دې د عرف د اعتبار په اړه خپلو کې بحث وکړي او د مثالونو په وړاندې کولو دې ځرګند کړي او په ايام او دهر کې دې د معرفې او نکرې تر منځ توپير روښانه کړي.

## ارزونه

۱. که څوک له قسم سره ان شاء الله ووايي حکم يې څه دی؟

۲. که څوک قسم په وس وکړي (که مې په وس و داکار به وکړم) حکم يې څه دی؟

۳. که څوک په حين،زمان، ايام او دهر پورې تړلی قسم وکړي حکم يې څه دی؟

٤. له غدا، عشاء او سُحور څخه د کوم وخت خوراکونه مراد دي؟

٥. په ناممکن شي قسم څه حکم لري؟

# د دعوا كتاب

(١) الْمُدَّعِي مَنْ لَا يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُومَةِ إِذَا تَرَكَهَا، وَالْمُدَّعَى عَلَيْهِ مَنْ يُجْبَرُ عَلَيْهَا إِذَا تَرَكَهَا.

(٢) وَلَا تُقْبَلُ الدَّعْوَى حَتَّى يَذْكُرَ شَيْئًا مَعْلُومًا فِي جِنْسِهِ وَقَدْرِهِ، فَإِنْ كَانَ عَيْنًا فِي يَدِ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ، كُلِّفَ إِحْضَارَهَا لِيُشِيرَ إِلَيْهَا بِالدَّعْوَى، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَاضِرَةً ذَكَرَ قِيمَتَهَا.

(٣) وَإِذَا ادَّعَى عَقَارًا حَدَّدَهُ، وَذَكَرَ أَنَّهُ فِي يَدِ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ وَأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ، وَإِنْ كَانَ حَقًّا فِي الذِّمَّةِ ذَكَرَ أَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ.

(٤) فَإِذَا صَحَّتْ الدَّعْوَى سَأَلَ الْقَاضِي الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَنْهَا، فَإِنْ اعْتَرَفَ بِهَا قَضَى عَلَيْهِ بِهَا وَإِنْ أَنْكَرَ سَأَلَ الْمُدَّعِي الْبَيِّنَةَ، فَإِنْ أَحْضَرَهَا قَضَى بِهَا وَإِنْ عَجَزَ عَنْ ذَلِكَ وَطَلَبَ يَمِينَ خَصْمِهِ واسْتَحْلَفَهُ عَلَيْهَا.

(٥) وَإِنْ قَالَ: لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ وَطَلَبَ الْيَمِينَ، لَمْ يُسْتَحْلَفْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ولَا يُرَدُّ الْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعِي.

(٦) وَلَا تُقْبَلُ بَيِّنَةُ صَاحِبِ الْيَدِ فِي الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ.

(٧) وَإِذَا نَكَلَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَنْ الْيَمِينِ، قَضَى عَلَيْهِ بِالنُّكُولِ، وَلَزِمَهُ مَا ادَّعَى عَلَيْهِ.

(٨) وَيَنْبَغِي لِلْقَاضِي أَنْ يَقُولَ لَهُ: إِنِّي أَعْرِضُ عَلَيْكَ الْيَمِينَ ثَلَاثًا فَإِنْ حَلَفْتَ وَإِلَّا قَضَيْتُ عَلَيْكَ بِمَا ادَّعَاهُ، فَإِذَا كَرَّرَ عَلَيْهِ الْعَرْضَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، قَضَى عَلَيْهِ بِالنُّكُولِ

(٩) وَإِذَا كَانَتْ الدَّعْوَى نِكَاحًا، لَمْ يُسْتَحْلَفْ الْمُنْكِرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَلَا يُسْتَحْلَفُ فِي النِّكَاحِ وَالرَّجْعَةِ وَالْفَيْءِ فِي الْإِيلَاءِ وَالرِّقِّ وَالِاسْتِيلَادِ وَالْوَلَاءِ وَالنَّسَبِ وَالْحُدُودِ.

(١٠) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُسْتَحْلَفُ فِي ذَلِكَ كُلِّهِ إِلَّا فِي الْحُدُودِ وَاللِّعَانِ

(١١) وَإِذَا ادَّعَى اثْنَانِ عَيْنًا فِي يَدِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، وَكُلُّ وَاحِدٍ يَزْعُمُ أَنَّهَا لَهُ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ، قُضِيَ بِها بَينَهُمَا. وَإِنْ ادَّعَى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِكَاحَ امْرَأَةٍ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ، لَمْ يُقْضَ بِوَاحِدَةٍ مِنْ الْبَيِّنَتَيْنِ وَرُجِعَ إِلَى تَصْدِيقِ الْمَرْأَةِ لِأَحَدِهِمَا.

## ژباړه

(١) مُدَّعِي هغه څوك دى چې كه خصومت پرېږدي، څوك يې مجبورولاى نشي. مُدَّعَى عَلَيهِ هغه څوك دى چې كه دعوا پرېږدي هغه پرې مجبوريدلاى شي.

(٢) دعوا تر هغه نه منل كيږي، ترڅو د مُدَعى(كوم شى چې دعوى پرې ده) جنس او اندازه معلومه شوې نه وي، كه هغه عين (معلوم شى) او د مدعى عليه په لاس كې و، د هغه حاضرولو ته اړويستل كيږي، ترڅو په دعواكې ورته اشاره وكړي او كه حاضر نه و، د هغه بيه دې څرگنده كړي.

(٣) كه يې د جايداد دعوه وكړه، نو حدود دې وښيي او ياده به كړي چې هغه د مدعى عليه په لاس كې دى او دى يې ورنه غواړي، او كه د هغه په ذمه (غاړه) حق و، نو دا دې ووايي چې دى يې ورنه غواړي.

(٤) كله چې دعوا صحت ومومند، قاضي به له مدعى عليه څخه د هغې پوښتنه وكړي، كه په هغې يې اعتراف وكړ، نو حكم به پرې وكړي او كه منكر شو، نو له مدعي څخه به بينه (شاهدان) وغواړي، كه يې حاضر كړل فيصله به پرې وكړي او كه ورڅخه عاجز شو او د خصم (مدعى عليه) د قسم غوښتنه يې وكړه، ورته به قسم وركړي.

(٥) كه يې وويل چې زما شاهدان موجود دي خو د قسم غوښتنه يې وكړه، د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد قسم نه وركول كيږي او مدعي ته قسم نه ورگرځول كيږي.

(٦) د قبضې د خاوند شاهدان په مطلق ملك كې نه قبليږي.

(٧) كله چې مدعى عليه له قسم كولو څخه انكار وكړ، نو د نكول په بنسټ به پرې حكم

وکړي او هغه څه به ورباندې لازم کړي چې پرې دعوا ده.

(۸) قاضي ته پکار دي چې ده ته ووايي: زه تا ته درې ځلې قسم وړاندې کوم، که دې (قسم) وکړ (نو ښه ده) او که نه په تا باندې دده د دعوا حکم کوم. کله يې چې د قسم وړاندې کول درې ځلې تکرار کړل او قسم يې ونکړ، نو د نکول په وجه به ورباندې حکم وکړي.

(۹) که دعوا د نکاح وي نو د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد منکر لره قسم نشته. په نکاح، رجعت، په ايلاء کې په رجوع، غلامی، ام ولد کولو، نسب، ولاء او په حدودو کې قسم نه ورکول کيږي.

(۱۰) صاحبينو ويلي: په دې ټولو کې قسم ورکول کيږي مگر په حدودو او لعان کې (قسم نه ورکول کيږي).

(۱۱) که دوو تنو په يوه عين دعوا وکړه چې د دريم شخص په لاس کې و، او هر يو له دوی گمان کاوه چې هغه د ده دی، او دواړو بينه (شاهدان) راوستل، نو فيصله به وشي چې دا شی د دواړو دی او که دوو تنو له يوې ښځې سره د نکاح دعوا وکړه او دواړو بينه (شاهدان) راوستل، نو فيصله به د يوه په بينه (شاهدانو) هم نه کيږي او رجوع به د ښځې تصديق ته کيږي (هر يو يې تاييد کړ ښځه د هغه گڼل کيږي).

## شرحه

**د دعوا تعريف**: دعوا په عربي ژبه کې غوښتلو ته وايي او د فقهاوو په اصطلاح کې: د داسې چا په حضور کې د خپل حق غوښتنه ده چې د ثبوت په وړاندې کولو ورته په لاس ورتلای شي.

**مدعي**: هغه څوک دی چې د بل چا په ذمه د حق ثابتيدل غواړي.

**مدعي عليه**: هغه دی چې منکر وي.

**خصومت**: نزاع او جدال ته وايي.

**په دعوا کې د شي د جنس او قدر معلومول**: ځوك چې په يو چا د يوه شي دعوا کوي د هغه ډول او اندازه بايد معلومه وي، لکه چې و وايي سره زر يا سپين زر يا وو ايي لس درهمه يا پنځه ديناره، ځکه که دا شيان بيان نه کړي نو بيا به په يو مجهول شي دعوا وي او په مجهول شي باندې دعوا نه صحيح کيږي.

او که هغه شی د مدعی عليه په لاس کې وي، نو مدعی عليه په دې مکلف کيږي چې هغه د حکم مجلس ته حاضر کړي څو مدعي او شاهدان ورته اشاره وکړي، او که له مدعی عليه سره حاضر نه و، يعني هلاك شوی يا غصب شوی و، نو په مدعي لازم دي چې قيمت يې وښيي څو مدعٰی به معلوم شي، ځکه د قيمت په وسيله شی پېژندل کيږي.

## د جايداد معلومول

که يو چا د جايداد دعوا وکړه چې زما جايداد له مدعی عليه سره دی او دی د خپل حق غوښتونکی دی، نو مدعي ته پکارده چې د هغه حدود او څلور خواوې وښيي، ځکه چې هغه نقليدونکی شی نه دی چې د قاضيٍ مجلس ته يې راوړي او اشاره ورته وشي، نو د څلورو خواوو حدود او همدا شان د حدودو د خاوندانو نومونه او د هغوی د نسب ذکر کول ضروري دي. د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په وړاندې د هغو د نيکه د نامه يادول هم ضروري دي.

## د دعوا صحيح کيدل

کله چې دعوا صحيح شي، يعني د دعوا شرطونه پوره شي، لکه د خصم موجود والی، د مدعي او مدعی عليه عاقل والی، د دعوا کړي شي معلوموالی او نور، نو قاضي به له مدعی عليه څخه پوښتنه وکړي، که هغه د مدعي حق ومنلو، نو فيصله به پرې وکړي، او که يې د هغه له حق څخه انکار وکړ، نو له مدعي څخه به د شاهدانو د راوستلو غوښتنه وکړي، که يې حاضر کړل نو ښه ده او که يې حاضر نشوای کړای او له قاضی څخه يې غوښتنه وکړه چې مدعی عليه ته چې د ده له حق څخه منکر دی قسم ورکړي، نو قاضي به هغه ته قسم ورکړي او فيصله به وکړي.

**مدعي ته قسم نه ورکول کيږي**

که چيرې مدعی عليه له قسم کولو څخه انکار وکړي نو مدعي ته قسم نه ورکول کيږي، بلکې قاضي به په مدعی عليه باندې د مدعي دعوا لازمه کړي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې معنا يې دا ده: د شاهدانو راوستل په مدعی دي او قسم په هغه چا دی چې منکر وي.

**درې ځلې د قسم وړاندې کول**

که مدعی عليه د قسم کولو څخه انکار وکړي نو د ده په يو وار قسم نه کولو به قاضي په ده فيصله وکړي، که هغه حقيقي انکار وي، لکه چې ووايی قسم نه کوم، يا حکمي انکار چې له قسم کولو څخه چوپه خوله پاتې شي، خو مناسبه دا ده چې قاضي ده ته درې ځلې قسم ورورړاندې کړي، که يې انکار وکړ، نو فيصله به پرې وکړي.

**په لاندې مسئلو کې په مدعی عليه قسم نشته**

۱. **نکاح**: مثلا احمد د نکاح مدعي وي او ښځه منکره وي، ښځې ته قسم ورکول نشته، يا ښځه دعوا وکړي او احمد منکر شي، احمد ته قسم ورکول نشته.

۲. **رجعت**: مثلا عثمان د عدت له تيريدو څخه وروسته دعوه وکړي چې ما د عدت په وخت کې خپلې ښځې ته رجوع کړې ده او ښځه له دې څخه منکره وي، يا بر عکس.

۳. **په ايلاءکې رجوع**: مثلا زيد د ايلاء د مودې له تيريدو څخه وروسته دعوا وکړي چې ما د ايلاء په موده کې له ايلاء څخه رجوع کړې وه او ښځه له دې څخه منکره وي، يا بر عکس.

۴. **رق**: مثلا حامد په يوه مجهول النسب شخص باندې دعوا وکړي چې دا زما مريی دی او هغه منکر وي، يا مريی ووايي: دا مې مولا دی او هغه منکر وي.

۵. **استيلاد**: مثلا وينځه په خپل بادار باندې دعوه وکړي چې زه د ده د اولادونو مور يم او دا بچې دده دي او بادار له دې څخه منکر وي.

۶. **نسب**: مثلا عمر په يو چا دعوا وکړي چې دا زما زوی دی او هغه منکر وي.

۷. **ولاء**: مثلا زيد په چا دعوا وکړي چې دا زما مولا د موالات دی، يا زما معتق (آزادوونکی) دی او هغه له دې څخه منکر وي.

۸. **حدود**: مثلا يو څوك په بل چا د حد دعوا وکړي او هغه منکر وي.

۹. **لعان**: مثلا ښځې په خاوند دعوا وکړه چې زما خاوند له ما سره لعان کړی دی او خاوند له دې څخه منکر وي، نو په دې صورت کې خاوند ته قسم نه ورکول کيږي. څرنگه چې د قسم له وړاندې کولو څخه گڼه نکول دی او د نکول په صورت دعوا ثابته گڼل کيږي او په پورته صورتونو کې په نکول دعوا نه ثابتيږي او قسم بې گټې گرځي، نو ځکه قسم نه ورکول کيږي.

صاحبين وايي: له لعان او حدودو پرته په نورو ټولو کې قسم شته، ځکه نکول د دوی په نظر اقرار دی او په دې شيانو کې اقرار راتلای شي.

### په يوه شي د دوو کسانو دعوا

که په يوه شي د دوو کسانو دعوا وه او هغه شی د دريم شخص په لاس کې و او دوی دواړو شاهدان قايم کړل، نو د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد د دواړو شاهدي منل کيږي او دغه شی د دواړو شريك دی، ځکه چې دواړه د استحقاق په سبب کې چې شاهدان دي، سره برابر دي او دغه شی هم د اشتراك وړ دی.

### د يوې ښځې په نکاح د دوو کسانو دعوا

که دوو کسانو يوې ښځې سره په نکاح کولو باندې شاهدان وړاندې کړل، نو د دواړو شاهدان ساقط (بې اعتباره) دي، ځکه چې دلته د املاکو په څېر شرکت ممکن نه دی، نو ښځه به د هغه چا وي چې ښځه يې تصديق وکړي چې دغه سړي په نکاح کړې يم، دا په هغه صورت کې چې دواړو نېټه نه وي بيان کړې، که يې نېټه بيان کړه بيا چې د هر يوه د نکاح نېټه مخکې وه ښځه به دهغه وي.

## فعالیت

یو شاګرد دې د نورو په وړاندې د متن دغه جمله شرحه کړئ: او د قبضې د خاوند شاهدان په مطلق ملک کې نه قبلیږي.

## ارزونه

۱. د دعوا، مدعي، مدعی علیه او خصومت تعریف وکړئ.

۲. د یوه شي په دعوا کې د هغه د جنس او اندازې معلومول ولې ضروري دي؟

۳. د جایداد په معلومولو کې څه شی ضروري دی؟

٤. کله چې دعوا صحیح شي، قاضي ته څه کول پکار دي؟

٥. که مدعی علیه قسم ونکړي نو آیا مدعي ته قسم ورکول کیږي او دلیل یې څه دی؟

٦. منکر نه به قاضي څو ځلې قسم غوښتنه کوي؟

۷. په کومو امورو کې په مدعی علیه باندې قسم نشته؟

۸. که په یوه شي  دوو کسانو دعوا کړې وي او دواړه شاهدان راولي حکم یې څه دی؟

۹. که د یوې ښځې په نکاح دوه کسان دعوا وکړي او دواړه شاهدان ولري حکم یې څه دی؟

## کورنۍ دنده

هغه امور چې په هغو کې مدعی علیه ته قسم نه ورکول کیږي په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# دعوا (٢)

په تير لوست كې د دعوا په مختلفو مسايلو وپوهيدو، په دې لوست كې د دعوا بحث ته ادامه وركوو او غواړو د دعوا په ځينو نورو صورتونو باندې ځان پوه كړو.

(١) وَإِنْ ادَّعى اثْنَانِ عَلَى رَجُلٍ، كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَزْعُمُ أَنَّهُ اشْتَرَى مِنْهُ هَذَا الْعَبْدَ، وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ، فَكُلُّ واحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ، إِنْ شَاءَ أَخذَ نِصْفَ الْعَبْدِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ، فَإِنْ قَضى بِهِ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا فَقالَ أَحدُهُمَا: لَا أَخْتَارُ، لَمْ يَكُنْ لِلْآخَرِ أَنْ يَأْخُذَ جَمِيعَهُ. وَلَوْ ذَكَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَارِيخًا فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا، وَإِنْ لَمْ يَذْكُرَا تَارِيخًا وَمَعَ أَحَدِهِمَا قَبْضٌ فَهُوَ أَولى بِهِ.

(٢) فَإِنْ ادَّعَى أَحَدُهُمَا شِرَاءً وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا، وأَقَامَا الْبَيِّنَةَ وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا فَالشِّرَاءُ أَوْلَى، وَإِنْ ادَّعى أَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ وَادَّعَتْ امْرَأَةٌ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا عَلَيْهِ فَهُمَا سَوَاءٌ.

(٣) وَإِنْ ادَّعى أَحَدُهُمَا رَهْنًا وَقَبْضًا وَالْآخَرُ هِبَةً وَقَبْضًا، فَالرَّهْنُ أَوْلَى مِنَ الْهِبَةِ.

(٤) وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجَانِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ وَالتَّارِيخِ فَصَاحِبُ التَّارِيخِ الْأَبْعَدِ أَوْلَى، فَإِنْ ادَّعَيَا الشِّرَاءَ مِنْ وَاحِدٍ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى تَارِيخَيْنِ فَالْأَوَّلُ أَوْلَى، وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً عَلَى الشِّرَاءِ مِنْ آخَرَ وَذَكَرَا تَارِيخًا فَهُمَا سَوَاءٌ، وَإِنْ أَقامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلى مِلْكٍ مُؤَرَّخٍ وَأَقَامَ صَاحِبُ الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلى مِلْكٍ أَقْدَمَ تَارِيخًا كَانَ أَوْلَى.

(٥) وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ وَصَاحِبُ الْيَدِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهَا بَيِّنَةً بِالنِّتَاجِ، فَصَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى.

(٦) وَكَذَلِكَ النَّسْجُ فِي الثِّيَابِ الَّتِي لَا تُنْسَجُ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً وَكُلُّ سَبَبٍ فِي الْمِلْكِ لَا يَتَكَرَّرُ.

(٧) فَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ بَيِّنَةً عَلَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ وَصَاحِبُ الْيَدِ بَيِّنَةً عَلَى الشِّرَاءِ مِنْهُ، كَانَ

صَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى، وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ مِنْ الْآخَرِ وَلَا تَارِيخَ مَعَهُمَا تَهَاتَرَتْ الْبَيِّنَتَانِ.

(٨) وَإِنْ أَقَامَ أَحَدُ الْمُدَّعِيَيْنِ شَاهِدَيْنِ وَالْآخَرُ أَرْبَعَةً فَهُمَا سَوَاءٌ.

## ژباړه

(١) که دوو کسانو پر یوه سړي دعوا وکړه، هر یو ویل چې دغه مریی یې له ده څخه اخیستی دی او شاهدان یې هم تیر کړل، نو د دوی دواړو څخه هر یوه ته اختیار دی، که غواړي په نیم قیمت دې نیم غلام واخلي او که غواړي پرې دې یې ږدي، که قاضي د دواړو دپاره د غلام فیصله وکړه بیا یو له دوی څخه وویل: زه یې نه غواړم، د بل لپاره جائز نه دي چې ټول غلام واخلي، که دواړه نیټه ذکر کړي، نو غلام به د لومړی نیټې والا وي او که نیټه ونه ښیي او له یوه سره قبضه وي، نو هغه (د قبضې والا) غوره دی.

(٢) که یو له دوی څخه د اخیستلو دعوا ولري او بل د هبې او قبضې او دواړو بینه (شاهدان) قائم کړل او نیټه له یوه سره هم نه وه نو اخیستونکی غوره دی، او که یوه له دواړو د اخیستلو دعوا وکړه او ښځې دعوا وکړه چې ده له ماسره په دې (غلام) واده کړی دی نو دواړه برابر دي.

(٣) که یو د دوی د رهن (ګروي) او قبض دعوا وکړي او بل د هبې او قبضې نو د رهن والا غوره دی له هبې څخه.

(٤) که دوو غیر قابضو کسانو (چې مال یې په لاس کې نه وي) په ملکیت او تاریخ شاهدان راوړل نو د وړاندې تاریخ خاوند غوره دی، او که دواړو له یوه تن څخه د اخیستلو دعوا وکړه او د دوو تاریخونو شاهدان یې راوړل نو د اول تاریخ والا غوره دی، او که هر یوه له بل څخه د اخیستلو شاهدان رواړل او دواړو تاریخ ذکر کړ، نو دواړه برابر دي، که غیر قابض شخص په ملک چې تاریخ هم لری شاهدان وړاندې کړل او د قبضې خاوند په ملک باندې شاهدان

راوړل چې تاریخ یې ړومبی و نو دا (د قبضې او ړومبي تاریخ لرونکی) غوره دی.

(۵)که غیر قابض او قابض هر یوه د نتاج (زیږېدلي) شاهدان راوړل نو قابض غوره دی.

(٦) همدا شان د جامې اوبدل دي د هغې جامې چې نه اوبدله کیږي مګر یو وار او هر سبب چې په ملک کې نه تکراریږي (هماغه حکم لري).

(۷) که غیر قابض شخص د مطلق ملک شاهدان راوړل او د قبضې خاوند له هغه څخه د اخیستلو شاهدان راوړل، نو د قبضې والا غوره دی، او که هر یوه له دوی څخه له (یو)بل څخه د اخیستلو شاهدان راوړل او تاریخ له دواړو سره نه و، نو د دواړو لورو شاهدان ساقط دي.

(۸) که یوه مدعی دوه شاهدان راوړل او بل څلور شاهدان، نو دوی دواړه برابر دي.

## شرحه

**د دوو کسانو د دعوا مختلف صورتونه:**

**د دوو کسانو لخوا، له یوه شخص څخه د شي د اخیستو دعوا:** که دوه کسان په یوه شي دعوا وکړي چې ما دغه شی له فلاني شخص څخه اخیستی دی، نو که دواړو نیټه نه وه بیان کړې او شی هم د دریم شخص په لاس کې و، نو د دواړو ګواهان منل کیږي او شی به هم نیم کړای شي، نیم یې د یوه او نیم یې د بل کیږي، ځکه دواړه د استحقاق په سبب کې سره برابر دي او شی هم د شراکت قابلیت لري، نو یوه ته په بل ترجیح نه ورکول کیږي

**له جلا کسانو څخه، د دوو کسانو له خوا د یوه شي د اخیستو دعوا:** که دواړو د دعوا د اثبات لپاره شاهدان هم وړاندې کړل او دواړو نیټه بیان کړه نو د قاضي په حضور کې که هر یوه د اخیستلو نیټه مخکې وښوده هغه شی د هغه دی، ځکه د وروسته نیټې د خاوند ګواهان د پردي شي په خرڅولو ګواهان بلل کیږي، او که یوه هم نیټه ونه ښوده او هغه شی د یوه په قبضه کې وي، هغه شی د قبضې والا دی، ځکه قبضه او په واک کې لرل ده ته په بل ترجیح ورکوي.

**د یوه شي د اخیستلو او دبل د هبې دعوا:** که دوو کسانو په یوه شي دعوا وکړه، یوه یې

وويل: ما دغه متاع له فلاني شخص څخه اخيستې ده او بل دعوا وکړه چې ماته دغه متاع فلاني شخص هبه او تحفه راکړېده او ما تسليم کړې ده، او دواړو د خپلې دعوا د ثبوت لپاره شاهدان راوستل، نو د اخيستلو دعوا کوونکی غوره دی. ځکه په اخيستلو کې د دواړو خواوو له اړخه معاوضه ده او هبه يوازې په قبض کولو پورې تړلې ده، نو بيع د هبې په نسبت پياوړې عقد دی.

**د يوه د ګروی او د بل دهبې دعوا**: که يوه دعوا وکړه چې ما ته فلاني شخص دغه متاع ګرو راکړېده او ما تسليم کړې ده، او بل شخص دعوه وکړي چې ماته فلاني شخص هبه او تحفه راکړېده او ما قبض کړی ده، په دې صورت کې د ګروی دعوا کوونکی تر هغه بل لومړيتوب لري، ځکه د ګروی په صورت کې متاع په ضمانت کې ده، که هلاکه شي مضمونه ګڼل کيږي، نو د معاوضې عقد دی او هبه تبرع ده او معاوضه اولی ګڼل کيږي.

**په غير مقبوض شي دعوا**: که دوه کسانو پر يوه مدعی بها دعوا وکړه چې د دوی په قبضه کې نه وي او هر يوه دعوا وکړه چې مال يې په فلاني تاريخ اخيستی دی او شاهدان هم راوړي، نو که د دواړو تاريخ يو شان وي، دواړه په استحقاق کې سره برابر دي او که د يوه تاريخ وړاندې و، هغه غوره دی، ځکه چې هغه لومړنی مالك دی او د دويم شخص د ګواهۍ لپاره مجال نشته دی.

**د کوم مال د نِتاج دعوا**: که دوو کسانو چې يو يې د قبضې خاوند و، د يوه شي د نتاج دعوه وکړه، لکه چې ووايي: دغه بچې زما د څاروي دی او دواړو شاهدان وړاندې کړل، نو د چا په قبضه کې چې بچی دی هغه غوره او حقدار دی، ځکه که شاهدان دواړه لري خو قبضه د قبضې د خاوند ترجيح رامنځ ته کوي.

همدارنګه د داسي شي دعوه کول چې هغه يو وار ترسره کيږي، لکه چې ووايي دغه جامه ما اوبدلې ده او بل شخص دعوه وکړي چې ما اوبدلې ده، نو د چا په قبضه کې چې جامه وي هغه غوره او حقدار دی، ځکه دا هم د نتاج په معنا کې راځي، او هغه کار چې بار بار سرته

رسيږي په هره بينه په ځانګړي توګه سره ثابتيږي، لکه د جامو مينځل. که دوو دوبيانو د يو جوړ جامو په وينځلو ګواهان تير کړل، که څه هم جامې د يوه په لاس کې وي، دواړه وينځونکي ګڼل کيږي او د مزدورۍ د نيمايي حقدار دي.

**د ملک او اخيستلو دعوا**: که غير قابض شخص د يوه شي د مطلق ملکيت دعوه وکړه، يعنې د ملکيت د سبب د بيانولو پرته يې دعوه وکړه چې دا زما ملکيت دی، او قابض شخص چې مال يې په تصرف کې دی دعوا وکړه چې ده ورڅخه اخيستی دی، او دواړو د خپلې دعوا د اثبات لپاره ګواهان راوستل، نو د قبضې خاوند غوره او حقدار دی، ځکه دلته دواړه بينې رښتيا ګڼل کيږي، ملکيت د لومړي شخص وو بيا دويم شخص ورڅخه اخيستی دی، او که دوو تنو شاهدان وړاندې کړل او هر يوه وويل چې ده له مقابل لوري څخه اخيستې دی او نېټه هم ونه ښيي چې کله يې اخيستی دی، نو د دواړو شاهدان باطل دي او مال د ذو اليد ګڼل کيږي.

**د دوه او څلورو شاهدانو توپير**: که يو له مدعيانو څخه دوه شاهدان حاضر کړي او بل څلور شاهدان راولي دواړه سره برابر دي، ځکه د څلورو شاهدي لکه د دوو داسې ده او د زياتو شاهدانو په راوستلو کې کومه ترجيح يا غوره توب نه رامنځ ته کيږي.

## فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي او د دوو کسانو د دعوا مختلف صورتونه چې په درس کې ولوستل شول په خپلو منځونو کې په عملي ډول تطبيق کړي.

## ارزونه

د دوو کسانو د دعوا لاندې صورتونو ته ځواب ورکړئ:

۱. که دوه کسان د يوه شي د اخيستلو دعوا وکړي او دواړه لوري شاهدان هم وړاندې کړي کوم يو حقدار ګرځي؟

۲. که يو د اخيستلو او بل د هبې دعوا وکړي او دواړه شاهدان وړاندې کړي، کوم يو حقدار دی؟

۳. که يوه د ګروی او بل دهبې دعوا وکړي او دواړه لوري شاهدان ولري، کوم يو حقدار دی؟

٤. که دوه کسان د يوه داسې شي دعوه وکړي چې د دوی په تصرف کې نه وي اوهغه له دريم شخص سره وي حکم يې څه دی؟

۵. که دوه کسان دعوه وکړي چې دا د ده د خاروي بچی او د ده ملکيت دی، او په دوی کې يو د قبضې خاوند وي او دواړه شاهدان هم راولي حکم يې څه دی؟

٦. که يو د مطلق ملک دعوا ولري او بل د اخيستلو او دواړه شاهدان هم ولري حکم يې څه دی؟

۷. د دوو او څلورو شاهدانو توپيرڅه دی، ايا څلور تر دوو غوره توب لري؟

## کورنۍ دنده

په يوه شي د دوو کسانو د دعوا له مختلفو صورتو څخه درې صورتونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د دعوا کتاب (۳)

په تیر لوست کې مو د دعوا اړوند مختلف مسائل ولوستل، په دې درس کې غواړو چې په دعوا کې د ضامن اخیستل، د دعوا د دفع ځینې صورتونه، د قسم ورکولو کیفیت او ځینې نورې مسئلې وڅیړو.

(۱) وَمَنْ ادَّعَى قِصَاصًا عَلَى غَيْرِهِ فَجَحَدَ اُسْتُحْلِفَ، فَإِنْ نَكَلَ عَنْ الْيَمِينِ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ لَزِمَهُ الْقِصَاصُ، وَإِنْ نَكَلَ فِي النَّفْسِ حُبِسَ حَتَّى يُقِرَّ أَوْ يَحْلِفَ، وَعِنْدَهُمَا يَلْزَمُهُ الْأَرْشُ فِيهِمَا.

(۲) وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعِي: لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ قِيلَ لِخَصْمِهِ: أَعْطِهِ كَفِيلًا بِنَفْسِك ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ فَعَلَ وَإِلَّا أُمِرَ بِمُلَازَمَتِهِ إلَّا أَنْ يَكُونَ غَرِيبًا عَلَى الطَّرِيقِ، فَيُلَازِمُهُ مِقْدَارَ مَجْلِسِ الْقَاضِي.

(۳) فَإِنْ قَالَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ: هَذَا الشَّيْءُ أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ الْغَائِبُ، أَوْ رَهَنَهُ عِنْدِي، أَوْ غَصَبْته مِنْهُ، وَأَقَامَ بَيِّنَةً عَلَى ذَلِك، فَلَا خُصُومَةَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُدَّعِي، وَإِنْ قَالَ: ابْتَعْته مِنْ فُلَانٍ الْغَائِبِ فَهُوَ خَصْمٌ.

(٤) وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي: سُرِقَ مِنِّي، وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ وَقَالَ صَاحِبُ الْيَدِ: أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ، وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ لَمْ تَنْدَفِعْ الْخُصُومَةُ، وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعِي: ابْتَعْته مِنْ فُلَانٍ، وَقَالَ صَاحِبُ الْيَدِ: أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ ذَلِك بِعَيْنِهِ سَقَطَتْ الْخُصُومَةُ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ.

(٥) وَالْيَمِينُ بِاَللَّهِ تَعَالَى دُونَ غَيْرِهِ، وَيُؤَكَّدُ بِذِكْرِ أَوْصَافِهِ، وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِالطَّلَاقِ وَلَا بِالْعَتَاقِ.

(٦) وَيُسْتَحْلَفُ الْيَهُودِيُّ بِاَللَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى، وَالنَّصْرَانِيُّ بِاَللَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ الْإِنْجِيلَ عَلَى عِيسَى، وَالْمَجُوسِيُّ بِاَللَّهِ الَّذِي خَلَقَ النَّارَ، وَلَا يَحْلِفُونَ فِي بُيُوتِ عِبَادَاتِهِمْ.

(٧) وَلَا يَجِبُ تَغْلِيظُ الْيَمِينِ عَلَى الْمُسْلِمِ بِزَمَانٍ وَلَا بِمَكَانٍ.

(٨) وَمَنْ ادَّعَى أَنَّهُ ابْتَاعَ مِنْ هَذَا عَبْدَهُ بِأَلْفٍ فَجَحَدَهُ، اُسْتُحْلِفَ بِاَللَّهِ مَا بَيْنَكُمَا بَيْعٌ قَائِمٌ فِي الْحَالِ، وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاَللَّهِ مَا بِعْتَ، وَيُسْتَحْلَفُ فِي الْغَصْبِ بِاَللَّهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْكَ رَدَّ هَذِهِ الْعَيْنِ وَلَا رَدَّ قِيمَتِهَا، وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاَللَّهِ مَا غَصَبْتَ، وَفِي النِّكَاحِ بِاَللَّهِ مَا بَيْنَكُمَا نِكَاحٌ قَائِمٌ فِي الْحَالِ، وَفِي دَعْوَى الطَّلَاقِ بِاللَّهِ مَا هِيَ بَائِنٌ مِنْكَ السَّاعَةَ كَمَا ذَكَرَتْ وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاَللَّهِ مَا طَلَّقْتَهَا.

(٩) وَإِذَا كَانَتْ دَارٌ فِي يَدِ رَجُلٍ، ادَّعَاهَا اثْنَانِ، أَحَدُهُمَا جَمِيعَهَا، وَالْآخَرُ نِصْفَهَا، وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ، فَلِصَاحِبِ الْجَمِيعِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهَا، وَلِصَاحِبِ النِّصْفِ رُبُعُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هِيَ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا، وَلَوْ كَانَتْ الدَّارُ فِي أَيْدِيهِمَا، سَلِمَ لِصَاحِبِ الْجَمِيعِ نِصْفُهَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ، وَنِصْفُهَا لَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ.

(١٠) وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ، وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً أَنَّهَا نَتَجَتْ عِنْدَهُ وَذَكَرَا تَارِيخًا وَسِنُّ الدَّابَّةِ يُوَافِقُ أَحَدَ التَّارِيخَيْنِ فَهُوَ أَوْلَى وَإِنْ أَشْكَلَ ذَلِكَ كَانَتْ بَيْنَهُمَا.

(١١) وَإِذَا تَنَازَعَا فِي دَابَّةٍ، أَحَدُهُمَا رَاكِبُهَا، وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِلِجَامِهَا، فَالرَّاكِبُ أَوْلَى وَكَذَلِكَ إذَا تَنَازَعَا بَعِيرًا وَعَلَيْهِ حِمْلٌ لِأَحَدِهِمَا، فَصَاحِبُ الْحِمْلِ أَوْلَى، وَإِذَا تَنَازَعَا قَمِيصًا أَحَدُهُمَا لَابِسُهُ وَالْآخَرُ مُتَعَلِّقٌ بِكُمِّهِ، فَاللَّابِسُ أَوْلَى.

## ژباړه

(١) كه يو چا په بل شخص د قصاص دعوا وكړه او هغه منكر شو، نو قسم به وركول كيږي، كه په فيمادون النفس دعوا كې يې له قسم څخه نكول وكړ نو قصاص به پرې لازم شي او كه

يې په نفس کې نکول وکړ بندي به شي څو اقرار او يا قسم وکړي. او د صاحبينو رحمهماالله په نظر په دواړو کې وربانديې ارش(تاوان) لازميږي.

(٢) که مدعي ووېل: زما شاهدان حاضر دي، نو مقابل لوري ته به ووېل شي چې تر درېو ورځو پورې کفيل بالنفس (ضامن) ورکړه، که يې ورکړ (ښه ده) او که نه نو ورته به امر وشي چې ورپسې شي (ترڅو ونه تښتي) مګر دا چې مدعي عليه د لارې مسافر وي، نو د قاضي تر مجلس پورې به ( مدعي ورسره وي).

(٣) که مدعی علیه ووېل: دغه شی له ماسره فلاني غائب شخص امانت یاګرو ایښی دی او یا مې ورڅخه غصب کړی (په زوره اخيستی) دی او په دې خبره يې شاهدان قائم کړل، نو د ده او د مدعی تر مینځ نور خصومت نشته. که ووايي چې ما له فلاني غائب شخص څخه اخيستی دی، نو دی بیا خصم دی.

(٤) که مدعي ووايي: له ما څخه يې غلا کړی دی او شاهدان يې پرې قائم کړل او قابض ووېل: له ماسره فلاني امانت ایښی دی او شاهدان يې قائم کړل خصومت نه دفع کيږي، او که مدعي ووېل ما له فلاني شخص څخه اخيستی دی او د قبضې خاوند ووېل ما سره فلاني شخص امانت ایښی دی نو خصومت به د شاهدانو له وړاندې کولو پرته دفع(ساقط) شي.

(٥) قسم به په الله کوي، نه په غير الله باندې، خو د الله د صفتونو په ذکر کولو سره تاکيد کيدای شي، په طلاق او عتاق ورنه قسم نه غوښتل کيږي.

(٦) له يهودي څخه به په هغه الله چې په موسی عليه السلام يې تورات نازل کړی دی، قسم غوښتل کيږي، له نصراني څخه به په هغه الله چې په عيسی عليه السلام يې انجيل يې نازل کړی دی، قسم غوښتل کيږي، له مجوسي (اتش پرست) څخه به په هغه الله چې اور يې پيدا کړی دی، قسم غوښتل کيږي او دوی ته به پخپلو عبادت خانو کې قسم نه ورکول کيږي.

(٧) مسلمانانو ته په قسم ورکولو کې په وخت يا ځای باندې تغليظ (شدت) لازم نه دی، (لکه قسم ورڅخه د رمضان په مياشت يا د منبر د پاسه واخلي).

(۸) چا چې دعوا وکړه چې ما د ده نه د ده غلام په يو زر اخيستى دى او هغه انکار وکړ، نو په الله به قسم کوي چې زما او د ده په منځ کې اوس بيع نشته، او په الله داسې قسم ورځخه نشي اخيستى چې په الله ما نه دى خرڅ کړى، په غصب کې به په الله قسم کوي چې د دې شي د بيرته اخيستلو مستحق نه دى او نه د دې شي د قيمت د بيرته اخيستلو مستحق دى او داسې قسم به نه کوي چې ما غصب کړى نه دى، په نکاح کې به قسم ورکوي چې اوس ستاسو په منځ کې نکاح نشته، او د طلاق په دعوا کې به قسم کوي چې دا له تا څخه اوس بائنه (جلا) نه ده، لکه چې دې بيان کړى دى، او داسې قسم به نه ورکول کيږي چې په الله قسم طلاقه کړې مې نه ده.

(۹) که کور د يوه سړي په لاس کې و او دوو کسانو د هغه (کور) دعوا وکړه، يوه د ټول کور او بل د نيمايي او دواړو شاهدان هم تېر کړل، د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد د ټول دعوا کوونکي ته به درې ربعې (درى په څلور) او د نيم دعوا کوونکي ته به ربع (څلورمه) برخه ورکول کيږي. امام ابو يوسف او امام محمد (رحمهما الله) ويلي دي چې هغه (کور) به د دوى دواړو په منځ کې درى برخې شي، او که کور د دوى دواړو په لاس کې و، نو هغه نيم چې د ملګري په لاس کې يې دى، په قضا ورکړل شي او هغه نيم به چې په خپل لاس کې يې دى، په ذواليدى ورته پاتې شي.

(۱۰) او که يې په يوه حيوان کې شخړه سره وکړه او له دوى دواړو څخه هر يوه شاهدان هم راوستل، چې دا له ده سره پيدا شوى دى او دواړو نيټه هم وښودله او د څاروي عمر له يوې نيټې سره برابر وي، نو دغه به غوره او حقدار وي او که مشکل منځ ته راغى (د څاروي عمر له يوې نيټې سره هم برابر نه و) نو د دواړو به وي.

(۱۱) او که په څاروي يې سره دعوا شوه چې يو پرې سپور و او بل يې واګې (تير سرى) نيولى و، نو سپور غوره او حقدار دى، همداشان که يې په اوښ سره جګړه شوه او د دوى د يوه وربانديې بار و نو د بار والا غوره او حقدار دى، همدارنګه که يې په کميس کې سره جګړه راغله چې

يوه اغوستي و او بل يې لستوڼي نيولى و، نو اغوستونكى غوره او حقدار دى.

## شرحه

**د قصاص دعوا**: كه چا په بل شخص د قصاص دعوا وكړه او هغه منكرشو، نو منكر ته به قسم وركول كيږي. كه هغه له قسم كولو څخه نكول وكړ، نو دعوى ته به كتل كيږي چې هغه د نفس د قتل ده او كه له نفس څخه كمه، د نفس د اطرافو د پرى كيدو ده، كه د نفس د قتل دعوا وه، نو مدعى عليه به بندي كيږي چې يا اقرار او يا قسم وكړي، كه دعوا له نفس څخه كمه وه، نو له قسم كولو څخه د نكول په وجه به ترې قصاص اخيستل كيږي، دا حكم د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد دى، صاحبين وايي: په دواړو صورتونو كې به ارش ( مالي تاوان) وي، ځكه له قسم څخه نكول او منع راوړل يو داسې دليل دى چې شبهه پكې ده او قصاص ورباندې نه ثابتيږي، بلكې د مال موجب گرځي.

**له مدعى عليه څخه د ضامن اخيستل**: كه مدعي د يوه شي دعوا وكړه، ويې ويل چې زما شاهدان په ښار كې دي او له مدعى عليه څخه يې قسم كول وغوښتل، نو د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد قسم ورڅخه نشي اخيستل كيداى، او د صاحبينو په نزد قسم ورڅخه اخيستل كيداى شي، ځكه قسم د مدعي حق دى چې كله يې غوښتنه وكړي قسم ورڅخه اخيستل كيږي، خو امام ابوحنيفه (رحمه الله) وايي چې قسم يې هلته حق جوړيږي چې مدعي د شاهدانو له راوستلو څخه عاجز شي، دلته خو د شاهدانو د راوستلو امكان شته له همدې امله قسم ورڅخه نشي اخيستلى، بلكې له ده څخه به د دريو ورځو لپاره ضامن واخيستل شي چې دى چير ته ونه تښتي، كه ده د ضامن له وركولو څخه انكار وكړ، نو كه مدعى عليه د ښار اوسيدونكى و، نو تر دريو ورځو پورې به يا مدعي يا د مدعي امين په هغه پسې وي (تعقيبوي به يې) تر څو ونه تښتي او كه مدعى عليه د لارې مسافر وي نو د قاضي د فيصلې تر مجلس پورې به ورڅخه ضامن اخيستل كيږي، او كه له ضمانت څخه مخ واړوي

نو د قاضي د مجلس پورې به د هغه ساتنه کوي.

که مدعي په مقرر وخت کې شاهدان راولي نو ښه ده او که نه قاضي به مدعی علیه ته قسم ورکړي، که یې قسم وکړ یا مدعي قسم نه ورکاوه، پرې به یې ږدي، که یې نکول وکړ حکم به ورباندې وکړي.

**د دعوا دفع کول**: که مدعی علیه د مدعي د دعوا په ځواب کې ووایي چې د کوم شي چې ته دعوا کوې او هغه زما په قبضه کې دی، هغه ما له فلاني (غا ئب شخص) څخه د امانت په ډول یا په ګروی یا په غصب اخیستی دی او دغه دعوا یې په شاهدانو ثابته کړه او متنازع فیه شی په خپل حال موجود دی، نو د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په نزد د مدعي خصومت له مدعی علیه څخه دفع او ساقط شو، ځکه ده په بینه ثابته کړه چې د ده لاس د خصومت نه دی.

که مدعی علیه ووایی: ما دغه شی له فلاني غائب شخص څخه اخیستی دی، نو دی ځکه خصم دی چې ویې منل چې لاس یې د ملکیت دی، او که مدعي دعوا وکړه چې دغه شی له ما څخه غلا شوی دی او په دې یې شاهدان تېر کړل، او مدعی علیه ووایي: دغه شی له ما سره د فلاني امانت دی او په دې یې شاهدان هم قائم کړل، نو په دې صورت کې د شیخینو په نزد له مدعی علیه څخه خصومت نه دفع کیږي، ځکه چې دا خبره چې له ما غلا شوی دی، دا معنا ورکوي چې مدعی علیه را نه غلا کړې دی، خو دی یې د شفقت له مخې یاد نکړ چې ورباندې حد رانشي، نو داسې شوه لکه چې ورته ووایي: رانه یې غلا کړې دې. نو دا ورباندې د فعل دعوا شوه او له دې څخه بیله شوه چې ووایي: دا له ما څخه غصب شوی دی.

امام محمد (رحمه الله) وایي: دا داسې ده چې ووایي: له ما نه غصب شوی دی، ځکه په دواړو کې د فعل دعوا ورباندې نشته. که مدعي دعوا وکړه چې ما دغه شی کوم چې د مدعی علیه په لاس او قبضه کې دی، له حامد څخه اخیستی او مدعی علیه ووایي چې دا شی له ما سره حامد امانت ایښی دی، نو له مدعی علیه څخه بې له شاهدانو څخه خصومت دفع کیږي،

ځکه دواړه متفق دي چې له بل چا ورته رسېدلی دی او لاس یې د خصومت نه دی.

**قسم او د هغه طریقه**: قسم د الله تعالی جل جلاله په نامه ورکول کیږي، په حدیث مبارك کې راغلي دي چې که سړی قسم خوري نو هغه دي په الله تعالی قسم خوري او یا دې پټه خوله شي.[1] په طلاق او عتاق باندې به قسم نه کوي اگر که مدعي په همدې خبره اصرار وکړي، یعني داسې به نه وایي چې د ښځې په طلاق یا د مریي په عتاق (آزادولو) مې قسم دی، ځکه په طلاق او عتاق باندې قسم کول حرام دي.

**په قسم کې تغلیظ**: په مسلمان باندې په قسم کې په زمان او مکان باندې تغلیظ او شدت کول واجب نه دي، په زمان لکه چې د رمضان په میاشت کې، د قدر په شپه یا د جمعې په ورځ یا له مازدیگر څخه وروسته قسم ورکول، د مکان غلظت لکه په مسجد یا په کعبه معظمه یا په نبوي ممبر باندې قسم ورکول.

**د یهودي نصراني او مجوسي قسم**: یهودي به داسې وایي چې په هغه الله مې قسم دی چې تورات یې په موسی علیه السلام را نازل کړی، نصراني به وایي چې په هغه الله مې قسم دی چې انجیل یې په عیسی علیه السلام را نازل کړ او آتش پرست به داسې وایي چې په هغه الله مې قسم دی چې اور یې پیدا کړی، دوی ته به د دوی په عبادت خانو کې قسم نه ورکول کیږي.

**په سبب یا حاصل قسم کول**: انکارته به کتل کیږي، که مدعی علیه له سبب څخه منکر و، نو په سبب به قسم ورکول کیږي، او که له حکم څخه منکر و نو په حاصل قسم ورکول کیږي.

که چا دعوا وکړه چې ما له دې حاضر شخص څخه د ده غلام په یو زر افغانی اخیستی دی او مدعی علیه انکار وکړي چې ما ورباندې نه دی خرڅ کړی، نو په حاصل به قسم کوي چې زما او د ده په منځ کې اوس بیع قائمه نه ده، داسې قسم نه ورکول کیږي چې په الله قسم چې ما ورباندې نه دی خرڅ کړی، ځکه احتمال لري خرڅ کړی یې وي خو بیع یې فسخه کړې

---

۱. بخاري یې روایت کړی دی.

وي.

په غصب کې به مدعی علیه په الله قسم کوي چې نه د دې شي د بیرته اخیستلو مستحق دی او نه د هغه د قیمت، اوداسې قسم به نه کوي چې ما غصب کړی نه دی، ځکه احتمال لري چې غصب کړی یې وي او بیرته یې ورکړی وي یا یې ورڅخه د تحفې په ډول اخیستی وي.

په نکاح کې به په الله قسم کوي چې اوس زموږ په منځ کې نکاح نشته، د طلاق په دعوا کې به په الله قسم کوي چې دا له ما څخه اوس بائنه (جلا) نه ده، لکه چې دې ښځې بیان کړی دی، داسې قسم به په الله نه کوي چې ما دې ته طلاق نه دی ورکړی، ځکه احتمال لري طلاق یې ورکړی وي او بیا یې له سره نکاح تړلې وي.

**په یوه کور د دوو کسانو دعوا**: که کور د یوه سړي په لاس کې و دوو کسانو د هغه (کور) دعوا وکړه، یوه د ټول او بل د نیمایي او دواړو شاهدان هم تیر کړل نو د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد د ټول کور دعواکوونکي ته به درې ربعې (درې په څلور) او د نیم دعواکوونکي ته به ربع (څلورمه) برخه ورکول کیږي، ځکه د نیمي دعواکوونکی خو په باقي نیمه کې دعوا نه لري هغه خو د ټول کور د دعواکوونکي شو او د متنازع فیه نیمایي په دعواکې دواړه سره برابر دي، نو د دواړو ترمینځ به تقسیمیږي.

او امام ابو یوسف او امام محمد (رحمهما الله) ویلي دي چې هغه (کور) به د دوی دواړو په منځ کې درې برخې شي، ځکه د ټول دعواکوونکی د دوو سهمونو دعوا لري او د نیمایي دعوا والا د یوه سهم دعوا لري نو کور به درې تقسیمه شي دوه حصې به د ټول کور د دعوا والا ته ورکړل شي او یوه برخه به یې د نیمایي دعوا والا ته ورکړ شي.

او که کور د دوی دواړو په لاس کې و نو د ټول دعواکوونکي ته به نیم په فیصله سره وسپارل شي او نیم به پرته له فیصلې ورته پاتې شي، ځکه چې هغه د شریك په لاس کې نیمایي یې په شاهدانو د ځان کړ او دا په خپل لاس کې برخه یې په لاس کې هماغسې پاتې شوه چې پخوا وه.

**په یوه حیوان (څاروي) د دوو کسانو دعوا**: که په یوه داسې حیوان کې د دوو کسانو سره دعوا شوه چې د دوی په قبضه کې نه و، دواړو دعوه درلوده چې دا له ده سره زیږیدلی دی، هر یوه شاهدان هم راوستل، دواړه نیټه هم وښیي او د څاروي عمر له یوې نیټې سره برابر وي، نو د موافقې نیټې والا غوره او حقدار دی، ځکه د نیټې موافق ښودل د شاهدانو د صدق نښه ده.

که مشکل منځ ته راغی چې د څاروي عمر له یوې نیټې سره هم برابر نه و، نو د دواړو به وي؛ نیم د یوه نیم د بل.

او که یې په داسې څاروي کې سره دعوا راغله چې یو پکې ذو الید و، دواړو شاهدان هم راوستل، نو هغه به د ذو الید وي ولو که نیټه سمه هم ونه ښیي، ځکه شاهدان هم لري او قبضه هم.

که یو پرې سپور و او بل یې واګې (تیر سرې) نیولې و نو سپور غوره او حقدار دی.

همدا شان که یې په حیوان کې سره جنجال شو، یو ورباندې سپور و او بل یې لجام (واګې) نیولې وې، نو حیوان د سپاره شخص دي، ځکه تصرف یې تر بل روښانه دی.

که یې په اوښ سره شخړه وکړه، او د دوی د یوه ورباندې بار پروت و، نو د بار والا غوره او حقدار دی، ځکه هغه د تصرف څښتن دی.

همدارنګه یې که په کمیس کې سره جګړه راغله یوه اغوستی و او بل یې لستوڼی نیولی و، نو اغوستونکی غوره او حقدار دی، ځکه دی تر هغه بل زیات متصرف دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې په خپلو منځو کې د یهودي، نصراني او مجوسي د قسم کولو توپیر بیان کړي.

## ارزونه

۱. که چا په بل شخص د قصاص دعوا وکړه او هغه منکر شو، له منکر سره به څه کیږي؟

۲. له مدعی علیه څخه څه وخت ضامن اخیستل کیږي؟

۳. د دعوا د دفعه کولو ذکر شوي صورتونه بیان کړئ.

٤. قسم څنګه ورکول کیږي، طریقه یې بیان کړئ.

٥. ایا په قسم کې تغلیظ په کار دی؟

٦. د یهودي، نصراني او مجوسي د قسم کیفیت بیان کړئ.

۷. په سبب او حاصل باندې قسم کله ورکول کیږي، توپیر یې څه دی؟

۸. که یو کور د چا په لاس کې وي او دوه تنه ورباندې دعو وکړي یو د ټول کور او بل د نیم کور او دواړه شاهدان هم قائم کړي، حکم یې څه دی؟

# د پلورونکي او پیرودونکي ترمنځ په بیه کې اختلاف

لکه څرنګه چې په تیر لوست کې د دعوا د دفع او د مدعي او مدعی علیه ترمنځ د فیصلې د څرنګوالي یادونه وشوه، په دې لوست کې د بایع او مشتري ترمنځ اختلاف چې دوی هم مدعي او مدعی علیه دي بیانیږي.

(١) وَإِذَا اخْتلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ فِي الْبَيْعِ، فَادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا وَادَّعَى الْبَائِعُ أَكْثَرَ مِنْهُ، أَوْ اعْتَرَفَ الْبَائِعُ بِقَدْرٍ مِنْ الْمَبِيعِ وَادَّعَى الْمُشْتَرِي أَكْثَرَ مِنْهُ وَأَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ، قُضِىَ لَهُ بِهَا.

(٢) وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ، كَانَتْ الْبَيِّنَةُ الْمُثْبَتَةُ لِلزِّيَادَةِ أَوْلَى، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ قِيلَ لِلْمُشْتَرِي: إِمَّا أَنْ تَرْضَى بِالثَّمَنِ الَّذِي ادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ، وَقِيلَ لِلْبَائِعِ: إِمَّا أَنْ تُسَلِّمَ مَا ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مِنْ الْمَبِيعِ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ، فَإِنْ لَمْ يَتَرَاضَيَا، اسْتَحْلَفَ الْحَاكِمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى دَعْوَى الْآخَرِ يَبْتَدِئُ بِيَمِينِ الْمُشْتَرِي. فَإِذَا حَلَفَا فَسَخَ الْقَاضِي الْبَيْعَ بَيْنَهُمَا، فَإِنْ نَكَلَ أَحَدُهُمَا عَنْ الْيَمِينِ لَزِمَهُ دَعْوَى الْآخَرِ.

(٣) وَإِنْ اخْتَلَفَا فِي الْأَجَلِ أَوْ فِي شَرْطِ الْخِيَارِ أَوْ فِي اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الثَمَنِ، فَلَا تَحَالُفَ بَيْنَهُمَا، لِأَنَّ هَذَا اخْتِلَافٌ فِي غَيْرِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ وَالْمَعْقُودِ بِهِ، وَالْقَوْلُ قَوْلُ مَنْ يُنْكِرُ الْخِيَارَ وَالْأَجَلَ مَعَ يَمِينِهِ.

(٤) فَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ فَلَا تَحَالُفَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ، وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ مَعَ يَمِينِهِ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَتَحَالَفَانِ وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ عَلَى قِيمَةِ الْهَالِكِ.

(٥) وَإِنْ اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي الْمَهْرِ، فَادَّعَى الزَّوْجُ أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا بِأَلْفٍ، وَقَالَتْ: بِأَلْفَيْنِ، فَأَيُّهُمَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ قُبِلَتْ بَيِّنَتُهُ، وَإِنْ أَقَامَا جَمِيعًا الْبَيِّنَةَ، فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمَرْأَةِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ، تَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ وَلَمْ يُفْسَخْ النِّكَاحُ وَلَكِنْ يُحَكَّمُ مَهْرُ الْمِثْلِ، فَإِنْ كَانَ

مِثْلَ مَا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ أَوْ أَقَلَّ قُضِيَ بِمَا قَالَ الزَّوْجُ، وَإِنْ كَانَ مِثْلَ مَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ أَوْ أَكْثَرَ، قُضِيَ بِمَا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ، وَإِنْ كَانَ مَهْرُ الْمِثْلِ أَكْثَرَ مِمَّا اعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ وَأَقَلَّ مِمَّا ادَّعَتْهُ الْمَرْأَةُ، قُضِيَ لَهَا بِمَهْرِ الْمِثْلِ.

## ژباړه

(١) کله چې د بایع او مشتري ترمنځ په بیع کې اختلاف پیدا شي، اخیستونکي د لږثمن دعوا وکړي او خرڅونکي له هغو د زیاتو دعوا وکړي، یا خرڅونکي په یوه اندازه د مبیعې اعتراف وکړي او اخیستونکی له هغې څخه د زیات څه ادعا وکړي او یو له دوی څخه شاهدان تیرکړي، نو د ده دپاره به فیصله کیږي.

(٢) او که هر یوه د دوی ګواهان پیش کړل، نو ګواهان د زیاتوالي ثابتولو غوره دي او که یوه هم ګواهان قائم نه کړل، نو مشتري ته به وویل شي چې یا په هغه قیمت راضي شه چې بایع یي دعوا کوي، اوکه نه نو بیع فسخه کوو، او بایع ته به وویل شي چې یا هغه څه چې مشتري یي د بیعې په اړه دعوا لري تسلیم کړه او یا بیع فسخه کووم، که راضي نه شول حاکم به هر یو د دوی ته د بل په دعوا باندې قسم ورکړي. د قسم کولو شروع به د اخیستونکي په قسم کوي، کله چې دواړو قسم وکړ، قاضي به د دواړو په منځ کې بیع فسخه کړي، له دې دواړو څخه که یو یې له قسم کولو څخه نکول وکړي د بل دعوا پرې لازمه شوه.

(٣) که د نېټې یا خیار شرط یا د ثمن د ځینې برخې په لاس ته راوړلو کې یې اختلاف وکړ، په دې صورت کې یو بل ته قسم ورکول نشته، ځکه دا د معقود علیه او معقود به څخه پرته په بل څه کې اختلاف دی، د قسم سره د هغه چا خبره معتبره ده چې د خیار او تاریخ څخه منکر وي.

(٤) که مبیعه هلاکه شي او بیا اختلاف وکړي، د ابو یوسف (رحمه الله) په نزد یو بل باندې قسم خوړل نشته، او په ثمن کې د مشتري خبره د قسم سره معتبره ده او محمد (رحمه الله) وایي: چې دواړو ته به قسم ورکول کیږي او بیع به د هلاك شوي څیز په قیمت سره فسخه کیږي.

(۵) که ښځې او خاوند د مهر په اړه اختلاف وکړ، سړي په زر افغانیو مهر باندې د نکاح دعوا وکړه او ښځه ووايي: په دوه زره باندې، نو هر چا چې ګواهان قائم کړل د هغه ګواهان به منل کيږي، او که دواړو ګواهان ودرول، نو د ښځې ګواهان معتبر دي، که دواړو ګواهان نه لرل د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد به دواړو ته قسم ورکول کيږي او نكاح نه فسخه کيږي، ليکن په مهر مثل به حکم وکړي. که مهر مثل هغومره و چې خاوند يې دعوا کړې وه يا له هغې نه لږ و، په هغه څه به فيصله وشي چې خاوند ويلي وي، او که مهر مثل د ښځې د دعوا په اندازه و يا له هغې نه زيات و، نو د ښځې د وينا مطابق به فيصله کيږي، اوکه مهر مثل د خاوند له اقرار کولو څخه زيات و او د ښځې له دعوا څخه کم و، نو د ښځې لپاره به په مهر مثل فيصله کيږي.

## شرحه

**يو بل ته د قسم ورکولو (تحالف) بيان:** تحالف د تفاعل له باب څخه دی، د تفاعل باب د جانبينو له اړخه د کړنو صادريدل افاده کوي، د تحالف معنا د جانبينو قسم او سوګند خوړل دي. کله کله د اخيستونکي او خرڅونکي ترمنځ د بيلابيلو عواملو او سببونو له امله اختلاف پيدا کيږي. دغه اختلاف ايجابوي چې د دواړو ترمنځ خبره په قسم حل شي، ځکه چې هر يو د دوی مدعي او مدعی عليه دی، د دغه اختلاف څو صورتونه په لاندې ډول بيانوو:

**۱- د دواړو اختلاف د ثمن او مبيعې په اندازه کې:** که چيرې د اخيستونکي او خرڅونکي ترمنځ د ثمن په اندازه کې اختلاف پيدا شو. د مثال په توګه خرڅونکی وايي چې د مبيعې ثمن زر افغانۍ دی او اخيستونکی وايي چې پنځه سوه افغانۍ دی. يا د مبيعې د مقدار په اړه د دواړو اختلاف و، بايع ويل: لس کيلوګرامه و او اخيستونکی ويل: پنځلس کيلوګرامه و، په دې صورت کې که هر يوه يې شاهد راوستلو د هغه لپاره به فيصله کيږي، ځکه چې د ګواه خاوند خپله دعوا په حجت او دليل سره ثابته کړه، اوکه دواړو ګواهان راوستل، نو ګواهان د هغه چا غوره دي چې زياتوالی ثابتوي، ځکه چې ګواه د اثبات لپاره راوړل کيږي او څوک چې د زياتوالی دعوا کوي هغه مدعي شميرل کيږي، او ګواه راوړل د مدعي حق دی، او په زياتوالی کې کوم ټکر هم نشته. د ثمن په زياتوالي کې خرڅونکی مدعي دی او د مبيعې د

اندازی په زیاتوالي کې اخیستونکی مدعي دی.

**ب: د ثمن او مبیعې د اندازې په اړه اختلاف:** د مثال په توګه احمد دعوا وکړه چې دا موټر مې په محمود باندې په دوه سوه زره افغانۍ خرڅ کړی دی او محمود وایي دوه موټره مې د احمد څخه په سل زره افغانۍ اخیستي دي، او دواړو شاهدان حاضر کړل. د قیمت په اندازه کې د خرڅونکي ګواهان معتبر دي او د مبیعې په مقدار کې د اخیستونکې ګواهان معتبر دي، اوکه دواړه دګواهانو د وړاندې کولو څخه عاجز پاتې شول، دواړه دې په یو بل باندې په کړې دعوا راضي شي، د قیمت د اندازې د اختلاف په صورت کې دې قاضي اخیستونکي ته ووایي: کومه دعوا چې خرڅونکی لري هغه قبوله کړه اوکه نه بیعه به فسخه کړي او که د مبیعې د مقدار په اړه اختلاف و، نو خرڅونکي ته به قاضي ووایي: اخیستونکي د کومې اندازې دعوا کړې ده هغه ورته وسپاره، که نه بیعه فسخه کوم او یا به دواړه قسم خوري. نو که چیرې یو د بل په خبره راضي شول، نو حکم ښکاره او څرګند دی، اوکه داسې ونه شول نو دواړو ته به قسم ورکړي.

**چاته به لومړی سوګند ورکول کیږي؟:** د امام محمد (رحمه الله) په نزد لومړی اخیستونکي ته سوګند ورکول کیږي چې د امام ابو یوسف وروستی قول هم همدا دی. د امام ابوحنیفه (رحمه الله) څخه هم دغه ډول روایت شوی او دا صحیح هم دی، ځکه چې د ثمن مطالبه لومړی له مشتري څخه کیږي، نو هغه انکار کوي، خو دا هغه مهال چې د عین بیع د داسې شي په بدل کې وي چې هغه په ذمه باندې پور کېدای شي، یعنې مثلي وي. اوکه نه، یعنې د مقایضې بیع وي (عین په عین) قاضي اختیار لري چې هر یو ته قسم ورکړي. کله چې دواړو قسم وکړ، نو قاضي به بیع فسخه کړي، اوکه چیرې یو له دوی څخه له قسم کولو څخه انکار وکړ، نو د بل دعوا لازمه شوه.

**ج: د مودې په اړه اختلاف:** د مودې په اړه اختلاف دا دی چې خرڅونکی او اخیستونکی د وخت په هکله سره مختلف وي. د مثال په توګه اخیستونکی ووایي: ثمن په نیټه سره دي او خرڅونکی ووایي: ثمن معجل (نقد) دي، یا اخیستونکی ووایي: ثمن د یو کال په نیټه دي او خرڅونکی ووایي: قیمت د شپږو میاشتو په نیټه دی، یا یو ووایي: موده تاکل شوې او بل

وواییٖ: نه ده تاکل شوې.

**د: د خیار شرط په اړه اختلاف**: د مثال په توګه یو وواییٖ: زه دوه ورځې خیار لرم او بل وواییٖ: ته خیار نه لرې، یا یو د دریو ورځو د خیار دعوا کوي او بل واییٖ: خیار دوه ورځې دی.

**هـ: د قبض په اړه اختلاف**: د مثال په توګه مشتري وواییٖ: د مبیعې یوه برخه قیمت مې درکړی او خرڅونکی انکار وکړي، یا وواییٖ: دومره قیمت دې ترلاسه کړی او دی کم ومني. د احنافو په نزد به دواړه یو بل ته قسم نه ورکوي بلکې د دې حدیث (البینة علی المدعي و الیمین علی من انکر) پر بنسټ یوازې په منکر باندې قسم دی.

**و: د مبیعې د هلاکت څخه وروسته د ثمن د اندازې په اړه اختلاف**: مبیعه هلاکه شوه وروسته له دې څخه د بایع او مشتری ترمنځ د قیمت په اړه اختلاف پیدا شو. د امام ابویوسف (رحمه الله) په نزد د مشتري قول د قسم سره معتبر دی، ځکه چې همدی منکر دی. امام محمد (رحمه الله) واییٖ: دواړو ته باید قسم ورکړل شي، ځکه چې هر یو دعوا قائموي او بل ترې منکر دی، هرکله چې دواړو قسم وکړ، نو بیعه د هالك په قیمت سره فسخ کیږي. امام ابویوسف (رحمه الله) وایی چې د مبیعې د قبضولو څخه وروسته دواړوته قسم ورکول د قیاس خلاف دي.

**ز: د مبیعې د یوې برخې له هلاکت څخه وروسته اختلاف**: مبیعه دوه موټره وو، یو موټر وسوځید، بیا یې په ثمن کې اختلاف راغی. امام ابوحنیفه (رحمه الله) واییٖ: په دواړو قسم نشته او خبره د اخیستونکي معتبره ده له قسم سره مګر که بایع په دې راضي شو چې د هلاک شوي موټر برخه پرېږدي، نو دواړه به قسم وکړي او روغ موټر به ردوي او بایع لپاره هیڅ نشته. او طرفین واییٖ: دواړه به قسم وکړي او په پاتې موټر او د سوځیدلي په ثمن کې به بیع فسخه شي، دا هلته که د هلاک شوي موټر په قیمت اتفاق و او که یکې اختلاف و، د امام ابویوسف (رحمه الله) په نزد خبره د بایع له قسم سره معتبره ده او امام محمد (رحمه الله) واییٖ: د مشتري خبره د قسم سره معتبره ده.

**ح: د مهر په اړه د ښځې او میړه ترمنځ اختلاف**: د مثال په توګه د ښځې او خاوند

اختلاف په دې خبره راغی، خاوند ویل: چې نکاح په شل زره افغانۍ مهر سره شوې ده، او ښځې ویل چې په دیرش زره افغانۍ شوې ده، نو چاچې ګواهان راوستل د هغه دعوا معتبره ده او فیصله به یې په حق کې کیږي. اوکه دواړو ګواهان ودرول، د ښځې ګواهان معتبردي، ځکه چې ښځه زیاتوالی ثابتوي، اوکه دواړو ګواهان و نه درول، د امام صاحب (رحمه الله) په نزد په دواړو باندې قسم کول دي، خو نکاح نه فسخ کیږي، ځکه چې د هر یوه قسم د بل دعوا باطله کړه، نو د نکاح عقد د مهر له نومولو څخه پرته باقي پاتې شو، او د مهر نه مسمی کول نکاح نه فاسدوي، خو بیعه بیا داسې نه ده، کله چې ثمن مسمی نشي بیع فاسدیږي، هرکله چې د نکاح عقد باقي پاتې شو، نو په مهر مثل به حکم کړ شي لکه چې په متن کې واضح شو.

## فعالیت

یو شاګرد به د خپل ټولګي د نورو زده کونکو سره د مدعي او مدعی علیه د اختلاف صورتونه شریک کړي چې څو دي او دا دې هم روښانه کړي چې لومړی به چاته قسم ورکول کیږي.

## ارزونه

۱- د تحالف معنی بیان کړئ.

۲- د ثمن او مبیعې د اندازې په اړه د اختلاف صورت بیان کړئ.

۳- د ښځې او خاوند ترمنځ د مهر د اندازې په اړه د اختلاف صورت بیان کړئ.

٤- د مبیعې د ځینې برخې د هلاکیدو په اړه د اختلاف صورت ولیکئ

# د اجارې په اړه د مؤجر او مستأجر اختلاف

په تير لوست کې مو د بايع او مشتري ترمنځ اختلاف ولوست، په دې درس کې د اجير او مستأجر تر منځ اختلاف لولو.

(١) وَإِذَا اخْتَلَفَا فِي الْإِجَارَةِ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ تَحَالَفَا وَتَرَادَّا.
(٢) وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ اسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ لَمْ يَتَحَالَفَا وَيَكُونُ الْقَوْلُ قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ مَعَ يَمِينِهِ.
(٣) وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ تَحَالَفَا وَفُسِخَ الْعَقْدُ فِيمَا بَقِيَ وَكَانَ الْقَوْلُ فِي الْمَاضِي قَوْلَ الْمُسْتَأْجِرِ.
(٤) وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي مَتَاعِ الْبَيْتِ فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ فَهُوَ لِلرَّجُلِ وَمَا يَصْلُحُ لِلنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْمَرْأَةِ وَمَا يَصْلُحُ لَهُمَا فَهُوَ لِلرَّجُلِ.
(٥) فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا وَاخْتَلَفَ وَرَثَتُهُ مَعَ الْآخَرِ فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْبَاقِي مِنْهُمَا.
(٦) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُدْفَعُ لِلْمَرْأَةِ مَا يُجَهَّزُ بِهِ مِثْلُهَا وَالْبَاقِي لِلرَّجُلِ مَعَ يَمِينِهِ.
(٧) وَمَنْ ادَّعَى نَسَبَ أَحَدِ التَّوْأَمَيْنِ ثَبَتَ نَسَبُهُمَا مِنْهُ.

## ژباړه

(١) کله چې (موجر او مستأجر) په اجاره کې د معقود عليه د ترلاسه کولو څخه وړاندې اختلاف وکړي، نو دواړه به قسم وخوري او اجاره دې ختمه کړي.

(۲) که د معقود علیه د ترلاسه کولو څخه وروسته په خپلو کې اختلاف وکړي، دواړه به قسم نه خوري او د مستأجر قول له قسم سره معتبر دی.
(۳) او که د معقود علیه د ځینې برخې د ترلاسه کولو څخه وروسته یې اختلاف وکړ، نو دواړه به قسم وکړي او په پاتې برخه کې به عقد فسخ شي او په تېره کې د مستأجر قول معتبر دی.
(٤) کله چې ښځې او مېړه د کور د سامان په اړه خپلو کې اختلاف وکړ، نو کوم شیان چې د سړو وړ وي هغه د مېړه دي او هغه شیان چې د ښځو وړ وي هغه د ښځې دي، او کوم شی چې د دواړو وړ وي هغه د سړي کیږي.
(٥) که یو له دوی څخه مړ شو او وارثانو یې له بل (ژوندي) سره اختلاف وکړ، نو هغه شیان چې د سړو او ښځو وړ وي د پاتې (ژوندي) دي.
(٦) امام ابو یوسف (رحمه الله) وېلي: ښځې ته به هغه څه ورکول کیږي چې د هغې په څېر ښځو ته په جهیز کې ورکول کیږي او پاتې د سړي دي له قسم سره.
(۷) چا چې د غبرګونو (ماشومانو) څخه د یو د نسب دعوا وکړه، د دواړو نسب له ده څخه ثابتیږي.

## شرحه

**په اجاره کې اختلاف**: له متن سره سم په اجاره کې د اختلاف درې صورتونه په لاندې ډول روښانه کیږي:

**لومړی صورت**: که چیرې اجاره ورکوونکی او په اجاره نیونکي د معقود علیه (منفعت) له ترلاسه کولو وړاندې په اجورې یا منفعت کې اختلاف وکړي، د بېلګې په ډول اجاره نیونکی ووایي: یو کرولا ډوله موټر دې د یوې میاشتې لپاره په لس زره افغانۍ په اجاره راکړی، خو اجاره ورکوونکی ووایي: په پنځلس زره افغانۍ مې په اجاره درکړی و.

په دې صورت کې اجاره فسخ کیږي او دواړو ته قسم (تحالف) ورکول کیږي، ځکه چې هر

یو د بل له خبرې او دعوا منکر او د خپلې خبرې دعوا کوونکی دی.
که څه هم د تحالف لپاره د معقود علیه (منفعت) موجودیت ضروري دی خو دلته د اجاره شوي عین (موټر) موجودیت د منفعت په ځای کافي ګڼل کیږي او تحالف رامنځته کیږي.

**دویم صورت**: که چیرې اجاره ورکوونکی او په اجاره نیونکی د معقود علیه (منفعت) له ترلاسه کولو وروسته په اجورې یا منفعت کې اختلاف وکړي، تحالف نه رامنځته کیږي.
اصلا په دې مسایلو کې اجاره په بیعې قیاس ده، څرنګه چې په بیعه کې د تحالف لپاره د مبیعې شتون ضروري و، نو په اجاره کې هم د تحالف لپاره د معقود علیه (منفعت) موجودیت ضروري دی او دلته منفعت (له موټر څخه ګټه اخیستل) معدوم شوي، یعنې له موټر څخه ګټه اخیستل عرض دی او عرض نه پاتې کېږي، بلکې له رامنځته کېدو وروسته بېرته معدومېږي.
په دې دلیل تحالف نه رامنځته کیږي او په اجوره کې د اجاره نیونکي خبره له قسم سره معتبره ده، ځکه چې مقابل لوری د زیاتو غوښتنه کوي او دی منکر دی، او د منکر خبره معتبره وي.

دریم صورت: دا دی چې د معقود علیه د ځینې برخې د ترلاسه کولو څخه وروسته دواړه اختلاف وکړي.
د اجارې په لوست کې مو وویل: د اجارې عقد د منافعو په لاس ته راتلو سره ګام په ګام رامنځته کیږي. په دې دلیل پورتنی صورت دوه برخې لري، هره برخه یې جلا عقد شمېرل کیږي او جلا حکم لري چې په لاندې ډول دی:

۱- یوه برخه هغه ده چې د منفعت ځینې برخې یکې لاس ته راغلي وي، دا برخه یا عقد د پورتني دویم صورت په څېر دی او د همغه صورت حکم ورباندې تطبیقیږي.

۲- د صورت بله برخه هغه ده چې منفعت پکې لاس ته نه دی راغلی، دا برخه او عقد د بیان شوي لومړي صورت په څېر دی او د همغه صورت حکم ورباندې پلی کیږي.

**د کور د سامان په اړه د ښځې او مېړه تر منځ اختلاف**: که ښځه او مېړه د کور د سامان په

اړه د نکاح په موده یا له طلاق وروسته په خپلو کې اختلاف وکړي او هر يو يې د ملکيت دعوا وکړي، نو کوم شيان چې د سړو د استفادې وړ وي لکه پګړۍ، ټوپک او داسې نور، هغه د خاوند دي، ځکه ظاهر حالت داګواهي ورکوي چې دا مال به د مېړه وي.

همدا راز هغه شيان چې د ښځو د استعمال لپاره وي لکه ټکرى، بنګړي او داسې نور، دا شيان د ظاهر حالت په بنسټ د ښځې مليکت شمېرل کيږي، البته دواړه به په دې ډول مالونو باندې قسم کوي او خبره يې د قسم سره معتبره ده.

هغه شيان چې د سړو او ښځو دواړو د استفادې وړ وي لکه لوښي، ځمکه، بسترې او داسې نور، دا ډول شيان د سړي ملکيت ګڼل کيږي، ځکه د کور زيات سامانونه د دود مطابق د سړي وي او هم هغه ته د کور نسبت کيږي، په مقابل کې د ښځې د مالکوالي کوم ځانګړى دليل هم نشته، نو په دې بنسټ سړى ذواليد دى او قسم ده ته متوجه کيږي.

**د ښځې يا مېړه له مړينې وروسته اختلاف**: که مېړه مړ شي او د مېړه وارثان د هغه له ښځې سره د کور په سامانونو دعوا وکړي، د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد هغه سامانونه چې د سړو او ښځو دواړو د کارولو وړ وي د ښځې په لاس کې ګڼل کيږي، او وارثان مدعيان بلل کيږي، نو دوى به ګواهان راولي او که نه ښځې ته يمين متوجه کيږي، ځکه ښځه ژوندۍ او ذواليده ده، په داسې حال کې چې مېړه مړ دى او مړى د ذواليدۍ وړتيا نه لري.

امام ابويوسف(رحمه الله) د دې دعوا په اړه وايي: د ژوند او مرګ په دواړو صورتونو کې به ښځې ته د کور دومره سامان ورکول کيږي څومره چې د نومونړې ښځې په څېر د نورو ښځو جهيز وي، ځکه د عام عادت له مخې ښځې د مېړه کور ته له ځان سره جهيز (د کور سامان) راوړي چې دا دليل د سړي د ذواليدۍ له دليل څخه قوي دى. البته له جهيز پرته نور سامانونو د مېړه په لاس کې بلل کيږي، نو د ده او د وارثانو خبره يې له قسم سره پکې اعتبار لري، دلته به لومړني بيان شوي اصول تطبيقيږي.

**د غبرګونو (جوړه زيږيدلو) ماشومانو څخه د يو د نسب دعوا**: غبرګوني (توأمين) د يوې

مور هغو دوو ماشومانو ته ویل کیږي چې د زېږېدو په منځ کې یې له شپږو میاشتو کمه فاصله وي، څرنګه چې د توأمینو نطفه په یو ځل د مور په رحم کې ځای نیسي، نو امکان نه لري چې د جلا پلرونو بچیان وګڼل شي، په دې بنسټ که څوک له توأمینو څخه د یوه د نسب دعوا وکړي، د دواړو نسب ورڅخه ثابتیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د کور د سامانونو په اړه خبرې وکړي چې کوم سامانونه د مېړه د استعمال وړ، کوم په ښځې پورې ځانګړي او کوم کوم د دواړو د استعمال وړ ګڼل کیږي.

## ارزونه

۱- د اجارې له عقد ورسته او د هغې له عملي کولو مخکې که په اجاره کې اختلاف راغی، حکم یې څه دی؟

۲- د اجارې له عملي کولو (د معقود علیه له تسلیم) وروسته که د عقد د طرفینو تر منځ د اجر یا منافعو په هکله اختلاف راغی حکم یې څه دی؟

۳- که ښځه او مېړه د کور پر سامانونو د ملکیت دعوا وکړي، کوم سامانونه د مېړه او کوم د ښځې حق ګڼل کیږي؟

٤- که د ښځې یا مېړه وارثان د ښځې یا مېړه سره د کور پر سامانانو اختلاف وکړي، څرنګه حل کیږي؟

٥- توأمین تعریف کړئ.

# د شهادت کتاب

د دعوا احکام او د هغې د حل او فصل لارې چارې په تیرو لوستونو کې و لوستل شوې، اوس د شهادت د کتاب په لوستلو پیل کوو. اسلامي شریعت د شهادت تحمل او اداء ته ډېر ارزښت ورکړی دی، په سمه توگه د شاهدۍ ورکولو حکم یې کړی او د هغې له پټولوڅخه یې منع کړې ده، دا ځکه چې د بندگانو د حقونو اثبات او په مجرمینو باندې پریکړه ډېر ځله له همدې لارې کیږي.

(١) كِتَابُ الشَّهَادَاتِ

(٢) الشَّهَادَةُ: فَرْضٌ يَلْزَمُ الشُّهُودَ أَدَاؤُهَا وَلَا يَسَعُهُمْ كِتْمَانُهَا إِذَا طَالَبَهُمْ الْمُدَّعِي.

(٣) وَالشَّهَادَةُ فِي الْحُدُودِ يُخَيَّرُ فِيهَا الشَّاهِدُ بَيْنَ السَّتْرِ وَالْإِظْهَارِ وَالسَّتْرُ أَفْضَلُ إِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يَشْهَدَ بِالْمَالِ فِي السَّرِقَةِ فَيَقُولَ: «أَخَذَ» وَلَا يَقُولُ: «سَرَقَ».

(٤) وَالشَّهَادَةُ عَلَى مَرَاتِبَ: مِنْهَا الشَّهَادَةُ فِي الزِّنَا، يُعْتَبَرُ فِيهَا أَرْبَعَةٌ مِنَ الرِّجَالِ وَلَا تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ. وَمِنْهَا الشَّهَادَةُ بِبَقِيَّةِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ، يَقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ وَلَا يَقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ.

(٥) وَمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْحُقُوقِ، يُقْبَلُ فِيهِ رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ، سَوَاءٌ كَانَ الْحَقُّ مَالًا أَوْ غَيْرَ مَالٍ، مِثْلُ النِّكَاحِ وَالْعَتَاقِ وَالطَّلَاقِ وَالْوَكَالَةِ وَالْوَصِيَّةِ.

(٦) وَيُقْبَلُ فِي الْوِلَادَةِ وَالْبَكَارَةِ وَالْعُيُوبِ بِالنِّسَاءِ فِي مَوْضِعٍ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الرِّجَالُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ.

(٧) وَلَا بُدَّ فِي ذَلِكَ كُلِّهِ مِنَ الْعَدَالَةِ وَلَفْظِ الشَّهَادَةِ، فَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّاهِدُ لَفْظَ الشَّهَادَةِ

وَقَالَ: أَعْلَمُ أَوْ أَتَيَقَّنُ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُ.

(٨) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: يَقْتَصِرُ الْحَاكِمُ عَلَى ظَاهِرِ عَدَالَةِ الْمُسْلِمَ إلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ، فَإِنَّهُ يَسْأَلُ عَنْ الشُّهُودِ، فَإِنْ طَعَنَ الْخَصْمُ فِيهِمْ سَأَلَ عَنْهُمْ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا بُدَّ أَنْ يَسْأَلَ عَنْهُمْ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ.

(٩) وَمَا يَتَحَمَّلُهُ الشَّاهِدُ عَلَى ضَرْبَيْنِ:

(ا) أَحَدُهُمَا: مَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ بِنَفْسِهِ، مِثْلُ الْبَيْعِ وَالْإِجَارَةِ وَالنِّكَاحِ وَالْإِقْرَارِ وَالْغَصْبِ وَالْقَتْلِ وَحُكْمِ الْحَاكِمِ، فَإِذَا سَمِعَ ذَلِكَ الشَّاهِدُ أَوْ رَآهُ، وَسِعَهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهِ، وَإِنْ لَمْ يُشْهَدْ عَلَيْهِ، وَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّهُ بَاعَ وَلَا يَقُولُ أَشْهَدَنِي.

(ب) وَمِنْهُ مَا لَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ بِنَفْسِهِ، مِثْلُ الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ، فَإِذَا سَمِعَ شَاهِدًا يَشْهَدُ بِشَيْءٍ لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ عَلَى شَهَادَتِهِ إلَّا أَنْ يُشْهِدَهُ.

(١٠) وَكَذَلِكَ لَوْ سَمِعَهُ يُشْهِدُ شَاهِدًا عَلَى شَهَادَتِهِ، لَمْ يَسَعْ السَّامِعَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَى ذَلِكَ، وَلَا يَحِلُّ لِلشَّاهِدِ إذَا رَأَى خَطَّهُ أَنْ يَشْهَدَ إلَّا أَنْ يَتَذَكَّرَ الشَّهَادَةَ.

## ژباړه

**(١) د شهادت کتاب**

(٢) شاهدي ورکول فرض دي، په شاهدانو يې اداء کول لازم دي او کله چې له دوی څخه مدعي غوښتنه وکړي، نشي کولای چې شاهدي پټه کړي.

(٣) د حدودو په شهادت کې شاهد (په مجرمانو)د پردې اچولو او ښکاره کولو ترمنځ اختيار لري، خو پټول يې غوره دي، مگر واجب دي چې په غلا کې په مال شاهدي ووايي: داسې (شاهدي) به وايې چې دا يې اخيستی دی او نه به وايي چې دا يې غلا کړی دی.

(٤) شهادت مراتب لري: له هغې جملې نه په زنا شاهدي ده، چې له سړو څخه پکې څلور تنه معتبر دي او په دې کې د ښځو شاهدي نه قبليږي او بله د هغې جملې نه په نورو حدودو او

قصاص شاهدي ده، پدې کې د دوو سړو شاهدي قبلیږي او د ښځوګواهي پکې نه قبلیږي.

(٥) او له دې پرته په نورو حقونوکې د دوو سړو او یا یو سړی او دوو ښځو شاهدي منل کیږي، که دغه حق مال او یا پرته له مال څخه نور څه وي، لکه نکاح، طلاق، وکالت او وصیت.

(٦) په اولاد پیدا کیدو، بکارت او د ښځو د عیبونو په هکله چې په هغه ځای کې وي چې سړي یې لیدلای نشي، پدې کې د یوې ښځې شاهدي قبلیږي.

(٧) او پدې ټولوکې عدالت او د شهادت لفظ ضروري دی، که شاهد د شاهدۍ لفظ اداء نه کړي، او ووایي: پوهیږم، او باور لرم نو شاهدي یې نه قبلیږي.

(٨) امام ابو حنیفه (رحمه الله) وایي: حاکم (قاضي)به د مسلمان په ظاهري عدالت اکتفا کوي، مګر په حدودو او قصاص کې به داسې نه کوي، قاضي به د شاهدانو (د عدالت) پوښتنه کوي، خو که خصم (مقابل جانب) وربانديې جرحه وکړي (غیر عادل یې وګڼي) نو قاضي به د هغوی په هکله پوښتنه کوي. ابو یوسف او محمد(رحمهماالله) وایي: دا ضروري ده چې په پټه او ښکاره به د هغوی په هکله پوښتنه کوي.

(٩) هغه څه چې شاهد یې تحمل کوي په دوه ډوله دي:

(ا) یو هغه څه دي چې حکم یې پخپله ثابتیږي، لکه: بیع، اقرار،غصب،قتل او د قاضي حکم، نوکله چې شاهد دا شیان واوریدل او یا یې ولیدل، کولای شي چې شاهدي پرې ورکړي، که څه هم شاهد ورباندې ونه ګرځول شي. وایي به: ددې شاهدي ورکوم چې دایې خرڅ کړ او نه به وایي چې زه یې شاهد ګرځولی یم.

(ب) او ځینی هغه څه دي چې حکم یې پخپله نه ثابتیږي، لکه په شاهدۍ باندې شاهدي. که له یو شاهد نه یي واوریدل چې په یو شي یې شاهدي ویله، دده لپاره جایز نه دي چې د هغه په شاهدۍ شاهدي ووایي، مګر دا چې شاهد یې وګرځوي.

(١٠) او همدا راز که چیرته یې واوریدل چې یو څوك بل شخص په خپل شهادت شاهد نیسي، اوریدونکي ته روا نه ده چې دی (هم) په هغه شاهدي ورکړي او شاهد ته روا نه ده چې

د خپل لیک په لیدلو شاهدي ووایي، مګر هغه مهال چې خپل شهادت ور په یاد شي.

## شرحه

**د شهادت تعریف**: شهادت په لغت کې پریکنده خبرې ته وایي، او د شریعت په اصطلاح کې د قضا په مجلس کې د اشهد په لفظ سره په حق باندې له اخبارڅخه عبارت دی.

**د شهادت حکم**: د شهادت په موجب پر قاضي حکم کول واجب دي، د بندګانو په حقونو کې یې اداء پر شاهدانو فرض ده او پټول یې جواز نه لري.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی: ﴿وَلاَ يَأْبَ الشُّهَدَاء إِذَا مَا دُعُواْ﴾ (البقرة: ۲۸۲) ژباړه: شاهدان به انکار نه کوي کله چې شاهدۍ ورکولو ته ور وغوښتل شي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ (البقرة: ۲۸۳) ژباړه: او شاهدي مه پټوئ او چا چې شاهدي پټه کړه په یقیني توګه چې زړه یې ګنهګار دی.

**د شهادت ارکان او شرطونه**: شهادت یو رکن لري چې هغه د أشهد لفظ دی. او شرطونه یې شپږ دي:

۱ـ کامل عقل ۲ـ حریت ۳ـ اسلام ٤ـ عدالت ٥ـ ضبط ٦ ـ ولایت

**د شهادت مراتب**: د شهادت مراتب څلور دي.

۱ـ **په زنا باندې شاهدي**: په دې کې د څلورو نارینه ګواهانو شاهدي معتبره ده، الله تعالی فرمایي: ﴿فَاسْتَشْهِدُواْ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعةً مِّنكُمْ﴾ (النساء: ۱۵) ژباړه: نو له تاسې نه وربانديې څلور تنه شاهدان ونیسئ.

۲ـ **په پاتې نورو حدودو او قصاص کې شاهدي**: په دې کې د دوو تنو سړو شاهدي قبلیږي.

۳ـ **له دې نه پرته په نورو حقوقو کې شاهدي**: په دې کې د دوه سړو او یا یو سړی او دوه ښځو شاهدي منل کیږي، لکه نکاح، طلاق، وکالت او وصیت، الله تعالی فرمایي:

﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ (البقرة: ۲۸۲) **ژباړه**: او تاسو له خپلو څخه دوه تنه سړي ګواهان ونیسی او که دوه نارینه نه وي نو یو نر او دوه ښځې، له هغو ګواهانو څخه چې تاسو يې ورګنې.

٤ـ په هغه څه باندې ګواهي چې نارینه پرې نه خبریږي، لکه ولادت، بکارت او ښځینه عیوب چې سړي يې نشي لیدلای. په دې کې د یوې ښځې شاهدي هم بسنه کوي.

په دې ټولو کې د شاهدانو عدالت ضروري دی. امام ابو یوسف (رحمه الله) وايي: د هغه فاسق شاهدي هم قبلیږي چې په خلکو کې مخور او د سرېتوب خاوند وي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د شهادت د تحمل او اداء په اړه خپلو کې پوښتنې وکړي. چې اداء او تحمل څه ته وايي ؟ او د شهادت د اهمیت په اړه دې دوه آیتونه وژباړي.

## ارزونه

۱ـ شهادت د لغت او شرعې له مخې تعریف کړئ ؟

۲ـ د امام ابوحنیفه او ابو یوسف (رحمهماالله) ترمنځ د شاهد د عدالت په اړه اختلاف واضح کړئ.

۳ـ شهادت څو مراتب لري په هره مرتبه کې د شاهدانو نصاب واضح کړئ ؟

٤ـ د شاهد لخوا د شهادت تحمل په څو ډوله دی ؟

۵ـ د شهادت لفظ او د قضا په مجلس کې يې وجود څه حکم لري؟

# د شهادت قبليدل او نه قبليدل

(١) وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَعْمَى، وَلَا الْمَمْلُوكِ، وَلَا الْمَحْدُودِ فِي الْقَذْفِ وَإِنْ تَابَ، وَلَا شَهَادَةُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ، وَوَلَدِ وَلَدِهِ وَلَا شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِأَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ.

(٢) وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ أَحَدِ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ.

(٣) وَلَا شَهَادَةُ الشَّرِيكِ لِشَرِيكِهِ فِيمَا هُوَ مِنْ شَرِكَتِهِمَا.

(٤) وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الرَّجُلِ لِأَخِيهِ وَعَمِّهِ.

(٥) وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ مُخَنَّثٍ، وَلَا نَائِحَةٍ، وَلَا مُغَنِّيَةٍ، وَلَا مُدْمِنِ الشُّرْبِ عَلَى اللَّهْوِ، وَلَا مَنْ يَلْعَبُ بِالطُّنْبُورِ، وَلَا مَنْ يُغَنِّي لِلنَّاسِ، وَلَا مَنْ يَأْتِي بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْكَبَائِرِ الَّتِي يَتَعَلَّقُ بِهَا الْحَدُّ، وَلَا مَنْ يَدْخُلُ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ، وَلَا آكِلِ الرِّبَا، وَلَا الْمُقَامِرِ بِالنَّرْدِ وَالشِّطْرَنْجِ، وَلَا مَنْ يَفْعَلُ الْأَفْعَالَ الْمُسْتَقْبَحَةَ، وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ مَنْ يُظْهِرُ سَبَّ السَّلَفِ الصَّالِحِ.

(٦) وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ إِلَّا الْخَطَّابِيَّةَ.

(٧) وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الذِّمَّةِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ وَإِنْ اخْتَلَفَتْ مِلَلُهُمْ.

(٨) وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْحَرْبِيِّ عَلَى الذِّمِّيِّ.

(٩) وَإِنْ كَانَتْ الْحَسَنَاتُ أَغْلَبَ مِنَ السَّيِّئَاتِ وَالرَّجُلُ مِمَّنْ يَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ أَلَمَّ بِمَعْصِيَةٍ.

(١٠) وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْأَقْلَفِ وَالْخَصِيِّ وَوَلَدِ الزِّنَا وَشَهَادَةُ الْخُنْثَى جَائِزَةٌ.

(١١) وَإِذَا وَافَقَتِ الشَّهَادَةُ الدَّعْوَى قُبِلَتْ وَإِنْ خَالَفَتْهَا لَمْ تُقْبَلْ.

(١٢) وَيُعْتَبَرُ اتِّفَاقُ الشَّاهِدَيْنِ فِي اللَّفْظِ وَالْمَعْنَى، فَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفَيْنِ، لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: تُقْبَلُ بِالْأَلْفِ. فَإِنْ

شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفٍ وَخَمْسِمائَةٍ، وَالْمُدَّعِي يَدَّعِي أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ قُبِلَتْ الشَّهَادَةُ بِأَلْفٍ. وَإِذَا شَهِدَا بِأَلْفٍ وَقَالَ اَحَدُهُمَا: قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ، قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ بِأَلْفٍ، وَلَمْ يُقْبَلْ قَوْلُه إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ مَعَهُ آخَرُ. وَيَنْبَغِي لِلشَّاهِدِ إِذَا عَلِمَ ذَلِكَ أَنْ لَا يَشْهَدَ بِأَلْفٍ حَتَّى يُقِرَّ الْمُدَّعِي أَنَّهُ قَبَضَ خَمْسَمِائَةٍ.

(١٣) وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّهُ قَتَلَ زَيْدًا يَوْمَ النَّحْرِ بِمَكَّةَ، وَشَهِدَ آخَرَانِ أَنَّهُ قَتَلَهُ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْكُوفَةِ وَاجْتَمَعُوا عِنْدَ الْحَاكِمِ لَمْ يَقْبَلْ الشَّهَادَتَيْنِ، فَإِنْ سَبَقَتْ إِحْدَاهُمَا وَقَضَى بِهَا ثُمَّ حَضَرَتْ الْأُخْرَى لَمْ تُقْبَلْ.

(١٤) وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الشَّهَادَةَ عَلَى جَرْحٍ وَلَا نَفْيٍ وَلَا يَحْكُمُ بِذَلِكَ.

(١٥) وَلَا يَجُوزُ لِلشَّاهِدِ أَنْ يَشْهَدَ بِشَيْءٍ لَمْ يُعَايِنْهُ إِلَّا النَّسَبَ وَالْمَوْتَ وَالنِّكَاحَ وَالدُّخُولَ وَوِلَايَةَ الْقَاضِي فَإِنَّهُ يَسَعُهُ أَنْ يَشْهَدَ بِهَذِهِ الْأَشْيَاءِ إِذَا أَخْبَرَهُ بِهَا مَنْ يَثِقُ بِهِ.

## ژباړه:

(١) د ړانده او غلام شهادت نه قبلېږي او نه په قذف کې د حد شوي اګر که توبه یې هم ویستلې وي. د پلار شهادت د خپل زوی او لمسي لپاره نه قبلېږي او نه د زوی شاهدي د خپل مور، پلار او نیکونو لپاره.

(٢) د مېړه شاهدي د خپلې مېرمنې او د مېرمنې ګواهي د خپل مېړه په حق کې نه قبلېږي.

(٣) او د يو شريک ګواهي دخپل شريک لپاره په هغه څه کې نه قبلېږي چې د دوی په شرکت پورې اړوند وي.

(٤) د يو چا شاهدي د خپل ورور او اکا لپاره قبلېږي.

(٥) د مخنث، په مړو د اجرتي ژړا کونکې ښځې، سندر غاړې، د لهو په مجلسونو کې د شراب څښوونکی، د طنبور وهونکي، خلکو ته د سندرو ويونکي، د هغه چا چې د داسې کبيره ګناهونو مرتکب کيږي چې حد سره تړاو لري، د بې پرتوګه (بربنډ) حمام ته ننوتونکي،

د سود خور، په نرد او شطرنج باندې د قمار باز (جوارګر)، او د سپکو افعالو سرته رسونکي ګواهي نه قبليږي، همدارنګه د هغه چا ګواهي هم نه قبليږي چې په ښکاره سلف صالحينو ته بدې ردې وايي.

(٦) له خطابيه ډلې پرته د نورو هوا او هوس خاوندانو (له اهل سنت او جماعت څخه پرته نورې مذهبي ډلې لکه: خوارج، معتزله او نورو) ګواهي قبليږي.

(٧) د ذميانو څپلوکې په يو بل باندې شاهدي منل کيږي، اګرکه د دوی دينونه سره جلا وي.

(٨) د جنګي کافر ګواهي په ذمي باندې نه قبليږي.

(٩) که د يوچا نيکۍ په بديو غالبې وې، خو له کبيره ګناهونو څخه يې ډډه کوله، شاهدي يې قبليږي، اګرکه واړه ګناهونه ترې صادريږي.

(١٠) د نا سنته، خصي او ولد زنا (حرامي) ګواهي منل کيږي، د خنثی شاهدي قبليږي.

(١١) کله چې شهادت له دعوا سره موافق وي، قبليږي، اوکه ورسره مخالف وي، نه قبليږي.

(١٢) د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد په لفظ او معناکې د دوو ګواهانو اتفاق معتبر دی، که يوه په زرو ګواهي وويله او بل په دوه زرو، نو شاهدي يې نه قبليږي. ابو يوسف او محمد (رحمهما الله) وايي: دا ګواهي په زرو کې قبليږي. که يوه د زرو او بل د يونيم زرو شاهدي وويله او مدعي دعوا د يونيم زرو کوله په زرو يې ګواهي قبليږي او کله چې يو د زرو ګواهي ورکړې او بل وويل: پنځه سوه يې اداء کړې دي، نو د زرو لپاره يې ګواهي منل کيږي او دا خبره به يې نه اوريدل کيږي چې ده اداء کړي دي، مګر دا چې يو تن بل (په اداء کولو) ورسره شاهدي وويي او د شاهد لپاره پکار دي چې کله پدې پوه وي (چې پنځه سوه يې بيرته ورکړې) چې ګواهي په زرو ونه وايي، ترڅو چې مدعي اقرار وکړي چې ما پنځه سوه اخستي دي.

(١٣) او کله چې دوه کسانو شاهدي وويله چې ده زيد د لوی اختر په ورځ په مکه کې وواژه او دوو تنو نورو ګواهي وويله چې هغه د لوی اختر په ورځ په کوفه کې وواژه او د حاکم په

وړاندې(په يو وخت کې) را جمع شول، د دواړو ګواهي به نه قبلوي، که د دوی نه يوه (ډله) يې مخکې شوه، او قاضي حکم پرې وکړ، بيا دا بله (ډله) د ګواهانو حاضره شوه، (د دويمې ډلې ګواهي) نه قبليږي.

(١٤) قاضي به د چا په تورولو (چې د مدعي په ګواهانو باندې د فسق تور ولګوي) او په نفی (چې داسې نه دی) باندې ګواهي نه اوري او په دې باندې به فيصله هم نه کوي.

(١٥) په نا ليدلي شي باندې د شاهد لپاره ګواهي ورکول جايز نه دي، مګر په نسب، مرګ، نکاح، دخول او د قاضي په ولايت (له نه ليدلو سره سره) په هغه صورت کې ګواهي ورکول ورته روا دي چې داسې څوک ورته پرې خبر ورکړي چې دی يې په صدق باوري وي.

## شرحه

### د شهادت د نه قبليدو لاملونه

د قدوري د متن د تفصيل له مخې د شهادت د نه قبليدو لاملونه په لاندې ډول دي:

١- د هغه چا شاهدي نه قبليږي چې د شهادت په موضوع باندې په علم راوستو کې يې ستونزه وي، لکه ړوند، ځکه دی د خپل معذرت له کبله په پوره توګه په پيښه علم نشي راوستلی.

٢- د هغه چا شاهدي نه قبليږي چې په اهليت کې يې نقصان وي، لکه مريې، او همداراز د کافر شاهدي پر مسلمان باندې نه قبليږي.

٣- د هغه چا شاهدي نه قبليږي چې د مشهود به موضوع د اثبات ګټه ده ته ورګرځي، لکه د اصولو، فروعو، زوج، او په شريک مال کې د شريک لپاره ګواهي.

٤- د ښکاره فاسق ګواهي نه قبليږي، ځکه چې د هغه وينا باوري نه وي، د دروغو احتمال په کې زيات وي، لکه په قذف کې محدود، په شرابو روږدی (معتاد)، زناکار او نور فاسقان چې فسق يې څرګند وي.

٥- د سپک سړي ګواهي هم نه منل کيږي، ځکه دی له دروغو ويلو څخه د درنښت او مروت

د نه رعایت له کبله، ډېره نه کوي، لکه د سپو او مرغانو جنګوونکي، بربنډ لمبیدونکي، د عرف او دود په اعتبار د نورو سپکو چارو سر ته رسوونکي خلك.

سپکوونکې چارې د ټولنې د دود او عرف په بدلون بدلیدای رابدلیدای شي، کیدای شي ځینې کسبونه په پخوا زمانو کې سپکې چارې ګڼل شوې وي، خو اوس خلك د هغو کاسبانو ته په سپکه سترګه نه ګوري، او یا د دې په خلاف کیدای شي ځینې کسبونه به پخوا سپك نه ګڼل کیدل، اوس به سپك ګڼل کیږي، نو د شهادت د قبول او نه قبول حکم هم د دود له بدلون سره بدلیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په خپله ډله(ګروپ) کې د هغو چارو لست ولیکي، چې د اوسني دود پر بنسټ یې سرته رسوونکي سپکوالي ته منسوبیږي.

**د ګواهانو اتفاق او اختلاف**: امام ابوحنیفه (رحمه الله) په لفظ او معنی کې د دووګواهانو اتفاق شرط ګڼي. او(ابو یوسف او محمد) (رحمهماالله) یوازې په معنی کې اتفاق شرط ګڼي، نو که یوه شاهد د زرو او بل د دوه زرو ګواهي ورکړه، په زرو باندې دواړه په معنا کې اتفاق سره لري خو په لفظ کې یې اختلاف دی، نو د امام صاحب په نزد یې ګواهي نه منل کیږي او د صاحبینو په نزد په زرو باندې منل کیږي، او په پاتې یو زر باندې د شاهدی نصاب نه پوره کیږي، نو په هغه شاهدې نه منل کیږي.

**یادونه**: په کوم څیز باندې چې د لیدلو او کتلو له لارې علم حاصل نشي په هغې باندې ګواهي ورکول په اجماع سره جایز نه دي. خو په یو څو مسایلو کې پرته له لیدلو هم ګواهي ورکول صحیح دي، هغه مسایل دا دي.

١- نسب ٢- مرګ ٣- نکاح ٤- دخول (واده او یوځای کیدل) ٥- د قاضي په واکمني

او صلاحيت(چې دی په فلاني وخت کې برحال قاضي و)  ٦- عتق  ٧- ولاء  ٨- مهر

٩- وقف

## فعاليت

زده کوونکي دې د استاذ په مرسته د پورتنيو نهو مسألو لپاره صورتونه جوړ کړي.

## ارزونه

١- د سود خور د مرزانو او د چرګانو جنګوونکي شهادت ولې نه قبليږي ؟

٢- دګواهانو د اتفاق او اختلاف په اړه مذاهب بيان کړئ.

٣- د پلار ګواهي د اولاد، او د اولاد ګواهي د پلار لپاره څه حکم لري ؟

٤- د ورور او اکا لپاره ګواهي جايزه ده او که نه ؟

٥- عادل ګواه چاته وايي؟

٦- د حربي شهادت په ذمي باندې جايز دی او که نه؟

# په شهادت باندې شهادت

(١) وَالشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ حَقٍّ لَا يَسْقُطُ بِالشُّبْهَةِ وَلَا تُقْبَلُ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

(٢) وَيجُوزُ شَهَادَةُ شَاهِدَيْنِ عَلَى شَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ وَاحِدٍ عَلَى شَهَادَةِ وَاحِدٍ.

(٣) وَصِفَةُ الْإِشْهَادِ أَنْ يَقُولَ شَاهِدُ الْأَصْلِ لِشَاهِدِ الْفَرْعِ: اشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِي أَنِّي أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ أَقَرَّ عِنْدِي بِكَذَا وَأَشْهَدَنِي عَلَى نَفْسِهِ، وَإِنْ لَمْ يَقُلْ أَشْهَدَنِي عَلَى نَفْسِهِ جَازَ.

(٤) وَيقُولُ شَاهِدُ الْفَرْعِ عِنْدَ الْأَدَاءِ: أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانًا أَشْهَدَنِي عَلَى شَهَادَتِهِ أَنَّهُ يَشْهَدُ أَنَّ فُلَانًا أَقَرَّ عِنْدَهُ بِكَذَا وَقَالَ لِي: اشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِي بِذَلِكَ.

(٥) وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَةُ شُهُودِ الْفَرْعِ إِلَّا أَنْ يمُوتَ شُهُودُ الْأَصْلِ، أَوْ يَغِيبُوا مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا، أَوْ يمْرَضُوا مَرَضًا لَا يَسْتَطِيعُونَ مَعَهُ حُضُورَ مجْلِسِ الْحَاكِمِ.

(٦) فَإِنْ عَدَّلَ شُهُودُ الْأَصْلِ شُهُودَ الْفَرْعِ جَازَ، وَإِنْ سَكَتُوا عَنْ تَعْدِيلِهِمْ جَازَ، وَيَنْظُرُ الْحَاكِمُ فِي حَالِهِمْ.

(٧) وَإِنْ أَنْكَرَ شُهُودُ الْأَصْلِ الشَّهَادَةَ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَةُ الْفُرُوعِ.

(٨) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ فِي شَاهِدِ الزُّورِ: أُشْهِرُهُ فِي السُّوقِ وَلَا أُعَزِّرُهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: نُوجِعُهُ ضَرْبًا وَنحْبِسُهُ.

(٩) إِذَا رَجَعَ الشُّهُودُ عَنْ شَهَادَتِهِمْ قَبْلَ الْحُكْمِ بِهَا سَقَطَتْ وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ، فَإِنْ حُكِمَ بِشَهَادَتِهِمْ ثُمَّ رَجَعُوا لَمْ يُفْسَخِ الْحُكْمُ وَوَجَبَ عَلَيْهِمْ ضَمَانُ مَا أَتْلَفُوهُ بِشَهَادَتِهِمْ.

(١٠) وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْحَاكِمِ.

(١١) وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِمَالٍ فَحَكَمَ بِهِ الْحَاكِمُ ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا لِلْمَشْهُودِ عَلَيْهِ، وَإِنْ

رَجعَ أَحدُهُمَا ضَمِنَ النِّصْفَ.

(١٢) وَإِنْ شَهِدَ بِالْمَالِ ثَلاثَةٌ فَرجَعَ أَحدُهُمْ فَلَا ضَمانَ عَليْهِ، فَإِنْ رجَعَ آخرُ ضَمِنَ الرَّاجِعَانِ نِصْفَ الْمَالِ.

(١٣) وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ فَرجَعتْ امْرَأَةٌ ضَمِنتْ رُبعَ الْحَقِّ، وَإِنْ رَجعَتَا ضَمِنتَا نِصْفَ الْحَقِّ.

(١٤) وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَعَشْرُ نِسْوَةٍ فَرجَعَ ثَمانٌ فَلَا ضَمانَ عَلَيْهِنَّ، فَإِنْ رَجعَتْ أُخْرَى كَانَ عَلَى النِّسْوَةِ رُبعُ الْحَقِّ، فَإِنْ رَجعَ الرَّجُلُ وَالنِّسَاءُ كَانَ عَلَى الرَّجُلِ سُدُسُ الْحَقِّ وَعَلَى النِّسْوَةِ خَمْسَةُ أَسْدَاسِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: عَلَى الرَّجُلِ النِّصْفُ وَعَلَى النِّسْوَةِ النِّصْفُ.

(١٥) وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلَى الْمَرْأَةِ بِالنِّكَاحِ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا، أَوْ أَكْثَرَ ثُمَّ رَجعَا فَلَا ضَمَانَ عَليْهِمَا، وَإِنْ شَهِدَا بِأَقَلَّ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجعَا لَمْ يَضْمَنَا النُّقْصَانَ.

(١٦) وَكَذَلِكَ إِذَا شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ بِتَزْوِيجِ امْرَأَةٍ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا، أَوْ أَقَلَّ ثُمَّ رَجعَا لَمْ يَضْمَنَا، وَإِنْ شَهِدَا بِأَكْثَرَ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجعَا، ضَمِنَا الزِّيَادَةَ.

(١٧) وَإِنْ شَهِدَا بِبَيْعٍ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ أَوْ أَكْثَرَ، ثُمَّ رَجعَا لَمْ يَضْمَنَا، وَإِنْ شَهِدَا بِأَقَلَّ مِنْ الْقِيمَةِ، ضَمِنَا النُّقْصَانَ.

(١٨) وَإِنْ شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ قَبْلَ الدُّخولِ بِهَا ثُمَّ رَجعَا، ضَمِنَا نِصْفَ الْمَهْرِ، وَإِنْ كَانَ بَعْدَ الدُّخُولِ لَمْ يَضْمَنَا.

(١٩) وَإِنْ شَهِدَا بِقِصَاصٍ ثُمَّ رَجعَا بَعْدَ الْقَتْلِ، ضَمِنَا الدِّيَةَ وَلَا يُقْتَصُّ مِنْهُمَا.

(٢٠) وَإِذَا رَجعَ شُهُودُ الْفَرْعِ ضَمِنُوا، وَإِنْ رَجعَ شُهُودُ الْأَصْلِ وَقَالُوا: لَمْ نُشْهِدْ شُهُودَ الْفَرْعِ عَلَى شَهَادَتِنَا فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ وَإِنْ قَالُوا: أَشْهَدْنَاهُمْ وَغَلِطْنَا ضَمِنُوا وَإِنْ قَالَ شُهُودُ الْفَرْعِ: كَذَبَ شُهُودُ الْأَصْلِ أَوْ غَلِطُوا فِي شَهَادَتِهِمْ لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَى ذَلِكَ.

(٢١) وَإِنْ شَهِدَ أَرْبَعَةٌ بِالزِّنَا، وَشَاهِدَانِ بِالْإِحْصَانِ، فَرجَعَ شُهُودُ الْإِحْصَانِ، لَمْ يَضْمَنُوا.

(٢٢) وَإِذَا رَجَعَ الْمُزَكُّونَ عَنْ التَّزْكِيَةِ ضَمِنُوا.
(٢٣) وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِالْيَمِينِ وَشَاهِدَانِ بِوُجُودِ الشَّرْطِ ثُمَّ رَجَعُوا فَالضَّمَانُ عَلَى شُهُودِ الْيَمِينِ خَاصَّةً.

**ژباړه**:

(١) هر حق چې په شبهه نه ساقطیږي په هغه کې په شهادت باندې شهادت جایز دی، او په حدودو او قصاص کې جایز نه دی.

(٢) د دوو شاهدانو ګواهي د دوو شاهدانو په ګواهي جایزه ده، د یوه شهادت د یوه په شهادت نه قبلیږي.

(٣) د ګواه نیولو طریقه دا ده، چې اصلي شاهد فرعي شاهد ته ووایي: زما په شاهدۍ ګواه شه، زه ګواهي ورکوم چې فلانی د فلاني زوی زما په وړاندې په دومره څه اقرار وکړ او زه یې په ځان شاهد ونیولم. که دا یې و نه ویل چې زه یې په ځان شاهد ونیولم، هم جایز ده.

(٤) فرعی شاهد به د (شاهدی) د اداء کولو په وخت کې وایي: زه د دې خبرې ګواهي ورکوم چې فلاني د فلاني زوی، زه په خپله ګواهۍ شاهد کړم چې دی شاهدي ورکوي چې فلاني د ده په وړاندې په دومره څه باندې اقرار وکړ او راته یې وویل: چې زما په همدې ګواهۍ باندې ګواهي ورکړه.

(٥) د فرعي شاهدانو شاهدي نه قبلیږي مګر هغه مهال چې اصلي شاهدان مړه شي او یا د دریو ورځو د سفر په اندازه په سفر غایب شي او یا په داسې ناروغۍ اخته شي چې له امله یې د حاکم مجلس ته حاضریدای نشي.

(٦) که اصلي شاهدانو فرعي شاهدان عادلان وګڼل، نو جایزه ده، او که له تعدیل څخه یې چپ پاته شول بیا هم جایزه ده، او قاضي به د دوی حال ګوري (چې عادلان دي او که نه؟).

(٧) که اصلي شاهدانو له شاهدۍ څخه انکار وکړ، نو بیا د فرعي شاهدانو شهادت نه قبلیږي.

(٨) د درواغجن شاهد په اړه امام ابو حنیفه (رحمه الله) وایي: په بازار کې به ګرځول یې

مشهوروم او تعزیر نه ورکوم. ابو یوسف او محمد (رحمهماالله ) وایي چې په وهلو سره درد ورکوو او بندي کوو یې.

(۹) کله چې شاهدان له خپلې ګواهۍ څخه پخوا له حکم کولو وګرځېدل، نو شاهدي یې ساقطه شوه او هېڅ تاوان وربانديې نه راځي.

که چیرې د دوی په ګواهۍ فیصله وشوه او بیا وګرځېدل حکم نه فسخه کیږي او څه چې د دوی په ګواهۍ سره له منځه تللي وي، د هغو تاوان وربانديې واجب دی.

(۱۰) د حاکم له حضوره پرته له شاهدۍ ګرځېدل نه صحیح کیږي.

(۱۱) کله چې دوه شاهدان په یو مال شاهدي ورکړي او حاکم وربانديې حکم صادر کړي، بیا دواړه له خپلې ګواهۍ وګرځي، دواړه د مشهود علیه (هغه څوک چې په خلاف یې ګواهي ورکړل شوې) لپاره ضامنان دي. او که یو یکې له خپلې ګواهۍ را وګرځېد د نیمایي مال ضامن دی.

(۱۲) که درې کسان په یو مال بانديې ګواهان تیر شول او یو ترې وګرځېد، نو په ده بانديې ضمان (تاوان) نشته. که بل هم وګرځېد نو بیا دواړه ګرځېدلې ګواهان د نیم مال ضامن دي.

(۱۳) که یو سړي او دوو ښځو شاهدي ورکړه، بیا یوه ښځه له خپلې ګواهۍ څخه وګرځېده، د حق د څلورمې برخې ضامنه ده، که دواړه ښځې وګرځېدې نو د نیمایي حق ضامنانې دي.

(١٤) که یو سړی او لس ښځې ګواهانې شوې او اته ورڅخه بیرته وګرځېدې، نو په دوی ضمان نشته،که بله ښځه هم له شاهدۍ وګرځېده، نو د څلورمې برخې حق ذمه واري په دې ټولو ښځو بانديې ده، که سړی او ټولې ښځې وګرځېدې نو د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد پدې سړي د حق شپږمه برخه ده او په ښځو بانديې په شپږو کې پنځه برخې حق دی او ابویوسف او محمد (رحمهماالله) وایي چې نیم حق په سړي دی او نیم په ښځو دی.

(۱۵) که دوو تنو په یوه ښځه بانديې د نکاح ګواهي ورکړه، چې مهر یې د مهر مثل په اندازه وښود، او یا له دې څخه زیات، بیا یې رجوع وکړه، نو تاوان وربانديې نشته او که له مهر مثل څخه په کمه اندازه یې مهر وښود، بیا یې رجوع وکړه، (په دې صورت کې هم) د نقصان ضامنان نه ګرځي.

(۱٦) او همدا راز که دواړو په یو سړي باندې د یوې ښځې په نکاح کولو له مهر مثل او یا له هغه څخه په کم شاهدي ورکړه، بیا یې رجوع وکړه، ضامنان نه ګرځي، او که له مهر مثل څخه یې په زیات مهر ګواهي ورکړه بیا یې رجوع وکړه، د زیادت ضامنان ګرځي.

(۱۷) اوکه په بیعه باندې یې د مثل په قیمت او یا زیات له دې څخه شاهدي وویله، بیا دواړه له خپلې شاهدۍ څخه وګرځېدل دواړه نه دي ضامن او که د قیمت نه په کمه اندازه (ثمنو) باندې یې ګواهي وویله، نود نقصان ضامن دي.

(۱۸) که یو څا په یو سړي په دې خبره شاهدي ورکړه چې له دخول (کوروالي) څخه وړاندې يې خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی، بیا دواړه وګرځېدل، دواړه د نیمايي مهر ضامن دي او که ګواهي د کوروالي نه په وروسته طلاق ورکولو وه، نو بیا ضامن نه دي.

(۱۹) که (دوو تنو) په قصاص ګواهي ورکړه، بیا یې له قتل څخه وروسته رجوع وکړه، د دیت ضامن ګڼل کیږي، خو نه قصاصیږي.

(۲۰) که د فرعي شاهدان وګرځېدل، دوی ضامن دي او که اصلي شاهدان وګرځېدل او ویې ویل: چې مونږ د فرعې شاهدان په خپله شاهدي باندې شاهدان کړي نه دي، نو په دوی ضمان نشته، او که ویې ویل: دوی مو ګواهان کړل او غلطي مو وکړه، نو بیا ضامنان دي.که د فرع شاهدانو وویل: اصلي شاهدانو دروغ ویلي وو او یا په ګواهۍ کې غلط شوي دي د دوی خبرې ته به نشي کتل کیدای (څه اثر د دوی په وینا نه مرتبیږي).

(۲۱) که څلورو تنو شاهدانو په زنا ګواهي ورکړه او دوو په احصان سره. بیا د احصان شاهدان وګرځېدل، دوی ضامن نه دي.

(۲۲) کله چې تزکیه کونکی له تزکیې څخه وګرځي، نو ضامنان دي.

(۲۳) کله چې دوو شاهدانو د څا په قسم شاهدي ورکړه او دوو شاهدانو د شرط په وجود شاهدي ورکړه بیا ټول وګرځېدل، نو تاوان یوازې د قسم په شاهدانو دی.

## شرحه

**په شهادت باندې شهادت**: کله کله اصل شاهدان د ځینو ستونزو له امله نشي کولای چې

محکمې ته حاضر شي او د قاضي په وړاندې ګواهي اداء کړي، نو بل څوک د فرعې په توګه په خپله ګواهۍ شاهد ګرځوي، او ورته وايي: زه د دې پيښې شاهد يم، تاسو د قاضي په مجلس کې زما په دې ګواهۍ، ګواهي ورکړئ، او د فرع شاهدان چې دا کار سرته ورسوي، ګواهي يې منل کيږي.

**د فرع شاهد د شاهدۍ د قبلېدلو شرط**: د فرعي شاهدانو شاهدي هغه مهال قبليږي چې کله د اصلي شاهدانو ګواهي ورکول ستونزمن شي، يا مړه شي يا د دريو ورځو په سفر غايب شي او يا په داسې ناروغۍ اخته شي چې د قاضي مجلس ته حاضريداى نشي، ځکه که د اصلي شاهدانو په حضور کې ستونزه نه وي، نو بدل نه منل کيږي، لکه د اوبو په شتون کې چې تيمم جواز نه لري.

همداراز شرط ده چې د اصل شاهدان به له ګواهۍ نه وي ګرځيدلي، او که دوى وګرځيدل، بيا مړه شول، يا غايب شول، د فرع شاهدانو شاهدي نه منل کيږي.

**درواغجن شاهد**: هغه څوک چې د دروغو شاهدي ورکړي، او بيا له خپلې شاهدۍ وګرځي، شاهد زور (درواغجن شاهد) ورته ويل کيږي، د ده جزا د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد دا ده چې دى تشهير کړاى شي، کوم ځاى کې چې اوسيږي، او کومو خلکو سره يې چې اړيکې وي، هغوى ته په همدې صفت ور وپيژندل شي.

دا په هغه صورت کې چې ووايي: قصدا مې دروغ ويلي وو، خو که وېې ويل: په شهادت کې خطا شوى وم، نو جزا نه ورکول کيږي.

خو يارانو دوه ډوله سزا ورته ټاکلې ده چې يو يې په دورو وهل او بل يې بندي کول دي.

**له شهادت څخه ګرځيدل**: په دې اړه دوه صورتونه دي:

١- له فيصلې وړاندې له ګواهۍ څخه په ګرځيدو د شاهدانو شاهدي ساقطيږي او کوم بل اثر پرې نه مرتبيږي.

٢- او که له فيصلې وروسته وګرځيدل، نو فيصله نه فسخه کيږي او د دوى د ګواهۍ په وجه چې څوک تاواني شوى، د هغه تاوان په دوى لازميږي.

له شاهدۍ ګرځيدل يوازې د حاکم (قاضي) په مجلس کې تر سره کيداى شي

له شاهدۍ څخه د رجوع د صحت شرط دا دی چې د قاضي په مجلس کې به وي، لکه څرنگه چې د شاهدي اداء یوازې د قاضي په مجلس کې تر سره کیږي، همدا ډول له هغې څخه رجوع هم یوازې د قاضي په مجلس کې تر سره کیدای شي، ځکه دا رجوع د شهادت فسخه ده، نو هغه ځانگړتیا ورکول کیږي کومه چې شهادت ته ورکول شوې.

**د رجوع په وخت د شهادت نصاب**: د ځینو شاهدانو د رجوع په صورت کې قاعده دا ده چې په گواهۍ پاتې خلکو ته اعتبار ورکول کیږي، نه له گواهي گرځیدونکو خلکو ته، که د ځینې شاهدانو له رجوع څخه وروسته هم د شهادت نصاب پوره وو، نو د قاضي حکم په خپل ځای پاتې دی، او په رجوع کوونکي تاوان نه لازمیږي، خو که په رجوع نصاب کم شو، نو په رجوع کوونکو هغه زیان لازمیږي، کوم چې د دوی په رجوع بې دلیله او بې گواه پاتې شوی دی، چې تفصیل یې په متن کې واضح دی.

**د (مهر مثل) د زیاتوالي او کموالي په اړه اختلاف**: که گواهانو د یې (ښځې) په خلاف د میړه د نکاح په دعوا گواهي ورکړه، که مهر یې له مهر مثل سره برابر او یا یې زیات بیان کړ، بیا یې رجوع وکړه، نو ښځې ته یې کوم زیان نه دی رسولی، تاوان ورباندې نشته.

که مهر یې له مهر مثل څخه کم بیان کړ، بیا هم تاوان ورباندې نشته، ځکه چې د بضعې منافع له نکاح څخه د خروج په وخت کې قیمت نه لري.

او که د ښځې د دعوا په صورت کې یې په سړي په پورته توگه گواهي ورکړه، بیا وگرځیدل، نو له مهر مثل سره د مساوي او له هغه څخه د کم مهر په بیانولو تاوان ورباندې نشته، ځکه سړي د ښځې په لاس ته راوړلو تاوان نه دی کړی، چې دوی یې ورکړي، او که له مهر مثل څخه یې زیات مهر ښودلی وو، نو گواهان به زیادت ورکوي، ځکه چې دا زیادت یې د دوی په شاهدۍ ضایع شو.

**د قصاص په اړه رجوع**: که د قصاص گواهانو د قصاص له تطبیق څخه وروسته له گواهۍ څخه رجوع وکړه، په دې مسأله کې په گواهانو دیت لازمیږي، ځکه دوی د وژل شوي شخص د وژلو سبب شوي دي، او قصاص ورباندې نشته، دا ځکه چې دوی په مباشره توگه د قتل عمل سرته نه دی رسولی، بلکې د قتل سبب جوړ شوي دي او قصاص یوازې په مباشر قتل

کې لازمیږي.

**د زنا په اړه د شاهدی څخه رجوع**: که څلورو تنو په یو چا د زنا، او دوو نورو د هغه د احصان (بلوغ، عقل، اسلام، حریت او واده کولو) ګواهي ورکړه، او مشهود علیه رجم شو، نو که رجوع د زنا شاهدانو کړې وه، تاوان وربانديې لازمیږي، او که رجوع د احصان ګواهانو کړې وه، ضامنان نه ګرځي، ځکه رجم په زنا رامنځ ته کیږي، نه په احصان، او په احصان کې ځینې د کمال صفتونه دي، چې په ځانګړې توګه رجم نه واجبوي، همداراز احصان د رجم شرط دی، او حکم (رجم) سبب (زنا) ته منسوبیږي، نه شرط ته.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په دوو ډلو وویشل شي او د اصلي او فرعي شاهدانو تمثیل دې وړاندې کړي، ترڅو لوست زده کوونکو ته ښه واضح شي.

## ارزونه

۱- په شهادت باندې شهادت کله جایز دی ؟
۲_ په ګواهي باندې د ګواه د نیولو طریقه بیان کړئ.
۳_ د فرع شاهدي کله نه قبلیږي؟
٤_ له ګواهي څخه د ګرځیدلو حکم څرګند کړئ.
۵_ د مهر مثل د زیاتوالي او کموالي په اړه د شاهدانو د رجوع حکم بیان کړئ.
٦_ د زنا په اړه د زنا او احصان د شاهدانو د رجوع حکم بیان کړئ.

# د قضا اداب

(١) كِتَابُ آدَابِ الْقَاضِي:

(٢) لَا تَصِحُّ وِلَايَةُ الْقَاضِي حَتَّى يَجْتَمِعَ فِي الْمُوَلَّى شَرَائِطُ الشَّهَادَةِ وَيَكُونَ مِنْ أَهْلِ الاِجْتِهَادِ.

(٣) وَلَا بَأْسَ بِالدُّخُولِ فِي الْقَضَاءِ لِمَنْ يَثِقُ مِنْ نَفْسِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ فَرْضَهُ، وَيُكْرَهُ الدُّخُولُ فِيهِ لِمَنْ يَخَافُ الْعَجْزَ عَنْهُ وَلَا يَأْمَنُ عَلَى نَفْسِهِ الْحَيْفَ فِيهِ.

(٤) وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَطْلُبَ الْوِلَايَةَ وَلَا يَسْأَلَهَا.

(٥) وَمَنْ قُلِّدَ الْقَضَاءَ يُسَلَّمُ إِلَيْهِ دِيوَانُ الْقَاضِي الَّذِي قَبْلَهُ.

(٦) وَيَنْظُرُ فِي حَالِ الْمَسْجُونِينَ، فَمَنْ اعْتَرَفَ مِنْهُمْ بِحَقٍّ أَلْزَمَهُ إِيَّاهُ، وَمَنْ أَنْكَرَ لَمْ يَقْبَلْ قَوْلَ الْمَعْزُولِ عَلَيْهِ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ، فَإِنْ لَمْ تَقُمْ بَيِّنَةٌ لَمْ يُعَجِّلْ بِتَخْلِيَتِهِ حَتَّى يُنَادِيَ عَلَيْهِ وَيَسْتَظْهِرَ فِي أَمْرِهِ.

(٧) وَيَنْظُرُ فِي الْوَدَائِعِ وَفِي ارْتِفَاعَاتِ الْوُقُوفِ، فَيَعْمَلُ عَلَى مَا تَقُومُ بِهِ الْبَيِّنَةُ أَوْ يَعْتَرِفُ بِهِ مَنْ هُوَ فِي يَدِهِ.

(٨) وَيَجْلِسُ الْحَاكِمُ جُلُوسًا ظَاهِرًا فِي الْمَسْجِدِ.

(٩) وَلَا يَقْبَلُ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ ذِي رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْهُ أَوْ مِمَّنْ جَرَتْ عَادَتُهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ بِمُهَادَاتِهِ، وَلَا يَحْضُرُ دَعْوَةً إِلَّا أَنْ تَكُونَ عَامَّةً، وَيَشْهَدُ الْجَنَائِزَ وَيَعُودُ الْمَرْضَى، وَلَا يُضَيِّفُ أَحَدَ الْخَصْمَيْنِ دُونَ خَصْمِهِ.

(١٠) فَإِذَا حَضَرَا سَاوَى بَيْنَهُمَا فِي الْمَجْلِسِ وَالْإِقْبَالِ، وَلَا يُسَارُّ أَحَدَهُمَا وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ وَلَا يُلَقِّنُهُ حُجَّةً.

(١١) فَإِذَا ثَبَتَ الْحَقُّ عِنْدَهُ وَطَلَبَ صَاحِبُ الْحَقِّ حَبْسَ غَرِيمِهِ لَمْ يُعَجِّلْ بِحَبْسِهِ وَأَمَرَهُ

بِدَفْعِ مَا عَلَيْهِ، فَإِنِ امْتَنَعَ حَبَسَهُ فِي كُلِّ دَيْنٍ لَزِمَهُ بَدَلًا عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ، كَثَمَنِ الْمَبِيعِ وَبَدَلِ الْقَرْضِ، أَوْ الْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ، وَلَا يَحْبِسُهُ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ إِذَا قَالَ: إِنِّي فَقِيرٌ، إِلَّا أَنْ يُثْبِتَ غَرِيمُهُ انَّ لَهُ مَالا، فَيَحْبِسُهُ. وَيَحْبِسُهُ شَهْرَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ يَسْأَلُ عَنْهُ فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ مَالٌ خَلَّى سَبِيلَهُ.

(١٢) وَلَا يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ.

(١٣) وَيُحْبَسُ الرَّجُلُ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهِ، وَلَا يُحْبَسُ وَالِدٌ فِي دَيْنِ وَلَدِهِ، وَيُحْبَسُ إِذَا امْتَنَعَ مِنْ الْإِنْفَاقِ عَلَيْهِ.

(١٤) وَيَجُوزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

## ژباړه

**(١) د قاضي د ادابو کتاب:**

(٢) د قاضي ټاکنه يوازې په هغه صورت کې صحيح کيږي چې په ټاکل شوي کې د شهادت شرطونه شتون ولري، او د اجتهاد اهل وي.

(٣) د قضا دمنصب منل هغه چا ته باك (ګناه) نلري، چې په ځان باوري وي چې خپله دنده په سمه توګه سرته رسولای شي او د هغه چا لپاره د قضا منصب تر لاسه کول مکروه دي، چې د قضا د فريضې په سرته رسولو کې د پاتې راتلو او يا په ځان باندې په دې اړه د ظلم کولو ويره ورسره وي.

(٤) د واک غوښتنه په کار نه ده، او نه به يې غواړي.

(٥) او چا چې د قضا منصب تر لاسه کړ، د مخکيني قاضي ديوان (دفتر او دوسيې)به ورته وسپارل شي.

(٦) او د بنديانو حال به وګوري، نو چا چې په حق اعتراف وکړ، ورباندې لازم به يې کړي، او چا چې انکار وکړ، د معزول قاضي قول به د ده په خلاف له شاهدانو پرته نه مني، که ګواهي سرته ونه رسيدله، نو په خوشې کولو کې به يې عجله نه کوي، تر دې چې د ده په هکله يې

اعلان نه وي کړی او د ده حال يې ځان ته نه وي ښکاره کړی.

(۷) همدا راز قاضي به امانتونو او د اوقافو غلې دانې وګوري، د شاهد قائمولو او يا د چا په لاس کې په موجود شي باندې د اعتراف کولو له لارې به عمل کوي.

(۸) قاضي به د پريکړو لپاره ښکاره په جومات کې کښيني.

(۹) هيڅ ډالۍ (تحفه) به نه قبلوي، مګر د خپلو محرمو خپلوانو او يا د هغه چا چې د قضا له منصب وړاندې يې يو بل ته د ډالۍ ورکولو عادت ؤ. هيڅ دعوت (ميلمستيا)ته به نه حاضريږي مګر په هغه صورت کې چې دعوت عام وي، جنازو ته به حاضريږي او د ناروغ پوښتنه به کوي، د لانجو، دعوو يو طرف به نه ميلمه کوي، مګر هغه مهال چې هغه بل جانب هم وي.

(۱۰) کله چې د دعوا دواړه اړخونه حاضر شول نو د دواړو تر منځ به په ناسته او مخامخ کيدو کې برابری او مساوات کوي. يو طرف ته به پټه خبره نه کوي، (داسې) اشاره به نه ورته کوي (چې ورباندې تشويق يا تهديد شي) او دليل به هم نه ورته تلقين کوي.

(۱۱) کله چې د قاضي په وړاندې حق ثابت شي او د حق خاوند د خپل قرضدار د بندي کولو غوښتنه وکړه، نو په بندي کولو کې به يې تلوارنه کوي، څه چې ورباندې لازم دي د هغې د ورکولو امر به ورته وکړي، که له ورکړې څخه يې انکار وکړ، نو په هر هغه پور کې به يې بندي کوي، چې ده ته د په لاس ورغلي مال بدل وي، لکه د مبيعې ثمن او د پور بدل، اويا يې د هغه التزام په عقد سره کړی وي، لکه مهر او کفالت، له دې پرته په نورو حقوقو کې يې که وويل: چې زه فقير يم نو نه به يې بندي کوي، مګر که قرض ورکوونکی دا ثابته کړه چې مال لري، بيا به يې دوه يا درې مياشتې بندي کړي، په هکله به يې پوښتنه وکړي، که چيرې يې مال ښکاره نه شو، نو خوشې به يې کړي.

(۱۲) د ده او د قرضدارانو ترمنځ به نه حايل کيږي.

(۱۳) خاوند د خپلې ښځې د نفقې لپاره بندي کيدای شي، پلار د زوی په پور کې نه بندي کيږي، او که د اولاد له نفقې څخه انکار وکړي بندي کيدای شي.

(١٤) په ټولو امورو کې د ښځې قضا جایزه ده مګر په حدودو او قصاص کې جایزه نه ده.

## شرحه

**څوک د قضا منصب ترلاسه کولای شي؟** د قدوري کتاب لیکوال د قضا د منصب لپاره دوه صفته ذکر کړي دي. لومړی دا چې قاضي به داسې څوک وي چې د شهادت اهلیت ولري، هغه څوک چې د شهادت شرایط پکې نه وي هغه قاضي کیدای نشي، د شهادت د اهلیت د شرطونو یادونه په تیرو درسونو کې شوې ده چې مسلمان، عاقل، بالغ او عادل به وي.

**دویم** صفت دادی چې قاضي به د اجتهاد وړتیا ولري، دا د لومړیتوب لپاره یو وصف دی، ځکه د حنفي مذهب جمهور علماء وایي: څرنګه چې د مجتهد پیداکول د قضا د منصب لپاره غالبا ناشوني وي، نو د قضا د منصب لپاره د داسې چا ټاکل چې د خصمینو په دعوا پوه شي او د علماوو فتواوو او پریکړو ته لاس رسی ولري، کفایت کوي.

**د قضا قبلولو حکم**: په شریعت کې د قضا له غوښتلو څخه منع راغلې ده، ځکه دا منصب یو امتحان دی، نو ځان ورته کاندیدول له خطر نه خالي نه دي.

که د دې خبرې غالب ګمان ؤ چې په دې دنده کې به پاتې راشم، نو د قضا منصب قبلول ناروا دي او که په غالب ګمان یې د ظلم له کولو څخه ځان مأمون ګاڼه او د عدالت او انصاف کولو نیت یې درلود، نو د قضا منصب قبلول مباح دي.

**د قاضي دندې**: قضا په اسلام کې د عدالت د اقامې او د حقونو د تامین بنسټیزه وسیله ده، له همدې امله دا یوه ټولنیزه فریضه ده، چې دولتونه د قضایي نظام په رامنځ ته کولو مکلف دي.

قاضي به له هغو کړو وړو څخه چې ده ته تهمت راجع کړي او یا په خصمینو کې یو ناهیلی او بل تشویق کړي، ځان ساتي.

**مدعی علیه باندې د حق ثابتولو لارې**: اسلامي شریعت حق حقدار ته د رسیدلو لپاره یو څه اصول او مقررات وضع کړي دي، ترڅو حق د حق خاوند ته ورکړل شي، چې له یوې خوا

د حقوقو د تلف مخنيوی وشي او له بلې خوا څوک بې موجبه متضرر نشي.
دا چې مدعی علیه د الله تعالی او د اخرت له ورځې حیا وکړي او د حق د خاوند لپاره پخپله خوښه او پرته له اکراه اقرار وکړي چې دا د ده حق دی.
دا چې مدعی علیه د حق له منلو څخه انکار وکړي نو په دې صورت کې به مدعي شاهدان وړاندې کوي کله چې شاهدانو شاهدي ورکړه، نو په مدعی علیه باندې حق ثابتیږي خو څو پورې چې مدعی شاهدان لري، مدعی علیه ته قسم یا سوګند نه ورکول کیږي، که مدعی شاهدان ونه لري، نو بیا مدعی علیه ته چې منکر دی سوګند ورکول کیږي.
**مدعی علیه په کومو صورتونو کې بندي کیدای شي؟** مدعی علیه په دوه صورتوکې بندي کیدای شي:
۱- د پور په عوض کې چې ورته پاتې وي، لکه د مبیعی ثمن او یا قرض، ځکه کله چې مال یې لاس ته ورغی، نو غني والي یې ثابت شو او هغه وخت بندی کیدای شي چې مالداره وي، بې وسه انسان نشي بندي کیدای.
۲- دا چې د کوم عقد په ذریعه یې په ځان یو څه لازم کړي وي لکه د ښځې مهر ( معجل مهر) او یا د چا کفالت په غاړه اخیستل، د پورورې شتمنتوب به د ګواهانو په وړاندې کولو ثابتیږي.
دغه راز خاوند د ښځې د نفقې په نه ادا کولو بندي کیدای شي، ځکه چې هغه ظالم دی، خو پلار د اولاد په قرض نه ادا کولو نشي بندي کیدای، دا ځکه چې بندي کول یو ډول عقوبت دی، نو زوی پلار ته د عقوبت ورکولو حق نه لري، ځکه شریعت معمولي ضرر رسول هم پلار او مور ته منع کړي دي او عقوبت یو ضرر دی، خو که اولاد کوچنیان او فقیران وو، نو بیا د پلار بندي کول ددوی د نفقې په اړه جواز لري.
**د ښځې د قضاء د منصب په اړه حکم**: لکه څنګه چې اسلامي شریعت د ښځو ګواهي په ځینو برخو کې قبلوي دغه راز د ښځو قضاء هم په ځینو امورو کې قبلوي، په متن کې ذکر دي چې ښځه د ژوند په ټولو برخو کې د قضاء منصب خپلولی شي. امام ابو حنیفه (رحمه الله) ویلي: ښځه د قضاء چارې سرته رسولی شي، خو په کومو امورو کې چې د ښځو ګواهي

نه قبلیږي په هغو امورو کې د ښځو قضا هم جایز نه ده، لکه قصاص او حدود، دا ځکه چې ښځه یو عاطفي او کمزورى مخلوق دی چې ددغه ډول صحنو د لیدلو او د حدودو او قصاص د تطبیق وس نه لري، نو ځکه یې په دې اړه قضاء صحیح نه ده.

## فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي او د قضا قبلولو حکم دې د لوستل شوي درس په رڼا کې واضح کړي.

## ارزونه

١- په چا کې چې د شهادت شرایط نه وي هغه د قاضي کیدو اهلیت لري او که نه؟
٢- د قاضي دندې په ګوته کړئ.
٣- په مدعی علیه باندې حق له څو لارو ثابتیدای شي، بیان یې کړئ.
٤- په څو شیانو کې د ښځو قضا جایز نه ده؟

کورنی دنده: د قضا د درس لنډیز د متن لوستلو په مرسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# يو قاضي ته د بل قاضي ليک

ګرانو زده کوونکو! په تېر لوست کې مو د قاضي د شرطونو په اړه معلومات ترلاسه کړل. په دې لوست کې به ولولو چې يو قاضي ته د بل قاضي له خوا په قضايي موضوعاتو کې ليک استول څه حکم لري؟ په دې لوست کې به د شخړو د حل لپاره د خلکو له خوا د پرېکړه کوونکي ټاکل هم وڅېړو.

(١) وَيُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي إِلَى الْقَاضِي فِي الْحُقُوقِ إِذَا شَهِدَ بِهَا عِنْدَهُ.

(٢) فَإِنْ شَهِدُوا عَلَى خَصْمٍ حَكَمَ بِالشَّهَادَةِ، وَكَتَبَ بِحُكْمِهِ، وَإِنْ شَهِدُوا بِغَيْرِ حَضْرَةِ خَصْمٍ لَمْ يَحْكُمْ، وَكَتَبَ بِالشَّهَادَةِ لِيَحْكُمَ بِهَا الْمَكْتُوبُ إِلَيْهِ.

(٣) وَلَا يَقْبَلُ الْكِتَابَ إِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ، أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ.

(٤) وَيَجِبُ أَنْ يَقْرَأَ الكِتَابَ عَلَيْهِمْ لِيَعْرِفُوا مَا فِيهِ، ثُمَّ يَخْتِمَهُ بِحَضْرَتِهِمْ وَيُسَلِّمَهُ إِلَيْهِمْ، فَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْقَاضِي لَمْ يَقْبَلْهُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْخَصْمِ ، فَإِذَا سَلَّمَهُ الشُّهُودُ إِلَيْهِ نَظَرَ إِلَى خَتْمِهِ، فَإِنْ شَهِدُوا أَنَّهُ كِتَابُ فُلَانٍ الْقَاضِي سَلَّمَهُ إِلَيْنَا فِي مَجْلِسِ حُكْمِهِ وَقَرَأَهُ عَلَيْنَا وَخَتَمَهُ، فَضَّهُ الْقَاضِي، وَقَرَأَهُ عَلَى الْخَصْمِ، وَأَلْزَمَهُ مَا فِيهِ.

(٥) وَلَا يُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي إِلَى الْقَاضِي فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

(٦) وَلَيْسَ لِلْقَاضِي أَنْ يَسْتَخْلِفَ عَلَى الْقَضَاءِ إِلَّا أَنْ يُفَوَّضَ إِلَيْهِ ذَلِكَ.

(٧) وَإِذَا رُفِعَ إِلَى الْقَاضِي حُكْمُ حَاكِمٍ آخَرَ أَمْضَاهُ إِلَّا أَنْ يُخَالِفَ الْكِتَابَ أَوْ السُّنَّةَ أَوْ الْإِجْمَاعَ، أَوْ يَكُونَ قَوْلًا لَا دَلِيلَ عَلَيْهِ.

(٨) وَلَا يَقْضِي الْقَاضِي عَلَى غَائِبٍ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ مَنْ يَقُومُ مَقَامَهُ.

(٩) وَإِذَا حَكَّمَ رَجُلَانِ رَجُلًا لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمَا وَرَضِيَا بِحُكْمِهِ جَازَ إِذَا كَانَ بِصِفَةِ الْحَاكِمِ.

وَلَا يَجُوزُ تَحْكِيمُ الْكَافِرِ، وَالْعَبْدِ، وَالذِّمِّيِّ، وَالْمَحْدُودِ فِي قَذْفٍ، وَالْفَاسِقِ، وَالصَّبِيِّ.

(١٠) وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الْمُحَكِّمَيْنِ أَنْ يَرْجِعَ مَا لَمْ يَحْكُمْ عَلَيْهِمَا، فَإِذَا حَكَمَ لَزِمَهُمَا وَإِذَا رُفِعَ حُكْمُهُ إِلَى الْقَاضِي فَوَافَقَ مَذْهَبَهُ أَمْضَاهُ، وَإِنْ خَالَفَهُ أَبْطَلَهُ.

(١١) وَلَا يَجُوزُ التَّحْكِيمُ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

(١٢) وَإِن حَكَّمَا فِي دَمِ الْخَطَأ فَقَضَى الْحَاكِمُ عَلَى الْعَاقِلَةِ بِالدِّيَةِ لَمْ يُنْفَذْ حُكْمُهُ. وَيَجُوزُ أَنْ يَسْمَعَ الْبَيِّنَةَ وَيَقْضِي بِالنُّكُولِ.

(١٣) وَحُكْمُ الْحَاكِمِ لِأَبَوَيْهِ وَوَلَدِهِ وَزَوْجَتِهِ بَاطِلٌ.

## ژباړه

(١) د قاضي ليک بل قاضي ته په حقوقو کې هغه مهال منل کيږي چې د هغه په وړاندې شاهدي ورباندې وويل شي.

(٢) که (شاهدانو) په خصم (د دعوا په يو لوري) شاهدي وويله، قاضي به په شاهدۍ حکم وکړي او حکم به (هغه قاضي ته چې قضيه د تطبيق لپاره ورلېږل کيږي) وليکي، خو که (شاهدانو) د خصم له حضور پرته شاهدي وويله (قاضي) به حکم نه کوي (بلکې) شاهدي به وليکي او هغه قاضي ته به يې (چې قضيه د حکم کولو لپاره ورليږل کيږي) وليږي، چې حکم ورباندې وکړي.

(٣) (د قاضي) ليک د دوو سړو يا يو سړي او دوو ښځو له ګواهۍ پرته نه منل کيږي.

(٤) په (لېږونکي قاضي) واجب دي چې ليک (شاهدانو) ته ولولي څو هغوی پوه شي چې په ليک کې څه دي، بيا به يې د هغوی په شتون کې مهر کړي او هغوی ته به يې وسپاري. که (شاهدانو د دويم قاضي په وړاندې) شاهدي وويله چې دا د فلاني قاضي ليک دی، موږ ته يې د قضا په مجلس کې سپارلی، موږ ته يې لوستلی او مهر کړی يې دی نو قاضي به يې پرانيزي، مقابل لوري ته به يې ولولي او هغه څه به ورباندې لازم کړي چې په ليک کې دي.

(۵) په حدودو او قصاص کې يو قاضي ته د بل قاضي ليک نه منل کيږي.
(٦) قاضي نشي کولای چې پخپل ځای بل څوک نايب وګوماري مګر هغه مهال چې د دې واک ورکړل شوی وي.
(٧) کله چې قاضي ته د حاکم پرېکړه وړاندې شي، پلی کوي به يې، مګر دا چې د قرآن، سنتو يا اجماع مخالفه او يا بې دليله وي.
(٨) قاضي به پر غايب پرېکړه نه کوي مګر دا چې په ځای يې استازی حاضر شي.
(٩) که دوو کسانو بل سړی پخپل منځ کې د پرېکړې لپاره وټاکه او د هغه په پرېکړه راضي شول په دې شرط روا ده چې په ټاکل شوي شخص کې د حاکم صفتونه شتون ولري. د کافر، مريي، ذمي، د قذف په حد کې په درو وهل شوي، فاسق او کوچني حاکم ګرځول روا نه دي.
(١٠)د حکم ټاکونکو څخه هر يو کولای شي له پرېکړې کولو وړاندې (د حکم له منلو څخه وګرځي، کله چې (حکم) پرېکړه وکړي په حکم ټاکونکو لازمه ده (له دې وروسته له خپلې خبرې نشي ګرځېدلای). کله چې د (ګرځول شوي حکم) پرېکړه قاضي ته وړاندې شي، که د هغه د مذهب سره برابره وه تطبيق به يې کړي او که مخالفه وه باطله به يې وګرځوي.
(١١) په حدودو او قصاص کې د چا حکم ګرځول روا نه دي.
(١٢) که (خصمينو) په خطا وژنه کې څوک حکم وګرځاوه او هغه پر عاقله د ديت پرېکړه وکړه، نافذه نه ده. (ګرځول شوي) حکم ته روا دي چې شاهدي واوري او په نکول پرېکړه وکړي.
(١٣) د مور پلار، اولاد او ښځې په ګټه د حکم پرېکړه باطله ده.

## شرحه

**قاضي ته د بل قاضي ليک**: له دې څخه مقصد هغه ليکونه دي چې قاضي يې محکمې ته د

راغلې قضيې په اړه بل قاضي ته ليکي. د بېلګې په ډول د کندز ښار قاضي ځکه د هرات ښار قاضي ته ليک ليږي چې مدعی عليه په هرات کې دی. د قاضي ليک يوازې په هغو حقوقو کې منل کيږي چې په شبهه نه ساقطيږي، لکه پور، امانت، غصب، نکاح او داسې نور. په هغو قضيو کې چې په شبهه ساقطيږي، قاضي نشي کولای چې بل قاضي ته ليک وليږي لکه حدود او قصاص. دا ځکه چې قاضي ته د بل قاضي ليک پخپله د جرم په اثبات کې شبهه رامنځته کوي او قصاص او حدود په شبهو سره ساقطيږي.

**د قاضي د ليک ډولونه**: د متن سره سم د قاضي ليک په دوه ډوله دی:

۱- د کندز د ښار قاضي په احمد باندې چې د هرات په ښار کې اوسيږي په خپله د هغه او يا د هغه د وکيل په موجوديت کې پريکړه وکړي او نوموړې پريکړه يوازې د تطبيق لپاره د هرات د ښار قاضي ته وليږي، ځو د مدعی عليه د انکار مخه ونيول شي او له نوي سره د دعوا کولو اړتيا پيښه نشي.

۲- د کندز د ښار قاضي د دعوا په اړه د شاهدانو ګواهي اوري خو دا چې مدعی عليه (احمد) غايب او وکيل يې هم نشته، څرنګه چې د مدعی عليه د غياب په صورت کې پريکړه روا نه ده نو نوموړې ګواهي د پاتې اجراءاتو او پريکړې لپاره د هرات د ښار قاضي ته ورليږي، ځکه چې د هرات ښار ته د شاهدانو تګ يو ستونزمن کار دی او له بل پلوه هرات ته د قضايي دوسيې ليږل ځکه ضروري دي چې مدعي عليه (احمد) په هرات کې دی.

ليک لېږونکی قاضي به په ليک شاهدان ونيسي او هغوی ته به يې ولولي څو هغوی ورباندې پوه شي، ځکه له پوهې پرته شاهدي ويل صحيح نه دي، بيا به د شاهدانو په وړاندې په ليک مهر ولګوي چې په بشپړه توګه شک له منځه يوسي.

**مرسل اليه قاضي ته د ليک رسېدل**: کله چې د کاتب قاضي ليک مرسل اليه قاضي ته ورسيږي، قاضي به د قضا په مجلس او د خصم په موجوديت کې د شاهدانو له شاهدۍ وروسته ليک پرانيزي، ځکه ليک د ګواهۍ په معنا دی او ګواهي د خصم له موجوديت پرته

صحیح نه ده. د لیک له پرانستلو وروسته به قاضي محکوم علیه د هغه څه په کولو مکلف کړي چې په لیک کې ورباندې حکم شوی دی.

**په حدودو او قصاص کې د قاضي لیک**: په حدودو او قصاص کې قاضي ته د بل قاضي لیک لیږل صحیح نه دي او نه ورباندې حد ثابتیږي. دا ځکه چې حدود او قصاص په شبهې سره ساقطیږي او قاضي ته د بل قاضي لیک رسیدل له شبهې خالي نه دي ځکه لیکونه ټول سره ورته وي او کیدای شي چې په لیک کې تزویر او لاسوهنه وشي چې دا د جرم په اثبات کې یوه شبه ده.

له بل پلوه قاضي ته د بل قاضي لیک (الشهادة علی الشهادة: په ګواهۍ باندې ګواهۍ ورکولو) ته ورته دی او په ګواهۍ باندې په ګواهۍ ورکولو سره حد او قصاص نه ثابتیږي.

**په اجتهادي مسائلو کې د قاضي لیک**: که په یوې اجتهادي مسئله کې له صحیحې دعوې وروسته قاضي پریکړه وکړي او بل قاضي ته یې د تطبیق لپاره ولیږي، خو نومړی قاضي په دې اجتهادي مسئله کې د لیکونکي قاضي له نظر سره موافق نه وي، په دې صورت کې هم په دویم قاضي لازم دي چې نومړې پریکړه تطبیق کړي او له خپل نظر څخه تېر شي. دا ځکه چې په اجتهادي مسائلو کې اجتهادونه سره برابر دي او یو پر بل ترجیح نه لري، یعنې یو اجتهاد بل اجتهاد نشي ماتولای.

البته که د لیکونکي قاضي نظر د قرآن سره په ټکر کې و، د بېلګې په ډول سود یې روا کړی و، یا د سنتو سره په ټکر کې و، لکه د مدعی علیه په شاهد یې پریکړه کړې وه، یا د اجماع سره په ټکر کې و لکه د متعې په روا والي یې پریکړه کړې وه او یا هم داسې وینا وه چې په شریعت کې یې دلیل نه درلود، لکه د زماني په تېرېدو د پور له منځه وړل. په دې صورتونو کې په قاضي لازم دي چې نومړې پریکړه رد کړي.

**د خصمینو له خوا حکم (پریکړه کوونکی) ټاکل**: د دعوا لوري کولای شي چې د مقابل لوري په رضایت له رسمي قاضي پرته بل څوک د پریکړه کوونکي په توګه وټاکي. څرنګه چې

دوی ټول د خپلو ځانونو واک لري نو د حکم ټاکل ورته روا دي او د هغه پرېکړه یوازې په دوی د تطبیق وړ ده، نه پر بل چا. دا چې په دې صورت کې ټاکل شوی حکم د قاضي حیثیت لري نو باید چې د قاضي شرطونه پکې پوره وي، په همدې بنسټ د کافر، مریي، ذمي، د قذف په حد کې په درو وهل شوي شخص، فاسق او ماشوم حکم ګرځول روا نه دي.

قاضي سره د حکم توپیر دا دی چې حکم د خلکو له خوا ټاکل کیږي او پرېکړه یې د هغوی په رضایت پورې مشروطه ده، له همدې امله د دعوا لوري کولای شي د هغه له پرېکړې کولو وړاندې د هغه له حکمیت څخه انکار وکړي، خو که پرېکړه یې وکړه بیا یې د نه منلو حق نه لري.

همدا راز که د حکم پرېکړه قاضي ته وړاندې شي او د هغه د نظر سره موافقه نه وي کولای شي چې ماته یې کړي، ځکه دی د خلکو له خوا ټاکل شوی، نه د حکومت له خوا، نو نظر منل یې پر قاضي لازم نه دي.

**په حدودو او قصاص کې حکم ټاکل**: په حدودو او قصاص کې حکم ټاکل د لاندې دلایلو په بنسټ روا نه دي:

۱- حدود د الله پاک حق دی او د هغو د پلي کولو لپاره امام (قاضي) ټاکل شوی نو پرته له امام څخه بل څوک یې د پلي کولو حق نه لري.

۲- د مرکچي ټاکل د سولې د رامنځته کولو لپاره وي او کېدای شي په سوله کې څوک خپل حق بل ته وبښي، څرنګه چې حدود د الله حق دی او بل څوک حق نه لري چې هغه وبښي، نو تحکیم هم پکې روا نه دی.

۳- حدود او قصاص په شبهې سره ساقطیږي. څرنګه چې جرګه مار د هغه له ټاکونکو کسانو پرته په بل چا واک او ولایت نه لري او د واک محدودوالی پخپله یوه شبهه ده نو په دې بنسټ هم په حدودو او قصاص کې تحکیم (جرګه مار ټاکل) روا نه دي.

**پر عاقله و د دیت پرېکړه**: که د طرفینو له خوا ټاکل شوی دربمګری (حکم) د خطا قتل په

قضیه کې پر عاقله و د دیت ورکولو حکم وکړي، حکم یې ځکه نافذ نه دی چې مونږ مخکې ویلي وو: حکم له ټاکونکو کسانو پرته په بل چا واک او ولایت نه لري. څرنګه چې د دیت ورکولو حکم پر عاقله و شوی او عاقله و دی حَکم نه دی ټاکلی نو حُکم یې هم پر هغوی د تطبیق وړ نه دی.

**مسئله**: د لوست وروستۍ مسئله دا ده چې که د طرفینو له خوا ټاکل شوی دربمګړي او یا هم رسمي قاضي د خپل پلار، مور، اولادونو یا مېرمنې په ګټه پرېکړه وکړي، پرېکړه یې باطله ده، ځکه د خپلولی د پاللو شک موجود دی، خو که پرېکړه یې د هغوی د ګټو پر خلاف وه، د شک د له منځه تللو له امله یې پرېکړه صحیح ده.

**په جرګو کې باید لاندې ټکو ته پاملرنه وشي:**

۱- په جرګو کې باید داسې کسان د مرکچیانو په توګه وټاکل شي چې د شخړې د موضوع په هکله د روا او ناروا احکام وپېژني، د طرفینو د قانع کولو توان ولري او د هغوی رواني حالت وپېژني، څو حلال حرام او حرام حلال ونه ګرځوي، یا هم د شخړې د هوارولو په ځای شخړه نوره هم ستره نکړي.

۲- د جرګې د ټاکلو په مهال د شخړې دوه لوري چې کوم شرطونه ږدي، هغه باید جرګه ماران په نظر کې ونیسي، که د حق اخیستلو لپاره یې وټاکي او یا هم د سولې لپاره، نو د هغو شرطونو پابندي باید وکړي، او که ویې نکړي، د پرېکړې منل په خصمینو لازم نه دي.

۳- جرګه ماران باید د عدالت خوندیتوب ته پوره پاملرنه وکړي، څومره چې ممکنه وي زورور او ناړامه لوری دې د عادلانه پرېکړې منلو ته اړباسي، ځکه الله پاک په عدل امر کړی او عدالت کول واجب دي.

٤- جرګه ماران باید حرامو او حلالو ته پوره پاملرنه وکړي، په بدو کې د نجونو ورکول او په نورو جنایي او مدني شخړو کې د شریعت له حدودو وتل ناروا دي، او داسې پرېکړې چې د شریعت پولې ړنګوي، باید عملي نشي.

## فعالیت

زموږ په ټولنه کې د بېلابېلو شخړو د هوارولو لپاره د خلکو له خوا د حکم ټاکل رواج لري، زده کوونکي دې د لوست په رڼا کې د تحکیم اوسني مختلف صورتونه تر بحث لاندې ونیسي.

## ارزونه

١- قاضي ته د بل قاضي د لیک ډولونه د شرحې سره سم روښانه کړئ.

٢- مرسل الیه قاضي ته د لیک په رسېدو باید هغه څه ډول اجراءات وکړي؟

٣- په حدودو او قصاص کې بل قاضي ته لیک لیږل ولې صحیح نه دي؟

٤- په اجتهادي مسایلو کې ولې یو قاضي د بل قاضي د پرېکړې مخالفت نشي کولای؟

٥- په حدودو او قصاص کې د خلکو له خوا د حکم ټاکل ولې صحیح نه دي؟ دلایل یې بیان کړئ.

٦- په خطا قتل کې د حکم له خوا پر عاقله و د دیت ورکولو پرېکړه ولې صحیح نه ده؟

# د مالونو د وېشلو احکام

کله کله د شریکانو تر منځ د ګډو مالونو وېشلو ته اړتیا پیښیږي، د شریعت له مخې د ګډو مالونو وېشل روا دي خو د دې لپاره چې شریکان له وېش څخه زیانمن نشي، شریعت په دې اړه یو شمېر لارښوونې کړي چې په دې لوست کې به یې ولولو.

(١) كِتَابُ الْقِسْمَةِ

(٢) يَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يَنْصِبَ قَاسِمًا يَرْزُقُهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ لِيَقْسِمَ بَيْنَ النَّاسِ بِغَيْرِ أَجْرٍ، فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ نَصَبَ قَاسِمًا يَقْسِمُ بِالْأَجْرِ.

(٣) وَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ عَدْلًا، مَأْمُونًا، عَالِمًا بِالْقِسْمَةِ.

(٤) وَلَا يُجْبِرُ الْقَاضِي النَّاسَ عَلَى قَاسِمٍ وَاحِدٍ، وَلَا يَتْرُكُ الْقُسَّامَ يَشْتَرِكُونَ.

(٥) وَأُجْرَةُ الْقِسْمَةِ عَلَى عَدَدِ الرُّءُوسِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: عَلَى قَدْرِ الْأَنْصِبَاءِ.

(٦) وَإِذَا حَضَرَ الشُّرَكَاءُ، وَفِي أَيْدِيهِمْ دَارٌ أَوْ ضَيْعَةٌ، ادَّعَوْا أَنَّهُمْ وَرِثُوهَا عَنْ فُلَانٍ، لَمْ يَقْسِمْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ حَتَّى يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ عَلَى مَوْتِهِ وَعَدَدِ وَرَثَتِهِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَقْسِمُهَا بِاعْتِرَافِهِمْ وَيَذْكُرُ فِي كِتَابِ الْقِسْمَةِ أَنَّهُ قَسَمَهَا بِقَوْلِهِمْ.

(٧) وَإِذَا كَانَ الْمُشْتَرَكُ مِمَّا سِوَى الْعَقَارِ، ادَّعَوْا أَنَّهُمْ وَرِثُوهُ قَسَمَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا، وَإِنْ ادَّعَوْا فِي الْعَقَارِ أَنَّهُمْ اشْتَرَوْهُ قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ، وَإِنِ ادَّعَوْا الْمِلْكَ وَلَمْ يَذْكُرُوا كَيْفَ انْتَقَلَ إِلَيْهِمْ قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ.

(٨) وَإِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ يَنْتَفِعُ بِنَصِيبِهِ، قَسَمَ بِطَلَبِ أَحَدِهِمْ، وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ يَنْتَفِعُ وَالْآخَرُ يَسْتَضِرُّ لِقِلَّةِ نَصِيبِهِ، فَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْكَثِيرِ قَسَمَ، وَإِنْ طَلَبَ

صَاحِبُ الْقَلِيلِ، لَمْ يَقْسِمْ، وَإِن كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ يَسْتَضِرُّ، لَمْ يَقْسِمْها إلَّا بِتَرَاضِيهِمَا.

(٩) وَيَقْسِمُ الْعُرُوضَ إذَا كَانَتْ مِنْ صِنْفٍ وَاحِدٍ.

(١٠) وَلَا يَقْسِمُ الْجِنْسَينِ بَعْضَهَا فِي بَعْضٍ، وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا يَقْسِمُ الرَّقِيقَ وَلَا الْجَوَاهِرَ لِتَفَاوُتِهِ، وقال أبو يوسف ومحمدٌ: يَقْسِمُ الرَّقِيْقَ.

(١١) وَلَا يُقْسَمُ حَمَّامٌ وَلَا بِئْرٌ وَلَا رَحًى إلَّا أَنْ يَتَرَاضَى الشُّرَكَاءُ.

## ژباړه

(١) د ویشلو کتاب

(٢) امام ته پکار دي چې د بیت المال په تنخواه وېشونکی وټاکي، ترڅو خلکو ته (د هغوی مالونه) له مزدورۍ پرته وویشي، که يې (له بیت المال څخه) ونه ټاکه، نو داسې وېشونکی دې وګوماري چې په مزدورۍ (د خلکو مالونه) ویشي.

(٣) واجب ده چې (وېشونکی) عادل، امین او په وېش پوه وي.

(٤) قاضي به خلك په یو وېشونکي نه مجبوروي او نه به وېشونکي پرېږدي چې په (مزدورۍ) کې سره شریك شي.

(٥) د امام ابوحنیفه په نظر د وېشلو مزدوري د سرونو (اشخاصو) په (حساب) ده. امام ابویوسف او امام محمد وايي: د برخو د اندازو په (حساب) ده.

(٦) شریکان که د کور یا ځمکې (قاضي) ته راشي او دعوه وکړي چې له فلاني څخه يې په میراث وړې دي، د امام ابوحنیفه په نظر به يې تر هغې نه ویشي، ترڅو يې د هغه په مړینه او د وارثانو په شمېر ګواهان نه وي تېر کړي. امام ابویوسف او امام محمد وايي: د هغوی په وینا به يې ویشي او د وېش په خط کې به لیکي چې د هغوی په وینا يې وېشلي.

(٧) که ګډ (مال) پرته له ځمکې نور شیان وو او دعوه يې وکړه چې (د دوی) میراث دی، د ټولو (امامانو) په نظر به يې ویشي. که د ځمکې په اړه يې دعوه وکړه چې په (بیه) يې اخیستې،

د دوی تر منځ به یې وویشي. که یې د ملکیت دعوه وکړه او دا یې ونه ویل چې څنګه یې (ملکیت) تر لاسه کړی، د دوی تر منځ به یې وویشي.

(۸) که هر شریک له خپلې برخې ګټه اخیستله د یوه په غوښتنه به یې ویشي، خو که یوه (له خپلې برخې) ګټه اخیستله او بل د برخې د کموالي له امله زیانمن کېدلو، نو که د زیاتې برخې څښتن (د وېش) غوښتنه وکړه وبه یې ویشي او که د کمې برخې څښتن د وېش غوښتنه وکړه نه به یې ویشي. که دواړه (په وېشلو سره) زیانمن کېدل، د دواړو له رضایت پرته به یې نه ویشي.

(۹) له ځمکې پرته نور شیان که له یو جنس څخه وو، ویشي به یې.

(۱۰) دوه بیل جنسونه به یو د بل په ځای نه ویشي. امام ابوحنیفه ویلي: مریان او قیمتي کاڼي به (یخپلو منځونو کې د زیات) توپیر له امله یو د بل په ځای نه ویشي. امام ابویوسف او امام محمد ویلي: مریان به ویشي.

(۱۱) حمام، څاه او ژرنده به د شریکانو له رضایت پرته نه ویشي.

## شرحه

**د قسمت (وېش) تعریف:** (قسمت) په لغت کې وېشلو او بېلولو ته وایي او په اصطلاح کې یو ځای ته د خپرې برخې راټولول قسمت (وېش) بلل کیږي. د مالونو وېش د څښتنانو په غوښتنه رامنځته کیږي، په دې شرط چې د مال په وېش سره ګټه اخیستل له منځه لاړ نشي او له وېش وروسته هم مال د ګټې اخیستلو وړ پاتې شي.

**د ویشونکي ټاکل:** د مالونو وېش ځکه د قضا له دندو څخه شمېرل کیږي چې د خلکو د شخړو د هوارولو لپاره ترسره کیږي. څرنګه چې د قاضي تنخواه له بیت المال څخه ورکول کیږي، په امام لازمه ده چې د مالونو د وېش لپاره هم د بیت المال په تنخواه وېشونکی وګوماري، خو له دې امله چې د وېشونکی ګټه د مالونو څښتنانو ته رسیږي، نو امام کولای شي چې وېشونکی وټاکي او مزدوري یې د مال له څښتنانو واخلي، په هر حال د وېشونکي

ټاکل د امام مسؤلیت دی.

**د وېشونکي شرطونه**: وېشونکی باید عادل وي، یعنې د قاضي شرطونه پکې پوره وي، د دې لپاره چې خلک وربانديې باور او اعتماد وکړي، باید امانتگر وي، همدا راز د وېشلو په احکامو پوه وي.

قاضي نشي کولای چې خلک دېته اړباسي څو د ده له خوا په هغه ټاکل شوي وېشونکي باندې خپل مالونه وویشي چې مزدوري له خلکو اخلي، په دې دلیل چې د مزدورۍ په صورت کې د مال وېشل یو عقد دی او قاضي خلک عقد کولو ته اړویستلی نشي.

قاضي به ویشونکي دېته نه پرېږدي چې پخپل منځ کې داسې شرکت رامنځته کړي چې د هر وېش مزدوري په ټولو تقسیم کړي. په دې صورت کې د وېشونکو یووالی د دې لامل کیږي چې خلک دوی ته اړ شي او نرخونه د وېشونکو په خوښه پورته لاړ شي.

**د وېشلو مزدوري**: د امام ابوحنیفه په نظر د وېشلو مزدوري د افرادو په تناسب ورکول کیږي، یعنې که د څلورو کسانو مال و وېشل شي او څلور سوه افغانۍ مزدوري راشي نو هر یو به سل سل افغانۍ ورکوي، ځکه دا مزدوري د جلاکولو ده او برخې په جلاکولو کې سره یو شان دي.

امام ابویوسف او امام محمد مزدوري به د برخو د اندازو په تناسب اخیستل کیږي، یعنې که د چا برخه زیاته وه، هغه به زیاته مزدوري ورکوي او د چا برخه چې کمه وه، هغه به کمه مزدوري ورکوي. د بېلگې په ډول دوو کسانو خپله مشترکه دوه جریبه ځمکه و وېشله یوه ته یونیم جریب او بل ته نیم جریب ورسېده او مزدوري دوه سوه افغانۍ وه، د نیم جریب څښتن به پنځوس افغانۍ او د یو نیم جریب څښتن به یو سلو پنځوس افغانۍ مزدوري ورکوي، ځکه د لږ مال جلاکول لږه خواري او د ډېر مال جلاکول ډېره خواري غواړي.

**له وېشونکي څخه د مال وېشلو غوښتنه**: که د مال څښتن د منقولو یا غیرمنقولو مالونو سره قاضي (وېشونکي) ته راشي او پر مال د میراث یا بیعې په سبب د ملکیت دعوه وکړي، یا هم

د ملکیت د سبب یادوونه ونکړي او د مال د وېشلو غوښتنه وکړي. په دې ټولو صورتونو کې به قاضي د هغوی تر منځ مال ویشي مګر په یو صورت کې چې هغه په دې ډول دی:

د کور یا ځمکې څښتنان چې کور او ځمکه په لاس کې لري، قاضي ته راشي، د ځمکې د وراثت دعوه وکړي او د هغې د وېش غوښتنه وکړي. د امام ابوحنیفه په نظر قاضي نشي کولای چې سملاسي ځمکه او کور د دوی تر منځ و ویشي، بلکې له دوی څخه به د مورث په مړینه او د وارثانو په شمېر شاهدان وغواړي، کله چې نوموړي شاهدان په محکمه کې شاهدي ووايي، قاضي به ځمکه او کور د دوی تر منځ و وېشي.

د امام ابوحنیفه دلیل دا دی چې په دې صورت کې له وېشلو وړاندې، ترکه د مړي ملکیت دی او د هغه حقونه لکه پور او وصیت ورپورې تړلي دي. په دې بنسټ د مال وېشل په مړي باندې پرېکړه کول دي چې دا پرېکړه له شاهدۍ پرته صحیح نه ده.

د یارانو دلیل دا دی چې د دوی ذوالیدي د دوی د ملکیت دلیل دی او بل کوم مدعي هم ورسره نشته، نو باید چې د دوی ملکیت د دوی تر منځ ووېشل شي، خو دا چې دا پرېکړه په همدوی پورې محدوده وي او د بل احتمالي حقدار حق ضایع نشي، باید د وېش په کتاب کې ولیکل شي چې وېش یوازې د دوی په غوښتنه تر سره شوی.

**په وېش باندې د زیان اغېز:** د قدوري لیکونکي له وېش څخه د راپیداکېدونکي زیان پر بنسټ څو صورتونه راوړي چې شرحه یې داسې ده:

۱- مال داسې وي چې له وېش وروسته دواړه شریکان له خپلې برخې ګټه اخیستلای شي. په دې صورت کې د هر شریک په غوښتنه مال وېشل کېږي، ځکه په وېش سره کوم زیان نه رامنځته کېږي.

۲- مال داسې وي چې د یوه برخه پکې زیاته او د بل کمه وي او د کمې برخې څښتن د کموالي له امله د مال په وېشلو سره زیانمن کېږي. په دې صورت کې که د زیاتې برخې څښتن د مال د وېشلو غوښتنه وکړي، مال وېشل کېږي او د کمې برخې د څښتن مخالفت ته اعتبار

نشته، ځکه د خپل مال څخه ګټه اخیستل د زیاتې برخې د څښتن حق دی.

۳- که په پورتني صورت کې د کمې برخې څښتن سره له دې چې په وېش زیانمن کیږي، بیا هم د وېش غوښتنه وکړي، مال نه وېشل کیږي، ځکه د کمې برخې د څښتن غوښتنه په دښمنۍ او عناد ولاړه ده، نه په کوم معقول دلیل.

٤- که په وېش کې دواړو ته زیان رسېده، د دواړو له رضایت پرته نه وېشل کیږي، یعنې د یوه د مخالفت په صورت کې د بل په غوښتنه نه وېشل کیږي، ځکه په زور وېشل هغه وخت روا دي چې ګټه پکې وي او په دې صورت کې په وېش کې کومه ګټه نشته.

**د وېشلو مالونه**: لکه چې پوهیږو مالونه په دوه ډوله دي: منقول او غیر منقول مالونه. عروض (سامان) که له یو جنس څخه وي، قاضي ته روا دي چې د شریکانو له خوښې پرته یې د هغوی تر منځ وویشي، ځکه د عروضو -چې له یو جنس څخه وي- داسې برابر وېشل چې ګټه هم ترې پورته شي ممکن دي، لکه د تېلو، غنمو، هګیو او داسې نورو وېشل.

هغه عروض چې له یو جنس څخه نه وي قاضي نشي کولای چې د شریکانو تر منځ یې وویشي. دا ځکه چې د دوی ترمنځ برابروالی نشته، البته قاضي کولای شي چې د شریکانو په خوښه یې یو د بل په ځای داسې وویشي چې ټولو شریکانو ته د هغوی د سهمونو مطابق په ارزښت کې برابرې برخې ورسیږي.

**مسئله**: که څه هم ټول مریان یو جنس شمېرل کیږي خو دا چې مریان د وصفونو او خویونو له امله پخپلو کې سره زیات توپیر لري، د امام ابوحنیفه په نظر د همجنسو مالونو په څېر د هغوی یو ډول وېشل سم نه دي، بلکې د وصفونو د توپیر په اساس باید جلا جنسونه وشمېرل شي او هر یوه ته جلا قیمت وټاکل شي او د ټاکل شوي ارزښت او قیمت په بنسټ یو د بل سره معاوضه او معامله شي. بېلابېل قیمتي کاڼي او جواهر هم پخپلو منځونو کې د قیمت او ارزښت د توپیر له امله د مریانو په څېر حکم لري.

د لوست په پیل کې مو ویلي و چې مالونه په دې شرط وېشل کیږي چې له وېش وروسته

ورځخه دګټې اخيستل ممکن وي، څرنګه چې حمام، څاه او ژرنده له وېشلو وروسته دګټې اخيستلو وړ نه پاتې کيږي، په دې بنسټ قاضي نشي کولای چې د شريکانو له خوښې پرته يې وويشي. که شريکان راضي وو، وېشل يې روا دي.

## فعاليت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي. يوه ډله دې د هغو مالونو نومونه واخلي چې پخپلو کې توپير نه لري او قاضي يې د شريکانو له خوښې پرته پر هغوی وېشلای شي. د زده کوونکو بله ډله دې د هغو مالونو نومونه واخلي چې قاضي يې د شريکانو له خوښې پرته پر هغوی نشي وېشلای.

## ارزونه

۱- قسمت تعريف او شرط يې بيان کړئ، او دا هم ووايئ چې وېش څه وخت رامنځته کيږي؟

۲- د وېشونکي شرطونه بيان کړئ.

۳- د وېشلو مزدوري په کوم تناسب ورکول کيږي؟ په دې اړه د امامانو اختلاف تشريح کړئ.

٤- د کور يا ځمکې څښتنان چې کور او ځمکه په لاس کې لري، د وراثت د دعوا په صورت کې د وېش غوښتنه وکړي. په دې صورت به قاضي څه کوي؟ په دې اړه د امامانو اختلاف تشريح کړئ.

٥- عروض څه ډول وېشل کيږي؟ د جنسونو اختلاف ته په پام سره يې حکمونه بيان کړئ.

٦- څاه او ژرنده ولې د شريکانو له خوښې پرته نشي وېشل کېدای؟

# د ځمکې د وېشلو حکمونه

په دې لوست کې به د ځمکې د وېش په طريقې سربېره د وېش په اړه يو لړ نور حکمونه هم روښانه کړو.

(١) وَإِذَا حضَرَ وَارِثَانِ، وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْوَفَاةِ وَعَدَدِ الْوَرَثَةِ وَالدَّارُ فِي أَيْدِيهِمْ وَمَعَهُمْ وَارِثٌ غائِبٌ، قَسَمَهَا الْقَاضِي بِطَلَبِ الْحَاضِرِينَ، وَنَصَبَ لِلْغَائِبِ وَكِيلًا يَقْبِضُ نَصِيبَهُ.

(٢) وَإِذَا كَانُوا مُشْتَرِينَ لَمْ يَقْسِمْ مَعَ غَيْبَةِ أَحَدِهِمْ.

(٣) وَإِنْ كَانَ الْعَقَارُ فِي يَدِ الْوَارِثِ الْغَائِبِ لَمْ يَقْسِمْ، وَإِنْ حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ لَمْ يَقْسِمْ.

(٤) وَإِن كَانَتْ دُورٌ مُشْتَرَكَةٌ فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ، قُسِمَتْ كُلُّ دَارٍ عَلَى حِدَتِهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ لَهُمْ قِسْمَةَ بَعْضِهَا فِي بَعْضٍ قَسَمَهَا.

(٥) وَإِذَا كَانَتْ دَارٌ وَضِيعَةٌ، أَوْ دَارٌ وَحَانُوتٌ، قَسَمَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حِدَتِهِ.

(٦) وَيَنْبَغِي لِلقَاسِمِ أَنْ يُصَوِّرَ مَا يَقْسِمُهُ وَيَعْدِلَهُ وَيَذْرَعَهُ وَيُقَوِّمَ البِنَاءَ وَيُفْرِزَ كَلَّ نَصِيبٍ عَنِ الثَّانِي بِطَرِيْقِهِ وَشُرْبِهِ حَتَّى لَا يَكُوْنَ لِنَصِيْبِ بَعْضِهِم بِنَصِيبِ الآخَرِ تَعَلُّقٌ، ثُمَّ يَكْتُبَ أَسْمَاءَهُمْ وَيَجْعَلَهَا قُرْعَةً ثُمَّ يُلَقِّبَ نَصِيبًا بِالأَوَّلِ، وَالَّذِي يَلِيهِ بِالثَّانِي وَالثَّالِثِ، وَعَلَى هَذَا، ثُمَّ يُخْرِجُ الْقُرْعَةَ فَمَنْ خَرَجَ اسْمُهُ أَوَّلًا فَلَهُ السَّهْمُ الأَوَّلُ، وَمَنْ خَرَجَ ثَانِيًا فَلَهُ السَّهْمُ الثَّانِي.

(٧) وَلَا يُدْخِلُ فِي الْقِسْمَةِ الدَّرَاهِمَ وَالدَّنَانِيرَ إِلَّا بِتَرَاضِيهِمْ.

(٨) وَإِنْ قَسَمَ بَيْنَهُمْ وَلِأَحَدِهِمْ مَسِيلٌ فِي مِلْكِ الْآخَرِ، أَوْ طَرِيقٌ لَمْ يُشْتَرَطْ فِي الْقِسْمَةِ، فَإِنْ أَمْكَنَ صَرْفُ الطَّرِيقِ وَالْمَسِيلِ عَنْهُ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَطْرِقَ وَيُسَيِّلَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ، وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْ فُسِخَتْ الْقِسْمَةُ.

(٩) وَإِنْ كَانَ سُفْلٌ لَا عُلُوَّ لَهُ، وَعُلُوٌّ لَا سُفْلَ لَهُ، وَسُفْلٌ لَهُ عُلُوٌّ، قَوَّمَ كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى

حِدَتِهِ، وَقُسِمَ بِالْقِيمَةِ، وَلَا يَعْتَبِرُ بِغَيْرِ ذَلِكَ.

(١٠) وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَقَاسِمُونَ فَشَهِدَ الْقَاسِمَانِ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا.

(١١) فَإِنْ ادَّعَى أَحَدُهُمَا الْغَلَطَ وَزَعَمَ أَنَّ مما أَصَابَهُ شَيْءٌ فِي يَدِ صَاحِبِهِ، وَقَدْ أَشْهَدَ عَلَى نَفْسِهِ بِالِاسْتِيفَاءِ، لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ.

(١٢) وَإِنْ قَالَ: (إِسْتَوْفَيْتُ حَقِّي ثُمَّ أَخَذْتَ بَعْضَهُ) فَالْقَوْلُ قَوْلُ خَصْمِهِ مَعَ يَمِينِه.

(١٣) وَإِنْ قَالَ: (أَصَابَنِي إِلَى مَوْضِعِ كَذَا وَلَمْ يُسَلِّمْهُ إِلَيَّ) وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى نَفْسِهِ بِالِاسْتِيفَاءِ، وَكَذَّبَهُ شَرِيكُهُ تَحَالَفَا، وَفُسِخَتِ الْقِسْمَةُ.

(١٤) وَإِن اسْتُحِقَّ بَعْضُ نَصِيبِ أَحَدِهِمَا بِعَيْنِهِ لَمْ تُفْسَخِ الْقِسْمَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَرَجَعَ بِحِصَّةِ ذَلِكَ مِنْ نَصِيبِ شَرِيكِهِ، وقال أبو يوسف: تُفْسَخُ الْقِسْمَةُ.

## ژباړه

(١) كله چې دوه وارثان حاضر شي، د (مورث) په مړينې او د وارثانو په شمېر ګواهان تېر کړي او کور د دوی په لاس کې وي او دوی سره يو غايب وارث وي، نو قاضي به کور د حاضرو (وارثانو) په غو ښتنه ووېشي او د غايب (وارث) لپاره به وکيل وټاکي چې برخه يې تسليم کړي.

(٢) که (وېش غوښتونکي) په بيعه اخيستونکي وو، د غايب (شريک) په صورت کې به يې نه ويشي.

(٣) که ځمکه د غايب وارث په لاس کې وه، نه به يې ويشي، که (يوازې) يو وارث حاضر شو ( او ګواهان يې تېر کړل) نه به يې ويشي.

(٤) که په يو ښار کې څو مشترک کورونه وو، د امام ابوحنيفه په نظر به هر کور جلا ويشي، امام ابويوسف او امام محمد ويلي: که يو د بل په ځای وېشل ګټور وو، وبه يې ويشي.

(٥) که کور او ځمکه وه، يا کور او دوکان وو، هر يو به جلا ووېشي.

(٦) وېشونکي ته پکار دي چې (برخې په کاغذ) انځور کړي، برابرې يې کړي، ګز يې کړي او ودانۍ قيمت کړي، هره برخه له نورو څخه د لارې او لښتي په شمول جلا کړي، څو د يوې برخې له بلې سره تړاو نه وي، بيا به د دوی نومونه ليکي او پچه به اچوي، اوله برخه به

په لومړۍ، وریسې په دویمې او دریمې او همداسې نورې، بیا به پچه راوباسي، د چا نوم چې لومړی راووت لومړۍ برخه د هغه او د چا چې دویم راووت دویمه برخه د هغه شوه.

(٧) دراهم او دینار به په وېش کې نه ګډوي، مګر د شریکانو په خوښه.

(٨) که یې داسې وېش وکړ چې د یو په ملکیت کې د بل ویاله یا لاره وه او (ویاله یا لاره) په وېش کې شرط شوې نه وه، نو که د لارې او ویالې اړول شوني وو، د بل (شریک) په لاره او ویاله کې به نه ځي، او که شوني نه وو، وېش به فسخ شي.

(٩) که داسې کور و چې دویم پوړ یې نه درلود، یا داسې پورتنی پوړ و چې (د شریکانو ملکیت) لاندې پوړ یې نه درلود، یا لاندې پوړ چې پورته پوړ یې درلود، هر یو به جلا قیمت کړای شي او د قیمت (په اساس) به ووېشل شي، له دې پرته بل شی معتبر نه دی.

(١٠) که وېش غوښتونکو په خپلو کې اختلاف وکړ او دوو وېشونکو ګواهي وویله، ګواهي یې قبلیږي.

(١١) که یوه د تېروتنې دعوه وکړه او ګومان یې کاوه چې د ده ځینې برخه یې د ملګري په لاس کې ده په داسې حال کې چې په ځان یې د خپل حق پوره اخیستلو ګواهي ویلې وه، (په دې صورت کې) خبره یې نه منل کیږي مګر په ګواهانو سره.

(١٢) که یې وویل: حق مې پوره اخیستی، بیا یې وویل: ځنې مې اخیستی. (په دې صورت کې) د خصم خبره د قسم سره معتبره ده.

(١٣) او که یې وویل: تر دې ځایه ما ته رارسېدلې وه، خو راتسلیم یې نکړه او په ځان یې د حق پوره اخیستلو ګواهان هم نه وو تېر کړي او هم د شریک لخوا دروغجن وګڼل شو، نو دواړه به قسمونه وکړي او وېش به فسخ شي.

(١٤) که د یو شریک ځینې معلومه برخه په استحقاق یوړل شي، د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نظر وېش نه فسخ کیږي او دی به د خپلې (په استحقاق وړل شوې) برخې په اندازه له خپل شریک څخه اخلي. امام ابویوسف ویلي: وېش فسخ کیږي.

## شرحه

**د وارث د غیابت په صورت کې د کور د وېش غوښتنه:** په تېر لوست کې مو د وارثانو له

خوا دکور د وېش د غوښتنې صورت له حکم سره روښانه کړی و، په دې لوست کې د هغه صورت په اړه غږېږو چې دوه وارثان له قاضي څخه دکور د وېش غوښتنه وکړي خو له دوی سره په مال کې یو غایب وارث هم حقدار وي. په دې صورت کې که وارثان د مورث په مړینه او د وارثانو په شمېر گواهان تېر کړي، قاضي به کور د دوی ترمنځ و ویشي، یو وارث به د مړي له خوا خصم او بل به د ورثه و خصم وگڼل شي، او د غایب وارث لپاره به وکیل وټاکي، څو په وېش کې د هغه استازیتوب وکړي.

که حاضر وارث یو و، بیا هم کور نه وېشل کیږي، ځکه چې یو شخص د ورثه و او مړي دواړو خصم نشي کېدای.

که په پورتنی مسئله کې دکور د وېش دعوا د میراث نه بلکې د بیعې په بنسټ وه، قاضي نشي کولای چې د غایب شریک په غیاب کې کور وویشي، ځکه د میراثي او په بیعې د اخیستل شوي ملکیت تر منځ توپیر شته او هغه دا دی چې په میراثي ملکیت کې حاضر د غایب استازیتوب کولای شي، خو په بیعه اخیستل شوي ملکیت کې حاضر د غایب خصم نشي کېدای.

که کور میراث او د غایب په لاس کې و، بیا هم نه وېشل کیږي، په دې دلیل چې ذوالید غایب دی او په غایب پرېکړه سمه نه ده.

**د کورونو وېش**: که شریکانو په یو ښار کې څو کورونه درلودل، هر کور به جلا په ټولو شریکانو وېشل کیږي، یو به د بل په ځای نه وېشل کیږي او هر کور جلا جنس شمېرل کیږي، ځکه موقعیت، گاونډیانو او نورو ټکو ته په پام سره په ارزښت کې برابر نه دي. امام ابویوسف او امام محمد وایي: د جلا یا یو د بل په ځای وېشلو واک د قاضي په لاس کې دی. قاضي چې حالاتو ته په کتو سره هر ډول غوره وگڼله همغسې به وېشل کیږي. البته که د وېش مالونه کور او دوکان یا ځمکه او دوکان وو، نو په اتفاق سره بیل بیل وېشل کیږي، ځکه چې دا مختلف جنسونه دي او مختلف جنسونه یو د بل په ځای نه وېشل کیږي.

**د کورونو د وېش طریقه**: په لاندې ډول ده:

۱- وېشونکی به کورونه په کاغذ انځور کړي څو ښه جوت او روښانه شي.

۲- برخې به په سهمونو برابرې وویشي.
۳- برخې به د گز په حساب معلومې کړي.
٤- د ودانیو مالي ارزښت به معلوم کړي.
٥- هره برخه به د لارې او ویالې په شمول له بلې څخه داسې جلا کړي چې تر منځ یې هیڅ شی مشترک پاتې نشي.
٦- برخې به د شریکانو له شمېر سره سم په لومړۍ، دویمې، درېمې... سره ونوموي.
۷- د شریکانو نومونه به په جلا کاغذونو کې داسې ولیکي چې د کاغذ له پرانیستلو پرته معلوم نشي، بیا به یو یو کاغذ پرانیزي، د هر چا نوم چې لومړی راووت لومړۍ برخه د هغه او د چا چې نوم دویم راووت دویمه برخه د هغه رسیږي او همداسې نور.
د کورونو په وېش کې پیسې نه گډیږي مگر دا چې شریکان یې وغواړي.
د پوړونو په وېش کې هر پوړ جلا جلا ارزښت لري.
**له وېش وروسته د تېروتنې دعوا**: په دې اړه په متن کې درې صورتونه راغلي:
۱- که څوک له وېش وروسته دعوا وکړي چې د ده ځینې برخه د ده د ملگري په لاس کې ده په داسې حال کې چې په ځان یې د خپل حق پوره اخیستلو گواهي ویلې وه، څرنگه چې په دې صورت کې دی د وېش د فسخه کولو مدعي دی، نو خبره یې له شاهدانو پرته نه منل کیږي، ځکه شاهدان تېرول په مدعي دي.
۲- په دویم صورت کې چې وایي: حق مې پوره اخیستی. بیا ووایي: ځینې مې اخیستی. په دې صورت کې یې هم له شاهدانو پرته خبره نه منل کیږي، ځکه په مقابل لوري یې د خپل حق پوره اخیستلو وروسته د غصب دعوا کړې او شاهدان تېرول په مدعي دي.
۳- په درېیم صورت کې چې په ځان یې د حق اخیستلو شاهدي نه ده ویلې بلکې د حق غوښتلو دعوا یې کړې او مقابل لوري دروغجن گڼلی، دواړه به قسمونه کوي او وېش به فسخه کوي.
**له وېش څخه وروسته د یوې برخې په استحقاق وړل کیدلو اختلاف**: دغه اختلاف چې په متن کې ذکر شوی هغه مهال رامنځته کیږي چې یوه شائعه برخه په استحقاق یوړل شي، نو

امام ابو حنیفه(رحمه الله) وایي چې وېش نه فسخ کېږي او امام ابو یوسف (رحمه الله) وایي چې فسخه کېږي، خو که په استحقاق ورل په یوه معینه برخه کې رامنځته شي، نو بیا په اجماع سره وېش نه فسخ کېږي، ځکه چې دلته استحقاق په معینه برخه کې دی نه په ټول کور کې، خو که استحقاق په ځینې شایع برخه کې رامنځته شي بیا نو د ټولو په اتفاق وېش فسخه کېږي، لکه په نیم شایع کور کې استحقاق ترلاسه کول، خو که چیرې استحقاق پر نیمایي هغه څه کې رامنځته شي چې د یو د دوی په لاس کې معلوم او تقسیم شوي وي، نو مستحق اختیار لري چې تقسیم باطلوي او که نه یې باطلوي، نو د خپل ملګري په لاس کې د معلوم تقسیم شوي څلورمه به ترې وغواړي.

## فعالیت

زده کوونکي دې یوه درې پوړیزه ودانۍ چې هر پوړ یې شپږ خونې لري، په دریو شریکانو برابرې وویشي.

## ارزونه

۱- که د یو غایب شریک په صورت کې دوه حاضر شریکان د میراث یا بیعې په بنسټ د کور د وېش غوښتنه وکړي، څه حکم لري؟

۲- په یو ښار کې د شریکانو څو کورونه به جلا وېشل کېږي که یو د بل په ځای؟ د دلیل سره یې حکم بیان کړئ.

۳- د ځمکو او کورونو د وېش طریقه بیان کړئ.

٤- له وېش وروسته د تېروتنې د دعوا درې صورته بیان کړئ.

٥- أیا د وېش غوښتونکو د اختلاف په صورت کې د وېشونکو شاهدي قبلیږي؟

٦- که له وېش وروسته د یو شریک برخه په استحقاق یوړل شي، ستونزه به څه ډول حل کېږي؟

# اکراه (۱)

د اسلامي شريعت له مخې د معاملاتو د ترسره كولو لپاره يو شرط د عاقدينو رضايت دی، كله كله ځيني عقدونه د عاقدينو له رضايت پرته د اكراه او اجبار له مخې رامنځته كيږي، اكراه په فقهه كې ځانګړي حكمونه لري چې په نني لوست كې به يې ولولو.

(۱) كِتَابُ الْإِكْرَاهِ

(۲) الْإِكْرَاهُ يَثْبُتُ حُكْمُهُ إذَا حَصَلَ مِمَّنْ يَقْدِرُ عَلَى إيقَاعِ مَا تَوَعَّدَ بِهِ سُلْطَانًا كَانَ أَوْ لِصًّا.

(۳) وَإِذَا أُكْرِهَ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ مَالِهِ، أَوْ عَلَى شِرَاءِ سِلْعَةٍ، أَوْ عَلَى أَنْ يُقِرَّ لِرَجُلٍ بِأَلْفٍ، أَوْ يُؤَاجِرَ دَارَهُ وَأُكْرِهَ عَلَى ذَلِكَ بِالضَّرْبِ الشَّدِيدِ، أَوْ بِالْحَبْسِ المديد– فَبَاعَ أَوْ اشْتَرَى، فَهُوَ بِالْخِيَارِ: إنْ شَاءَ أَمْضَى الْبَيْعَ، وَإِنْ شَاءَ فَسَخَهُ.

(٤) وَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ طَوْعًا فَقَدْ أَجَازَ الْبَيْعَ. وَإِنْ كَانَ قَبَضَهُ مُكْرَهًا فَلَيْسَ بِإِجَازَةٍ، وَعَلَيْهِ رَدُّهُ إنْ كَانَ قَائِمًا فِي يَدِهِ، وَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ فِي يَدِ الْمُشْتَرِي وَهُوَ غَيْرُ مُكْرَهٍ ضَمِنَ قِيمَتَهُ لِلْبَائِعِ، وَلِلْمُكْرَهِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ إنْ شَاءَ.

(٥) وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَى أَنْ يَأْكُلَ الْمَيْتَةَ أَوْ يَشْرَبَ الْخَمْرَ، وأُكْرِهَ عَلَى ذَلِكَ بِحَبْسٍ، او ضَرْبٍ أَوْ قَيْدٍ، لَمْ يَحِلَّ لَهُ، إلَّا أَنْ يُكْرَهَ بِمَا يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ، أَوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ أَعْضَائِهِ، فَإِذَا خَافَ ذَلِكَ وَسِعَهُ أَنْ يُقْدِمَ عَلَى مَا أُكْرِهَ عَلَيْهِ، ولاَ يَسَعُهُ أن يَصْبِرَ عَلَى مَا تُوِّعِّدَ بِهِ، فَإِنْ صَبَرَ حَتَّى أَوْقَعُوا بِهِ وَلَمْ يَأْكُلْ فَهُوَ آثِمٌ.

## ژباړه

(۱) **د اكراه كتاب**

(۲) د اكراه حكم هغه مهال ثابتيږي چې (اكراه) د داسې چا له خوا وشي چې دهغه څه د كولو

توان ولري چې ګواښ يې کړی، برابره ده چې (ګواښ کوونکی) پاچا وي او که غل.
(۳) که سرې د وژلو، سختو وهلو يا د اوږد بند په ګواښ سره د خپل مال په پلورلو، د کوم شي په اخيستلو، يا په دې چې چا ته په زر روپۍ اقرار وکړي، يا د خپل کور په کرايه ورکولو مجبور کړلای شو او هغه پلورل او اخيستل ترسره کړل، (د اکراه د له منځه تلو وروسته) اختيار لري، که يې خوښه شوه بيعه به په خپل حال پرېږدي او که يې خوښه وه فسخه به يې کړي.
(٤) که يې پيسې (قيمت) په خپله خوښه اخيستې وې، بيعې ته يې اجازه ورکړې. که يې (پيسې) په زور اخيستې وې، اجازه نه ده او په ده يې بېرته ورکول دي، که په لاس کې يې موجودې وې، که مبيعه د اخيستونکي په لاس کې هلاکه شوه او دی مکره (اړويستل شوی) نه و، د قيمت ضامن دی، که د مکره (مجبور) خوښه شوه مکره (اجبار کوونکی) ضامن بللی شي.
(٥) که څوک مجبور کړای شو چې مرداره وخوري يا شراب وڅښي او د بند، وهلو يا تړلو په وسيله (دې کار ته) اړويستل شو، ورته روا نه دي، مګر دا چې په داسې څه يې وګواښوي چې په ځان يا د بدن په کوم غړي ووېرېږي، که په دوی ووېرېده، روا دي چې اړويستل شوي کار وکړي شي، او ورته روا نه دي چې د ګواښ د ترسره کولو په وړاندې صبر وکړي، که يې تر دې صبر وکړ چې ياد شوی عمل يې ورباندې ترسره کړ او خوراک يې ونکړ، ګنهګار دی.

**شرحه**:

**د اکراه تعريف**: اکراه په لغت کې داسې عمل ته د انسان اړويستلو ته وايي چې بد يې ګڼي. په اصطلاح کې کوم کار ته د چا داسې اړويستلو ته وايي چې اهليت يې په ځای خو رضايت يې له منځه وړي او کله يې اختيار هم فاسدوي.

**داکراه ډولونه**: اکراه په دوه ډوله ده:

۱ـ **ملجئه**(**مضطره**) **اکراه**: هغه ده چې مکرَه په وژلو يا د بدن د يو غړي په له منځه وړلو سره وګواښل شي.

۲ـ **غیر ملجئه(غیرمضطره) اکراه**: هغه ده چې مکره په وهلو، ترلو یا بندي کولو سره وګواښل شي.

**د اکراه ثبوت**: په اکراه هغه وخت حکم مرتبیږي چې د داسې شخص له خوا ګواښ وشي چې د خپل ګواښ د عملي کولو توان ولري، که ګواښ کوونکي د ګواښ د عملي کولو توان نه درلود، اکراه نه ګڼل کیږي.

**د اکراه په حالت کې د راکړې ورکړې حکم**: که د وژلو یا سختو وهلو د ګواښ په صورت کې چا خپل مال وپلوره، او وروسته نوموړی خطر له منځه ولاړ، نو پلورونکی واک لري چې بیعه فسخه کړي، ځکه د بیعې لپاره د عاقدینو رضایت شرط دی کوم چې په اکراه سره له منځه تللی و، نو بیعه فاسده ده او پلورونکی یې د فسخه کولو واک لري.

که په پورتنۍ بیعه کې مکره پیسې په خوښه واخلي، اکراه له منځه ځي او بیعه بشپړه ګڼل کیږي، ځکه اکراه د بیعې په عقد شوې، نه د پیسو په تسلیمولو، یعنې پلورونکي کولای شول چې مال وسپاري او د پیسو له اخیستلو ډډه وکړي، خو دا چې پلورونکي د پیسو له اخیستلو ډډه نده کړې، د رضایت معنا لري.

که په پورتني صورت کې پلورونکي ایجاب او قبلول په اکراه سره کړی وي او پیسې یې هم په اکراه سره تسلیم کړې وي، نو د رضایت د نه موجودیت له امله بیعه نده شوې او پیسې د مکره سره د امانت په څېر دي، چې د خطر له لیرې کېدو وروسته یې که په لاس کې موجودې وې اخیستونکي ته به یې سپاري، خو که د ده له تیرې پرته له منځه تللې وې، ضامن نه دی.

که په پورتني صورت کې اخیستونکي مبیعه له اکراه پرته تسلیم کړې وي او مبیعه د اخیستونکي سره هلاکه شي، اخیستونکی یې ضامن دی، ځکه له صحیح عقد پرته یې پردی مال په لاس کې هلاک شوی. په دې صورت کې مکرَه (اړوېستل شوی) اختیار لري چې له مکرِه څخه تاوان غواړي او که له اخیستونکي څخه.

د شرابو او مردارې په خوړلو اکراه: په دې صورت کې دوه ډوله (ملجئه اوغیرملجئه) اکراه کېدلای شي.

**د غیر ملجئې اکراه صورت**: که څوک په غیرملجئه اکراه (په وهلو، ترړلو، بندي کولو او یا بل داسې زیان سره) وګواښل شي چې د ځان یا د کوم غړي د له منځه تلو ویره پکې نه وي څو شراب وڅښي یا د مرداري غوښه وخوري، ورته روا نه دي چې داکار وکړي البته د شرابو حد وربانديې نشته.

**د ملجئې اکراه صورت**: که څوک په ملجئه اکراه (په وژلو یا د بدن د کوم غړي په له منځه وړلو سره) وګواښل شو چې شراب وڅښي یا د مرداري غوښه وخوري، وربانديې واجب دي چې داکار وکړي او ځان له مرګه وساتي، لکه څنګه چې د مخمصې په حالت کې واجب دي. که چا په دې حالت کې د مرداري له خوړلو انکار وکړ او د مکرِه له خوا و وژل شو، ګنهګار دی، ځکه د ملجئې اکراه په حالت کې د مرداري خوړل روا دي او د روا شیانو څخه په پرهیز کولو سره ځان وژل ګناه ده.

## ارزونه

۱- د اکراه لغوي او اصطلاحي تعریف بیان کړئ.

۲- د اکراه ډولونه روښانه کړئ.

۳- اکراه څه وخت معتبره ګڼل کیږي؟

٤- که د وهلو د ګواښ په صورت کې بیعه رامنځته شي څه حکم لري؟

۵- که پلورل په اکراه سره رامنځته شي او پیسې د پلورونکي په لاس کې له منځه ولاړې شي، څه حکم لري؟

٦ د ملجئې اکراه په صورت کې د مرداري له خوړلو ډډه کول روا دي که ناروا؟ له دلیل سره يې روښانه کړئ.

# اكراه (٢)

په تېر لوست کې مو د اکراه تعریف او يو لړ حکمونه لوستي وو. دا لوست هم د اكراه د پاتې احكامو په اړه دی.

(١) وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى الْكُفْرِ بِاللَّهِ تَعَالَى، أَوْ سَبِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَيْدٍ، أَوْ حَبْسٍ أَوْ ضَرْبٍ، لَمْ يَكُنْ ذَلِكَ بِإِكْرَاهٍ حَتَّى يُكْرَهَ بِأَمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ، أَوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ أَعْضَائِهِ. فَإِذَا خَافَ ذَلِكَ وَسِعَهُ أَنْ يُظْهِرَ مَا أَمَرُوهُ بِهِ، وَيُوَرِّيْ. فَإِذَا أَظْهَرَ ذَلِكَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، وَإِنْ صَبَرَ حَتَّى قُتِلَ وَلَمْ يُظْهِرْ الْكُفْرَ كَانَ مَأْجُورًا.

(٢) وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى إِتْلَافِ مَالِ مُسْلِمٍ بِأَمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ، أَوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ أَعْضَائِهِ وَسِعَهُ أَنْ يَفْعَلَ ذَلِكَ، وَلِصَاحِبِ الْمَالِ أَنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ.

(٣) وَإِنْ أُكْرِهَ بِقَتْلٍ عَلَى قَتْلِ غَيْرِهِ لَمْ يَسَعْهُ أَنْ يُقْدِمَ عَلَيْهِ، وَ يَصْبِرُ حَتَّى يُقْتَلَ، فَإِنْ قَتَلَهُ كَانَ آثِمًا، وَالْقِصَاصُ عَلَى الَّذِي أَكْرَهَهُ إِنْ كَانَ الْقَتْلُ عَمْدًا.

(٤) وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى طَلَاقِ امْرَأَتِهِ، فَفَعَلَ، وَقَعَ مَا أُكْرِهَ عَلَيْهِ، وَيَرْجِعُ عَلَى الَّذِي أَكْرَهَهُ بِنِصْفِ مَهْرِ الْمَرْأَةِ إِذَا كَانَ الطلاق قَبْلَ الدُّخُولِ.

(٥) وَإِنْ أَكْرَهَهُ عَلَى الزِّنَا وَجَبَ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، إِلَّا أَنْ يُكْرِهَهُ السُّلْطَانُ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا يَلْزَمُهُ الْحَدُّ.

(٦) وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى الرِّدَةِ لَمْ تَبِنْ مِنْهُ إِمْرَأَتُهُ.

## ژباړه

(١) که د تړلو، بندي کولو او يا وهلو په ګواښ سره په الله پاك باندې په کفر کولو يا پيغمبر (عليه السلام) ته په ښکنځلو کولو مجبور کړل شو، اکراه نه ګڼل کيږي، مګر دا چې په داسې عمل وګواښل شي چې له امله يې په ځان يا د بدن په کوم غړي وويريږي. که له دې وويرېده ورته روا دي چې (په خوله) هغه څه ښکاره کړي چې هغوی ورته امر کړی او توريه به کوي. کله يې چې (په خوله) دا څرګندونې وکړې او زړه يې په ايمان ډاډه و، ګناه وربانديې نشته، خو که تر مرګه يې صبر وکړ او کفر يې ښکاره نه کړ، اجر ورکول کيږي.

(٢) که په داسې ګواښ سره د چا د مال په له منځه وړلو اړ کړل شو چې د ځان يا د بدن د کوم غړي (د له منځه تلو) وېره پکې وه، ورته روا دي چې دا کار وکړي، د مال څښتن به له مکرِه (مجبوروونکي) څخه تاوان اخلي.

(٣) که د وژلو په ګواښ سره د بل چا وژلو ته اړويستل شو، ورته روا نه دي چې (قتل ته يې) ورورانديې شي، بلکې تر دې به صبر کوي چې دی قتل شي، که يې قتل کړ ګنهګار دی، که قتل عمد و قصاص په هغه چا دی چې دی يې مجبور کړی.

(٤) که يې د ښځې په طلاقولو مجبور کړ او (مجبور) دا کار وکړ، (طلاق) واقع کيږي او د مکرِه څخه به نيم مهر اخلي که طلاق له دخول څخه وړانديې و.

(٥) که يې په زنا مجبور کړ، د امام ابوحنيفه په نظر حد وربانديې واجب دی، مګر دا چې پاچا مجبور کړی وي. امام ابويوسف او امام محمد ويلي: حد وربانديې نشته.

(٦) که په ارتداد يې مجبور کړ، ښځه ترې نه بائنه کيږي.

## شرحه

**په کفر اکراه**: که د غيرملجئې اکراه يعنې د تړلو، وهلو يا بندي کولو په وسيله څوك دې ته اړ کړل شي چې د کفر کلمې ووايي، يا پيغمبر (عليه السلام) ته ښکنځل وکړي، دا اکراه معتبره

نه شمېرل کیږي او مکرَه ته اجازه نشته چې داسې کلمې ووایي. څرنګه چې د داسې اکراه په مهال د شرابو څښل روا نه وو، د کفر د کلمې ویل او پیغمبر ﷺ ته ښکنځل کول خو له شرابو څښلو لویه ګناه ده.

که څوک د ملجئې اکراه په وسیله، یعنې د وژلو یا د بدن د کوم غړي د له منځه وړلو د ګواښ په وسیله اړ کړل شي چې د کفر کلمه ووایي، یا پیغمبر ﷺ ته ښکنځل وکړي، ورته روا دي چې یوازې په خوله د کفر کلمه ووایي، یا پیغمبر ﷺ ته ښکنځل وکړي په دې شرط چې په زړه کې به په الله باندې په ایمان ډاډه وي. د بیهقي د روایت له مخې د مکې مشرکینو به عمار رضي الله عنه پیغمبر ﷺ ته په ښکنځلو کولو مجبورولو. هغه له دې پېښې پیغمبر ﷺ خبرکړ. پیغمبر ﷺ ورنه وپوښتل: د زړه حال دې څنګه دی؟ هغه وویل: په ایمان ډاډه دی. بیا پیغمبر ﷺ هغه له دې کاره منع نه کړ. همدا راز د اکراه په صورت کې یوازې په خوله د کفر د کلمې په ویلو سره ایمان په حقیقي ډول له منځه نه ځي، بلکې د زړه تصدیق موجود وي خو د کفر د کلمې څخه په ډډې کولو سره د انسان ژوند په حقیقي ډول له منځه ځي، په دې بنسټ د ملجئې اکراه په حالت کې د کفر د کلمې ویونکی معذور دی.

البته په داسې حال کې د دین د درناوي په خاطر د کفر کلمه نه ویل عزیمت او غوره کار دی.

**د مال په هلاکولو اکراه**: د ملجئې اکراه په وسیله که څوک د بل چا د مال هلاکولو ته اړویستل شي، مکرَه ته روا دي چې پردی مال هلاک کړي، دا ځکه چې د ضرورت په وخت کې د بل چا مال هلاکول روا دي او د اکراه په حالت کې ضرورت په روښانه توګه رامنځته شوی. څرنګه چې د اکراه په حال کې مال هلاکوونکی د یوې آلې په څېر دی، نو د مال تاوان هم په مکرِه (اړویستونکي) دی.

**په وژلو اکراه**: که څوک د قتل په ګواښ سره د بل چا وژلو ته اړویستل شي، ورته روا نه دي چې د قتل جریمه تر سره کړي، ځکه قتل داسې ګناه ده چې د هیڅ ضرورت له مخې نه روا کیږي. که چیرې مکرَه (اړویستل شوی) په عمدي ډول د قتل مرتکب شي، قصاص یې له

مکرِه (اړویستونکي) شخه اخیستل کیږي.

**په طلاق اکراه**: که څوك د ملجئې یا غیرملجئې اکراه په وسیله خپلې مېرمنې ته په طلاق ورکولو مجبور شي او مېړه طلاق ورکړي، طلاق یې واقع کیږي، ځکه مکرَه د دوو زیانونو (وهلو یا طلاق ورکولو) څخه یو زیان (طلاق) په خپله خوښه غوره کړی، له بل پلوه طلاق له هغو شیانو څخه دی چې ټوکې او ریښتیا دواړه پکې یو ډول دي.

البته که د مکره طلاق له دخول څخه وړاندې و او مهر ټاکل شوی و، مکره به له اکراه کوونکي څخه تاوان (نیم مهر) اخلي، خو که د مکره طلاق له دخول وروسته واقع شوی و، په مکرِه هیڅ ضمانت نشته. دا په دې دلیل چې له دخول وړاندې د ښځې مهر داسې حق دی چې د له منځه تلو احتمال لري، د بېلګې په ډول د ښځې په ارتداد سره له منځه ځي، خو د مکرِه له کبله دا حق په طلاق سره ثابت او له سقوطه وژغورل شو، په دې بنسټ مکرِه یې ضامن دی. له دخوله وروسته ځکه مکرِه ضامن نه دی چې مهر د مکرِه د طلاق له کبله نه بلکې په دخول سره ثابت او خوندي شوی دی.

**په زنا اکراه**: دامام ابوحنیفه په نظر له سلطان (پاچا) پرته د بل چا اکراه صحیح نه ده، په همدې بنسټ که په زنا اکراه له پاچا پرته د بل چا له خوا وي، معتبره نه ګڼل کیږي او زاني په حد کیږي. د امام ابویوسف او امام محمد په نظر له پاچا پرته د بل چا اکراه هم شرعا اعتبار لري، ځکه نو په زنا اکراه که له پاچا پرته د بل چا له خوا وي هم حد ساقطیږي.

**د مکرَه مرتد د نکاح حکم**: که څوك په اکراه سره د کفر کلمه ووایي، مېرمن یې نه ورڅخه بائنه (جلا) کیږي، ځکه ارتداد د زړه باور پورې اړه لري او د مکرَه په زړه کې ایمان موجود دی.

## فعالیت

د اکراه په حالت کې د انسان څخه مسؤولیت پورته کول د الله پاک مهرباني او د اسلامي شریعت آسانتیا په ګوته کوي.

زده کوونکي دې په پورتنی موضوع بحث وکړي او د اسلامي فقهې څخه د مثالونو بیانولو په ترڅ کې دې د اسلامي شریعت آساني او په احکامو کې د انسانانو توان مراعتول، روښانه کړي.

## ارزونه

۱- د کفر کلمه ویل د کومې اکراه په حالت کې روا دي؟ دلیل یې هم روښانه کړئ.

۲- که څوک د وهلو په ګواښ سره د بل چا مال هلاکولو ته اړویستل شي، آیا د مال هلاکول ورته روا دي؟

۳- که د وژلو د ګواښ په وسیله څوک د چا وژلو ته اړویستل شي، آیا د نوموړي وژل ورته روا دي؟

٤- آیا د مکرَه طلاق واقع کیږي؟ د دلایلو په رڼا کې یې روښانه کړئ.

٥- د مکره مرتد د نکاح حکم بیان کړئ.

# د سير (جهاد) احكام (١)

جهاد د اسلام د مبارك دين له عبادتونو څخه يو ستر عبادت دى چې د پيغمبر (عليه السلام) په احاديثو كې يې زيات فضيلت راغلى، دا مهم عبادت په اسلامي شريعت كې ځانګړي احكام لري چې له قرآن او سنت څخه اخيستل شوي. په راتلونكو څو لوستونو كې دا حكمونه لولو.

(١) كِتَابُ السِّيَرِ و الْجِهَادِ

(٢) الجِهادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفايَةِ، إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنْ الْبَاقِينَ، وإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ.

(٣) وَقِتَالُ الْكُفَّارِ وَاجِبٌ عَلَيْنَا وَإِنْ لَمْ يَبْدَءُونَا.

(٤) وَلَا يَجِبُ الْجِهَادُ عَلَى صَبِيٍّ، وَلَا علي عَبْدٍ، وَلَا إِمْرَأَةٍ، وَلَا أَعْمَى، وَلَا مُقْعَدٍ، وَلَا أَقْطَعَ.

(٥) فَإِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ وَجَبَ عَلَى جَمِيعِ النَّاسِ الدَّفْعُ: تَخْرُجُ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا، وَالْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ.

(٦) وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُونَ دَارَ الْحَرْبِ فَحَاصَرُوا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، فَإِنْ أَجَابُوهُمْ كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ، وَإِنِ امْتَنَعُوا دَعَوْهُمْ إِلَى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ، فَإِنْ بَذَلُوهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِم مَا عَلَيْهِمْ.

(٧) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُقَاتَلَ مَنْ لَمْ تَبْلُغْهُ دَعْوَةُ الْإِسْلَامِ، إِلَّا بَعْدَ أَنْ يَدْعُوَهُمْ، وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَدْعُوَ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ، وَلَا يَجِبُ ذَلِكَ.

(٨) وإِنْ أَبَوْا اسْتَعَانُوا بِاللَّهِ تَعَالَى عَلَيْهِمْ وَحارَبُوْهُمْ وَنَصبُوا عَلَيْهِمْ الْمَجَانِيقَ، وَحرَّقُوهُمْ، وَأَرْسَلُوا عَلَيْهِمُ الْمَاءَ، وَقَطَعُوا اشجارَهُمْ وَأَفْسَدُوا زُرُوْعَهُمْ، وَلا بَأْسَ بِرَمْيِهِمْ وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْ تَاجِرٌ.

(٩) فَإِنْ تَتَرَّسُوا بِصِبْيَانِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ بِالْأُسَارَى لَمْ يَكُفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ وَيَقْصِدُونَ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارَ.

(١٠) وَلَا بَأْسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ وَالْمَصَاحِفِ مَعَ الْمُسْلِمِينَ إِذَا كَانَ عَسْكَرٌ عَظِيمٌ يُؤْمَنُ عليه، وَيُكْرَهُ إِخْرَاجُ ذَلِك فِي سَرِيَّةٍ لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا.

## ژباړه

**(١) د سير او جهاد کتاب**

(٢) جهاد کفايي فرض دی، هر کله چې د خلکو يوه ډله يې وکړي له نورو ساقطيږي، خو که هيڅوک يې هم ونکړي، ټول يې د پريښودو له کبله ګنهګاريږي.

(٣) کفارو سره جګړه کول په موږ واجب ده، که څه هم هغوی په مونږ (جګړه) نه وي پيل کړي.

(٤) پر کوچني، مريي، ښځې، ړوند، ګوډ او شل جهاد واجب نه دی.

(٥) که دښمن په کوم ښار يرغل وکړ، په ټولو مسلمانانو دفاع واجبه ده، ښځه به د ميړه له اجازې پرته وځي او مريی به د بادار له اجازې پرته وځي.

(٦) هر کله چې مسلمانان دارحرب ته ننوځي او کوم ښار يا کلا، کلابنده کړي نو هغوی به اسلام ته راوبلي، که يې اسلام ومنلو، له جګړې به يې لاس واخلي، که يې ونه منلو جزيې ورکولو ته به يې راوبلي، که يې ورکړه، د دوی لپاره هغه (حقونه) دي چې د مسلمانانو لپاره دي او پر دوی هغه (مسؤليتونه) دي چې پر مسلمانانو دي.

(٧) د هغه چا سره جګړه روا نه ده چې اسلام نه وي وررسيدلی، مګر وروسته د(اسلام) له

بلنې. د هغو خلکو رابلل هم مستحب دي چې بلنه وررسېدلې وي خو واجب نه ده.

(۸) که یې (له جزیې ورکولو) ډډه وکړه، له الله پاك به مرسته وغواړي او جگړه به ورسره پیل کړي، منجنیقونه به ورته ولگوي، وبه یې سوځوي، اوبه به وربانديې خوشې کړي، ونې به یې پرې کړي او فصلونه به یې ویجاړ کړي، ویشتل یې پروا نه لري که څه هم مسلمان بندي یا سوداگر پکې وي.

(۹) که یې د مسلمانانو کوچنیان یا بندیان سپر کړل، ویشتل به یې نه بندوي خو قصد به د کفارو د ویشتلو کوي.

(۱۰) که لښکر لوی او خوندي و (د جگړې میدان ته) د ښځو او مصحفونو وړل پروا نه لري. په سریه (ډلگیو) کې چې خوندي نه وي د دوی (ښځو او مصحفونو) ویستل مکروه دي.

## شرحه

**د سیر او جهاد تعریف**: (سیر) د (سین) په کسرې او د (یا) په فتحې سره د (سیرة) جمع ده او (سیرة) په چارو کې تگلارې ته ویل کیږي. د اصطلاح له مخې په غزاگانو کې د پیغمبر (علیه السلام) تگلارې ته سیرت ویل کیږي چې بل نوم یې جهاد دی.

جهاد په لغت کې پوره کوښښ کولو او یا ستونزو گاللو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې د الله پاك دین ته بلنه او د خنډ کېدلو په صورت کې د خنډ جوړونکو سره جگړه کول جهاد دی.

**د جهاد حکم**: جهاد په عادي حالت کې فرض کفایي دی، یعنې که د مسلمانانو له ډلې څخه دومره کسان په جهاد لاس پورې کړي چې د هغوی شمېر د دې کار لپاره کفایت وکړي، د ټولو مسلمانانو غاړه خلاصه ده. که د راپورته شویو کسانو شمېر کم او د دښمن مقابلې ته کافي نه و، نو دښمن ته د ورپسې نږدې سیمو پر خلکو فرض دي چې جهاد ته ولاړ شي، څو د دښمن د مقابلې لپاره کفایت وکړي. که هیڅوك هم جهاد ته ولاړ نشي نو ټول خلك گنهگار دي.

جهاد د امیر له خوا د عام نفیر (عامې بلنې) او له دښمن سره په جگړه کې د مخامخ کېدو په

حالت کې فرض عين ګرځي، چې تفاصيل يې په مفصلو کتابونو کې لټولی شئ.

د جهاد په فرضيت باندې زيات آيتونه دلالت کوي، د بېلګې په ډول دا آيت: ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ (البقرة: ۱۹۳) ژباړه: اوتاسو له هغو سره وجنګيږئ، ترڅو فتنه پاتې نشي. همدا راز الله فرمايي: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ﴾ (البقرة: ۲۱۶) ژباړه: فرض شوی دی په تاسو باندې جنګ او تاسو هغه خوښ نه ګڼئ.

**جهاد پرچا فرض نه دی**؟ که جهاد فرض کفايي و، لاندې کسان يې په کولو مکلف نه دي:

۱- کوچنی: ځکه چې د احکامو په عملي کولو مکلف نه دی.

۲- مريی او ښځه: ځکه د بادار او مېړه حق په جهاد وړاندې دی.

۳- ړوند، ګوډ او په لاسونو شل: ځکه دوی د جهاد کولو توان نه لري.

که کفارو د مسلمانانو په سيمه يرغل وکړ، په دې صورت کې په ټولو مسلمانانو جهاد کول فرض عين ګرځي، مېرمن د مېړه له اجازې پرته او مريی د بادار له اجازې پرته کولای شي جهاد ته لاړ شي.

**د جګړې د پيل کولو څرنګوالی**: کله چې د مجاهدينو لښکر د کفارو سيمه کلابنده کړي نو لومړی به هغوی ته د اسلام بلنه وړاندې کوي، د بلنې له وړاندې کولو مخکې له هغوی سره جګړه روا نه ده، ځکه د جهاد مقصد د دين خپرول دي نه د غنيمتونو نيول او د خلکو وېرول.

د حاکم په روايت کې ابن عباس فرمايي: مَا قَاتَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمًا حَتَّى دَعَاهُمْ. ژباړه: پيغمبر (عليه السلام) له بلنې وړاندې له هيڅ قوم سره جګړه نه ده کړې.

که له کلابندۍ پخوا هغوی ته د دين بلنه رسېدلې وه، د هغوی دويم ځلي بلنه واجب نه بلکې مستحب ده. رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د بني مصطلق پر قبيلې له بلنې پرته يرغل وکړ ځکه هغوی ته پخوا بلنه ورکړل شوې وه.

که کفارو د اسلام بلنه ومنله، مجاهدين به له جګړې لاس واخلي، ځکه له جهاد څخه مقصد

د اسلام منل و اوهغه لاس ته راغی.

که کفارو د اسلام له منلو انکار وکړ، د جزیې ورکولو بلنه به ورکړل شي. د جزیې بلنه د مشرکینو او مرتدینو پرته نورو کفارو ته ورکول کیږي، دوی به یا اسلام منی او یا به جګړه کوي.

که کفارو یې جزیه قبوله کړه ویني او مالونه یې د مسلمانانو د وینو او مالونو په څېر خوندي شول.

که جزیه ورکول یې هم قبول نکړل، اسلامي لښکر به ورسره جګړه پیل کړي.

**په جګړه کې کوم کارونه روا دي**؟ مسلمانانو ته روا دي چې د کفارو د ځواک ماتولو په خاطر لاندې کارونه وکړي.

په منجنیق (د ډبرو غورځولو په وسیلې) او په اوسني وخت کې په درنو وسلو لکه هاوان او توپونو باندې د کلاګانو ویشتل.

د کفارو سیمې ته اور اچول.

اوبه ورخوشې کول.

د ونو پرې کول.

فصلونه ویجاړول.

پیغمبر (علیه السلام) د طایف په جګړه کې منجنیق کارولی و، همدا راز په صحیح البخاري کې راغلي: حَرَّقَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَقَطَعَ.[1] ژباړه: رسول اللهﷺ د بني نضیر ونې وسوځولې او پرې یې کړې.

البته دا جنګي تاکتیکونه کارول هغه مهال روا دي چې د دښمن د ماتولو لپاره بله لار نه وي.

**مسلمانان سپر نیول**: د جګړې په مهال د کفارو په منځ کې د مسلمان سوداګر یا بندي شتون د جګړې او ویشتلو خنډ نه ګرځي، آن که کفار، مسلمان بندیان یا مسلمان کوچنیان د سپر په توګه ونیسي هم مسلمانانو ته جګړه او قتال روا دي، دا په دې دلیل چې زیاتره د کفارو په کلاګانو او ښارونو کې مسلمانان موجود وي، نو که د دوی لپاره جګړه پرېښودل شي جهاد به

۱. د دې حدیث تخریج إمام بخاري په خپل صحیح کې کړی: د حدیث شمېر ۳۸۳۶

وځنډېږي، له بل پلوه که د مسلمان سپر نیول د جګړې د بندېدو لامل شي، کفار به تل د جهاد د بندولو لپاره له همدې پلمې کار اخلي. په جهاد کې د مسلمانانو لوېې او عامې ګټې نغښتې دي چې د یو مسلمان د ژغورلو په پرتله زیاتې مهمې دي، خو مجاهدین به د ګولیو ویشتلو په مهال یوازې د کفارو د ویشتلو هوډ کوي، که چیرې سپر شوی مسلمان ولګېد، وېشتونکي ورباندې نه نیول کیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د لوست په رڼا کې په جهاد کې د نویو اختراع شوو وسلو او توپونو د کارولو په حکم خبرې اترې وکړي.

## ارزونه

١- سپر او جهاد تعریف کړئ.

٢- د جهاد حکم د دلایلو په رڼا کې بیان کړئ.

٣- د جهاد کولو له حکم څخه څوک مستثنا دي؟

٤- د کفارو د څواک ماتولو لپاره په جهاد کې کوم کوم کارونه روا دي؟

٥- که کفار په جګړه کې مسلمان سپر ونیسي، آیا جګړه کول ورسره روا دي؟

٦- د مجاهد لپاره له ځان سره د قرآن کریم وړل په کوم ډول جګړو کې روا دي؟

# د سير (جهاد) احكام (۲)

په دې لوست کې د جګړې په ميدان کې د مجاهد مسؤوليتونه، د سولې حکم، د غنيمتونو له وېشلو مخکې له هغې څخه د ګټې اخيستلو حکم او د فتحې په مهال په دارحرب کې د مسلمانانو د مال او ځان اړوند احکام لولو.

(۱) وَلَا تُقَاتِلُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا إِلَّا أَنْ يَهْجُمَ الْعَدُوُّ.

(۲) وَيَنْبَغِي لِلْمُسْلِمِينَ أَنْ لَا يَغْدِرُوا، وَلَا يَغُلُّوا، وَلَا يُمَثِّلُوا، وَلَا يَقْتُلُوا امْرَأَةً، اَوْشَيْخًا فَانِيًا، وَلَا صَبِيًّا، وَلَا أَعْمَى، وَلَا مُقْعَدًا، إِلَّا أَنْ يَكُونَ هَؤُلَاءِ مِمَّنْ لَهُ رَأْيٌ فِي الْحَرْبِ، أَوْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ مَلِكَةً، وَلَا يَقْتُلُوا مَجْنُونًا.

(۳) وَإِذَا رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ فِي ذَلِكَ مَصْلَحَةٌ لِلْمُسْلِمِينَ فَلَا بَأْسَ بِهِ، وإِنْ صَالَحَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ رَأَى أَنَّ نَقْضَ الصُّلْحِ أَنْفَعُ نَبَذَ إِلَيْهِمْ وَقَاتَلَهُمْ، وإِنْ بَدَءُوا بِخِيَانَةٍ قَاتَلَهُمْ وَلَمْ يَنْبِذْ إِلَيْهِمْ إِذَا كَانَ ذَلِكَ بِاتِّفَاقِهِمْ.

(٤) وَلَا بَأْسَ أَنْ يَعْلِفَ الْعَسْكَرُ فِي دَارِ الْحَرْبِ، وَيَأْكُلُوا ما وَجَدُوهُ مِنَ الطَّعَامِ، وَيَسْتَعْمِلُوا الْحَطَبَ، وَيَدْهُنُوا بِالدُّهْنِ، وَيُقَاتِلُوا بِمَا يَجِدُونَهُ مِنَ السِّلَاحِ كُلُّ ذَلِكَ بِغَيْرِ قِسْمَةٍ.

(٥) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعُوا شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ وَلَا يَتَمَوَّلُونَهُ.

(٦) ومن أَسْلَمَ مِنْهُمْ أَحْرَزَ بِإِسْلَامِهِ نَفْسَهُ وَأَوْلَادَهُ الصِّغَارَوَكُلُّ مَالٍ هُوَ فِي يَدِهِ أَوْ وَدِيعَةٍ فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ، فَإِنْ ظَهَرْنَا عَلَى الدَّارِ فَعَقَارُهُ فَيْءٌ، وَزَوْجَتُهُ فَيْءٌ، وَحَمْلُهَا فَيْءٌ، وَأَوْلَادُهُ الْكِبَارُ فَيْءٌ.

## ژباړه

(۱) ښځه به د مېړه له اجازې پرته جگړه نه کوي، مگر دا چې دښمن يرغل وکړي.

(۲) په مسلمانانو لازم دي چې ټگي ونکړي، له غنيمت څخه پټ نکړي، (جگړه مار) مثله نکړي (غوږونه، پوزې او نور غړي يې پرې نکړي)، ښځه، بوډا، کوچنی، ړوند او شل ونه وژني، مگر دا چې دوی د جنگي سلاکارانو له ډلې څخه وي، يا ښځه پاچا وي. ليونی به (هم) نه وژني.

(۳) هر کله چې امام د حربيانو يا د هغوی له يوې ډلې سره سوله (مناسبه) وليده او په دې کې د مسلمانانو ښېگڼه وه (سوله کول) پروا نه لري. که د څه مودې لپاره يې ورسره سوله وکړه، بيا يې وليدل چې د سولې پای ته رسول گټور دي، سوله به (په اعلان) پای ته ورسوي او جگړه به وکړي. که (کفارو) خيانت وکړ، جگړه به ورسره وکړي او (د سولې د پای ته رسولو) اعلان به نه کوي که (خيانت) د ټولو په اتفاق سره و.

(٤)پروا نه لري چې د لښکر (څاروي) په دارحرب کې وڅرېږي، يا لښکر هغه خواړه وخوري چې هلته يې مومي. (مجاهدين به د دارحرب) لرگي کاروي، په تېلو به يې ځانونه غوړوي او په ولجه شوو وسلو به له وېش پرته ورسره جگړه کوي.

(٥) روا نه دي چې له دې شيانو څخه څه وپلوري، او په خپل ملکيت کې يې داخل وگڼي.

(٦) له دوی څخه چې څوک مسلمان شي، په اسلام راوړلو سره يې خپل ځان، خپل واړه اولادونه، او هغه مال چې د دوی په لاس کې وي يا د مسلمان او ذمي په لاس کې امانت وي وساته. که موږ (مجاهدين) په کورونو لاس بري شو، نو ځمکه يې فئ ده، ښځه يې فئ ده، حمل يې فئ دی او لوی اولادونه يې فئ دي.

## شرحه

د راتلونکو لوستونو يو لړ زياتې مسئلې د دارحرب او داراسلام په اصطلاحاتو پورې تړاو لري،

ضروري ده چې ګران زده کوونکي لومړی دا اصطلاحات وپېژني.

**دار اسلام**: هره هغه سیمه ده چې د اسلام حکمونه پکې برلاسي وي. او پلي کیږي.

**دارحرب**: هره هغه سیمه ده چې هلته اسلامي شعائر نه عملي کېږي او په ښکاره د کفر حکمونه پکې برلاسي وي.

**دار عهد**: هغه سیمه ده چې مسلمانانو یې د اوسېدونکو سره په جګړې نه کولو سوله کړې وي او ځمکه یې د اوسېدونکو وي.

**ښځو ته د جهاد حکم**: په تېر لوست کې مو ویلي وو چې پر ښځو جهاد فرض نه دی، مګر دا چې دښمن په سیمه یرغل وکړي او د دفاع اړتیا پېښه شي. په دې لوست کې دې خبرې ته اشاره ده چې که د فرضي حالت پرته ښځه وغواړي د مېړه په اجازه جهاد ته ولاړه شي، روا ده.

**د جګړې په میدان کې ممنوعات**: اسلامي شریعت جهاد یوازې د دښمن د ماتولو او غنیمتونو لاس ته راوړلو لپاره نه، بلکې د حق د برلاسي کولو د سترې موخې لپاره روا کړی. په همدې بنسټ یې د جهاد لپاره آداب او اصول ایښي چې د اسلام د لارې غازیان به یې په ټینګه عملي کوي. دا آداب په لاندې ډول دي:

مجاهدین به په جهاد کې خپلې کړې ژمنې ترسره کوي او د دښمن سره کړې عهدونه به نه ماتوي او نه به خیانت کوي.

د کفارو څخه لاس ته راغلو غنیمتونو څخه به ډېر وړوکی شی هم نه پټوي. مثله به نه کوي، د جسد د بدرنګولو لپاره له جسد څخه پوزه، شونډې یا بل غړی پرې کول مثله بلل کیږي.

ښځې، کوچنیان، هغه بوډاګان چې د جګړې توان نه لري، ړانده، شل او ګوډ به نه وژني.

په صحیح مسلم کې راغلي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: اغْزُوا وَلاَ تَغُلُّوا وَلاَ تَغْدِرُوا وَلاَ تَمْثُلُوا وَلاَ تَقْتُلُوا وَلِيدًا. **ژباړه**: غزا وکړئ، له غنیمت څخه غلا مه کوئ، خیانت مه کوئ، مثله مه کوئ، کوچنیان مه وژنئ. د سعیدبن منصور په سنن کې دا حدیث

راغلی چې فرمايي: وَلاَ تَقْتُلُوا امْرَآةً، وَلاَ صَبِيًّا، وَلاَ شَيْخًا هِمًّا. ژباړه: ښځه مه وژنئ، کوچنی مه وژنئ، ضعيف بوډا مه وژنئ.

په جهاد کې د وژلو سبب د دښمن مقاتله او جګړه ده، څرنګه چې پورتني کسان د جګړې توان نه لري نو وژل يې هم روا نه دي. البته که دا ناتوانه خلک په کومه بڼه په جګړه کې شريک شول، د بېلګې په ډول بوډا د جنګي سلاکار په توګه په جنګ کې شريک وي، وژل يې روا دي. همدا راز که ښځه پاچا وي، په دې صورت کې يې د قوم د ټوټه کولو او ويشلو په خاطر وژل روا دي.

**د دښمن سره سوله**: که امام د حربي کافرانو سره سوله کول مناسب وويني، سوله کول روا دي، که څه هم سوله د پيسو په مقابل کې وي، يعنې مسلمانان کفارو ته د سولې په مقابل کې پيسې ورکړي، په دې شرط چې په سوله کې د مسلمانانو ښېګڼه وي، ځکه سوله که د مسلمانانو په ګټه وي جهاد ګڼل کيږي. د جهاد اصلي مقصد د شر دفع کول دي او که په سولې سره شر دفع شي روا ده، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د مکې مشرکينو سره د لسو کلونو لپاره د سولې تړون کړی و.

که امام د کړې سولې په ماتولو کې ښېګڼه وويني، ورته روا ده چې سوله له منځه يوسي خو د جګړې له پيل کولو وړاندې به مقابل لوري ته د سولې د پای ته رسېدو اعلان کوي او دومره وخت به ورکوي چې هغوی وکولای شي خپل لښکر د سولې له پای ته رسېدو خبر کړي، البته که هغوی له اعلان پرته د سولې تړون مات کړ، مسلمانانو ته هم روا ده چې له اعلان پرته پر هغوی يرغل وکړي.

که د دښمن څو تنه عسکر د خپل قوماندان له اجازې او ملاتړ پرته پر مسلمانانو يرغل وکړي، د سولې تړون له منځه نه ځي تر څو چې يې د خپل قوماندان په اجازه يا ملاتړ يرغل نه وي کړی.

**له وېش وړاندې له غنيمت څخه ګټه اخيستل**: لومړی بايد د غنيمت په معنا پوه شو.

غنيمت په لغت کې ګټې او فايدې ته ويل کيږي او په اصطلاح کې هغه مال ته ويل کيږي چې مجاهدينو له حربيانو څخه په جګړه کې په زور او برلاسي کېدو اخيستی وي.

د غنيمت او فئ تر منځ د نږدې اړيکو له امله بايد فئ هم تعريف کړو: فئ په لغت کې سيوري ته وايي او په اصطلاح کې د کفارو هغه مال ته ويل کيږي چې د جګړې، او پر آسونو د سپرېدو او ځغلولو پرته لاس ته راغلی وي.

مجاهدينو ته روا نه دي چې د غنيمتونو له وېشلو وړاندې هغه په خپل ملکيت کې راولي، البته هغوی ته روا دي چې آسونه يې په دارحرب کې وڅريږي او پخپله هم د لاس ته ورغلو خوړو او ورته شيانو، لکه لرګو او تېلو څخه ګټه واخلي. په دې حکم کې غني او فقير سره برابر دي.

د خيبر د فتحې په ورځ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اصحابو (رضي الله عنهم) ته وفرمايل: كُلُوا وَاعْلِفُوا وَلَا تَحْمِلُوا. ژباړه: وخورئ او څاروي وڅروئ خو له ځان سره يې مه وړئ.

مجاهدينو ته له دغو ناوېشل شوو غنيمتونو څخه د وسلې اخيستل هم روا دي، خو دا ټول د ضرورت په وخت کې يوازې د هغه چا لپاره روا دي چې په غنيمت کې حقدار وي، هغه خلک چې د جهاد لپاره نه، بلکې د سوداګرۍ لپاره دارحرب ته ورغلي وي، هغوی ته د دې شيانو کارول روا نه دي. همدا راز مجاهدين نشي کولای چې له پورتنيو شيانو څخه کوم شی وپلوري، ځکه له وېش وړاندې غنيمتونه د غازيانو مشترک مال دی.

**په دارحرب کې د مسلمان او د هغه د مال حکم:** څوک چې په دارحرب کې له نيول کېدو وړاندې مسلمان شوی وي او مجاهدين هغه سيمه ونيسي، دغه شخص آزاد او له مريي ګرځول کېدو خلاص دی. همدا راز يې کوچني (صغير) اولادونه هم مريان نه ګرځول کيږي، ځکه چې هغوی د خپل پلار تابع دي. د نوموړي کس ټول هغه مالونه چې د ده په لاس کې وي يا د بل مسلمان يا ذمي شخص په لاس کې وي له غنيمت ګرځول کېدو څخه خوندي دي. البته د نوموړي شخص ځمکه فئ ده، ځکه چې ځمکه په دارحرب کې واقع ده او په حقيقت کې د نوموړي شخص په لاس کې نه ده. د شخص کافره ښځه هم فئ ده او د سړي

تابع نه ده، د ښځې حمل هم فئ دی، ځکه چې حمل د ښځې جز دی، د سرې لوی (کبیران) اولادونه چې مستقل شخصیتونه دي د کفر په صورت کې فئ دي.

## فعالیت

په دارحرب کې که یو مسلمان فرد موجود وي چې پلار یې کافر وي. له فتحې وروسته د مسلمان د پلار کافر حکم څه دی؟ ایا فئ دی او که آزاد؟

زده کوونکي دې د دلائلو په رڼا کې په پورتنی موضوع بحث وکړي.

## ارزونه

١- پر ښځو د جهاد حکم بیان کړئ.

٢- د جګړې په میدان کې به مجاهدین له کومو کارونو ډډه کوي؟

٣- د دښمن سره څه وخت د سولې ترون کول روا دي؟

٤- له وېش وړاندې له غنیمتونو ګټه اخیستل څه حکم لري؟ تفصیلي ځواب ووایئ.

٥- له فتحې وروسته په دارحرب کې د شتو مسلمانانو او د هغوی د مالونو حکم بیان کړئ.

# د سیر (جهاد) حکمونه (۳)

ګرانو زده کوونکو! په دې لوست کې د جهاد اړوند مسائلو څخه په کفارو د وسلې پلورلو، د فتحه شوو ځمکو د وېش او کفارو ته د امان ورکولو په اړه بحث کوو.

(۱) وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُبَاعَ السِّلَاحُ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ، وَلاَ يُجَهَّزُ إِلَيْهِمْ.

(۲) وَلَا يُفَادَى بِالْأُسَارَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُفَادَى بِهِمْ أُسَارَى الْمُسْلِمِينَ، وَلَا يَجُوزُ الْمَنُّ عَلَيْهِمْ.

(۳) وَإِذَا فَتَحَ الْإِمَامُ بَلَدًا عَنْوَةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ قَسَّمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ، وَإِنْ شَاءَ أَقَرَّ أَهْلَهَا عَلَيْهَا وَوَضَعَ عَلَيْهِمُ الْخَرَاجَ، وَهُوَ فِي الْأُسَارَى بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ اسْتَرَقَّهُمْ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَرُدَّهُمْ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ.

(٤) وَإِذَا أَرَادَ الْعَوْدَ وَمَعَهُمْ مَوَاشٍ فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى نَقْلِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ذَبَحُوهَا وَحَرَقُوهَا وَلَا يَعْقِرُونَهَا وَلَا يَتْرُكُونَهَا.

(٥) وَلَا يَقْسِمُ غَنِيمَةً فِي دَارِ الْحَرْبِ حَتَّى يُخْرِجَهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ، وَالرِّدْءُ، والمقاتل فِي الْعَسْكَرِ سَوَاءٌ.

(٦) وإذا لَحِقَهُمُ الْمَدَدُ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَبْلَ أَنْ يُخْرِجُوْا الْغَنِيمَةَ الَيَ دارِ الْإِسْلَامِ، شَارَكُوهُمْ فِيهَا، ولا حَقَّ لِأَهْلِ سُوقِ الْعَسْكَرِ فِي الْغَنِيمَةِ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلُوا.

(٧) وَإِذَا أَمَنَ رَجُلٌ حُرٌّ أَوِ امْرَأَةٌ حُرَّةٌ كَافِرًا أَوْ جَمَاعَةً أَوْ أَهْلَ حِصْنٍ أَوْ مَدِينَةٍ صَحَّ أَمَانُهُمْ وَلَمْ يَجُز لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قتلهُمْ إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِيهِ مَفْسَدَةٌ فَيَنْبُذُ إِلَيْهِمُ الْإِمَامُ.

(٨) وَلَا يَجُوزُ أَمَانُ ذِمِّيٍّ وَلَا الْأَسِيرِ، وَلَا التَّاجِرِ الَّذِي يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ.

## ژباړه

(۱) پکار نه ده (روا نه ده) چې په حربیانو وسله وپلورل شي یا د سوداګریزو (کاروانونو) په توګه ورولېږدول شي.

(۲) د امام ابوحنیفه په نظر (امام) به (کافر) بندیان د (مسلمانو) بندیانو په مقابل کې نه خوشې کوي. (یارانو) ویلي: (کافر بندیان) به د مسلمانو بندیانو په مقابل کې خوشې کوي. د بندیانو وړیا خوشې کول روا نه دي.

(۳) که امام کوم ښار په زور ونیو نو واک لري: که یې خوښه وه د غازیانو تر منځ به یې وویشي او که یې خوښه وه (پخواني) څښتنان به وریاندې پرېږدي او خراج به وریاندې کېږدي. په بندیانو کې هم واک لري: که یې خوښه شوه وبه یې وژني او که یې خوښه وه مریان به یې کړي او که یې خوښه وه د ذمیانو په توګه به یې آزاد پرېږدي. روا نه ده چې دارحرب ته یې بېرته ولېږي.

(٤) کله چې امام بېرته د راتګ هوډ وکړي او څاروي ورسره وي خو داراسلام ته د رالېږدولو توان ونه لري، ذبحه به یې کړي او وبه یې سوځوي، نه به یې زخمي کوي او نه به یې (هغوی) ته پرېږدي.

(۵) په دارحرب کې به غنیمت نه وېشي، ترڅو یې داراسلام ته نه وي رارسولی. د لښکر مرسته کوونکی او جګړه کوونکی (تن په غنیمت کې) سره برابر دي.

(٦) که وړاندې له دې چې غنیمت داراسلام ته وباسي او مرسته کوونکي ورسره په دار حرب کې یو ځای شي، په غنیمت کې به ورسره شریکېږي. د جګړې د سیمې خلک په غنیمت کې حق نه لري مګر دا چې جګړه وکړي.

(۷) که آزاد سړي یا آزادې ښځې یو (تن) کافر، یا یوې ډلې، یا د یوې کلا اوسېدونکو او یا هم د (ټول) ښار اوسېدونکو ته امان ورکړ، امان ورکول یې صحیح دي او یو مسلمان ته یې هم وژل روا نه دي، مګر دا چې په دې (امان ورکولو) کې تاوان وي، نو امام به کافرانو ته له هغه څخه بېزاري اعلانوي.

(۸) د ذمي، بندي او سوداګر امان چې په کفارو کې وي، روا نه دی.

## شرحه

**د کفارو له پیاوړتیا منع**: په عام ډول د مسلمانانو لپاره داسې کارونه روا نه دي چې په هغې سره د کفارو فوځي قوت زیاتیږي. له دې جملې څخه یو هم د مسلمانانو له خوا په کفارو د وسلې پلورل دي، د بیهقي د روایت له مخې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د فتنې په مهال د وسلې له پلورلو منع کړې، چې پرته له شکه پر کفارو وسله پلورل د فتنې سبب ګرځي. همدا راز مسلمانو سوداګرو ته اجازه نشته چې د کاروان په ترځ کې کفارو ته وسلې ورسوي. پر کفارو د خوراکي توکو پلورل روا دي، د بیهقي د روایت له مخې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) جلیل القدر صحابي ثمامة ته اجازه ورکړې وه چې د مکې په مشرکینو خوراکي توکي وپلوري.

د کافرو بندیانو په خوشې کولو سره د کفارو لښکر غښتلی کیږي، له همدې امله امام ابوحنیفه(رحمه الله) د مسلمانو بندیانو په مقابل کې د کافرو بندیانو خوشې کول روا نه بولي، که څه هم په تبادلې سره یو مسلمان بندي له بنده آزادیږي، خو امام ابوحنیفه د مسلمان بندي آزادېدل یوه شخصي ګټه ګڼلې او په مقابل کې یې د کفارو نه تقویه کول د یوه عام مصلحت په توګه غوره ګڼلې او په دې بنسټ یې تبادله ناروا ګڼلې.

یارانو د کافر د وژلو په پرتله د مسلمان خلاصول ګټور بللي او د بندیانو تبادله یې روا ګڼلې.

په وړیا توګه هم د کافرو بندیانو خوشې کول روا نه دي، ځکه له یوې خوا ورباندې کفار تقویه کیږي او له بل پلوه د غنیمت د څښتنانو حق له منځه ځي.

**د نیول شوو ځمکو وېش**: که امام د جګړې او زور په نتیجه کې د کفارو سیمې ونیسي، د نوموړو ځمکو د وېش په اړه دوه اختیاره لري:

۱- پر غازیانو د ځمکو وېشل، لکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې د خیبر له فتحې وروسته نوموړې ځمکې په غازیانو ووېشلې.

۲- فتحه شوې ځمکې د پخوانیو څښتنانو په لاس کې پرېښودل او پر هغوی خراج کېښودل، لکه دویم خلیفه عمر (رضي الله عنه) چې د اصحابو په موافقه د عراق له فتحې وروسته د دغه ځای ځمکې د پخوانیو څښتنانو په لاس کې پرېښودې او پر هغوی یې خراج مقرر کړ. خراج

هغه ټکس ته ویل کیږي چې امام یې په خراجي حاصل ورکوونکو څمکو مقرروي.

**د بندیانو حکم**: امام د بندیانو په اړه درې اختیاره لري:

۱- د بندیانو وژل څو د فساد مخه ونیول شي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د بدر له بندیانو څخه عقبه بن ابي معیط ووژلو، څو که بندیان مسلمانان شي وژل یې روا نه دي، ځکه په مسلمانېدو سره یې شر دفع کیږي.

۲- بندیان مریان گرځول، که څه هم له بندي کېدو وروسته مسلمانان شوي وي، ځکه په دې ډول یې مسلمان له شر څخه خوندي کیږي او د خدمت کولو گټه هم لاس ته راځي. له مسلمانېدو وروسته یې هم مریان کول ځکه روا دي چې مرییتوب د اسلام ضد نه دی او دواړه یو ځای کېدای شي.

۳- په اسلامي دولت کې د ذمیانو په توگه آزاد پرېښودل، لکه دویم خلیفه عمر (رضي الله عنه) چې د عراق نیول شوي بندیان آزاد پرېښودل او پر هغوی یې جزیه وټاکله.

د بندیانو مریان کول او د ذمیانو په توگه آزدا پرېښودل په دې شرط روا دي چې بندي له مشرکینو او مرتدینو څخه نه وي، ځکه د دوی لپاره یوازې دوه لارې دي: وژل او یا اسلام منل، ځکه چې الله پاك د دوی په اړه فرمایلي: ﴿تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَ﴾ (الفتح: ١٦) **ژباړه**: جنگیږئ به ورسره او یا به مسلمانیږي.

امام ته روا نه دي چې بندیان بېرته دارحرب ته واستوي، ځکه په دې سره کفار پیاوړي کیږي.

**د څارویو ژوندي نه پرېښودل**: که مجاهدین د جگړې وروسته د کفارو څاروي ونیسي خو داراسلام ته یې د لېږدولو وس ونه لري، له دې کبله چې بېرته د کفارو په لاس ونه غورځیږي او هغوی ورباندې پیاوړي نشي، امام باید نوموړي څاروي حلال کړي او غوښې یې وسوځوي، څو کفار د ژوندو څارویو څخه د کار او د مړو څارویو له غوښو گټه وانخلي. یوازې د ټپې کولو په وسیله د څارویو له کاره ویستل ځکه روا نه دي چې په دې سره څاروي ځورول کیږي.

**د غنیمت د وېش ځای او مستحقین**: د غنیمت د وېشلو ځای داراسلام دی، داراسلام ته د غنیمت له لېږدولو وړاندې په دارحرب کې د غنیمت وېشل ځکه روا نه دي چې هلته لا مجاهدینو ته د غنیمتونو ملکیت نه دی ثابت شوی، بلکې په غنیمت کې د مجاهدینو ملکیت

داراسلام ته له لېږدولو وروسته ثابتيږي.

د جګړې په ډګر کې د کفارو سره مخامخ جګړه کوونکي او هغه کسان چې له دوی سره په جګړه کې مرسته کوي، دواړه په برابره توګه د غنيمت حقدار دي، ځکه د غنيمت حق د جګړې کولو په نيت د جګړې سيمې ته په حاضريدلو ثابتيږي او په دې سبب کې مرسته کوونکی او مخامخ جګړه کوونکی سره برابر دي، له همدې امله که مرسته کوونکي کسان د جګړې په نيت سيمې ته ورشي، خو جګړه پای ته رسېدلې وي او غنيمتونه لا داراسلام ته نه وي لېږدول شوي، مرسته کوونکي کسان هم په غنيمت کې حقداردي، ځکه د جګړې په نيت د جګړې سيمې ته حاضر شوي. البته که د دوی له حاضرېدو وړاندې غنيمت په دارحرب کې وېشل شوی، يا پلورل شوی و او يا هم داراسلام ته لېږدول شوی و، د غنيمت حقدار نه دي.

هغه سوداګر يا نور خلك چې د جګړې په سيمه کې موجود وي خو د جګړې هوډ ونه لري او په جګړه کې شريک نشي، د غنيمت حقدار نه دي.

**د امان ورکولو مسئله**: ښځه او سړی دواړه کولای شي چې يو تن کافر، يوې ډلې کافرانو او آن د يوه ښار ټولو کافرانو ته امان ورکړي. ابن ماجه روايت کوي چې پيغمبر (عليه السلام) فرمايلي: اَلْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ، وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ.

**ژباړه**: د مسلمانانو وينې سره برابرې دي، ضعيفه به يې هم د ژمنې پوره کولو کوښښ کوي، او تر ټولو ضعيفه يې هم د امان ورکولو وړتيا لري.

د بخاري د روايت له مخې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ام هانئ ته اجازه ورکړې وه چې مشرکينو ته امان ورکړي.

له بل پلوه ښځه هم د جګړې وړتيا لري او شرعا په جګړه کې ګډون کولای شي نو د سړو په څېر د امان ورکولو حق هم لري.

که چيرې د يو مسلمان له خوا ورکړل شوی امان د مسلمانانو په ګټه نه و، امام کولای شي چې د نوموړي امان لغوه اعلان کړي.

د ذمي امان صحيح نه دی ځکه چې ذمي له يوې خوا د کفارو په مرسته تورن دی او له بل

پلوه په  مسلمانانو کوم واك هم نه لري. په همدې ډول د کفارو په منځ کې د شتو مسلمانو سوداګرو او بندیانو امان ورکول هم صحیح نه دي، ځکه دوی د کفارو تر واك لاندې دي، که د دوی امان صحیح شي نو کفار به ورځخه ناوړه ګټه پورته کړي، ځکه د کفارو په  سیمه کې تل مسلمانان سوداګر او بندیان موجود وي.

## ارزونه

که مجاهد د جګړې په سیمه کې ناروغ شي او جګړه ونکړي، آیا د غنیمت مستحق دی؟ زده کوونکي دې د دلائلو په رڼا کې د دې مسئلې په حکم بحث وکړي.

## فعالیت

١- د حربي کفارو له پیاوړي کولو منع شوې ده. په دې بنسټ دار حرب ته د کومو شیانو لېږل روا او د کومو ناروا دي؟

٢- د فتحه شوو ځمکو په وېش کې امام څو اختیاره لري؟ په تفصیل سره یې بیان کړئ.

٣- د جګړې د بندیانو حکم په تفصیل سره بیان کړئ.

٤- د غازیانو تر منځ باید غنیمتونه په کوم ځای کې وویشل شي او دا هم روښانه کړئ چې مخامخ جګړه کوونکي او مرسته کوونکي ولې په غنیمت کې سره برابر دي؟

٥- کفارو ته د امان ورکولو مسئله په تفصیلي ډول تشریح کړئ.

# د سیر (جهاد) احکام (۴)
# د غنیمت حکمونه

ګرانو زده کوونکو! په دې لوست کې به دې مسئله خبرې کوو چې آیا د جګړې په ترڅ کې د مالونو په نیولو سره، د مالونو ملکیت له یوې ډلې څخه بلې ته نقلیږي او که نه؟
همدا راز په جهاد کې د امام له خوا مجاهدینو ته د جائزو ټاکلو په حکم هم غږیږو.

(١) وَإِذَا غَلَبَ التُّرْكُ عَلَى الرُّومِ فَسَبَوْهُمْ وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ مَلَكُوهَا، فَإِنْ غَلَبْنَا عَلَى التُّرْكِ حَلَّ لَنَا مَا نَأْخُذُهُ مِنْ ذَلِكَ.
(٢) واذا غَلَبُوا عَلَى أَمْوَالِنَا فَأَحْرَزُوهَا بِدَارِهِم مَلَكُوهَا، فَإِنْ ظَهَرَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُونَ فَوَجَدُوهَا قَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهِيَ لَهُم بِغَيْرِ شَيْءٍ، وَإِنْ وَجَدُوهَا بَعْدَ الْقِسْمَةِ أَخَذُوهَا بِالْقِيمَةِ إِنْ أَحَبُّوا.
(٣) وَإِنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرٌ فَاشْتَرَى ذَلِكَ وَأَخْرَجَهُ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَمَالِكُهُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِهِ التَّاجِرُ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ.
(٤) وَلَا يَمْلِكُ عَلَيْنَا أَهْلُ الْحَرْبِ بِالْغَلَبَةِ أَحْرَارَنَا، وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ ذَلِكَ. وإِنْ نَدَّ بَعِيرٌ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوهُ مَلَكُوهُ.
(٥) وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْإِمَامِ حَمُولَةٌ يَحْمِلُ عَلَيْهَا الْغَنَائِمَ قَسَّمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ قِسْمَةَ إِيدَاعٍ لِيَحْمِلُوهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ يَرْتَجِعُهَا فَيَقْسِمُهَا. وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْغَنَائِمِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ.
(٦) وَمَنْ مَاتَ مِنْ الْغَانِمِينَ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَلَا حَقَّ لَهُ فِي الْغَنِيمَةِ، وَمَنْ مَاتَ مِنْهُمْ بَعْدَ إِخْرَاجِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ.

(٧) وَلَا بَأْسَ أَنْ يَنْفِلَ الْإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ، وَيُحَرِّضَ بِالنَّفْلِ عَلَى الْقتالِ فَيَقُولَ: مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ، أَوْ يَقُولَ لِلسَّرِيَّةِ: قَدْ جَعَلْتُ لَكُمْ الرُّبْعَ بَعْدَ الْخُمُسِ.

(٨) وَلَا يَنْفِلَ بَعْدَ إِحْرَازِ الْغَنِيمَةِ إِلَّا مِنَ الْخُمْسِ، وَإِذَا لَمْ يَجْعَلِ السَّلَبَ لِلْقَاتِلِ فَهُوَ مِنْ جُمْلَةِ الْغَنِيمَةِ، وَالْقَاتِلُ وَغَيْرُهُ فِيهِ سَوَاءٌ.

(٩) وَالسَّلَبُ: مَا عَلَى الْمَقْتُولِ مِنْ ثِيَابِهِ وَسِلَاحِهِ وَمَرْكَبِهِ.

## ژباړه

(١) کله چې ترکان پر رومیانو برلاسي شول، هغوی یې مړیان وګرځول او د هغوی مالونه یې واخیستل، ملکیت یې ګرځي. که موږ (مسلمانان) په ترکانو لاس بري شو، دا اخیستل شوي شیان راته روا دي.

(٢) که زموږ په مالونو لاس بري شول او خپلو سیمو کې یې خوندي کړل، ملکیت یې ګرځي، که مسلمانان وربانديې لاس بري شول او د وېش وړاندې یې ورڅخه واخیستل، نو د عوض پرته د (پخوانیو څښتنانو) حق دی. که له وېش وروسته یې ورڅخه واخیستل (پخواني څښتنان) به یې په قیمت واخلي که یې خوښه وه.

(٣) که کوم مسلمان سوداګر دارحرب ته ننوځي، دا مالونه واخلي او دارالسلام ته یې راوباسي، نو (لومړي) څښتن یې اختیار لري: که یې خوښه شوه په هغه قیمت به یې واخلي چې سوداګر ورباندې اخیستی او که یې خوښه شوه پرې به یې ږدي.

(٤) حربیان په موږ باندې په برلاسي کېدو سره زموږ د آزادو (انسانانو) څښتنان کېدای نشي، موږ د هغوی (څښتنان) کېدای شو. که اوبنن هغوی ته وروتښتي او ویې نیسي څښتنان کيږي یې.

(٥) که د امام سره سپرلی نه وي چې غنیمتونه وربانديې بار کړي، پر غازیانو به یې د ودېعې په توګه ووېشي، څو یې دارالسلام ته یوسي، بیا به یې ورڅخه بېرته واخلي او وبه یې وېشي. له

وېشلو وړاندې د غنیمتونو پلورل روا نه دي.

(٦) که له غازیانو څخه څوک په دارحرب کې مړ شو، په غنیمت کې حق نه لري، خو څوک چې داراسلام ته د (غنیمتونو) له راویستلو وروسته مړ شي برخه یې د وارثانو ده.

(٧) پروا نه لري چې امام د جګړې په حال کې جائزې اعلان کړي او په جائزو سره (خلک) جګړې ته وهڅوي، (د بېلګې په ډول) ووايي: چا چې څوک (کافر) وواژه د هغه سلب د همده دی. یا سريې ته ووايي: له پنځمې برخې وروسته مې څلورمه هم ستاسې کړه.

(٨) (په داراسلام کې) د غنیمت د خپلولو وروسته به جائزه نه اعلانوي، مګر له پنځمې(برخې) څخه. که یې سلب قاتل ته اعلان نه کړ، له غنیمت څخه شمېرل کیږي، قاتل او نور پکې برابر دي.

(٩) سلب هغه شیان دي چې د مقتول سره وي، لکه جامې، وسله او سپرلی.

## شرحه

**په غنیمت سره د ملکیت انتقال**: که ترکان په جګړه کې په رومیانو برلاسي شي او د هغوی مالونه ترلاسه کړي، نو څرنګه چې د حربیانو مالونه مباح دي په اخیستلو او حرز کې راوستلو سره د ترکانو په ملکیت کې داخلیږي. په متن کې له ترکانو او رومیانو څخه مقصد کافر ترکان او رومیان دي. که مسلمانان د دوی په هغو مالونو چې له یو بل څخه یې په جګړه کې نیولي، برلاسي شي، اخیستل یې ورته مباح دي.

که کفار د مسلمانانو په مالونو برلاسي شي او په خپل حرز (ساتنه) کې یې راولي د دې مالونو څښتنان کیږي. که څه هم د مسلمان مال د شریعت په حکم له تېري څخه خوندي دی او په ناحقه یې څوک نشي خپلولی، خو دا چې حربي کفار د شریعت په احکامو مخاطب نه دي، نو د هغوی په وړاندې د مسلمانانو مالونه خوندي نه شمېرل کیږي او د مباحو مالونو په څېر په حرز کې راوستلو سره د هغوی په ملکیت کې داخلیږي.

که مسلمانان د کفارو مالونه په غنیمت ونیسي او په دې مالونو کې د کوم مسلمان مال موجود وي چې کفاور ورڅخه په زور نیولی وي، که نوموړی مسلمان خپل مال د غنیمتونو له وېش وړاندې وموموي، له قیمت او عوض ورکولو پرته د ده حق دی، ځکه دا مال د ده له خوښې او رضا پرته د ده له ملکیت څخه ویستل شوی و، اوس چې د مسلمانانو ترلاس لاندې راغلی، دی یې حقدار دی، خو که د غنیمتونو له وېش وروسته یې د کوم غازي په لاس کې وموند، د قیمت ورکولو پرته یې ورڅخه نشي اخیستلی، ځکه که د قیمت ورکولو پرته یې له غازي څخه واخلي، غازي د غنیمت له حق څخه بې برخې کیږي.

همدا حکم د مسلمان څخه د نیول شوي هغه مال هم دی چې مسلمان سوداګر یې له کفارو څخه په قیمت واخلي او داراسلام ته یې راوړي.

که کفار په جګړه کې مسلمانان ونیسي، په نیولو سره یې څښتنان نه ګرځي، ځکه آزاد مسلمان د هغه حرمت له مخې چې اسلامي شریعت ورکړی مال نه دی، نو په نیولو سره د چا په ملکیت کې نه داخلیږي، البته کفارو ته دا حرمت نه دی ورکړل شوی نو مریان کېدلای شي.

**د غنیمتونو لېږدول**: پخوا مو ویلي وو چې په دارحرب کې د غنیمتونو وېشل روا نه دي، بلکې داراسلام ته به یې لېږدوي او بیا به یې ویشي. که امام د غنیمتونو د لېږدولو لپاره سپرلی نه درلودې، پر مجاهدینو به یې وویشي او نقل به یې کړي، خو دا وېش د غازیانو د برخو وېش نه دی بلکې یوازې د غنیمت د نقلولو لپاره رامنځته کیږي او کله چې غنیمت داراسلام ته ورسیږي، بېرته ورڅخه اخیستل کیږي او له سره پر مجاهدینو د هغوی د برخو په اندازه وېشل کیږي.

**د غازي مړینه**: که غازي له جګړې او غنیمت نیولو وروسته په دارحرب کې مړ شو د غنیمت حقدار نه دی، ځکه په غنیمت کې هغه مهال د غازي برخه ثابتیږي چې داراسلام ته رانقل شي او د غازیانو ملکیت وګرځي. که داراسلام ته د غنیمت د رالېږدولو وروسته غازي مړ شو د غنیمت حقدار دی، ځکه غنیمت د غازیانو په حرز کې داخل شوی او دوی یې څښتنان دي

نو د غازي حق به د میراث په توګه د هغه وارثانو ته ورکول کیږي.

**له غنیمت څخه جائزې ټاکل**: امام کولای شي چې جګړې ته د غازیانو د هڅولو او د دښمن د ډارولو لپاره په غنیمت سربېره غازیانو ته جائزې اعلان کړي، چې د غنیمت له مال څخه به ورکول کیږي. غوره دا ده چې دا اعلان له جګړې وړاندې وشي څو له لومړي سره مجاهدین تشویق شي، خو امام کولای شي چې داراسلام ته د غنیمت له لیږدولو وړاندې هم غازیانو ته جائزې ورکړي. کله چې غنیمت داراسلام ته نقل شي او د مجاهدینو په حرز کې راشي د دوی ملکیت ګرځي او بیا امام ته روا نه دي چې د جائزې په توګه یې چا ته ورکړي، البته د غنیمت له خمس (پنځمې برخې) څخه یې ورکولای شي.

د جائزې بېلګه دا ده چې امام ووایي: چا چې کافر په جګړه کې ووژلو د هغه سلب د قاتل دی.

سلب هغه شیان دي چې د وژل شوي شخص سره وي لکه توره، آس، جامې او داسې نور.

## ارزونه

١- که کفار په جګړه کې د یو بل مالونه ونیسي، آیا د هغه مال څښتنان کیږي؟ دلیل یې روښانه کړئ.

٢- که کفار په جګړه کې د مسلمانانو مالونه ونیسي، آیا د هغوی څښتنان کیږي؟ دلیل یې روښانه کړئ.

٣- که مسلمان د غنیمت په مال کې خپل هغه مال ووینې چې له ده څخه کفارو په زور نیولی و، آیا له غنیمت څخه یې اخیستلی شي؟ دا مسئله دلائلو سره روښانه کړئ.

٤- که غازي داراسلام ته د غنیمت له لیږدولو وړاندې یا وروسته مړ شي، په دواړو صورتونو کې د هغه د غنیمت حکم بیان کړئ.

٥- سلب څه ته وایي او آیا د امام سره د مجاهدینو لپاره د جائزو ټاکلو واک شته؟

# د جهاد احکام (۵)
# د غنیمت حکمونه

په نني لوست کې به د غنیمت د وېشلو، د خمس د مستحقینو او د مستامن حکمونه ولولو.

(۱) وَإِذَا خَرَجَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ دَارِ الْحَرْبِ لَمْ يَجُزْ أَنْ يَعْلِفُوا مِنَ الْغَنِيمَةِ وَلَا يَأْكُلُوا مِنْهَا. وَمَنْ فَضَلَ مَعَهُ عَلَفٌ أَوْ طَعَامٌ رَدَّهُ إِلَى الْغَنِيمَةِ.

(۲) وَيَقْسِمُ الْإِمَامُ الْغَنِيمَةَ: فَيُخْرِجُ خُمُسَهَا، وَيَقْسِمُ أربعة أخماسها بَيْنَ الْغَانِمِينَ، لِلْفَارِسِ سَهْمَانِ، وَلِلرَّاجِلِ سَهْمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لِلْفَارِسِ ثَلَاثَة أَسْهُم.

(۳) وَلَا يُسْهَمُ إِلَّا لِفَرَسٍ وَاحِدٍ، وَالْبَرَاذِينُ وَالْعُتَّاقُ سَوَاءٌ، وَلَا يُسْهَمُ لِرَاحِلَةٍ وَلَا بَغْلٍ.

(٤) وَمَنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ اسْتَحَقَّ سَهْمَ فَارِسٍ، وَمَنْ دَخَلَ رَاجِلًا فَاشْتَرَى فَرَسًا اسْتَحَقَّ سَهْمَ رَاجِلٍ.

(٥) وَلَا يُسْهَمُ لِمَمْلُوكٍ، وَلَا امْرَأَةٍ، وَلَا ذِمِّيٍّ، وَلَا صَبِيٍّ، وَلَكِنْ يَرْضَخُ لَهُمْ الْإِمَامُ عَلَى حَسَبِ مَا يَرَاهُ.

(٦) فَأَمَّا الْخُمُسُ فَيُقَسَّمُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ: سَهْمٌ لِلْيَتَامَى، وَسَهْمٌ لِلْمَسَاكِينِ، وَسَهْمٌ لِأَبْنَاءِ السَّبِيلِ. وَيَدْخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي الْقُرْبَى فِيهِمْ، وَيُقَدَّمُونَ، وَلَا يُدْفَعُ إِلَى أَغْنِيَائِهِمْ شَيْءٌ.

(۷) وَأَمَّا مَا ذَكَرَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ مِنَ الْخُمُسِ لِنَفْسِهِ فَإِنَّمَا هُوَ لِافْتِتَاحِ الْكَلَامِ تَبَرُّكًا بِاسْمِهِ تَعَالَى. وَسَهْمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَقَطَ بِمَوْتِهِ كَمَا سَقَطَ الصَّفِيُّ، وَسَهْمُ ذَوِي الْقُرْبَى كَانُوا يَسْتَحِقُّونَهُ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنُّصْرَةِ، وَبَعْدَهُ

بِالْفقْر.

(٨) وَإِذَا دَخلَ الوَاحِدُ أَوْ الاثْنَانِ دَارَ الْحَرْبِ، مُغِيرِينَ بِغَيْرِ إِذْنِ الْإِمَامِ، فَأَخَذُوا شَيْئًا لَمْ يُخَمَّسْ. وَإِنْ دَخلَ جَمَاعَةٌ لَها مَنعَةٌ، وأَخذُوا شَيْئًا خُمِّسَ، وَإِنْ لَمْ يَأْذَنْ لَهُمْ الْإِمَامُ.

(٩) وَإِذَا دَخلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرًا، فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَتعَرَّضَ لِشَيْءٍ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلَا مِنْ دِمَائِهِمْ، وَإِنْ غَدَرَ بِهِمْ، وَأَخذَ شَيْئًا وَخرجَ بِهِ مَلَكَهُ مِلْكًا مَحْظُورًا، وَيُؤْمَرُ أَنْ يَتصَدَّقَ بِهِ.

(١٠) وَإِذَا دَخلَ الْحَرْبِيُّ إِلَيْنَا مستأمناً لَمْ يُمَكَّنْ أَنْ يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً، وَيَقُولُ لَهُ الْإِمَامُ: إِن أَقَمْت تَمَامَ السَّنَةِ وَضعْتُ عَلَيْك الْجِزْيَةَ، فَإِنْ أَقَامَ سَنَةً أُخِذَ مِنْهُ الْجِزْيَةُ، وَصَارَ ذِمِّيًّا، وَلَمْ يُتْرَكْ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ، وَإِنْ عَادَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ، وَتَرَكَ وَدِيعَةً عِنْدَ مُسْلِمٍ، أَوْ ذِمِّيٍّ، أَوْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِمْ فَقَدْ صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالْعَوْدِ، وَمَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ مِنْ مَالِهِ عَلَى خَطَرٍ، فَإِنْ أُسِرَ أَوْ قُتِلَ سَقَطَتْ دُيُونُهُ وَصَارَتِ الْوَدِيعَةُ فَيْئًا.

(١١) وَمَا أَوْجَفَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ مِنْ أَمْوَالِ أَهْلِ الْحَرْبِ بِغَيْرِ قِتَالٍ صُرِفَ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ كَمَا يُصْرَفُ الْخَرَاجُ.

## ژباړه

(١) کله چې مسلمانان له دارحرب څخه وځي، هغوته روا نه دي چې په غنیمت کې (څاروي) وخروي او نه به ورنه (پخپله) څه خوري. له چا سره چې واښه یا خواړه پاتې وي په غنیمت کې به يې کېږدي.

(٢) غنیمت به امام ویشي: خمس (پنځمه برخه) به جلا کړي او له پنځو څخه، څلور برخې به په غازیانو وویشي، د امام ابوحنیفه(رحمه الله) په نظر د سپاره لپاره دوه برخې او د پلي لپاره یوه برخه ده. یارانو ویلي: د سپاره لپاره درې برخې دي.

(٣) یوازې د یو آس لپاره به برخه ورکوي. ترکي او عربي آسونه (په برخه کې) سره برابر دي. اوښې او کچر ته به برخه نه ورکوي.

(٤)څوک چې دارحرب ته سپور ننوځي او آس يې مړ شي، د سپور د برخې وړ دی. څوک چې (دارحرب ته) پلی ننوځي او آس واخلي د پلي د برخې مستحق دی.

(٥) مريي، ښځې، ذمي او کوچني ته به برخه نه ورکوي مګر امام به د حال مناسب يو څه مال ورکوي.

(٦) هغه چې خمس دی، هغه به په درې برخو وېشل کيږي. يوه برخه د يتيمانو، يوه د مسکينانو او يوه د مسافرو. د ذوي القربی فقيران په دوی کې شامل دي، دوی په نورو مقدم دي او شتمنو ته به يې څه نه ورکول کيږي.

(٧) الله پاک چې په قرآن کريم کې د خپل ځان لپاره د خمس څخه يادونه کړې نو (د هغې مقصد) د برکت لپاره پخپل نوم باندې پيل کول دي. د پيغمبر (عليه السلام) برخه د هغه په وفات پای ته رسېدلې لکه صفي (هغه لږ مال چې پيغمبر (عليه السلام) به د ځان لپاره اخيسته لکه توره، ډال او داسې نور) چې پای ته رسېدلی. د ذوي القربی برخه هغوی د پيغمبر (عليه السلام) په ژوند کې د هغه د مرستې له امله اخيسته، او له هغه وروسته د فقر له امله.

(٨) که يو يا دوه تنه د امام د اجازې پرته دارحرب ته يرغل کوونکي ننوتل او څه شی يې راواخيست، خمس ورڅخه نه اخيستل کيږي. که يوه ډله چې ځواک ولري (دارحرب) ته ننوتل او څه شی يې راواخيست، خمس ورڅخه اخيستل کيږي که څه هم امام ورته اجازه نه وي کړې.

(٩) که مسلمان د سوداګر په توګه دارحرب ته ننوځي، ورته روا نه دي چې د هغوی په مالونو تېری وکړي، يا د هغوی په ځانونو تېری وکړي، که يې ټګي ورسره وکړه او څه شی يې واخيست، د ناروا ملکيت په توګه يې خپلوي او امر به ورته کيږي چې خيرات يې کړي.

(١٠) که حربي موږ ته د مستامن په توګه راشي، نشي کولای چې زموږ په هيواد (داراسلام) کې يو کال پاتې شي، امام به ورته وايي: که دې پوره کال تېر کړ جزيه به درباندې کېښودل شي، که يې کال تير کړ جزيه به ورڅخه واخيستل شي او ذمي به شي، بيا به دارحرب ته نه پرېښودل

کېږي، چې ولاړ شي که دارحرب ته ولاړ او د مسلمان یا ذمي سره یې امانت یا پور پرېښود، نو وینه یې په بېرته تګ سره مباح شوه، او په داراسلام کې پاتې مالونه یې په خطر کې دي (موقوف دي)، که بندي شو یا ووژل شو، پورونه یې ساقط دي او امانت یې فئ وګرځید.

(۱۱) د حربیانو کوم مالونه چې مسلمانان پرته له جنګ کولو لاس ته راوړي، هغه به د مسلمانانو په مصالحو کې د خراج په شان لګول کیږي.

## شرحه

**له دارحرب څخه له وتلو وروسته له غنیمت نه ګټه اخیستل**: له دارحرب څخه داراسلام ته له راتلو وروسته مجاهدینو ته روا نه دي چې د غنیمت له مالونو څخه خپلو څارویو ته خوراک ورکړي او یا خپله د غنیمت له مال څخه څه وخوري، دا په دې دلیل چې داراسلام ته په رارسیدو له غنیمت څخه د ګټې اخیستلو ضرورت له منځه تللی، بله دا چې داراسلام ته د غنیمت په داخلېدو سره غنیمت د مجاهدینو ملکیت وګرځېد. په دې بنسټ که له چا سره د غنیمت له مال څخه کوم شی پاتې وي باید چې بېرته یې د غنیمت په مالونو کې کېږدي.

د غنیمت وېش: امام به غنیمت په پنځو برخو وویشي. یوه برخه (خمس) به جلا کېږدي او پاتې څلور برخې به د غازیانو تر منځ وویشي. د امام ابوحنیفه(رحمه الله) په نظر به د آس څښتن ته دوه برخې ورکوي، یعنې یوه برخه د څښتن او یوه یې د آس، او پلي ته به یوه برخه ورکوي. امام ابویوسف او امام محمد وېلي چې سپاره ته به درې برخې ورکوي. په احادیثو کې د سپاره غازي لپاره دوه او هم درې برخې راغلي چې امام ابوحینفه دوه برخو او یارانو درې برخو ته ترجیح ورکړې.

یو سړی یوازې د یو آس برخه اخیستلی شي که څه هم په جګړه کې یې له یو څخه زیات آسونه کارېدلي وي، همدا راز د بېلابېلو نسلونو آسونه په برخه کې کوم توپیر سره نه لري. دا هم باید وویل شي چې له آسونو پرته نورې سپرلۍ لکه کچر، خر او اوښ د غنیمت په مال

کې برخه نه لري.

که څوك په آس سپور دارحرب ته د جګړې لپاره ننوځي او هلته يې آس له منځه ولاړ شي، د آس د برخې د غنيمت حقدار دی. خو که څوك پلی دارحرب ته ننوځي او هلته آس واخلي د آس د برخې حقدار نه دی، ځکه له آس سره ننوتل، د آس په غنيمت کې معتبر دی.

د مريي، ښځې، کوچني او ذمي لپاره په غنيمت کې برخه نشته، ځکه د روايتونو له مخې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) هغوی ته په غنيمت کې برخه نه ده ورکړې، خو امام کولای شي له غنيمت څخه يو څه مال د هغوی د هڅولو په موخه ورکړي.

**د خمس وېش**: خمس به په درې برخو ووېشل شي او لاندې کسانو ته به ورکول کيږي:

۱- يتيمان.

۲- مسکينان.

۳- مسافر (هغه خلك چې له خپل مال څخه ليرې وي).

د خمس په اړه په قرآن کريم کې راغلي: (وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ) (الانفال: ٤١) **ژباړه**: پوه شئ! هغه شيان چې تاسو په غنيمت نيولي، بېشکه د هغوی پنځمه د الله لپاره ده، او د رسول لپاره، او خپلوانو لپاره، او يتيمانو ته، او مسکينانو ته، او مسافرو له پاره.

په ايت کې د خمس په برخه کې د الله پاك د نوم يادونه د برکت لپاره ده، همدا راز د رسول الله صلى الله عليه وسلم برخه د هغه په وفات سره پای ته رسېدلې. په همدې ډول د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خپلوانو کومه برخه چې په خمس کې وه د دې لپاره ټاکل شوې وه چې هغوی د پيغمبر (عليه السلام) مرسته کوله او د پيغمبر (عليه السلام) مرسته د هغه په وفات پای ته رسېدلې، نو د دوی برخه هم پای ته رسېدلې، البته د دوی فقيران د مسکينانو په برخه کې حقدار دي او لومړيتوب هم لري.

**د امام له اجازې پرته د لاس ته راغلو مالونو حکم**: که يو يا دوه تنه مجاهدين د امام له

اجازې پرته په دارحرب يرغل وکړي او مال لاس ته راوړي، دغه مال غنيمت نه ګڼل کيږي، ځکه غنيمت هغه مال ته ويل کيږي چې له حربيانو څخه د جګړې په زور او غلبه اخيستل شوی وي او په دې صورت کې د زور او غلبې شرط موجود نه دی.

غلبه او زور کله حقيقي وي، لکه زيات شمېر مجاهدين چې په حربيانو يرغل وکړي، کله کله غلبه او زور غير حقيقي وي، لکه يو يا دوه تنه مجاهدين چې د امام په اجازه په حربيانو يرغل وکړي، دا صورت هم غلبه او زور ګڼل کيږي، ځکه د امام د اجازې په صورت کې امام د هغوی ملاتړ وي.

که زيات شمېر مجاهدين د امام له اجازې پرته په دارحرب يرغل وکړي او مالونه لاس ته راوړي، غنيمت شمېرل کيږي، ځکه د زياتو کسانو په صورت کې مال په حقيقي زور او غلبې ترلاسه شوی. که چيرې په دې صورت کې هم مال غنيمت ونه شمېرل شي، نو د مجاهدينو حوصلې ماتيږي او جهاد ته زيان رسيږي.

**د حربيانو د هغو مالونو حکم چې پرته له جنګ کولو د مسلمانانو لاس ته ورشي**: د حربي کافرانو هغه مالونه چې پرته له جنګ کولو د مسلمانانو لاس ته ورشي هغه منقول وي او که غير منقول، دغه مالونه د فئ حکم لري او د فئ څخه مطلب دا دی چې د مجاهدينو په منځ کې به نه ويشل کيږي، دا ځکه چې دا غنيمت نه دی او حکم يې د خراج د حکم په شان دی.

خراج چې د مسلمانانو په کومو مصالحو کې لګول کيږي په هغو کې به فئ هم لګول کيږي، د فئ او خراج د مصرف ځايونه يو دي.

**په دارالاسلام کې د مستامن اوسېدل**: که مسلمان سوداګر دارحرب ته ننوځي، نو د حربيانو پر ځان، مال او ناموس تېری کول ورته روا نه دي، ځکه دا غدر او تګی ده چې مسلمان ته روا نه ده.

مستامن نشي کولای چې په دائمي ډول په دارالاسلام کې هستوګن شي، ترڅو د کفارو لپاره د

جاسوس په توګه ونه ګمارل شي. مستامن هغه شخص ته ويل کيږي چې بل هيواد ته په امان اخيستلو سره ننوځي، هغه شخص مسلمان وي او که کافر.

له همدې امله به امام له لومړي سره مستامن په دې پوهوي چې که يو بشپړ کال يې په داراسلام کې تير کړ، مستامن به ذمي ګرځي او د ذميانو ټول حکمونه به ورباندې پلي کېږي، يعنې جزيه ورځخه اخيستل کيږي او دارحرب ته نشي تللای. که دارحرب ته وتښتېد، وژل يې مباح او مالونه يې تر هغې موقوف دي چې يا مړ شي او يا بندي ونيول شي، د مړينې او بند په صورتونو کې يې پر خلکو پوروونه له منځه ځي او د خلکو سره ايښې امانتونه يې فئ ګرځي، دا په دې دليل چې نوموړی مستامن ذمي ګرځېدلی او له ذميتوب وروسته يې عهد مات کړی دی.

## فعاليت

زده کوونکي دې د محترم ښوونکي په مرسته د غنيمت بېلابېل صورتونه جوړ او په غازيانو دې د لوست د حکمونو سره سم نوموړي فرضي غنيمتونه وويشي.

## ارزونه

١- غنيمت په څو برخو وېشل کيږي؟ روښانه يې کړئ.

٢- د خمس مستحقين څوک دي؟

٣- صفي تعريف کړئ.

٤- که يو تن د امام له اجازې پرته په حربيانو يرغل وکړي او مال لاس ته راوړي، نوموړی مال ولې غنيمت نه شمېرل کيږي؟

٥- مستامن چا ته ويل کيږي؟

# د عُشري او خَراجي ځمکو او جِزيې بيان

عشري ځمکې هغه دي چې د حاصلاتو زکات يې لسمه برخه ده خو هغه ځمکې چې له اهل ذمه وو څخه په زوره نيول شوې وي او د يوځانګړې شي په اخيستلو ورسره سوله شوې وي، هغه خَراجي ځمکې دي له هغو څخه به جزيه اخيستل کيږي. غواړو په لاندې لوست کې په دې اړوند معلومات څرګند کړو.

(١) وَأَرْضُ الْعَرَبِ كُلُّهَا أَرْضُ عُشْرٍ، وَهِيَ: مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى أَقْصَى حَجَرٍ بِالْيَمَنِ، بِمَهْرَةَ إِلَى حَدِّ الشَّامِ. وَالسَّوَادُ كُلُّهَا أَرْضُ خِرَاجٍ، وَهِيَ: مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى عَقَبَةِ حُلْوَانَ، وَمِنْ الْعَلْثِ إِلَى عَبَّادَانَ.

(٢) وَأَرْضُ السَّوَادِ كُلُّهَا مَمْلُوكَةٌ لِأَهْلِهَا، يَجُوزُ بَيْعُهُمْ لَهَا وَتَصَرُّفُهُمْ فِيهَا. وَكُلُّ أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا عَلَيْهَا، أَوْ فُتِحَتْ عَنْوَةً، وَقُسِّمَتْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ، فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ.

(٣) وَكُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً، فَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهَا، فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ.

(٤) وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا، فَهِي عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ مُعْتَبَرَةٌ بِحَيِّزِهَا. فَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ فَهِيَ خِرَاجِيَّةٌ، وَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْعُشْرِ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ. وَالْبَصْرَةُ عِنْدَنَا عُشْرِيَّةٌ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.

(٥) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ أَحْيَاهَا بِبِئْرٍ حَفَرَهَا، أَوْ بِعَيْنٍ اسْتَخْرَجَهَا، أَوْ بِمَاءِ دِجْلَةَ أَوْ الْفُرَاتِ، أَوْ الْأَنْهَارِ الْعِظَامِ الَّتِي لَا يَمْلِكُهَا أَحَدٌ، فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ. وَإِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ الْأَنْهَارِ الَّتِي احْتَفَرَهَا الْأَعَاجِمُ، كَنَهْرِ الْمَلِكِ، وَنَهْرِ يَزْدَجِرْدَ، فَهِيَ خِرَاجِيَّةٌ.

(٦) وَالْخَرَاجُ الَّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى أَهْلِ السَّوَادِ: فِي كُلِّ

جَرِيبٍ يَبْلُغُهُ الْمَاءُ، وَيَصْلُحُ لِلزَّرْعِ قَفِيزٌ هَاشِمِيٌّ، وَهُوَ الصَّاعُ وَدِرْهَمٌ. و مَن جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، وَفِي جَرِيبِ الْكَرْمِ الْمُتَّصِلِ، وَالنَّخْلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ، وَمَا سِوَى ذَلِكَ مِنْ الْأَصْنَافِ، يُوضَعُ عَلَيْهَا بِحَسَبِ الطَّاقَةِ، فَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُضِعَ عَلَيْهَا، نَقَصهم الْإِمَامُ.

(٧) وَإِنْ غَلَبَ الْمَاءُ عَلَى أَرْضِ الْخَرَاجِ، اوانْقَطَعَ عَنْهَا، أَوِ اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَلَا خَرَاجَ عَلَيْهِمْ، وَإِنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ.

(٨) وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ أَهْلِ الْخَرَاجِ، أُخِذَ مِنْهُ الْخَرَاجُ عَلَى حَالِهِ. وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ الْمُسْلِمُ أَرْضَ الْخَرَاجِ مِنْ الذِّمِّيِّ، وَيُؤْخَذُ مِنْهُ الْخَرَاجُ، وَلَا عُشْرَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ.

(٩) وَالْجِزْيَةُ عَلَى ضَرْبَيْنِ:

(أ)- جِزْيَةٌ تُوضَعُ بِالتَّرَاضِي وَالصُّلْحِ، فَتُقَدَّرُ بِحَسَبِ مَا يَقَعُ عَلَيْهِ الِاتِّفَاقُ.

(ب)- وَجِزْيَةٌ يَبْتَدِئُ الْإِمَامُ بِوَضْعِهَا.

(١٠) إذَا غَلَبَ الْإِمَامُ عَلَى الْكُفَّارِ، وَأَقَرَّهُمْ عَلَى أَمْلَاكِهِمْ، فَيَضَعُ عَلَى الْغَنِيِّ الظَّاهِرِ، الْغِنَى فِي كُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا، ياخذ منه فِي كُلِّ شَهْرٍ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ، وَعَلَى الْمُتَوَسِّطِ الْحَالِ: أَرْبَعَةٌ وَعِشْرِيْنَ دِرْهَمًا، فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَمَيْنِ، وَعَلَى الْفَقِيرِ الْمُعْتَمِلِ اثْنَيْ عَشَرَ دِرْهَمًا، فِي كُلِّ شَهْرٍ دِرْهَماً.

(١١) وَتُوضَعُ الْجِزْيَةُ عَلَى أَهْلِ الْكِتَابِ، وَالْمَجُوسِ، وَعَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنْ الْعَجَمِ. وَلَا تُوضَعُ، عَلَى عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ مِنْ الْعَرَبِ، وَلَا عَلَى الْمُرْتَدِّينَ.

(١٢) وَلَا جِزْيَةَ عَلَى امْرَأَةٍ، وَلَا صَبِيٍّ، وَلَا عَلَى زَمِنٍ، وَلَا عَلَى فَقِيرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ، وَلَا عَلَى الرُّهْبَانِ الَّذِينَ لَا يُخَالِطُونَ النَّاسَ.

(١٣) وَمَنْ أَسْلَمَ وَعَلَيْهِ جِزْيَةٌ، سَقَطَتْ عَنْهُ، وَإِنْ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ حَوْلَانِ تَدَاخَلَتْ الْجِزْيَتَانِ.

(١٤) وَلَا يَجُوزُ إِحْدَاثُ بِيعَةٍ، وَلَا كَنِيسَةٍ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ، وَإِذَا انْهَدَمَتْ الْكَنَائِسُ وَالْبِيَعُ الْقَدِيمَةُ، أَعَادُوهَا.

(١٥) وَيُؤْخَذُ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ بِالتَّمْيِيزِ عَنْ الْمُسْلِمِينَ فِي زِيِّهِمْ، وَمَرَاكِبِهِمْ، وَسُرُوجِهِمْ، وَمَلَابِسِهِمْ، وَلَا يَرْكَبُونَ الْخَيْلَ، وَلَا يَحْمِلُونَ السِّلَاحَ.

(١٦) وَمَنْ امْتَنَعَ مِنْ أَدَاءِ الْجِزْيَةِ، أَوْ قَتَلَ مُسْلِمًا، أَوْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ زَنَى بِمُسْلِمَةٍ، لَمْ يَنْتَقِضْ عَهْدُهُ. وَلَا يَنْتَقِضُ الْعَهْدُ إِلَّا أَنْ يَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ، أَوْ يَغْلِبُوا عَلَى مَوْضِعٍ فَيُحَارِبُونَا.

**ژباړه**:

(١) د عربو ټوله ځمکه عشري ده او دا د عذيب څخه د يمن تر آخري برخې د حجر پورې او د مهرې څخه د شام تر پولې پورې ده، او د سواد (عراق) ځمکه ټوله خراجي ده او هغه د عذيب څخه د حلوان تر عقبې پورې او د علث څخه تر عبادان پورې ده.

(٢) د سواد ځمکه د هغې د خاوندانو ملکيت دی، دوی ته يې بيع او په هغې کې تصرف روا دی او هر هغه ځمکه چې خاوندان يې اسلام راوړي، يا په زور فتح شي او د غازيانو په منځ کې وويشله شي، نو دا ځمکه عشري ده.

(٣) او هر هغه ځمکه چې په زور فتح شي او خاوندانو ته يې پرېښودل شي، نو هغه ځمکه خراجي ده.

(٤) چا چې مړه ځمکه ژوندۍ کړه، هغه د ابويوسف (رحمه الله) په نزد د هغې تر څنګ ځمکې په اعتبار سره ده، که ترڅنګ ځمکه يې خراجي وه، نو دا به هم خراجي وي او که په خواکې ځمکه يې عشري وه، نو دا به هم عشري وي او د بصرې ځمکه زموږ په نزد عشري ده د صحابه و (رضی الله عنهم) په اجماع سره.

(٥) امام محمد (رحمه الله) ويلي دي: که د کوهی په کيندلو سره يې راژوندۍ کړه، يا يې چينه و ايستله او د هغې په اوبو يې راژوندۍ کړه او يا يې د دجلې يا فرات په اوبو يا د لويو بې مالکه نهرونو په اوبو خړوبه کړه، نو دغه ځمکه عشري ده او که يې د هغو نهرونو په اوبو ژوندۍ کړه

چې عجمو ايستلي وو، لکه د ملك يا د يزدگرد نهر، نو دا ځمكه خراجي ده.

(٦) کوم خراج چې عمرﷺ د سواد په خلکو مقرر کړی و د هغه په هر داسې جريب چې اوبه ورته رسيږي او د زراعت وړ وي يو هاشمي قفيز دی او هغه يو صاع او يو درهم دی، د سبزيجاتو په يوه جريب کې پنځه درهمه دي، د ګڼو انګورو او ګڼو کجورو(خرماوو) په هر جريب کې (چې له دی څخه پرته نور څه نه پکې کرل کيږي) لس درهمه دي اوله دې پرته په نورو ډولونو کې به د دوی د طاقت مطابق ايښودل کيږي، که په هغې د ايښودل شوي (شي) طاقت يې نه درلود نو امام به يې کم کړي.

(٧) که دخراج په ځمکه اوبه غالبې شوي يا ورڅخه قطع شوې، يا په کښت څه آفت راغی نو خراج پرې نشته او که د ځمکې خاوند ځمکه بيکاره پريښوده نو خراج به وربانديې وي.

(٨) که د اهل خراجو څخه څوك مسلمان شو، نو خراج به ورڅخه د پخوا په څير اخيستل کيږي. او دا روا ده چې مسلمان له ذمي څخه خراجي ځمکه واخلي او خراج به ترې اخيستل کيږي او د خراجي ځمکې په حاصلاتو کې عشر نشته.

(٩) **جزيه په دوه ډوله ده:**

أ_ يوه هغه ده چې په خوښۍ او سوله مقرره شي، هومره به ټاکل کيږي چې اتفاق يې پرې راغی.

ب- او بله هغه ده چې له پيل څخه يې د مسلمانانو امام مقرره کړي.

(١٠) کله چې امام په کفارو غالب شي او دوی پخپلو املاکو برقراره پريږدي، نو په ښکاره بډای به هر کال اته څلويښت درهمه مقرروي په هره مياشت کې به څلور درهمه ورڅخه اخلي، او په درميانه حال باندې څليريشت درهمه دي په هره مياشت کې دوه درهمه، او په کار کوونکي فقير باندې دولس درهمه دي په هره مياشت کې يو درهم.

(١١) جزيه په اهل کتابو، اتش پرستو او د عجمو په بت پرستانو باندې ايښودل کيږي، او د عربو په بت پرستانو او مرتدانو نه ايښودل کيږي.

(۱۲) جزیه نه په ښځو شته، نه په ماشوم (کوچنی)، نه په شل، نه په داسي فقیر چې کار یې نه وي او نه په هغو راهبانو چې له خلکو سره ګډون نه کوي.
(۱۳) څوک چې مسلمان شي او په ده باندې جزیه وي، هغه ترې ساقطه شوه،او که په هغه(ذمي) باندې د دوو کالو (جزیه) جمع شوه تداخل به پکې وشي (د یو کال به ترې اخیستله کیږي).
(١٤) په دار الاسلام کې د یهودو د نوې عبادت ځای جوړول جائز نه دي او نه د نصارا وو د کلیسا جوړول، او که د یهودو او نصاراوو پخوانۍ عبادت خانې ونړیدې، هغه دوباره جوړولای شي.
(۱۵) له اهل ذمه وو څخه به کلکه وعده اخیستل کیږي چې دوی به له مسلمانانو سره په جامو، سپرلیو، زینونو او خولیو کې توپیر کوي، دوی به په آسونو نه سپریږي او وسله به هم نه ګرځوي.
(١٦) که له اهل ذمه وو څخه څوک د جزیې له ورکولو ډډه وکړي یا مسلمان ووژني یا نبی علیه السلام ته کنځلې وکړي او یا له مسلمانې ښځې سره زنا وکړي، عهد یې نه ماتیږي، مګر دا چې له دار حرب سره یوځای شي، یا په یو ځای غلبه پیدا او له مونږ سره جګړه پیل کړي.

## شرحه

**عُشري او خراجي ځمکې**: عشري ځمکې هغه دي چې خاوندانو یې ایمان راوړی وي، د عربو ځمکې وي او که د عجمو، هغه د دوی ملکیت دی او همدا شان هغه ځمکې هم عشري دي چې مسلمانانو د متو په زور فتح کړې وي او امام هغه د فاتحینو په منځ کې ویشلې وي.
خراجي ځمکې د عجمو هغه ځمکې دي چې امام په زور فتحه کړې وي او د هغو خاوندانو ته یې ور پرې ایښې وي، او یا عشري ځمکې وي او ذمّی یې په خپل ملکك کې راولي.

**عُشر**: عشر لسمې برخې  او د عشري ځمکو زکات ته ويل کيږي.

**خِراج**: دا هغه حقوق دي چې په غير عشري ځمکه په اهل ذمه وو باندې ايښودل کيږي او د يو ځانګړي ترون له مخې ورڅخه اخيستل کيږي او بيت المال ته سپارل کيږي.

**د عربو ځمکې**: د عربو ځمکې ټولې عشري دي او د دغو ځمکو حدود له عُذَيْب څخه (چې د کوفې يو کلی دی) د يمن د حجر (د مَهْرَة ) تر اخره (د شام تر بريده) پورې دي.

خراج په دوه ډوله دی ۱- خراج مقاطعه ۲- خراج مقاسمه.

**خراج مقاطعه د سَوَادُ الْعِرَاق ځمکې**: د عراق د سواد ځمکې خراجي ځمکي دي، دا د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې فتح شوي دي، خلك يې په همدې ځمکو پريښودل او جزيه يې ورباندې مقرره کړه، د دغو ځمکو حدود په طول کې له موصل څخه تر عبادان پورې او په عرض کې له عذيب څخه تر حلوان پورې دي.

**د مقاسمه خراج**: دا هغه خراج دی چې امام يو ځای ونيسي او احسان ورباندې وکړي او يا دا ورته ښه ښکاره شي چې د ځمکې د حاصل يوه برخه لکه نيم يا دريمه يا څلورمه برخه ورباندې مقرره کړي.

د سواد ځمکې د هغو د خاوندانو ملکيت دی، د هغو خرڅول او تصرف کول ورته پکې روا دي، ځکه دا ځمکې په زوره نيول شوې دي، او د هغو اهل په هغو ميشته او خراج ورباندې مقرر کړای شوی دی او ځکه په سواد نومول شوی ده چې د هغې ونې او واښه ډير شنه وو او تورښکاريدل او هر هغه ځمکه چې په زور ونيول شي او اهل يې ورباندې ميشت کړای شي هغه د خراج ځمکه ده.

**د ځمکې ژوندي کول**: امام ابوحنيفه (رحمه الله)  وايي: چا چې مړه ځمکه د امام له اجازې پرته ژوندۍ کړه مالك يې نه ګرځي، ځکه د امام اجازه شرط ده.

صاحبينو ويلي دي: چا چې  مړه ځمکه راژوندۍ کړه د هغې مالك ګرځي اګر که امام ورته اجازه نه وي ورکړې.  د امام ابو يوسف (رحمه الله) په نزد د دې ځمکې اعتبار د هغې د نژدې

ځمکې له مخې کیږي، که هغه د خراج ځمکه وه، نو دا خراجي ده، او که هغه عشري وه نو دا هم عشري ده، خو دا هغه مهال چې د هغې را ژوندی کوونکی مسلمان وي او که يې ذمي ژوندۍ کړې، نو په هغه خراج دی اګر که نژدې ځمکه ورته عشري هم وي. او بصره زموږ په مذهب کې د صحابه کرامو‌ﷺ د اجماع په اساس عشري ده.

**د حضرت عمر‌ﷺ لخوا ټاکلی خراج**: حضرت عمر‌ﷺ د عراق د سواد د ځمکې په هر يو جريب چې اوبه ورته رسيږي د غنمو يا اوربشو يو هاشمي قفيز (يو صاع) او يو درهم خراج مقرر کړ، او د سبزيجاتو په يوه جريب يې پنځه درهمه، او د ګڼو (سره نښتو) انګورو د تاکونو او د ګڼو(سره نښتو) خرماوو د ونو په يو جريب يې لس درهمه خراج مقرر کړ، د ګڼو انګورو د تاکونو او خرماوو څخه مقصد دادی چې له دوی پرته نور څه نه ورسره کرل کيږي.

جريب شپيته په شپيته کې شرعي ګزه دی.

او له پورتنيو څخه پرته په نورو ډولونو کې د وس په اندازه وربانديې خراج ايښودل کيږي.

**که د خراج په ځمکه افت راشي**: که د خراج په ځمکه اوبه غالبې، ډيرې، يا ورڅخه بندې شي، يا په کښت باندې کوم آسماني آفت راشي چې ساتنه ورڅخه نه کيږي او کښت ټول له مينځه يوسي، لکه يخ يا ږلۍ وهل او داسې نور، نو په هغې کې خراج نشته، ځکه د کښت کيدل پکې شوني نشول.

او که آسماني آفت نه وي او ساتنه ورڅخه کيدای شي، لکه چې حيوانات يې وخوري په هغو کې خراج شته.

که ځمکه د کښت قابله وي او خاوند يې پخپله بې کاره پريږدي په هغې ځمکه کې خراج شته.

که د خراج د ځمکې خاوندان ايمان راوړي، له هغوڅخه به د پخوا په شان خراج اخيستل کيږي، ځکه کومه ځمکه چې د خراج صفت پيدا کړي هغه بيا د خاوند په بدليدو توپير نه کوي.

د مسلمان لپاره رواده چې له ذمي څخه خراجي ځمکه واخلي، خو له ده څخه به هم خراج اخيستل کيږي او عشر ورباندې نشته.

**جزيه او د هغې ډولونه**: جزيه هغه څه ته وايي چې له ذميانو څخه اخيستل کيږي.

**جزيه په دوه ډوله ده**: لومړی ډول يې هغه دی چې هغه د خوښې او سولې له لارې ايښودل کيږي، مخکې له دې چې په زوره ورباندې تسلط پيدا شي.

دويم ډول يې هغه دی چې امام د زور او قوت له لارې د کفارو په ځمکو غلبه پيدا کړي او بيا يې په خپلو ځمکو پرېږدي او ورباندې جزيه مقرره کړي او امام پکې اختيار لري، چې په لاندې ډول ورڅخه اخيستل کيږي:

۱. **له بډايانو څخه**: او دا هغه کسان دي چې لس زره درهمه يا له هغه څخه د زياتو مالک وي، له هغو څخه به د کال اته څلويښت (٤٨) درهمه اخيستل کيږي د مياشتې څلور درهمه چې مياشت په مياشت به يې ورکوي.

۲. **له درميانه خلکو څخه**: او دا هغه کسان دي چې دوه دوه سوه يا له دې څخه زيات دراهم لري له هغو څخه به د کال څليريشت(٢٤) درهمه، د مياشتې دوه درهمه اخيستل کيږي.

۳. **له فقيرانو څخه**: او دا هغه څوک دي چې له دوو سوو درهمو څخه کمې پيسې لري له هغو څخه به د کال دولس درهمه د مياشتې يو درهم اخيستل کيږي.

**هغه څوک چې جزيه پرې ايښودل کيږي**: په اهل کتابو، اتش پرستو او د عجمو په بت پرستانو جزيه ايښودل کيږي. د عربو په بت پرستانو او مرتدينو جزيه نشته، ځکه رسول کريم صلی الله عليه وسلم د عربو په منځ کې پيدا شوی، معجزه د دوی په حق کې ډيره ښکاره ده، نود دوی لپاره يا اسلام دی او يا توره، مرتد هم همداسې دی له هدايت څخه وروسته د دوی لپاره يا اسلام دی او يا توره.

**په چا جزيه نشته**؟ په ښځه، کوچني، مزمن ناروغ، فقير چې کار نلري او په هغه راهب (عبادت کوونکي) چې گوشه نشين وي او له خلکو سره په ټولنه کې نه اوسيږي او د کار ورتيا

نلري، جزيه نشته، ځکه جزيه د جنګ په بدل واجبه ګرځېدلې ده او دوی د جنګ اهل نه دي او نه اهليت لري.

**د يهودو او نصاراوو د عبادت ځايونو جوړول**: په دار الاسلام کې د يهودو او نصاراوو د نوو عبادت خانو جوړول جائز نه دي، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه منعه کړېده، او که د يهودو او نصاراوو پخوانی عبادت خانې ونړېدې هغه دوباره جوړېدای شي، ځکه امام دوی ته د هغو اجازه ورکړېده د دې معنی داده چې د بيا جوړېدو عهد يې ورسره کړی دی.

**ذمي به له مسلمان سره توپيرلري**: اهل ذمه به له مسلمان سره په جامو، سورلۍ، زينونو او خوليو کې توپير کوي، په آسونو به نه سپرېږي او وسله به نه ګرځوي، تر څو يې له بله توپير راشي او د احکامو او معاملاتو په عملي کولو کې ورسره ګډون رامنځ ته نشي.

**عهد ماتول**: که له اهل ذمه وو څخه څوک له جزيې څخه ډډه وکړي، يا مسلمان ووژني، يا نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته کنځلې وکړي او يا له مسلمانې ښځې سره زنا وکړي په دې عهد نه ماتيږي. ددوی عهد هله ماتيږي چې دوی له دار حرب سره يو ځای شي او يا په يوه ځای غلبه پيدا کړي او بيا له مسلمانانو سره جګړه پيل کړي.

## فعاليت

زده کوونکي دې په خپلو منځونو کې د خراجي او عشري ځمکو توپير او په جزيه او د هغې په ډولونو کې سره خبرې او مناقشه وکړي.

## ارزونه

۱. خراجي او عشري ځمکې کومې دي؟

۲. د مړو ځمکو راژوندي کول څه حکم لري؟

۳. جزیه څه ته وايي او ډولونه يې کوم دي؟

٤. په کومو کسانو جزیه نشته؟

۵. د اهل ذمه وو عهد څه وخت ماتيږي؟

## کورنۍ دنده

د جزيې تعريف او د هغې ډولونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د مرتدانو او باغيانو د احكامو بيان

له اسلام څخه كفر ته ګرځېدل او مرتد كيدل او د امام په مقابل كې بغاوت كول ډيره لويه ګناه ده، اسلامي فقهه په دې اړه ځانګړي احكام لري، په دې درس كې په همدغو احكامو بحث كوو.

(١) وَإِذَا ارْتَدَّ الْمُسْلِمُ عَنْ الْإِسْلَامِ، عُرِضَ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ، فَإِنْ كَانَتْ لَهُ شُبْهَةٌ كُشِفَتْ لَهُ، وَيُحْبَسُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ أَسْلَمَ وَإِلَّا قُتِلَ، فَإِنْ قَتَلَهُ قَاتِلٌ قَبْلَ عَرْضِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ، كُرِهَ لَهُ ذَلِكَ، وَلَا شَيْءَ عَلَى الْقَاتِلِ.

(٢) وَأَمَّا الْمَرْأَةُ إِذَا ارْتَدَّتْ فَلَا تُقْتَلُ وَلَكِنْ تُحْبَسُ حَتَّى تُسْلِمَ.

(٣) وَيَزُولُ مِلْكُ الْمُرْتَدِّ عَنْ أَمْوَالِهِ بِرِدَّتِهِ زَوَالًا مُرَاعًى، فَإِنْ أَسْلَمَ عَادَتْ أَمْلَاكُهُ عَلَى حَالِهَا، وَإِنْ مَاتَ، أَو قُتِلَ عَلَى رِدَّتِهِ،انْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ إِسْلَامِهِ إِلَى وَرَثَتِهِ الْمُسْلِمِينَ، وَكَانَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْئًا، فَإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا، وَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِلَحَاقِهِ، عُتِقَ مُدَبَّرُوهُ، وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ، وَحَلَّتِ الدُّيُونُ الَّتِي عَلَيْهِ.

(٤) وَانتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ، إِلَى وَرَثَتِهِ مِنْ الْمُسْلِمِينَ، وَتُقْضَى الدُّيُونُ الَّتِي لَزِمَتْهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ، مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الْإِسْلَامِ، وَمَا لَزِمَهُ مِنْ الدُّيُونِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ يُقْضَى مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ، وَمَا بَاعَهُ، أَوْ اشْتَرَاهُ، أَوْ تَصَرَّفَ فِيهِ مِنْ أَمْوَالِهِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ، مَوْقُوفٌ، فَإِنْ أَسْلَمَ صَحَّتْ عُقُودُهُ، وَإِنْ مَاتَ، أَوْ قُتِلَ، أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتْ.

(٥) وَإِذَا عَادَ الْمُرْتَدُّ بَعْدَ الْحُكْمِ بِلَحَاقِهِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ مُسْلِمًا، فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِنْ مَالِهِ بِعَيْنِهِ، أَخَذَهُ.

(٦) وَالْمُرْتَدَّةُ إِذَا تَصَرَّفَتْ فِي مَالِهَا فِي حَالِ رِدَّتِهَا جَازَ تَصَرُّفُهَا.

(٧) وَنَصَارَى بَنِي تَغْلِب، يُؤْخَذُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الزَّكَاةِ، وَيُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ، وَلَا يُؤْخَذُ مِنْ صِبْيَانِهِمْ شَيْءٌ.

(٨) وَمَا جَبَاهُ الْإِمَامُ مِنَ الْخَرَاجِ وَمِنْ أَمْوَالِ بَنِي تَغْلِب، وَمَا أَهْدَاهُ أَهْلُ الْحَرْبِ إِلَى الْإِمَامِ، وَالْجِزْيَةِ، تُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ: فَيُسَدُّ بِهِ الثُّغُورُ، وَتُبْنَى بِهِ الْقَنَاطِرُ وَالْجُسُورُ، وَيُعْطَى مِنْهُ قُضَاةُ الْمُسْلِمِينَ، وَعُمَّالُهُمْ، وَعُلَمَاؤُهُمْ مَا يَكْفِيهِمْ، وَيُدْفَعُ مِنْهُ أَرْزَاقُ الْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيِّهِمْ.

(٩) باب البغاة:

(١٠) وَإِذَا تَغَلَّبَ قَوْمٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى بَلَدٍ، وَخَرَجُوا عَنْ طَاعَةِ الْإِمَامِ، دَعَاهُمْ إِلَى الْعَوْدِ إِلَى الْجَمَاعَةِ، وَكَشَفَ عَنْ شُبْهَتِهِمْ. وَلَا يَبْدَاهُمْ بِالْقِتَالِ حَتَّى يَبْدَءُوهُ، فَإِنْ بَدَءُوا قَاتَلْنَاهُمْ حَتَّى نُفَرِّقَ جَمْعَهُمْ، فَإِنْ كَانَتْ لَهُمْ فِئَةٌ أُجْهِزَ عَلَى جَرِيحِهِمْ، وَاتُّبِعَ مُوَلِّيهِمْ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِئَةٌ لَمْ يُجْهَزْ عَلَى جَرِيحِهِمْ، وَلَمْ يُتْبَعْ مُوَلِّيهِمْ، وَلَا تُسْبَى لَهُمْ ذُرِّيَّةٌ وَلَا يُغْنَمُ لَهُمْ مَالٌ.

(١١) وَلَا بَأْسَ أَنْ يُقَاتَلُوا بِسِلَاحِهِمْ إِنْ احْتَاجَ الْمُسْلِمُونَ إِلَيْهِ، وَيَحْبِسُ الْإِمَامُ أَمْوَالَهُمْ، وَلَا يَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ، وَلَا يُقَسِّمُهَا حَتَّى يَتُوبُوا فَيَرُدَّهَا عَلَيْهِمْ.

(١٢) وَمَا جَبَاهُ أَهْلُ الْبَغْيِ مِنَ الْبِلَادِ الَّتِي غَلَبُوا عَلَيْهَا، مِنَ الْخَرَاجِ، وَالْعُشْرِ، لَمْ يَأْخُذْهُ الْإِمَامُ ثَانِيًا، فَإِنْ كَانُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ، أَجْزَأَ مَنْ أَخَذَ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ، فعلي أَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى أَنْ يُعِيدُوا ذَلِك.

## ژباړه

(١) که مسلمان له اسلام څخه مرتد شو، اسلام دې ورته وړاندې شي (اسلام ته دې راوبلل شي)، که څه شبهه يې وه هغه دې لیرې کړای شي او تر دريو ورځو به بندي کړای شي، که يې اسلام قبول کړ نو ښه ده او که نه نو ودې وژل شي که څه هغه مخکې له دې چې اسلام ورته وړاندې شي قتل کړ دا کار مکروه دی او په قاتل کوم شی (جزا) نشته.

(۲) مرتده ښځه به نه وژل کیږي بلکې بندۍ کیږي به تر دې چې اسلام قبول کړي.
(۳) د مرتد ملکیت د ده له مالونو څخه د ده د مرتد کیدو له امله زائل کیږي په موقوف زوال سره، که اسلام یې راوړ خپل حال ته به راوګرځي(د خپل مال مالك به شي) او که په ردت کې مړ شو یا ووژل شو، نو د ده هغه ګټه به چې د اسلام په حال کې یې کړې وه، د ده مسلمانو وارثانو ته نقل شي او کومه ګټه چې د ارتداد په حال کې یې کړې وه هغه فئ (غنیمت) ده، که مرتد له دار حرب سره یو ځای شو او حاکم(چارواکي) د ده په تلو حکم وکړ، نو د ده مدبر(مرییونه) او د ده د اولادونو میندې به آزادې شي او په ده چې کوم د نیتې پورونه دي هغه به فوري شي (نیته به یې ختمه او سمد لاسه ورکول به یې لازمې شي).
(٤) او ده چې څه د اسلام په حال کې ګټلي دي، هغه به د ده مسلمانو وارثانو ته نقل (ورکړ) شي، په ده چې کوم پورونه د اسلام په حال کې لازم شوي، هغه به له هغې ګټې څخه اداء کیږي چې د اسلام په حال کې یې ګټلې ده او هغه پورونه چې د ردت په حال کې وربانديې لازم شوي دي، هغه به د ردت د حال له ګټې څخه اداء کیږي او هغه څه چې ده خرڅ کړي یا یې اخیستې او یا یې په خپلو مالونو کې د ردت په حال کې تصرف کړی، هغه به موقوف وي، که مسلمان شو نو دده ټول تړونونه به صحیح شي او که مړ شو، یا قتل شو یا له دار حرب سره یو ځای شو ټول باطل وګرځیدل.
(٥) کله چې مرتد وروسته له دې چې قاضي وربانديې دارحرب ته د ننوتلو حکم کړی وي، دار الاسلام ته مسلمان شوی راوګرځي، نو خپل هغه بعینه مالونه چې د ورثه وو په لاس کې یې پیدا کړي، ورڅخه واخلي.
(٦) که مرتده ښځه د خپل ردت په حال کې په خپل مال کې تصرف کوي تصرف یې جائز دی.
(۷) د نصاراوو د بني تِغْلَب له مالونو څخه به د مسلمانانو په نسبت دوه چنده زکات اخیستل کیږي، د دوی له ښځو څخه به هم اخیستل کیږي او له کوچنیانو څخه به یې نه اخیستل

کېږي.

(۸) او امام چې، د بني تِغلب د خراج له مالونو، له هغو تحفو چې اهل حرب امام ته هدیه کړي او له جزیې څخه څه (مالونه) جمع کړي هغه به د مسلمانانو په مصلحتونو کې لګوي، سرحدونه به ورباندې بندوي، پلچکونه او پلونه به ورباندې جوړوي، مسلمانانو قاضیانو، کار کوونکو او عالمانو ته به ترې دومره څه ورکوي چې دوی ته کفایت وکړي، غازیانو او ددوی اولادونو ته به ترې معاش (تنخوا) هم ورکوي.

**(۹) د باغیانو باب**

(۱۰) کله چې د مسلمانانو یو قوم په یو ښار غلبه (تسلط) پیدا کړي او د امام له اطاعته بهر شي، نو جماعت ته د بېرته راګرځېدو بلنه دې ورکړي، د دوی شبهې دې لیرې کړي او له دوی سره دې جګړه نه پیلوي تر څو چې دوي یې پیل کړي، که دوی پیل وکړ، نو موږ به ورسره جګړه کوو، تر څو چې د دوی ډله تیته شي، که د دوی نور ملګري(ډله) وه، نو د دوی زخمیان به ونیسي او د دوي په شا تښتیدلو پسې به لټون وکړي، که یې نور ملګري (ډله) نه وه نو زخمیان به یې نه نیسي او د دوي په تښتیدلو پسې به لټون نه کوي او نه به د دوی اولادونه بندیانوي او نه به یې مالونه تقسیموي.

(۱۱) او دا باک نه لري چې د دوی په وسله جنګ وکړي، که مسلمانان هغې ته اړ شول، امام به ددوی مالونه بند کړي، نه به یې دوی ته ورکوي او نه به یې ویشي تر څو چې توبه وکړي(که یې توبه وکړه) نو بیا به یې بیرته ورکوي.

(۱۲) او باغیانو چې د خراج او عشر څه (مالونه) لاس ته راوړي وي له هغو ښارونو چې غلبه یې ورباندې پیدا کړې وه، امام به هغه دوباره نه ورڅخه اخلي، که دوی (باغیانو) په صحیح ځای کې مصرف کړي وو، د مالونو له خاوندانو څخه کفایت کوي(غاړې یې خلاصیږي)، او که یې په صحیح ځای کې نه وي لګولي، د دې خلکو معامله د دوی او د الله تر مینځ ده، نو دیانتا ورباندې واجب ده چې دوباره یې ورکړي.

## شرحه

### د ردت او مرتد تعريف

ردت په لغت کې له يو شي څخه بيرته ګرځيدلو ته وايي. او د شريعت په اصطلاح کې: له اسلام څخه کفر ته ګرځيدل ردت بلل کېږي.

**مرتد**: د پورتني تعريف له مخې هغه څوك دی چې له اسلام څخه کفر ته وګرځي، لکه چې د خالق له وجود يا له رسولانو څخه منکر شي، يا حرام حلال وبولي، لکه زنا، لواطت او شراب خوړل او يا حلال حرام وګڼي، لکه نکاح کول، يا کفري عمل وکړي، لکه په قصد سره په چټليو کې د قرآن عظيم الشان غورځول.

**د مرتد حکم**: مرتد ته به قاضي او چارواکي د اسلام بلنه ورکړي او که څه شبهه يې وي هغه به ليرې کړي، تر دريو ورځو پورې به يې بندي کړي که اسلام يې قبول کړ نو ښه ده او که نه، نو و دې وژل شي.

**مرتده ښځه**: مرتده ښځه به نه وژل کيږي، او تر هغې بندی کيږي چې اسلام قبول کړي او يا په خپله مړه شي او ځکه نه وژل کيږي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښځو له وژلو څخه منعه کړيده، او د حبس طريقه يې داسې ده چې هره ورځ به يې قاضي راوباسي اسلام به ورته وړاندې کوي، که يې منعه وکړه، نو څو درې به يې ووهي، بيا به اسلام ورته وړاندې کړي که يې منعه وکړه بندي به يې کړي، همداسې به ټول عمر هره ورځ کوي تر څو يا اسلام راوړي او يا مړه شي.

**د مرتد شتمني**: د مرتد ملکيت د هغه له خپلو مالونو څخه په موقوفه توګه له مينځه ځي، که بيرته يې اسلام قبول کړ مالونه يې خپل حال ته راګرځي، که د ردت په حال کې مړ شي يا ووژل شي نوکوم مالونه چې يې د اسلام په حال کې ګټلي وو هغه د ده مسلمان وارثانو ته ورکول کيږي او کوم مالونه چې يې د ردت په حال کې ګټلي وي هغه فئ غنيمت دي بيت

المال ته به ورکول کیږي.

**که مرتد له دار حرب سره یو ځای شي:** که مرتد دار حرب ته ولاړ شي او قاضي د هغه د تګ (د هغه په ارتداد) حکم وکړي نو د ده مدبر مریان او د اولادونو میندې یې آزادیږي او میعادي (مؤجل) پوروونه یې فوري کیږي(چې فوري به اداء کیږي).

مرتد چې د ردت په وخت کې د اخیستلو او خرڅولو څه تړونونه کړي وي هغه موقوف ګرځي، که بیرته مسلمان شو هغه خپل حال ته راګرځي او که مړ شو یا ووژل شو او یا دار حرب ته ولاړ، هغه باطل ګرځي. خو مرتده ښځه بیا داسې نه ده، هغه که په خپل مال کې تصرف وکړي تصرف ورته جواز لري.

دار حرب: هر هغه سیمه ده چې هلته اسلامي شعائر نه عملي کیږي او په ښکاره پکې د کفر او شرک احکام عملي کیږي.

**د خراج د مالونو د لګولو ځایونه:** کوم مالونه چې امام یې، د بني تغلب[1] (له قبیلې) څخه د خراج، د اهل حرب له هدایاوو (ډالیو) او د جزیې له لارې لاس ته راوړي، هغه به د مسلمانانو په مصالحو کې مصرفیږي، سرحدات به پرې ساتل کیږي، پلونه به ورباندې جوړیږي، د مسلمانانوقاضیانو، کارکوونکو او عالمانو ته به د دوی د کفایت په اندازه تنخوا ترې ورکول کیږي، همدا شان به د غازیانو او د دوی اولادونو ته ورڅخه معاش ورکول کیږي.

بُغَاة (باغیان): بُغاة د باغي جمع ده او د فقهاؤ په اصطلاح کې باغي هغه ځوک دی چې د برحق امام له اطاعت او پیروۍ څخه په ناحقه ووځي.

**د باغیانو حکم:** که د مسلمانانو کوم قوم د امام له اطاعت څخه ووځي او په کوم ښار باندې غلبه (تسلط) پیدا کړي نو امام دې دوی د مسلمانانو له جماعت سره یو ځای کیدلو ته راوبولي،

---

۱. بني تغلب: روم ته نژدې د عربو د نصاراوو یو قوم و چې عمر رضي الله عنه ورباندې جزیه مقرره کړه، نو دوی وویل چې موږ یو شوکت لرونکی قوم یو جزیه زموږ لپاره عار دی، که غواړې له موږ څخه دوه چنده واخله خو د جزیې نوم پرې مه ږده او که نه موږ به د روم په خاوره کې ستا له دښمن سره یو ځای شو، عمر رضي الله عنه ورسره په صدقه او دوه چنده مصالحه وکړه او ورته ویې ویل دا جزیه ده تاسو چې هر نوم ورکوئ ستاسو خوښه، دا کار د صحابه کرامو په حضور کې تر سره شو. الجوهره: ٦/ ١٤٨.

که څه شبهه ورسره وي، لکه وايي چې په مورډ باندې د ظلم له امله يې داکار کړی، نو هغه دې ورڅخه ليرې کړي. امام دې په جنګ تر هغه پيل نه کوي، تر څو چې دوی پيل نه وي کړی، که يې جګړه پيل کړه، نو بيا دې ورسره جګړه وکړي تر څو يې ټولې مات او خور ور شي.

**که باغيانو تر شا ډله درلوده**: که باغيانو کومه ډله لرله چې دوی پناه وروړله، نو د ماتې په صورت کې دې د دوی تښتيدلي ولټوي تر څو يې ووژني او يا يې بنديان کړي او د زخميانو په وژلو کې دې تلوار وکړي، او بنديان دې ووژني، او که امام وغواړي بنديان دې خوشي کړي، لکه حضرت علي کرم الله وجهه چې به بنديانو ته قسم ورکولو څو بيا له باغيانو سره ونه دريږي او خوشی کول به يې. او که يې ډله نه درلوده نو بيا دې د بنديانو په وژلو کې تلوار نه کوي او نه دې په تښتيدلو پسې لټون کوي، ځکه بيا ورڅخه ويره نشته او نه دې د دوی اولادونه بنديانوي او نه دې مالونه غنيمت اخلي او نه دې تقسيموي ترڅو توبه وباسي نو بيا به يې بيرته ورکړي.

**که باغيانو خراج او عشر اخيستی و**: د غلبې په وخت کې که باغيانو له خلکو څخه خراج او يا عشر اخيستی و، نو امام دې هغه له خلکو څخه دوباره نه اخلي، که باغيانو د دوی اخيستی مال په ځای لګولی و، نو له هغو څخه به کفايت وکړي او که يې په ځای نه ؤلګولی نو بيا دې خلک ديانتا دوباره دغه مال ورکړي خو حتمي نه دی.

## فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي او په خپل منځ کې دې د ردت، باغيانو، او دار حرب موضوع وڅيړي.

## ارزونه

۱. د ردت او مرتد تعریف وکړئ.

۲. د مرتد حکم بیان کړئ.

۳. د مرتدې ښځې حکم څه دی؟

٤. د مرتد له شتمنۍ سره به څه کیږي؟

٥. که مرتد له دار حرب سره یو ځای شي حکم یې څه دی؟

٦. دار حرب څه ته وایي؟

۷. د خراج د مالونو د مصرف ځایونه کوم دي؟

۸. بُغات تعریف کړئ.

۹. د باغیانو حکم څه دی؟

۱۰. که باغیان تر شا ډله او د پناه ځای ولري حکم یې څه دی؟

۱۱. که باغیانو له خلکو څخه خراج او عشر اخیستی وي امام یې دوباره اخیستلای شي او که نه؟

## کورنۍ دنده

د خپل استاذ په مرسته د باغیانو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې څوک دي.

# د منعه شیو او مباحو شیانو بیان

ځیني چارې د شریعت له نظره یا منعه دي او یا یې کول پکار نه دي، یا یو شی ښځو ته روا وي خو نارینه و ته روا نه وي، په دې درس کې د همدې چارو بیان کوو.

كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَة:

(١) لَا يَحِلُّ لِلرِّجَالِ لُبْسُ الْحَرِيرِ، وَيَحِلُّ لِلنِّسَاءِ، وَلَا بَأْسَ بِتَوَسُّدِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُكْرَهُ تَوَسُّدُهُ. وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ الدِّيبَاجِ فِي الْحَرْبِ عِنْدَهُمَا، وَيُكْرَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ الْمُلْحَمِ إِذَا كَانَ سُدَاهُ إِبْرَيْسَمًا، وَلُحْمَتُهُ قُطْنًا أَوْ خَزًّا.

(١) وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ التَّحَلِّي بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، إِلَّا الْخَاتَمَ وَالْمِنْطَقَةَ، وَحِلْيَةَ السَّيْفِ مِنْ الْفِضَّةِ.

وَيَجُوزُ لِلنِّسَاءِ التَّحَلِّي بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ. وَيُكْرَهُ أَنْ يُلْبَسَ الصَّبِيُّ الذَّهَبَ وَالْحَرِيرَ.

(٣) وَلَا يَجُوزُ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالِادِّهَانُ، وَالتَّطَيُّبُ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ.

(٤) وَلَا بَأْسَ بِاسْتِعْمَالِ آنِيَةِ الزُّجَاجِ، وَالْبِلُّورِ، وَالْعَقِيقِ.

(٥) وَيَجُوزُ الشُّرْبُ فِي الْإِنَاءِ الْمُفَضَّضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَالرُّكُوبُ عَلَى السَّرْجِ الْمُفَضَّضِ، وَالْجُلُوسُ عَلَى السَّرِيرِ الْمُفَضَّضِ، وَيُكْرَهُ التَّعْشِيرُ فِي الْمُصْحَفِ، وَالنَّقْطُ.

(٦) وَلَا بَأْسَ بِتَحْلِيَةِ الْمُصْحَفِ وَنَقْشِ الْمَسْجِدِ وَالزَّخْرَفَةِ بِمَاءِ الذَّهَبِ.

(٧) وَيُكْرَهُ اسْتِخْدَامُ الْخِصْيَانِ. وَلَا بَأْسَ بِخِصَاءِ الْبَهَائِمِ، وَإِنْزَاءِ الْحَمِيرِ عَلَى الْخَيْلِ، وَيَجُوزُ أَنْ يَقْبَلَ فِي الْهَدِيَّةِ وَالْإِذْنِ، قَوْلَ الصَّبِيِّ وَ الْعَبْدِ.

(٨) وَيُقْبَلُ فِي الْمُعَامَلَاتِ قَوْلُ الْفَاسِقِ، وَلَا يُقْبَلُ فِي أَخْبَارِ الدِّيَانَاتِ إِلَّا الْعَدْلُ.

(٩) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَنْظُرَ الرَّجُلُ مِنْ الْأَجْنَبِيَّةِ إِلَّا إِلَى وَجْهِهَا وَكَفَّيْهَا، وإِنْ كَانَ لَا يَأْمَنُ الشَّهْوَةَ، لَا يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهَا إِلَّا لِحَاجَةٍ، وَيَجُوزُ لِلْقَاضِي إِذَا أَرَادَ أَنْ يَحْكُمَ عَلَيْهَا، وَلِلشَّاهِدِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْهَا، أَنْ يَنْظُرَ إِلَى وَجْهِهَا، وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِي.

(١٠) وَيَجُوزُ لِلطَّبِيبِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَوْضِعِ الْمَرَضِ مِنْهَا.

(١١) وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ، إِلَّا مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ. وَيَجُوزُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَنْظُرَ مِنْ الرَّجُلِ إِلَى مَا يَجُوزُ أَنْ يَنْظُرَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ مِنْهُ.

(١٢) وَتَنْظُرُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْمَرْأَةِ إِلَى مَا يَجُوزُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنَ الرَّجُلِ. وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ أَمَتِهِ الَّتِي تَحِلُّ لَهُ، وَمِنْ زَوْجَتِهِ إِلَى فَرْجِهَا.

(١٣) وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ إِلَى الْوَجْهِ، وَالرَّأْسِ، وَالصَّدْرِ، وَالسَّاقَيْنِ، وَالْعَضُدَيْنِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَى ظَهْرِهَا، وَبَطْنِهَا، وَلَا بَأْسَ أَنْ يَمَسَّ مَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنْهَا.

(١٤) وَالْخَصِيُّ فِي النَّظَرِ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ كَالْفَحْلِ.

(١٥)وَلَا يَعْزِلُ عَنْ زَوْجَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهَا.

(١٦) وَيُكْرَهُ الِاحْتِكَارُ فِي أَقْوَاتِ الْآدَمِيِّينَ وَالْبَهَائِمِ، إِذَا كَانَ ذَلِكَ فِي بَلَدٍ يَضُرُّ الِاحْتِكَارُ بِأَهْلِهِ. وَمَنْ احْتَكَرَ غَلَّةَ ضَيْعَتِهِ، أَوْ مَا جَلَبَهُ مِنْ بَلَدٍ آخَرَ، فَلَيْسَ بِمُحْتَكِرٍ.

(١٧) وَلَا يَنْبَغِي لِلسُّلْطَانِ أَنْ يُسَعِّرَ عَلَى النَّاسِ.

(١٨) وَيُكْرَهُ بَيْعُ السِّلَاحِ فِي أَيَّامِ الْفِتْنَةِ، وَلَا بَأْسَ بِبَيْعِ الْعَصِيرِ مِمَّنْ يَعْلَمُ أَنَّهُ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا.

## ژباړه:

### د منعه شويو او مباحو شيانو بيان

(۱) سړو ته د وريښمو اغوستل حلال نه دي او ښځو ته حلال دي، تکيه ورته وهل د امام

ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد پاك نلري، او صاحبینو ویلي دي چې تکیه وهل ورته مکروه دي، او د دوی دواړو په نزد په جنگ کې د وریښمو او د وریښمو د جامو اغوستل باك نلري او د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد مکروه دي او د مُلحَمِي اغوستل چې تار (جارکړونی) یې وریښم او پوښ(اُوبدُونی) یې مالوچ (پنبه ) یا (دڅاروي) وړی وي باك نلري.

(۲) سړو ته روا نه دي چې په سرو او سپینو زرو سینګار وکړي، مګر د سپینو زرو ګوتې، کمر بند او توري ته د سپینو زرو پوښ باك نه لري. او ښځو ته روا دي چې په سرو زرو او سپینو زرو سینګار وکړي. او د کوچني لپاره مکروه دي چې سره زر او وریښم واغوندي.

(۳) د سرو زرو او سپینو زرو په لوښي کې خوراك، څښاك کول، تیل اچول او خوشبو(ورڅخه استعمالول، سړو او ښځو دواړو ته روا نه دی.

(٤) د شیشې، قلعي، بلورو(یو ډول شیشه ده) او عقیقو لوښي استعمال باك نلري.

(٥) د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد په سپینو زرو پوښول شوي لوښي کې څښاك کول، په سپینو زرو پوښول شوي زین سپریدل، او په سپینو زرو پوښول شوي زین او کټ باندې کیناستل روا دي. او د قرآن په هر لسم ایت نښه او نقطې لګول مکروه دي.

(٦) د سپینو زرو په اوبو د مصحف(قرآن کریم) ښایسته کول، د مسجد نقش کول او ښایسته کول باك نه لري.

(۷) له خصي کسانو څخه کار اخیستل مکروه دي او د څارویو خصي کول او په اسپو د نرانو خرو اچول باك نه لري، په هدیه او اذن کې د غلام (مریې) او کوچني خبره قبلول روا دي.

(۸) په معاملاتو کې د فاسق خبره قبلیږي او په دیاناتو کې نه قبلیږی مګر د عادل شخص خبره.

(۹) او روا نه ده چې سړی پردۍ ښځې ته وګوري، مګر یوازې مخ او دواړه ورغوو ته، خو که د شهوت له لوري په امن کې نه و، بیا به یې مخ ته نه ګوري، مګر د ضرورت په وخت کې. او قاضي ته روا ده(چې ورته وګوري) که په هغې د حکم اراده وکړي، او شاهد ته کله چې په

هغې د شاهدۍ ورکولو اراده وکړي چې د هغې مخ ته وګوري، اګر که د شهوت له پلوه ويره ولري.

(١٠) طبيب (ډاکتر) ته روا دي چې د ښځې د مرض ځای ته وګوري.

(١١) سړی د سړي ټول بدن ته کتلی شي مګر له نامه څخه تر زنګنونو پورې ورته نشي کتلی.

او ښځې ته روا دي چې د سړي هغه ځای ته وګوري چې سړي ورته ګوري.

(١٢) او ښځه د ښځې هغه ځای ته کتلی شي چې يو سړی ته روا وي چې د بل سړي هغه ځای وګوري. او کتلی شي سړی خپلې هغې وينځې ته چې ده ته حلاله وي او د خپلې ښځې فرج ته (هم کتلی شي).

(١٣) او سړی د خپلو محارمو مخ ته، سر ته، سينې ته، دواړه پنډيو ته او دواړو مړوندونو ته کتلی شي او د هغوی شا، خيټې او ورنونو ته به نه ګوري، او باک نه لري چې هغه ځايونه يې مسه کړي چې د هغو کتل ورته روا دي.

(١٤) خصي سړی پردۍ ښځې ته په کتلو کې د سالم سړی په شان دی.

(١٥) او له خپلې ښځې څخه عزل کول د هغې له اجازې پرته جواز نه لري.

(١٦) (د ګرانۍ لپاره) د بني ادمو او څاروو د خوراک مواد بند ساتل مکروه دي په داسې ښارونو کې چې په هغو کې خلکو ته ضرر رسيږي. او چاچې د خپلې ځمکې غله له بل ښار څخه راوړه او وې وساتله نو دی محتکر نه دی.

(١٧) او پاچا ته په کار نه دي چې خلکو ته نرخ وټاکي.

(١٨) او د فتنې په ورځو کې د وسلې خرڅول مکروه دي، او په هغه چا د انګورو د شيرې خرڅول باک نه لري چې دی پوهيږي چې هغه ورڅخه شراب جوړوي.

## شرحه

**د وريښمو اغوستل**: د سړو لپاره د وريښمو اغوستل که د هر ډول يا رنګ وي روا نه بلکې

حرام دي که هغه د بدن سره پيوست وي او که جلا، خو د ښځو لپاره يې اغوستل روا دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: وريښم او سره زر زما د امت ښځو ته روا دي او نارينه وو لپاره حرام دي.[1] د سړو لپاره د صاحبينو په نزد د وريښمو د جامو اغوستل يوازې د جنګ په وخت کې روا دي خو امام صاحب يې مکروه بولي.

**د مُلحَمِې اغوستل**: د هغې جامې اغوستل چې تار (جارکړونی) يې وريښم او پوښ (اُوېدُونی) يې مالوچ (پنبه ) يا (د ځاروي) وړی وي باك نلري.

له وريښمو څخه بالښت جوړول او هغې ته تکيه کول او فرش يې غوړول د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد جواز لري، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې کيناستلی دی، خو د صاحبينو په نزد حرام دي، ځکه دا د جبابره وو کار دی، نو مشابهت ورسره حرام دی.

**وريښم**: هغه تارونه دي چې د وريښمو چينجي يې له خپلې خولې څخه راباسي او بيا ورڅخه جامې جوړيږي.

**د سرو او سپينو زرو استعمالول**: د ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو کارول او وربانديې سينګار کول روا دي، خو د سړو لپاره په هيڅ حال کې روا نه دي.

د سړو لپاره يوازې د سپينو زرو يوه ګوته، کمر بند او د هغې توري استعمالول روا دي چې په سپينو زرو ښايسته شوې وي.

**د سرو او سپينو زرو لوښي**: سړو او ښځو دواړو ته د سرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک، څښاك، تيل او خوشبو(ورڅخه) استعمالول روا نه دي، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه منع کړيده.

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په نزد په سپينو زرو مزين او منقش شويو لوښو کې څښاك کول، همدا شان په همدا ډول زين او کټ باندې کيناستل روا دي.

**د قران کريم او مسجد ښايسته کول**: د تعظيم او تشريف لپاره د سپينو زرو په اوبو د مُصحَف(قران کريم) او د مسجد نقش کول او ښايسته کول باك نه لري څه حرج پکې نشته،

[1]. سنن النسائي - بآحكام الالباني - (٨ / ١٦١) مسند آحمد بن حنبل - (٤ / ٣٩٢).

خو نه کول يې غوره دي.

د قران کريم د هر لسم آيت په نښه کول او ورباندې ټکي ايښودل مکروه دي، ځکه هر هغه شی چې له قرآن کريم څخه نه وي د هغې کارول روا نه دي، خو متاخرينو فقهاؤ د عجمو لپاره دا کار ښه بللی دی.[1]

**د فاسق شاهدي**: په معاملاتو کې د فاسق خبره قبليږي که نر وي او که ښځه ليکن په دياناتو کې عدالت ضروري دی. معاملات لکه اخيستل خرڅول، وکالت، مضاربت، تجارت او ديانات لکه عبادات، حلالوالی او حراموالی او داسې نور.

**پردۍ ښځې ته کتل**: د پردۍ (غير محرمې) ښځې ټول بدن عورت (ستر) دی سړی ته روا نه ده چې پردۍ ښځې ته وګوري، يوازې مخ او دواړو ورغوو ته يې کتل روا دي خو که د شهوت له لوري په امن کې نه ؤ، بيا به يې مخ ته هم نه ګوري، مګر د اړتيا په وخت کې.

قاضي او شاهد ته روا دي چې د حکم او شاهدۍ په وخت کې د هغې مخ ته وګوري، اګر که د شهوت له پلوه ويره هم لري. طبيب (ډاکتر) ته روا دي چې د ښځې د مرض ځای ته وګوري.

**محرمو ښځو ته کتل**: د خپلو ذی رحم(محرمو) ښځو مخ، سر، سينې، پنډۍ او مټو ته کتل روا دي، شاګيډې او ورنونو ته يې کتل روا نه دي، او محرمه ښځه هغه ده چې نکاح کول د تل لپاره ورسره حرام وي، که هغه د نسب په وجه وي او که په رضاعت سره يا په مصاهرت سره، مصاهرت د نکاح په وجه سره وي که د زنا په وجه سره.

**خپلې ښځې او وينځې ته کتل**: خپلې هغې وينځې ته کتل چې ده ته حلاله وي او همدا شان د خپلې ښځې فرج ته کتل روا دي.

**سړي ته د سړي کتل**: د يو سړي ټول بدن ته د بل سړي کتل روا دي، مګر له نامه څخه تر زنګنونو پورې ورته روا نه دي، دا حصه په ستر کې داخله ده. او ښځې ته روا دي چې د سړي هغه ځای ته وګوري چې بل سړي ته د هغه ځای کتل روا وي.

**د ښځې کتل ښځې ته**: ښځه د ښځې هغه ځای ته کتلی شي چې يو سړي ته د بل سړي هغه

۱. الجوهرة النيرة - (٦ / ١٥٩).

ځای ته کتل روا دي.

**عزل:**[1] له خپلې ویښځې څخه عزل کول د هغې له اجازې پرته جواز لري خو له خپلې ښځې څخه د هغې له اجازې پرته جواز نه لري.

**احتکار:** د انسانانو خوراکي توکي لکه غنم، اوربشې، وریژې او داسې نور او د څاروو خوراک، لکه بوس وچه یا شنه ګیاه او نور د ګرانیدلو په انتظار بند ساتل او نه خرڅول د امام صاحب په نزد مکروه تحریمي دي، خو دا هغه مهال چې د ښار د خلکو په دې کې تاوان وي. احتکار په ځلوېښتو یا له هغو څخه په زیاتو ورځو ساتلو کې دی.

**د نرخ مقررول:** د چارواکي لپاره د نرخ مقررول پکار نه دي، ځکه چې په حدیث شریف کې ورڅخه منعه شوې ده، خو که غله خرڅوونکي په قیمتونو کې له حد څخه زیاته ګراني شروع کړي، نو بیا چارواکی د اهل رایو په مشوره نرخ مقررولی شي.

**د وسلې خرڅول:** د فتنې په ورځو کې د داسې سړي په لاس وسله خرڅول مکروه دي چې هغه د اهل فتنه وو څخه وي، لکه خوارج، باغی او نور، ځکه دا پخپل لاس د خپلو پښو وهل دي.

د انګورو د شیرې حکم د غیر مسلمو په اړه دی، اوس چې نا مسلمان له هغې څخه شراب جوړوي دا د هغوی عمل دی او د شیرې عین حرام نه دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې پخپلو منځونو کې پردیو ښځو، محرمو ښځو او خپلو ښځو ته د کتلو احکام بیان کړي.

۱. د عزل معنا دا ده چې سړی له خپلې ښځې سره کور والی کوي او د انزال په وخت کې خپل د شرم اندام د هغې د شرم له ځای څخه را وباسي او د فرج دباندې انزال وکړي.

## ارزونه

۱. د وریښمو د اغوستلو حکم څه دی؟

۲. د سرو او سپینو زرو استعمالول څه حکم لري؟

۳. د سرو او سپینو زرو لوښي کارول څه حکم لري؟

٤. د فاسق شاهدي په کومو چارو کې قبلیږي؟

٥. پردۍ ښځې ته کتل څه حکم لري؟

٦. محرمو ښځو ته کتل څه حکم لري؟

۷. خپلې ښځې او وینځې ته د کتلو حکم بیان کړئ.

۸. سړي ته د سړي د کتلو حکم بیان کړئ.

۹. ښځې ته د ښځې د کتلو حکم بیان کړئ.

۱۰. احتکار تعریف کړئ او حکم یې څه دی؟

۱۱. ایا نرخ مقررول روا دي؟

۱۲. څه وخت د وسلې خرڅول په کار نه دي؟

## کورنۍ دنده

د وریښمو د احکامو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

# د وصیت حکمونه (۱)

ددې لپاره چې انسان له مړینې وروسته هم ځان او هم خلکو ته ګټه ورسوي او اجر لاس ته راوړي، اسلامي شریعت، وصیت رواګرځولی، د هغې لپاره یې اندازه او اشخاص ټاکلي دي په نني لوست کې د وصیت اندازه اشخاص او ځینې حکمونه لولو:

(۱) الْوَصِيَّةُ غَيْرُ وَاجِبَةٍ وَهِيَ مُسْتَحَبَّةٌ.

(۲) وَلَا تَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِلْوَارِثِ إِلَّا أَنْ يُجِيزَهَا الْوَرَثَةُ، وَلَا تَجُوزُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ إِلَّا أَنْ يُجِيزَهُ الْوَرَثَةُ، وَلَا تَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِقَاتِلٍ.

(۳) وَيَجُوزُ أَنْ يُوصِيَ الْمُسْلِمُ لِلْكَافِرِ وَالْكَافِرُ لِلْمُسْلِمِ.

(٤) وَقَبُولُ الْوَصِيَّةِ بَعْدَ الْمَوْتِ فَإِنْ قَبِلَهَا الْمُوصَى لَهُ فِي حَالِ الْحَيَاةِ أَوْ رَدَّهَا فَذَلِكَ بَاطِلٌ.

(٥) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُوصِيَ الْإِنْسَانُ بِدُونِ الثُّلُثِ.

(٦) وَإِذَا أَوْصَى إِلَى رَجُلٍ فَقَبِلَ الْوَصِيَّةَ فِي وَجْهِ الْمُوصِي وَرَدَّهَا فِي غَيْرِ وَجْهِهِ فَلَيْسَ بِرَدٍّ وَإِنْ رَدَّهَا فِي وَجْهِهِ فَهُوَ رَدٌّ وَتَبْطُلُ الْوَصِيَّةُ.

(۷) وَالْمُوصَى بِهِ يُمْلَكُ بِالْقَبُولِ إِلَّا فِي مسألةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ أَنْ يَمُوتَ الْمُوصِي ثُمَّ يَمُوتُ الْمُوصَى لَهُ قَبْلَ الْقَبُولِ فَيَدْخُلُ الْمُوصَى بِهِ فِي مِلْكِ وَرَثَةِ الْمُوصَى لَهُ.

(۸) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى كَافِرٍ أَوْ فَاسِقٍ أَخْرَجَهُمْ الْقَاضِي مِنْ الْوَصِيَّةِ وَنَصَبَ غَيْرَهُمْ.

(۹) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى مَنْ يَعْجِزُ عَنْ الْقِيَامِ بِالْوَصِيَّةِ ضَمَّ إِلَيْهِ الْقَاضِي غَيْرَهُ.

(۱۰) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى اثْنَيْنِ، لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دُونَ صَاحِبِهِ إِلَّا فِي شِرَاءِ الْكَفَنِ لِلْمَيِّتِ وَتَجْهِيزِهِ وَطَعَامِ الصِّغَارِ وَكِسْوَتِهِمْ وَرَدِّ وَدِيعَةٍ

بِعَيْنِهَا وَقَضَاءِ دَيْنٍ عَلَيْهِ وَتَنْفِيذِ وَصِيَّةٍ بِعَيْنِهَا وَالْخُصُومَةِ فِي حَقِّ الْمَيِّتِ.

(١١) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ مَالِهِ وَلِآخَرَ بِثُلُثِ مَالِهِ، وَلَمْ تُجِزْ الْوَرَثَةُ، فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ، فَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِالثُّلُثِ وَلِلْآخَرِ بِالسُّدُسِ، وَلَمْ تُجِزْ الْوَرَثَةُ، فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا، فَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلِلْآخَرِ بِثُلُثِ مَالِهِ، فَلَمْ تُجِزْ الْوَرَثَةُ، فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَسْهُمٍ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ، وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: الثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

(١٢) وَلَا يَضْرِبُ أَبُو حَنِيفَةَ لِلْمُوصَى لَهُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ إِلَّا فِي الْمُحَابَاةِ وَالدَّرَاهِمِ الْمُرْسَلَةِ.

(١٣) وَمَنْ أَوْصَى وَعَلَيْهِ دَيْنٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ، لَمْ تَجُزْ الْوَصِيَّةُ إِلَّا أَنْ يُبْرِئَهُ الْغُرَمَاءُ مِنَ الدَّيْنِ.

(١٤) وَمَنْ أَوْصَى بِنَصِيبِ ابْنِهِ فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ وَإِنْ أَوْصَى بِمِثْلِ نَصِيبِ ابْنِهِ جَازَ فَإِنْ كَانَ لَهُ ابْنَانِ فَلِلْمُوصَى لَهُ الثُّلُثُ.

(١٥) وَمَنْ بَاعَ وَحَابَى أَوْ وَهَبَ، فَذَلِكَ كُلُّهُ جَائِزٌ، وَهُوَ مُعْتَبَرٌ مِنَ الثُّلُثِ، وَيُضْرَبُ بِهِ مَعَ أَصْحَابِ الْوَصَايَا.

(١٦) وَمَنْ أَوْصَى بِسَهْمٍ مِنْ مَالِهِ فَلَهُ أَخَسُّ سِهَامِ الْوَرَثَةِ إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ عَنِ السُّدُسِ فَيَتِمُّ لَهُ السُّدُسُ، وَإِنْ أَوْصَى بِجُزْءٍ مِنْ مَالِهِ قِيلَ لِلْوَرَثَةِ أَعْطُوهُ مَا شِئْتُمْ.

## ژباړه

(١) وصیت کول واجب نه دي، مستحب دي.

(٢) وارث ته وصیت کول روا نه دي مګر که نور وارثان اجازه ورکړي، له دریمې څخه د زیاتې (برخې) وصیت هم روا نه دی مګر که وارثان اجازه ورکړي. قاتل ته وصیت روا نه دی.

(٣) روا دی چې مسلمان کافر ته وصیت وکړي او کافر يې مسلمان ته وکړي.

(٤) د وصیت قبلول له مرګه وروسته (معتبر) دي، که موصی له وصیت په ژوندکې قبول یا ردکړ باطل دی.

(٥) مستحب دی چې انسان له دریمې (برخې) څخه لږ وصیت وکړي.

(٦) که چا یو سړی ته وصیت وکړ او هغه د (وصیت کوونکي) په وړاندې قبول کړ، وصیت خو د هغه په غیاب کې یې ردکړ، دا ردول (معتبر) نه دي، که یې د هغه په مخ کې ردکړ (رد یې) معتبر دی او وصیت باطلیږي.

(٧) وصیت شوی مال په قبلولو سره په ملکیت کې داخلیږي، مګر په یوې مسئلې کې نه، هغه دا ده چې وصیت کوونکی مړ شي، بیا موصی له د وصیت له قبلولو وړاندې مړ شي، نو وصیت شوی مال د موصی له د وارثانو په ملکیت کې (له قبلولو پرته) داخلیږي.

(٨) که چا کافر یا فاسق ته وصیت وکړ، قاضي به یې له وصیت څخه وباسي او نور به (یې په ځای) وټاکي.

(٩) که چا داسې شخص وصي ونیو چې د وصیت له تطبیقولو عاجز و، قاضي به بل څوك ورسره مل کړي.

(١٠) که چا دوو کسانو ته وصیت وکړ، د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر یوه ته روا نه ده چې د بل پرته یکې تصرف وکړي، مګر مړي ته د کفن په اخیستلو، (جنازې) چمتوکولو، دکوچنیانو په خوړو او جامو، د معینې ودیعې په سپارلو، د پور په اداکولو، د معین وصیت د نافذولو او د مړي له خوا د خصومت کولو (په حال کې تصرف کولای شي).

(١١) که چا یو تن ته د خپل مال د دریمې برخې وصیت وکړ او بل ته یې هم د دریمې برخې وصیت وکړ خو وارثانو اجازه ورنکړه نو دریمه برخه به د دواړو تر منځ نیمایي وي، که یوه ته یې په دریمه او بل ته یې په شپږمه (وصیت وکړ) او وارثانو اجازه ورنکړه نو دریمه به د دوی ترمنځه درې برخې شي، که یوه ته یې د ټول مال وصیت وکړ او بل ته یې په دریمه وصیت وکړ او وارثانو اجازه ورنکړه نو د امام ابویوسف او امام محمد په نظربه دریمه د دوی ترمنځ څلور

برخې شي، امام ابوحنيفه ويلي: دريمه به د دوی تر منځ نيمايي وي.

(۱۲) امام ابوحنيفه موصي له ته له دريمې زياته برخه نه ورکوي مگر په (محابات) او (مرسلو دراهمو) کې.

(۱۳) که چا وصيت وکړ خو دومره پور ورباندې و چې ټول مال يې پکې تلو، وصيت يې روا نه دی مگر دا چې پورورکوونکي ورته پور وبښي.

(۱٤) که چا د زوی برخه وصيت کړه، وصيت باطل دی، که د زوی د برخې په اندازه يې وصيت وکړ (وصيت يې) روا دی. که زامن يې دوه وو موصی له ته دريمه ده.

(۱٥) چا چې کوم شی وپلوره او بيا يې محابات وکړ، يا يې هبه کړ، روا ده، او له دريمې برخې څخه اعتبار لري، او د وصيتونو له څښتنانو سره به يې ضربوي.

(۱٦) که چا د خپل مال څخه د يو سهم وصيت وکړ، (موصی له) ته د وارثانو تر ټولو کم سهم دی مگر که (برخه يې) له شپږمې څخه کمه شي، نو شپږمه به پوره ورکوي، که د خپل مال د يو جز وصيت يې وکړ، وارثانو و ته به وويل شي: څومره مو چې خوښه وي ورېې کړئ.

## شرحه

**د وصيت تعريف**: په وړيا ډول د اعيانو يا منافعو هغه تمليک ته وايي چې له مرگه وروسته عملي کيږي. د وصيت اطلاق په هغه مال هم کيږي چې له مرگه وروسته موصی له ته ورکول کيږي.

**موصي**: هغه څوک چې بل چا ته د خپل مال وصيت کوي.

**موصی له**: هغه څوک چې د مال اخيستلو وصيت ورته شوی وي.

**موصی به**: هغه مال چې د ورکولو وصيت يې شوی وي.

**وصي**: هغه شخص چې موصی له ته د مال سپارل يا د وصيت نافذول په غاړه لري.

**د وصيت مشروعيت**: وصيت کول روا دي. الله پاک د النساء په سورت کې د وارثانو د برخو

له بیانولو وروسته فرمایلي چې دا برخې به د وصیت او پور له اداکولو وروسته ورکول کیږي:

(مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ) (النساء: ۱۲) ژباړه: وروسته له هغه وصیت څخه چې وارث ته یي کړای وي او د هغه پور له ادا څخه چې ورباندې وي.

پورتنی مبارك أیت په دې دلالت کوي چې وصیت کول روا او وارثانو ته د هغوی د برخو سپارلو وړاندې به اداکیږي.

وصیت کول د صدقې ورکولو په څیر دي، صدقه ورکول مستحب دي نو وصیت کول هم مستحب دي، البته د فرضي خیراتونو وصیت کول فرض دي.

**د وصیت شرطونه**: وصیت دوه شرطونه لري:

۱- وصیت به وارث ته نه وي ځکه رسول الله  په حدیث کې چې روایت یې ابن ماجه کړی فرمایلي: لا وصية لوارث. وارث ته وصیت کول نشته.

۲- د وصیت اندازه به د میراث له درېمې برخې څخه نه زیاتیږي. د بخاري د روایت له مخې کله چې سعد بن ابي وقاص د ټول مال او نیم مال د وصیت کولو هوډ وکړ، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته د ټول مال یا نیم مال د وصیت کولو اجازه ورنکړه او ورته یې وویل: الثلث و الثلث کثیر درېمه برخه! درېمه برخه زیاته ده.

وارثانو ته او له درېمې برخې څخه زیات وصیت هغه مهال روا دی چې د مړي وارثان اجازه وکړي.

پر دوی سربېره خپل قاتل ته هم وصیت کول روا نه دي که څه هم په خطا سره یې مورث وژلی وي. په سنن البیهقي کې راغلي چې پیغمبر (علیه السلام) فرمایلي: لیس لقاتل وصية. قاتل ته وصیت کول روا نه دي.

**ذمي ته وصیت**: مسلمان کولای شي چې ذمي کافر ته وصیت وکړي، همدارنګ ذمي هم مسلمان ته وصیت کولای شي. څرنګه چې د ذمي په عقد سره کافران د مسلمانانو سره په معاملاتو کې یو شان ګرځي او وصیت هم یوه معامله ده نو د نورو معاملاتو په څیر وصیت هم

د دواړو تر منځ روا دی. همدا راز وصيت صدقه ده او ذمي ته د صدقې ورکول روا دي.

**د وصيت د قبلولو وخت**: وصيت يو عقد دی، له دې امله د موصي او موصی له رضايت او قبلول پکې شرط دي. د موصی له قبلول هغه وخت معتبر دي چې موصي مړ شي او ملکيت ورڅخه زائل شي. د موصي له مړينې وړاندې د موصی له قبلول صحيح نه دي، ځکه مال لا د موصي له ملکيت څخه نه دی وتلی. که موصی له د موصي له مړينې وړاندې وصيت قبول کړي په دې دليل صحيح نه دی چې مال د موصي په ملکيت کې داخل دی او د قبول وخت نه دی راغلی.

وصي کولای شي چې د وصيت د نافذولو او تطبيقولو له دندې اخيستلو څخه د موصي په مخ کې انکار وکړي، ځکه د وصي دنده قبلول يو تبرعي کار دی او موصي وربانديې څوک مجبورولای نشي. خو که وصي يو ځل د موصي په مخ کې دنده قبوله کړه بيا د هغه په غياب کې نشي کولای چې له هغې انکار وکړي، ځکه په دې سره موصي ته زيان رسيږي.

موصی به د موصی له په ملکيت کې هغه مهال داخليږي چې موصی له وصيت قبول کړي. لکه چې وړاندې مو وويل په وصيت کې د ملکيت ثابتېدو لپاره د وصيت قبلول شرط دی او د ميراث په څېر نه دی چې د وارث له قبول پرته د هغه په ملکيت کې داخليږي. البته يو صورت شته چې د موصی له له قبول پرته وصيت د هغه په ملکيت کې داخليږي.

د بيلګې په ډول احمد وصيت وکړي چې زما له مرګ وروسته به زما کور د زاهد ملکيت وي. زاهد مخکې له دې چې د احمد وصيت قبول يا رد کړي، احمد مړ شي له هغې وروسته زاهد هم مړ شي. په دې صورت کې د احمد کور د زاهد له قبلولو پرته د هغه د وارثانو په ملکيت کې داخليږي.

**د کافر او فاسق وصي نيول**: که څوک کافر يا فاسق د خپل وصيت د نافذولو لپاره وصي ونيسي قاضي ته پکار دي چې نوموړي کسان له وصيته ليرې کړي او په ځای يې مناسب کسان وګماري، ځکه د کافر ديني دښمني او د فاسق التزام نه کول د دې سبب کېدای شي چې په

وصيت تطبيقولو کې خيانت وکړي.

که څوک د وصيت نافذولو لپاره داسې شخص وصي ونيسي چې د وصيت د تطبيقولو توان نه لري، قاضي به بل څوک ورسره مل کوي چې په سمه توګه وصيت تطبيق کړي څو د موصى له او وارثانو حق ضائع نشي.

**دوه تنه وصيان نيول**: که څوک دوه تنه د وصيانو په توګه ونيسي نو د بل په غياب کې د موصي په مال کې تصرف نشي کولای. البته ځينې حالات داسې دي چې د بيړنيو اجراءاتو غوښتنه کوي، په دې حالاتو کې يو وصي د بل له موجوديت پرته هم د موصي په مال کې تصرف کولای شي. د قدوري مولف ځينې ځايونه داسې ښودلي:

مړي ته کفن اخيستل، د مړي خښول، د مړي کوچنيانو ته خواړه او جامې ورکول. څرنګه چې دا کارونه تر ټولو ضروري دي، نو يو وصي هم کولای شي چې له بل پرته يې ترسره کړي.

د عيني وديعې، عيني وصيت او د پور اداکول. د بېلګې په ډول زلمي وصيت وکړي چې زما سور کرولا موټر د توريالي وديعت دی، يا زما ډل لپ ټاپ زما له مرګه وروسته د هارون ملکيت دی. دا داسې صورتونه دي چې که ښتن يې د مړي له مال څخه په خپل سر هم واخلي د ده حق شمېرل کيږي، ځکه يو وصي هم کولای شي چې له بل پرته يې وسپاري.

د مړي له خوا له چا سره د دعواکولو په صورت کې هم يو وصي له بل پرته دعواکولای شي، ځکه د وکالت په څېر په وصيت کې هم د خصومت لپاره يو تن کفايت کوي او دوو تنو ته اړتيا نه پېښيږي.

**له ثلث څخه په زيات وصيت**: که مړي دوو تنو ته په مال وصيت کړی وي او د دواړو وصيتونه مجموعه له ثلث څخه زياته شي، دا حالت ګڼ صورتونه لري چې په متن کې داسې راغلي:

مړي دوو تنو ته په جلا جلا توګه د ثلث (دريمې) برخې وصيت کړی وي. په دې صورت کې د ټول وصيت جمع دوه ثلثان (دوه دريمې) دي او له دريمې څخه زيات وصيت شرعاً د تطبيق

وړ نه دی او وارثان هم اجازه نه کړي، نو دریمه به د دوارو تر منځ نیمه شي، ځکه دواړو ته په یو ډول وصیت شوی او په استحقاق کې سره برابر دي.

مړي یوه ته په شپږمې او بل ته په دریمې وصیت کړي وي. او وارثان اجازه و نه کړي دلته هم وصیت له دریمې برخې زیات شوی. له دریمې څخه په زیات کې د تطبیق وړ نه دی، نو هر یو به د خپل سهم مطابق له دریمې برخې څخه خپل حق واخلي او هغه داسې چې ثلث به په دري برخو وویشي، د سدس (شپږمې) برخې خښتن به یوه او د ثلث (دریمې) خښتن به دوه برخې واخلي ځکه ثلث د سدس دوه چنده دی.

که مړی د یو تن لپاره په ټول مال وصیت وکړي او بل ته په دریمې برخې وصیت وکړي. یاران رحمهما الله وایي چې په حقیقي ډول د وصیت تطبیقول ممکن نه دي ځکه وصیت له اصل مال څخه زیات دی نو لار دا ده چې هر څوك د خپل وصیت په تناسب برخه واخلي، یعنې که د ټول مال د خښتن برخه دري ثلثه وګڼو او د یو ثلث د خښتن برخه یو ثلث وګڼو نو ټول څلور کیږي. په څلورو کې د برخو په تناسب دري د ټول مال د خښتن کیږي او یو د یوه ثلث د خښتن کیږي.

امام ابوحنیفه رحمه الله وایي: چا ته چې په ټول مال وصیت شوی له دریمې څخه زیات یې په نامشروعه توګه شوی او باطل دی نو یوازې دریمه برخه مشروعه پاتې شوه. دویم تن ته هم د دریمې وصیت شوی نو د دواړو حق برابر شو، ځکه نو ثلث د دواړو تر منځ مساویانه ویشل کیږي.

د امام ابوحنیفه په نظر که څوك له دریمې زیات وصیت وکړي او د ورثه و اجازه نه وي، په هیڅ صورت له دریمې زیاته برخه نشي اخیستلای مګر په ځینو صورتونو کې کولای شي چې له ثلث څخه زیاته برخه واخلي. یو له هغو څخه محابات دی.

**د محاباتو صورت**: محابات دې ته ویل کیږي چې څوك وصیت وکړي چې زما فلانی مال زما له مرګه وروسته فلاني شخص ته له خپل قیمت څخه په دومره ارزانه بیعه ورکړئ.

که احمد وصیت وکړي چې زما له مرګ وروسته زما د پنځلسو زرو افغانیو ارزښت لرونکی کمپیوټر په ابراهیم باندې په پنځه زره افغانۍ وپلورئ او احمد له کمپیوټر پرته نور مال هم و نه لري. په دې صورت کې په حقیقت کې احمد ابراهیم ته د خپل مال په دوو ثلثو وصیت کړی، یعنې د یوه ثلث یې ورڅخه قیمت اخیستی او دوه ثلثه یې -چې لس زره افغانۍ دي- وړیا ورکړي. دلته وصیت له ثلث څخه زیات شوی خو امام ابوحنیفه رحمه الله دا زیاتوالی روا بولي که څه هم ورثه یې اجازه ونکړي.

**په میراث کې د وصیت مرتبه**: د مړي په میراث کې د پور اداکول پر وصیت وړاندې دي، په همدې بنسټ که په مړي باندې د هغه د شتمنۍ په اندازه پور وي او وصیت یې هم کړی وي، وصیت یې نه نافذیږي مګر دا چې پوروړکوونکي له خپل پور څخه تېر شي او مال پاتې شي نو وصیت ورڅخه ورکول کیږي.

**د بل چا په مال وصیت کول**: که پلار داسې وصیت وکړي چې زما له مړینې وروسته زما د فلاني زوی برخه یوسف ته ورکړئ، دا وصیت باطل دی، ځکه له مړینې وروسته مال د بل چا حق ګرځي او د بل چا په مال وصیت کول صحیح نه دي. که ووایې: یوسف ته زما د فلاني زوی د برخې په اندازه برخه ورکړئ. په دې صورت کې یې وصیت د ثلث تر کچې نافذیږي، که د نومړي زوی برخه له ثلث څخه زیاته وه، یوسف ته یوازې د ثلث په اندازه مال ورکول کیږي او بس.

که څوک د موت په مرض کې محابات وکړي، یا چا ته هدیه ورکړي، له ثلث څخه شمېرل کیږي، که یې نورو خلکو ته هم وصیت کړی و، ټول به له ثلث څخه نه زیاتیږي.

که چا وصیت وکړ چې فلاني ته زما له میراث څخه یو سهم ورکړئ. په ورثه وکې چې د چا کمه برخه وه د همغې په اندازه به ورته ورکول کیږي، خو که د نومړي برخه له شپږمې هم کمه وي موصی له ته به شپږمه ورکول کیږي.

که چا وصیت وکړ چې فلاني ته زما له میراث څخه یوه برخه ورکړئ. په دې صورت کې به

ورثه پخپله خوښه هغه ته يو څه ورکوي. که څه هم په وصيت کې اندازه معلومه نه ده خو د اندازې جهالت د وصيت مانع نه ګرځي.

## فعاليت

زده کوونکي دې په دې هکله وغږېږي چې ولې اسلامي شريعت د وصيت زياته اندازه د ټول مال ثلث ټاکلی دی؟

## ارزونه

۱. وصيت تعريف او د مشروعيت دليل يې ووواياست.

۲. د وصيت شرطونه بيان کړئ.

۳. د وصيت د قبلولو وخت وښيئ.

٤. که مړي يو تن ته د شپږمې او بل ته دريمې وصيت کړی وي، وصيت څه ډول نافذيږي؟

٥. کافر او فاسق د وصي په توګه مقررول څه حکم لري؟

# د وصیت حکمونه (۲)

ګرانو زده کوونکو! په تېر لوست کې مو د وصیت یو لړ حکمونه ولوستل. دا لوست هم په همدې موضوع پورې اړه لري.

(۱) وَمَنْ أَوْصَى بِوَصَايَا مِنْ حُقُوقِ اللَّهِ تَعَالَى قُدِّمَتْ الْفَرَائِضُ مِنْهَا سَوَاءٌ قَدَّمَهَا الْمُوصِي أَوْ أَخَّرَهَا مِثْلُ الْحَجِّ وَالزَّكَاةِ وَالْكَفَّارَاتِ وَمَا لَيْسَ بِوَاجِبٍ قُدِّمَ مِنْهُ مَا قَدَّمَهُ الْمُوصِي.

(۲) وَمَنْ أَوْصَى بِحَجَّةِ الْإِسْلَامِ أَحَجُّوا عَنْهُ رَجُلًا مِنْ بَلَدِهِ يَحُجُّ رَاكِبًا، فَإِنْ لَمْ تَبْلُغْ الْوَصِيَّةُ النَّفَقَةَ، أَحَجُّوا عَنْهُ مِنْ حَيْثُ تَبْلُغُ. وَمَنْ خَرَجَ مِنْ بَلَدِهِ حَاجًّا، فَمَاتَ فِي الطَّرِيقِ، وَأَوْصَى أَنْ يُحَجَّ عَنْهُ حُجَّ عَنْهُ مِنْ بَلَدِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ حَيْثُ مَاتَ.

(۳) وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الصَّبِيِّ.

(٤) وَيَجُوزُ لِلْمُوصِي الرُّجُوعُ عَنْ الْوَصِيَّةِ، فَإِذَا صَرَّحَ بِالرُّجُوعِ أَوْ فَعَلَ مَا يَدُلُّ عَلَى الرُّجُوعِ كَانَ رُجُوعًا، وَمَنْ جَحَدَ الْوَصِيَّةَ لَمْ يَكُنْ رُجُوعًا.

(٥) وَمَنْ أَوْصَى لِجِيرَانِهِ فَهُمْ الْمُلَاصِقُونَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٦) وَمَنْ أَوْصَى لِأَصْهَارِهِ فَالْوَصِيَّةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْ امْرَأَتِهِ. وَإِنْ أَوْصَى لِأَخْتَانِهِ فَالْخَتَنُ زَوْجُ كُلِّ ذَاتِ رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْهُ.

(٧) وَمَنْ أَوْصَى لِأَقَارِبِهِ، فَالْوَصِيَّةُ لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ كُلِّ ذِي رَحِمٍ مُحَرَّمٍ مِنْهُ، وَلَا يَدْخُلُ فِيهِمْ الْوَالِدَانِ وَالْوَلَدُ، وَتَكُونُ لِلِاثْنَيْنِ فَصَاعِدًا. فَإِذَا أَوْصَى بِذَلِكَ، وَلَهُ عَمَّانِ وَخَالَانِ، فَالْوَصِيَّةُ لِعَمَّيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَإِنْ كَانَ لَهُ عَمٌّ وَخَالَانِ، فَلِلْعَمِّ النِّصْفُ، وَلِلْخَالَيْنِ النِّصْفُ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: الْوَصِيَّةُ لِكُلِّ مَنْ يُنْسَبُ إِلَى أَقْصَى أَبٍ لَهُ

فِي الْإِسْلَامِ.

(٨) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ دَرَاهِمِهِ أَوْ بِثُلُثِ غَنَمِهِ، فَهَلَكَ ثُلُثَا ذَلِكَ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ، وَهُوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهِ فَلَهُ جَمِيعُ مَا بَقِيَ.

(٩) وَمَنْ أَوْصَى بِثُلُثِ ثِيَابِهِ، فَهَلَكَ ثُلُثَاهَا، وَبَقِيَ ثُلُثُهَا، وَهوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهِ، لَمْ يَسْتَحِقَّ إِلَّا ثُلُثَ مَا بَقِيَ مِنَ الثِّيَابِ.

(١٠) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ، وَلَهُ مَالٌ عَيْنٌ وَدَيْنٌ، فَإِنْ خَرَجَتْ الْأَلْفُ مِنْ ثُلُثِ الْعَيْنِ دُفِعَتْ إِلَى الْمُوصَى لَهُ، وَإِنْ لَمْ تَخْرُجْ دُفِعَ إِلَيْهِ ثُلُثُ الْعَيْنِ، وَكُلَّمَا خَرَجَ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ، أَخَذَ ثُلُثَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْأَلْفَ.

(١١) وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِلْحَمْلِ وَبِالْحَمْلِ، إِذَا وُضِعَ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ الْوَصِيَّةِ.

(١٢) وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ بِسُكْنَى دَارِهِ سِنِينَ مَعْلُومَةً، وَيَجُوزُ بِذَلِكَ أَبَدًا.

(١٣) وَإِنْ مَاتَ الْمُوصَى لَهُ فِي حَيَاةِ الْمُوصِي، بَطَلَتْ الْوَصِيَّةُ.

(١٤) وَإِذَا أَوْصَى لِوَلَدِ فُلَانٍ، فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ، الذَّكَرُ وَالْأُنْثَى فِيهِ سَوَاءٌ. وَمَنْ أَوْصَى لِوَرَثَةِ فُلَانٍ، فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

(١٥) وَمَنْ أَوْصَى لِزَيْدٍ وَعَمْرٍو بِثُلُثِ مَالِهِ، فَإِذَا عَمْرٌو مَيِّتٌ فَالثُّلُثُ كُلُّهُ لِزَيْدٍ، فَإِنْ قَالَ: ثُلُثُ مَالِي بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو، وَزَيْدٌ مَيِّتٌ كَانَ لِعَمْرٍو نِصْفُ الثُّلُثِ.

(١٦) وَإِنْ أَوْصَى بِثُلُثِ مَالِهِ وَلَا مَالَ لَهُ ثُمَّ اكْتَسَبَ مَالًا اسْتَحَقَّ الْمُوصَى لَهُ ثُلُثَ مَا يَمْلِكُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ.

## ژباړه

(١) كه چا په حقوق الله وصيت وكړ فرائض به وړاندې كولاى شي كه وصيت كوونكي وړاندې كړي وي او كه وروسته كړي يې وي، لكه حج، زكات او كفارې. هغه كارونه چې واجب نه دي، (په دوى كې به) هغه كارونه لومړى كيږي چې وصيت كوونكي وړاندې كړي وي.

(۲) چا چې په فرض حج وصيت وکړ، (وصيت نافذوونکي) به د ده په ځای، د ده له کلي شخصه يو سړی سپور حج ته ليږي، که وصيت (مال) دومره نه و چې له کلي وربانديې حج وکړي، له هغه ځايه به حج وکړي چې مال ورته بس کيږي. څوک چې له خپل کلي څخه د حج په هوډ راووت، په لاره کې مړ شو او وصيت يې کړی و چې د ده په ځای دې څوک حج وکړي، د امام ابوحنيفه په نظر له ده څخه به د ده د کلي څخه حج اداکيږي. امام ابويوسف او امام محمد ويلي: له هغه ځايه به له ده څخه حج اداکيږي چيرې چې مړ شوی.

(۳) د کوچني وصيت صحيح نه دی.

(٤) وصيت کوونکي ته له خپل وصيت څخه ګرځېدل روا دي. که يې په څرګنده رجوع وکړه يا يې داسې کار وکړ چې په رجوع يې دلالت کاوه، رجوع شمېرل کيږي. که چا له وصيت انکار وکړ رجوع نه ده.

(٥) که چا ګاونډيانو ته وصيت وکړ، نو د امام ابوحنيفه په نظر ورڅخه مقصد نښتي ګاونډيان دي.

(٦) که چا اصهارو (خسرګنی) ته وصيت وکړ، وصيت د ښځې ټولو محارمو ته شامليږي، که يې زومانو ته وصيت وکړ، د ده د ټولو محرمو ښځو مړونو ته شامليږي.

(۷) که چا خپلوانو ته وصيت وکړ نو ټولو محارمو ته درجه په درجه شامليږي، مورپلار او زوی نه پکې شامليږي او دوو تنو يا زياتو ته ورکول کيږي، که يې همداسې وصيت وکړ او دوه ترونه او دوه ماماګان يې درلودل نو د امام ابوحنيفه په نظر يې وصيت د ترونو دی، که يې يو تره او دوه ماماګان درلودل، نو نيمه د تره او نيمه د ماماګانو کيږي. امام ابويوسف او امام محمد ويلي: وصيت ټول د هغه چا حق دی چې په اسلام کې د ده سره په نږدې پلار کې شريک وي.

(۸) چا چې کوم سړي ته د خپلو دراهمو په دريمه يا د خپلو پسونو په دريمه برخه وصيت وکړ، بيا د هغوی دوه ثلثه هلاک او يو ثلث پاتې شو او دا ثلث د پاتې مال څخه پوره کېده، نو دی (موصی له) د ټول مال ثلث اخلي.

(۹) که چا د خپلو جامو په دربمه وصیت وکړ، بیا یې دوه ثلثه هلاک او یو ثلث پاتې شو، (په دې صورت کې) یوازې د پاتې شوي مال د ثلث حقداردی.

(۱۰) که چاکوم سړي ته د زرو درهمو وصیت وکړ او وصیت کوونکي نغد او پور مال درلود، که یې زر (درهمه) د نغدو له دربمې څخه پوره کېدل موصی له ته به یې ورکړي، که نه پوره کېدل د نغدو دربمه به ورکړي او څه وخت چې پور تر لاسه شو دربمه به یې واخلي څو زر درهمه پوره شي.

(۱۱) حمل ته او هم په حمل وصیت کول صحیح دي، په دې شرط چې د وصیت له ورځې څخه د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې ولادت وشي.

(۱۲) په کور کې د ټاکلو کلونو په اوسېدو وصیت روا دی، د تل لپاره په اوسېدو هم روا دی.

(۱۳) که موصی له د موصي په ژوند کې وفات شو وصیت باطل دی.

(۱٤) که یې د فلاني اولادونو ته وصیت وکړ نو وصیت به د هغوی تر منځ شریک وي، نارینه او ښځینه یکې برابر دي، که چا د فلاني وارثانو ته وصیت وکړ، نو په دې وصیت کې به نارینه ته د ښځینه وارث په پرتله دوه چنده ورکول کیږي.

(۱۵) که چا زید او عمرو ته د خپل مال په دربمه وصیت وکړ خو عمرو پخوا مړ و، نو دربمه برخه مال ټول د زید کیږي، که یې وویل: د مال دربمه برخه مې د زید او عمرو تر منځ شریکه ده او زید پخوا مړ و، عمرو ته د دربمې نیمایي کیږي.

(۱٦) که یې د مال په دربمه وصیت وکړ او مال یې نه درلود، بیا یې مال وګټلو، موصی له یې د مرګ په مهال د مال د دربمې حقدار دی.

## شرحه

**د وصیت د تطبیق مرتبې:** که وصیت کوونکی له مال څخه د ګڼو داسې حقونو په اداکولو وصیت وکړي چې له دربمې څخه اوړي، په دې صورت کې به هغه حق لومړی اداکیږي چې

زيات مهم وي. همدا راز د وصيت په مخکې کولو کې د وصيت کوونکي له خوا په اقرار کې لومړيتوب هم اغېز لري.

**د الله تعالی حقونه**: هغه دي چې د يوه شخص نه بلکې د عامو انسانانو ګټې ورپورې تړلې وي او الله ته يې نسبت د تشريف لپاره دی.

که وصيت کوونکی د حقوق الله له جملې څخه د دوو داسې حقونو د ادا کولو وصيت وکړي چې لګښت يې له ثلث څخه زيات وي، لومړی به هغه حق ادا کيږي چې زيات مهم وي، د بېلګې په ډول که وصيت کوونکی د زکات او کفارې دواړو د ادا کولو وصيت وکړي او ثلث کم وي، څرنګه چې زکات فرض دي نو زيات مهم دی، په دې بنسټ به لومړی زکات ادا شي، که کفارې ته مال پاتې شو اداکيږي او که مال پاتې نشو نه ادا کيږي.

که چيرې دواړه حقونه په اهميت يعنې په حکم کې سره برابر وو بيا د وصيت کوونکي خبره اعتبار لري چې د کوم حق په ادا کولو يې لومړی وصيت کړی. د وصيت کوونکي وينا هم ځکه اعتبار لري چې د هغه له خوا لومړيتوب د حق په اهميت دلالت کوي.

**په حج وصيت**: که چا له خپل مال څخه په حج کولو وصيت وکړ، د وصيت نافذوونکي به د حج کولو لپاره شخص وګماري او دومره لګښت به ورکړي چې د وصيت کوونکي له کلي څخه پرې سپور حج وکولای شي، دا ځکه چې په مسلمان باندې هغه وخت حج فرض کيږي چې په  نورو شرطونو سربېره له خپل کلي څخه تر مکې پورې په سپاره ډول د تګ لګښت ولري. دا په هغه صورت کې چې له ثلث څخه دا لګښتونه پوره کېدل، که له ثلث څخه دا لګښتونه نه پوره کېدل حج کوونکی به په پياده ډول له هغه ځايه حج ته تلل پيل کړي چې لګښت ورته کفايت کوي څو د وصيت تطبيقول ممکن شي.

که حاجي د حج په لاره کې مړ شي او د حج کولو وصيت وکړي، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نظر به حج کوونکي ته دومره لګښت ورکول کيږي چې د وصيت کوونکي له کلي څخه ورباندې حج وکولای شي. ياران رحمهم الله وايي: دومره لګښت به ورکوي چې د مړينې له

ځایه وربانديې حج وکولای شي.

**د کوچني وصیت**: د کوچني وصیت صحیح نه دی ځکه چې وصیت صدقه ده او کوچنی د صدقې کولو اهل نه دی.

**له وصیت څخه گرځېدل**: وصیت کوونکی کولای شي چې له خپل وصیت څخه وگرځي ځکه وصیت داسې تبرع ده چې لا بشپړه نه ده، نو د هبې په څېر گرځېدل ورڅخه صحیح دي.

له وصیت څخه گرځېدل په دوه ډوله دي: لومړی دا چې په څرگندو ټکو له وصیت څخه وگرځي د بېلگې په ډول ووايي: له خپل وصیت څخه وگرځېدم، یا خپل وصیت مې باطل کړ.

دویم داسې چې په عملي توگه له وصیت څخه وگرځي، د بېلگې په ډول خپل هغه ټوکر چې بل چا ته یې د ورکولو وصیت کړی، درزي ته یوسي او د خپل ځان لپاره ترې جامې وگنډي.

که وصیت کوونکی له وصیت څخه منکر شو رجوع نه گڼل کیږي. د رجوع او انکار تر منځ توپیر دا دی چې په رجوع کې لومړی په وصیت اعتراف او بیا فسخه کول دي خو انکار له لومړي سره د وصیت نفي کول دي.

**گاونډیانو ته وصیت**: که څوک جیران (گاونډیانو) ته وصیت وکړي، د امام ابوحنیفه رحمه الله په نظر هغه گاونډیان ورڅخه مقصد دي چې د وصیت کوونکي سره یې کورونه نښتي او لگېدلي وي، له دوی وراخوا گاونډیان په وصیت کې شامل نه دي. دا ځکه چې د (جیران) ټکی له (مجاورت) څخه اخیستل شوی چې د ملاصقة (نښتلو) په معنا دی، په دې بنسټ یوازې هغو گاونډیانو ته شاملیږي چې کورونه یې له وصیت کوونکي سره نښتي وي.

**خسرگنۍ ته وصیت**: څرنگه چې د اصهار (خسرگنۍ) ټکی د مېرمنې ټولو هغو خپلوانو ته کارول کیږي چې د نسب له امله یې له دې سره نکاح حرامه وي، لکه پلار، ورور، اکا، ماما، په دې بنسټ اصهارو ته د وصیت په صورت کې هم یوازې همدوی مستحق گڼل کیږي. په

همدې ترتيب د ختن (زوم) ټکی هم دی.

**خپلوانو ته وصيت**: که د اقاربو (نږديکانو) په نوم وصيت وشي نو هغه کسان پکې حقدار دي چې د نږديوالی له امله يې د وصيت کوونکي سره نکاح حرامه وي، يعنې د وصيت کوونکي سره يې داسې نږدی وي چې که يو تن يې نر او بل ښځه فرض کړل شي نکاح يې حرامه وي.

په پورتنيو خپلوانو کې به وصيت لومړی د هغه چا حق وي چې د خپلوۍ په درجه کې وصيت کوونکي ته نږدې وي. که د خپلوانو ټکی د جمعې په صيغې سره ياد شوی و، ضروري ده چې دوو او له دوو څخه زياتو کسانو ته ورکړل شي. په همدې بنسټ که څوک اقاربو ته وصيت وکړي او وصيت کوونکی دوه اکاګان او دوه ماماګان ولري، وصيت يوازې د اکاګانو کيږي او ماماګان حق نه لري، ځکه چې اکاګان په درجه کې نږدې او دوه (جمع) هم دي. که وصيت کوونکي يو اکا او دوه ماماګان درلودل، ماماګان يې که څه هم په درجه کې ليرې دي د اکاګانو سره په وصيت کې د دې لپاره شامليږي څو د جمعې عدد پوره کړي.

د يارانو رحمهماالله په نظر اقاربو ته په وصيت کې ټول هغه خپلوان شامليږي چې په لومړي مسلمان نيکه کې د وصيت کوونکي سره شريک وي، که څه هم شمېر يې هر څومره زيات وي.

خپلوانو ته په وصيت کې زوی او پلار نه شامليږي، ځکه خپلوان هغه چا ته ويل کيږي چې د دواړو په منځ کې واسطه موجوده وي، د پلار او زوی اړيکه د واسطې په وسيله نه بلکې مستقيمه ده نو د اقاربو د ټکي لاندې نه راځي او په وصيت کې نه شامليږي.

**په دريمه برخه وصيت**: که د چا د خپلو ټاکلو او معينو پسونو يا پيسو د دريمې برخې وصيت وکړ، مثلا خپلې رمې ته يې اشاره وکړه او دهغې د دريمې برخې وصيت يې وکړ، په دې صورت کې د نومورې رمې دوه برخې پسونه مړه او يوه برخه (دريمه برخه) پاتې شي، دريمه برخه ټول د موصی له حق کيږي، ځکه په تعين سره نومورې برخه د موصی له حق ګرځي او د نورو هلاکت وربانديې اغېز نه لري.

که څوک د خپلو مختلفو جامو يو پنډ ته اشاره وکړي او په تعين سره د هغوی د دريمې برخې

وصیت وکړي، وروسته له دې جامو څخه دوه برخې له منځه ولاړې شي، په دې صورت کې که څه هم وصیت کوونکي په اشارې سره برخه تعین کړې خو دا تعین او ټاکل اعتبار نه لري، او موصی له ته د پاتې مال دریمه برخه کیږي نه د ټول مال. دا په دې دلیل چې د جامو د اجناسو د اختلاف په صورت کې تعین ګټه نه لري، یعنې د جنسونو د اختلاف په صورت کې د مال د ناڅرګندتیا له امله د موصی له حق پکې په حقیقي ډول نه تعینیږي، کله چې له هلاکته وړاندې د موصی له حق پکې معلوم نه و نو له هلاکت وروسته یوازې د پاتې مال د دریمې برخې مستحق دی. البته که ټولې جامې له یو جنس څخه وې، تعین اعتبار لري او پاتې ټولې جامې چې دریمه برخه ده د موصی له حق کیږي.

که چا د زرو افغانیو وصیت وکړ او وصیت کوونکي پور او نغد مال درلود خو د نغدو له دریمې برخې څخه زر درهمه نه پوره کېدلی، په دې صورت کې وصي نشي کولای چې د موصی له د زرو ا فغانیو د پوره کولو لپاره د نغدو له دریمې برخې څخه تجاوز وکړي بلکې دریمه برخه به موصی له ته ورکړي او د پاتې افغانیو لپاره به د پور د تر لاسه کولو انتظار باسي، دا ځکه چې وارثان او موصی له په پور او نغدو کې یو ډول برابر دي.

**حمل ته وصیت**: حمل ته د وصیت مثال داسې دی لکه وصیت کوونکی چې کومې حاملې ښځې ته ووایي: زما له مرګه وروسته زما دا کور ستا د دې موجود حمل (په خېټه کې د شته ماشوم) دی.

## ؟ ارزونه

١- د وصیت په تطبیق کې کوم شیان لومړیتوب لري؟ روښانه یې کړئ.

٢- که چا په حج کولو وصیت وکړ، وصیت به یې څه ډول په ځای کیږي؟

٣- د کوچني وصیت ولې صحیح نه دی؟

٤- اقاربو (نږدیکانو) ته په وصیت کې کوم کسان داخلیږي؟

٥- د (اولادونو) او (وارثانو) په نامه وصیت کول په خپلو کې څه توپیر لري؟

# د میراث حکمونه (۱)

له اسلام څخه وړاندې میراث یوازې هغه چا ته ورکول کېده چې جګړه یې کولای شوه، له همدې کبله ښځې او کوچنیان له میراث څخه بې برخې وو. اسلامي شریعت خپلوي او اړتیا د میراث اخیستلو بنسټ وګرځول او ښځو او کوچنیانو ته یې د میراث حق ورکړ. نارینه و ته یې ځکه زیاته برخه وټاکله چې د کوچنیانو او ښځو د نفقې لګښتونه ورپه غاړه دي. په راروانو څو لوستونو کې به د میراث حکمونه ولولو.

د مدارسو په نصاب کې د میراث د علم لپاره ځانګړی مضمون مقرر دی، نو دلته یوازې د قدوري د متن د خدمت په توګه بیان راغلی، د میراث علم به په تفصیل سره د میراث په مضمون کې لوستل کیږي.

(۱) الْمُجْمَعُ عَلَى تَوْرِيثِهِمْ مِنَ الرِّجَالِ عَشَرَةٌ: الِابْنُ، وَابْنُ الِابْنِ وَإِنْ سَفَلَ، وَالْأَبُ، والْجَدُّ أَبُو الْأَبِ وَإِنْ عَلَا، وَالْأَخُ، وَابْنُ الْأَخِ،وَالْعَمُّ، وَابْنُ الْعَمِّ، وَمَوْلَى النِّعْمَةِ، وَالزَّوْجُ.

(۲) وَمِنْ الْإِنَاثِ سَبْعٌ: الِابْنَةُ، وَابْنَةُ الِابْنِ وَإِنْ سَفَلَتْ، وَالْأُمُّ، وَالْجَدَّةُ، وَالْأُخْتُ، وَالزَّوْجَةُ، وَمَوْلَاةُ النِّعْمَةِ.

(۳) وَلَا يَرِثُ أَرْبَعَةٌ: الْمَمْلُوكُ، وَالْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُولِ، وَالْمُرْتَدُّ، وَأَهْلُ الْمِلَّتَيْنِ.

(٤) وَالْفُرُوضُ الْمَحْدُودَةُ فِي كِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى سِتَّةٌ: النِّصْفُ، وَالرُّبُعُ، وَالثُّمُنُ، وَالثُّلُثَانِ، وَالثُّلُثُ، وَالسُّدُسُ.

(٥) فَالنِّصْفُ فَرْضُ خَمْسَةٍ: الِابْنَةُ، وَابْنَةُ الِابْنِ إذَا لَمْ تَكُنْ ابْنَةُ الصُّلْبِ، وَالْأُخْتُ لِلْأَبِ وَلِلْأُمِّ، وَالْأُخْتُ لِلْأَبِ إذَا لَمْ تَكُنْ أُخْتٌ لِأَبٍ وَأُمٍّ وَلَا أَخُوهَا، وَالزَّوْجُ إذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ.

(٦) وَالرُّبُعُ: فَرْضٌ لِلزَّوْجِ مَعَ الْوَلَدِ أَوْ وَلَدِ الابْنِ، وَلِلزَّوْجَاتِ إِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ.

(٧) وَالثُّمُنُ: لِلزَّوْجَاتِ مَعَ الْوَلَدِ أَوْ وَلَدِ الابْنِ.

(٨) وَالثُّلُثَانِ: لِكُلِّ اثْنَيْنِ فَصَاعِدًا مِمَّنْ فَرْضُهُ النِّصْفُ إِلَّا الزَّوْجَ.

(٩) وَالثُّلُثُ: لِلْأُمِّ، إِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُ ابْنٍ وَلَا اثْنَانِ مِنْ الْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ، وَيفْرِضُ لَهَا فِي مسأَلَتَيْنِ ثُلُث مَا بَقِيَ، وَهُمَا: زَوْجٌ وَأَبَوَانِ أَوْ زَوْجَةٌ وَأَبَوَانِ، فَلَهَا ثُلُثُ مَا بَقِيَ بَعْدَ فَرْضِ الزَّوْجِ وَالزَّوْجَةِ، وَهُوَ لِكُلِّ اثْنَيْنِ فَصَاعِدًا مِنْ وَلَدِ الْأُمِّ، ذُكُورُهُمْ وَإِنَاثُهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ.

(١٠) وَالسُّدُسُ فَرْضُ سَبْعَةٍ: لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الْأَبَوَيْنِ مَعَ الْوَلَدِ أَوْ وَلَدِ الابْنِ، وَهُوَ لِلْأُمِّ مَعَ الْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ، وَلِلْجَدِّ مَعَ الْوَلَدِ أَوْ وَلَدِ الابْنِ، وَلِبَنَاتِ الابْنِ مَعَ بِنْتِ الصُّلْبِ، وَلِلْأَخَوَاتِ لِلْأَبِ مَعَ الْأَخَوَاتِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ، وَلِلْوَاحِدِ مِنْ وَلَدِ الْأُمِّ، وَلِلْجَدَّاتِ.

(١١) وَتَسْقُطُ الْجَدَّاتُ بِالْأُمِّ وَالْجَدُّ وَالْإِخْوَةُ وَالْأَخَوَاتُ بِالْأَبِ.

(١٢) وَيَسْقُطُ وَلَدُ الْأُمِّ بِأَحَدِ أَرْبَعَةٍ: بِالْوَلَدِ، وَوَلَدِ الابْنِ، وَالْأَبِ، وَالْجَدِّ.

(١٣) وَإِذَا اسْتَكْمَلَ الْبَنَاتُ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَتْ بَنَاتُ الابْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَهُنَّ أَوْ بِإِزَائِهِنَّ أَوْ أَسْفَلَ مِنْهُنَّ ابْنُ ابْنٍ فَيُعَصِّبُهُنَّ.

(١٤) وَإِذَا اسْتَكْمَلَ الْأَخَوَاتُ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَ الْأَخَوَاتُ لِلْأَبِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَهُنَّ أَخٌ لَهُنَّ فَيُعَصِّبُهُنَّ.

## ژباړه

(١) هغه نارينه چې په ميراث اخيستلو يې اجماع ده، لس دي: زوی، د زوی زوی که څه هم ښکته وي، پلار، نيکه يعنې د پلار پلار که څه هم پورته وي، ورور، وراره، تره، د تره زوی، آزادوونکی بادار او مېړه.

(٢) له ښځو څخه (چې په میراث اخیستلو یې اجماع ده) اوه دي: لور، د زوی لور که څه هم ښکته وي، مور، نیا، خور، ماندینه او آزادوونکې باداره.

(٣) څلور کسان میراث نشي وړلای: مریی، قاتل له مقتول څخه، مرتد او د دوو (مختلفو) ملتونو پیروان.

(٤) د الله پاک په کتاب کې ټاکل شوې برخې شپږ دي: نصف (نیمه)، ربع (څلورمه)، ثمن (اتمه)، ثلثان (له دریو دوه برخې)، ثلث (دریمه) او سدس (شپږمه).

(٥) نصف (نیمه) د پنځو کسانو برخه کیږي: د لور، د زوی د لور کله چې د مړي خپله لور نه وي، سکه خور، د پلار له لوري خور کله چې سکه خور نه وي او نه (د پلرنۍ خور) خپل ورور وي، او مېړه چې کله د مړي زوی او لمسی نه وي.

(٦) ربع (څلورمه) د مېړه برخه ده چې (د مړي) اولاد یا د اولاد اولاد وي، او د ماندینو (برخه) ده کله چې مړی اولاد یا د اولاد اولاد ونه لري.

(٧) ثمن (اتمه) د ماندینو (برخه) ده کله چې مړی اولاد یا د اولاد اولاد ولري.

(٨) ثلثان (له دریو دوه برخې) له مېړه پرته د ټولو هغو دوو یا زیاتو کسانو برخه ده چې (یوازې والي په حال کې) نصف (نیم) وړي.

(٩) ثلث (دریمه) د مور (برخه) ده کله چې د مړي اولاد یا د زوی اولاد نه وي، او هم له وروڼو او خویندو څخه دوه تنه نه وي. په دوو مسألو کې (مور ته) د پاتې مال ثلث ورکول کیږي او هغه دا صورت دي: مېړه د مور او پلار سره. ماندینه د مور او پلار سره. (په دې صورتونو کې ورته د مېړه او ماندینې له میراث اخیستلو وروسته د پاتې مال ثلث ورکول کیږي. ثلث د مورنۍ وروڼو او خویندو برخه هم ده چې دوه او یا له دوو زیات وي، نارینه او ښځینه یې په برخو کې سره برابر دي.

(١٠) سدس (شپږمه) د اوو کسانو برخه ده: د مور او د پلار هر یوه برخه ده چې مړی اولاد یا د زوی اولاد ولري. د مور برخه ده د وروڼو او خویندو سره. د نیکه برخه ده د مړي د اولاد یا

د زوی اولاد سره. د زوی د لور برخه ده د مړې له لور سره. د پلرنيو خويندو برخه ده د سکه خويندو سره. د يو مورني ورور يا خور برخه ده او د نياګانو برخه ده.

(۱۱) نياګانې په مور او نيکه ساقطيږي، وروڼه او خويندې په پلار سره.

(۱۲) مورني اولاد په دې څلورو کسانو ساقطيږي: په زوی، د زوی په زوی، په پلار او نيکه سره.

(۱۳) کله چې لورګانې ثلثان (دوه ثلثه) خپل کړي، د زوی لورګانې ساقطيږي مګر دا چې د هغوی سره يا د هغوی په موازي او يا هم د هغوی څخه ښکته د زوی زوی وي، نو دوی وربانديې عصبه ګرځي.

(۱٤) کله چې سکه خويندې ثلثان (دوه ثلثه) پوره خپل کړي، پلرنۍ خويندې ساقطيږي، مګر دا چې د هغوی سره خپل ورور وي نو دوی وربانديې عصبه ګرځي.

## شرحه

**د ميراث تعريف**: ميراث د ژبې له مخې پاته شونې مال ته وايې، د مړي متروکه هم له هغه څخه پاته شوی مال او ميراث دی.

په **اصطلاح** کې د ميراث علم هغه شرعي اصول او د محاسبوي قواعد دي چې د هغو په وسيله د ميت (مړي) له متروکې څخه د هر وارث حقوق پيژندل کيږي.

**نارينه او ښځينه وارثان**: هغه نارينه چې د ذوی الفروضو يا عصبه و په توګه له مړي څخه په اتفاقي توګه ميراث اخلي لس دي چې په متن کې روښانه شوي.

په متن کې له (وإن سفل) څخه مقصد د لمسي، کړوسي او نورو ښکته لمسو اولاد دی.

له (مولی النعمة) څخه مقصد د مريي آزادوونکی بادار دی. د بېلګې په ډول څوک خپل مريی آزاد کړي، وروسته مريی مال وګټي او مړ شي خو څوک وارث ونه لري. په دې صورت کې د ده مال د هغه بادار کيږي چې دی يې له مريیتوب څخه آزاد کړی.

**هغه کسان چې د میراث اخیستلو حق نه لري**: له میراث څخه د بې برخې کیدو لاملونه د میراث د موانعو په نامه هم یادیږي. نو هغه څوک چې د مړي څخه میراث نشي وړلای لاندې څلور ډوله کسان دي.

۱- **مریی**: مریي د میراث څخه بې برخې دی ځکه میراث د ملکیت لاس ته راوړل دي او مریی د مالک ګرځېدلو اهلیت نه لري.

۲- **قاتل له مقتول څخه**: دی مېراث نشي وړلای. دلیل یې د پیغمبر (علیه الصلوة و السلام) دا حدیث دی چې ترمذي روایت کړی: لایرث القاتل شیئا. ژباړه: قاتل (له مقتول څخه) هیڅ شی په میراث نشي وړلای. له قتل څخه مقصد هغه قتلونه دي چې پر قاتل قصاص یا کفاره لازموي.

۳- **مرتد**: هغه مسلمان چې له اسلام څخه ګرځي له هیچا څخه میراث نشي وړلای، ځکه چې هغه هیڅ ملت نلري.

۴- **د مختلفو ملتونو پیروان**: دوی هم یو له بل څخه میراث نشي وړلای. یعنی مسلمان له کافر او کافر له مسلمان څخه میراث نشي وړلای. د ابوداود په روایت کې راغلي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: لَاَ يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى.[1] ژباړه: د دوو بېلابېلو ملتونو پیروان یو له بل څخه میراث نشي وړلای.

**برخې او د هغې وارثان**: په قرآن کریم کې د وارثانو لپاره شپږ برخې یادې شوې چې مختلف وارثان یې په بېلابېلو حالاتو کې اخلي. په متن کې ټولې برخې روښانه شوې، دا هم روښانه شوې چې یادې شوې برخې په کومو حالاتوکې چا ته رسیږي.

**حجب**: حجب په لغت کې منع ته وایي او په اصطلاح کې د بل چا له امله د ټول یا ځینې میراث څخه محرومېدل حجب بلل کیږي.

**حجب په دوه ډوله دی**: یو هغه چې وارث له ټول میراث څخه محروموي او د حجب حرمان په نامه یادیږي، دویم حجب نقصان دی، دا هغه حجب دی چې وارث له ځینې میراث

۱. سنن ابو داود ۳- ۸۵ باب هل یرث المسلم الکافر دا حدیث الباني صحیح شمیرلی.

څخه محروموي، يعني له زياتې برخې څخه يې کمې برخې ته راښکته کوي.

په متن کې هغه صورتونه بيان شوي چې يو وارث بل وارث له ميراث اخيستلو څخه په بشپړه توګه منع کوي او حجب راولي.

## فعاليت

زده کوونکي دې پخپلو کې د ميراث يو لړ صورتونه په ټولګي کې تمثيل کړي.

## ارزونه

١- ميراث لغتا او اصطلاحا تعريف کړئ.

٢- هغه لس نارينه وارثان په ګوته کړئ چې په ميراث اخيستلو يې اجماع ده.

٣- د ميراث موانع بيان کړئ.

٤ په قرآن کريم کې ټاکل شوې برخې څو دی هغه په ګوته کړئ.

٥- حجب تعريف کړئ.

# د میراث حکمونه (٢)
# د عصباتو او رد بیان

د مړي وارثان د میراث په اخیستلو کې سره یو شان نه دي، بلکې لرې او نږدې خپلوان د میراث په اخیستلو کې سره توپیر لري. عصبات هغه وارثان دي چې له ذوالفروضو وروسته میراث اخلي. او که ذوی الفروض نه دی نو ټول میراث اخلي په دې لوست کې به د عصباتو او رد حکمونه تشریح شي.

(١) وَأَقْرَبُ الْعَصَبَاتِ الْبَنُونَ ثُمَّ بَنُوهُمْ ثُمَّ الْأَبُ ثُمَّ الْجَدُّ ثُمَّ الْإِخْوَةُ ثُمَّ بَنُو الْجَدِّ وَهُم الْأَعْمَامُ ثُمَّ بَنُو أَبِ الْجَدِّ.

(٢) وَإِذَا اسْتَوَى وَارِثَانِ فِي دَرَجَةٍ وَاحِدَةٍ، فَأَوْلَاهُمْ مَنْ كَانَ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ.

(٣) وَالِابْنُ وَابْنُ الِابْنِ وَالْإِخْوَةُ يُقَاسِمُونَ أَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، وَمَنْ عَدَاهُمْ مِنْ الْعَصَبَاتِ يَنْفَرِدُ ذُكُورُهُمْ بِالْمِيرَاثِ دُونَ إِنَاثِهِمْ.

(٤) وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ عَصَبَةٌ مِنْ النَّسَبِ، فَالْعَصَبَةُ هُوَ الْمَوْلَى الْمُعْتِقُ، ثُمَّ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ مِنْ عَصَبَةِ الْمَوْلَى.

(٥) بَابُ الْحَجْبِ

(٦) وَتُحْجَبُ الْأُمُّ مِنَ الثُّلُثِ إِلَى السُّدُسِ بِالْوَلَدِ أَوْ وَلَدِ الِابْنِ أَوْ بِأَخَوَيْنِ.

(٧) وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْبَنَاتِ لِبَنِي الِابْنِ وَأَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ، وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْأُخْتَيْنِ مِنْ الْأَبِ وَالْأُمِّ لِلْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ مِنْ الْأَبِ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

(٨) وَإِذَا تَرَكَ بِنْتًا وَبَنَاتِ ابْنٍ وَبَنِي ابْنٍ فَلِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَالْبَاقِي لِبَنِي الِابْنِ وَأَخَوَاتِهِم

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

(٩) وَمَنْ تَرَكَ ابْنَيْ عَمٍّ أَحَدُهُمَا أَخٌ لِأُمٍّ فَلِلْأَخِ مِنَ الْأُمِّ السُّدُسُ وَالْبَاقِي بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

(١٠) وَالْمُشَرَّكَةُ أَنْ تَتْرُكَ الْمَرْأَةُ زَوْجًا وَأُمًّا وَإِخْوَةً مِنْ أُمٍّ وَإِخْوَةً مِنْ أَبٍ وَأُمٍّ فَلِلزَّوْجِ النِّصْفُ وَلِلْأُمِّ السُّدُسُ وَلِأَوْلَادِ الْأُمِّ الثُّلُثُ وَلَا شَيْءَ لِلْإِخْوَةِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ.

(١١) بَابُ الرَّدِّ

(١٢) وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ ذَوِي السِّهَامِ إِذَا لَمْ يَكُنْ عَصَبَةٌ مَرْدُودٌ عَلَيْهِمْ بِقَدْرِ سِهَامِهِمْ إِلَّا عَلَى الزَّوْجَيْنِ.

(١٣) وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُولِ، وَالْكُفْرُ كُلُّهُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ يَتَوَارَثُ بِهِ أَهْلُهُ. وَلَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ، وَمَالُ الْمُرْتَدِّ لِوَرَثَتِهِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَمَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْءٌ.

(١٤) وَإِذَا غَرِقَ جَمَاعَةٌ أَوْ سَقَطَ عَلَيْهِمْ حَائِطٌ وَلَمْ يُعْلَمْ مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ أَوَّلًا فَمَالُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ لِلْأَحْيَاءِ مِنْ وَرَثَتِهِ.

(١٥) وَإِذَا اجْتَمَعَ فِي الْمَجُوسِيِّ قَرَابَتَانِ لَوْ تَفَرَّقَتَا فِي شَخْصَيْنِ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَعَ الآخَرِ، وَرِثَ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا.

(١٦) وَلَا يَرِثُ الْمَجُوسِيُّ بِالْأَنْكِحَةِ الْفَاسِدَةِ الَّتِي يَسْتَحِلُّونَهَا فِي دِينِهِمْ.

(١٧) وَعَصَبَةُ وَلَدِ الزِّنَا وَوَلَدِ الْمُلَاعَنَةِ مِنَ الْأُمَّهَاتِ.

(١٨) وَمَنْ مَاتَ وَتَرَكَ حَمْلًا وُقِفَ مَالُهُ حَتَّى تَضَعَ امْرَأَتُهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ.

(١٩) وَالْجَدُّ أَوْلَى بِالْمَالِ مِنَ الْإِخْوَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يُقَاسِمُهُمْ إِلَّا أَنْ تُنْقِصَهُ الْمُقَاسَمَةُ مِنَ الثُّلُثِ.

(٢٠) وَإِذَا اجْتَمَعَ الْجَدَّاتُ فَالسُّدُسُ لِأَقْرَبِهِنَّ، وَيَحْجُبُ الْجَدُّ أُمَّهُ، وَلَا تَرِثُ أُمُّ أَبِ الْأُمِّ، وَكُلُّ جَدَّةٍ تَحْجُبُ أُمَّهَا.

## ژباړه

(۱) په عصبه کې تر ټولو نږدې زامن دي، بیا د هغوی زامن، بیا پلار، بیا نیکه، بیا وروڼه، بیا د نیکه زامن یعنې ترونه، بیا د پلار د نیکه زامن.

(۲) که دوه وارثان مړي ته په یوه درجه کې وي، لومړیتوب د هغه دی چې د پلار او مور دواړو له خوا وي.

(۳) زوی، د زوی زوی او د ورونو(د مال) ویش به له خویندو سره داسې کیږي چې نارینه ته به د دوو ښځو په اندازه برخه ورکول کیږي. له دوی پرته د نورو عصباتو یوازې سړي میراث اخلي نه ښځې.

(٤) که مړي نسبي عصبه نه درلودل، آزادوونکی بادار یې عصبه دی او بیا یې د بادار هغه عصبه دي چې د عصوبت په درجه کې بادار ته نږدې دی.

**(۵) د حجب باب:**

(٦) مور په اولاد، د زوی په اولاد او په دوو وروڼو سره له ثلث څخه سدس ته حجب کیږي.

(۷) له لورګانو څخه زیات شوی میراث د زوی د زامنو او د هغه د خویندو دی (داسې چې نر ته د دوو ښځو برخه ده، له سکنیو دوو خویندو څخه زیات شوی میراث د پلرنیو خویندو او وروڼو دی نر ته د دوو ښځو برابره برخه ده.

(۸) که له مړي یوه لور، د زوی لورګانې او د زوی زامن پا تې شول، لور ته یې نصف (نیمه) او پاتې میراث د زوی او د هغه د خویندو ترمنځ ویشل کیږي چې نر ته د دوو ښځو برابره برخه ده.

(۹) که مړي دوه د تره زامن پرېښودل چې یو یې (د مړي) مورنی ورور هم کیده، مورني ورور ته سدس دی او پاتې د دواړو ترمنځ نیمایي دی.

(۱۰) د مُشَرِّکې (په نامه د مشهورې مسئلې صورت) دا دی چې (مړه) ښځه مېړه، مور، مورني ورونه او سکني وروڼه پرېږدي، مېړه لره نصف (نیم) کیږي، مور لپاره سدس کیږي، مورنیو

ورونړو لپاره ثلث کیږي او سکنیو ورونړو لره هیڅ شي نه کیږي.

(۱۱) **د رد باب**

(۱۲) د ذوی الفروضو څخه پاتې مال چې عصبه موجود نه وي بېرته هغوی ته د هغوی د برخو په اندازه رد کیږي، مګر ښځې او مېړه ته نه رد کیږي.

(۱۳) قاتل له مقتول څخه میراث نشي وړلای، کفر ټول یو ملت دی اوله کفر سره سره (کافران) یو له بل څخه میراث وړلای شي، مسلمان له کافر او کافر له مسلمان څخه میراث نشي وړلای، د مرتد مال د هغه د مسلمانو وارثانو دی، هغه مال چې د ردت په حال کې یې ګټلی فئ دی.

(۱٤) که یوه ډله په اوبو کې ډوبه شوه یا وربانديې دېوال راپرېوت او دا څرګنده نشوه چې کوم یو مخکې مړ شو، د دوی د هر یو مال د دوی د وارثانو کیږي.

(۱۵) که په مجوسي کې دوه داسې خپلوئ راجمع شي چې که په دوو بېلابېلو کسانو کې وي یو له بل څخه وربانديې میراث وړلای شي، (مجوسي) د دواړو خپلویو میراث اخلي.

(۱٦) مجوسیان په هغو فاسدو نکاحګانو چې هغوی یې په خپل دین کې روا بولي، میراث نشي وړلای.

(۱۷) له زنا او ملاعنې څخه د پیدا شویو کسانو عصبه د هغوی د مور له خوا دي.

(۱۸) که خوك مړ شي او حمل (د وارث په توګه) پرېږدي، د امام ابوحنیفه په نظر به یې مال ترهغې نه ویشل کیږي څو چې ښځه اولاد ونه زیږوي.

(۱۹) د امام ابوحنیفه په نظر نیکه له ورونړو څخه په میراث کې لومړیتوب لري. امام ابویوسف او امام محمد ویلي: دواړه به (په خپلو منځونوکې) مقاسمه کوي، مګر دا چې په مقاسمه سره د نیکه برخه له ثلث څخه کمه شي.

(۲۰) که ګڼې نیاګانې پاتې شي، تر ټولو نږدې ته یې سدس کیږي. نیکه خپله مور حجب کوي (ساقطوي)، د مور د پلار مور میراث نشي وړلای، هره نیا خپله مور حجب کوي.

## شرحه

**د عصبه تعريف**: عصبه هغه خپلوان دي چې مړي ته يې د پلار له لوري نسبت کېږي او له ذوی الفروضو څخه پاتې مال دوی ته ورکول کېږي.

عصبه او د هغوی ترتيب په متن کې بيان شوی. د يادو شويو کسانو د عصبه کېدو مقصد دا دی چې يوازې همدوی د عصبه کېدو وړتيا لري، له دوی پرته بل څوك عصبه کېدای نشي، د متن مقصد دا نه دی چې دوی به تل عصبه وي، بلکې کېدای شي په ځينو حالاتو کې پورته کسان ذوی الفروض وي.

که د مړي سکنی ورور (هغه چې د مور او پلار دواړو څخه يې وي) او ناسکه ورور (هغه چې يوازې له پلار څخه يې وي او مور يې جلا وي) پاتې شي، په دې صورت کې که څه هم دواړه عصبه دي، خو د ميراث حق د هغه ورور کيږي چې د مړي سره په پلار او مور دواړو کې شريك وي. په همدې ترتيب نور عصبه هم چې د خپلوۍ په درجه کې له نورو وروسته وي، په نږدې عصبه سره ساقطيږي.

په عصبه وکې يوازې زوی، د زوی زوی او ورونه خويندې له خپلو ورونو سره عصبه گرځي او مال د دوی تر منځ نر ته د ښځې دوه برابره ورکول کيږي. له دوی پرته د نورو عصبه و خويندې، لکه د ورونو او نيکونو اولاده، د وريرونو او د ترونو د زامنو خويندې له خپلو ورونو سره عصبه نه گرځي، بلکې يواځې نر يې عصبه دي او ښځې (د دوی خويندې) د ميراث مستحقې نه دي.

**حجب**: په تېر لوست کې مو حجب تعريف کړ او د حجب د دوو ډولونو (حجب حرمان او حجب نقصان) څخه مو د حجب حرمان صورتونه بيان کړل. په دې لوست کې د حجب نقصان صورت بيان شوی چې په دې ډول دی:

که د مړي زوی، د زوی زوی او ورونه نه وي، مور ثلث اخلي، خو که له يادو کسانو څخه يو هم موجود وي د مور برخه له ثلث څخه سدس ته راښکته کيږي چې دې ته حجب نقصان

وايي.

**د عصبه و د میراث مثالونه**: ویلي مو وو چې عصبه له ذوی الفروضو څخه پاتې ټول مال، اخلي او نارینه او ښځینه یې په خپلو منځونو کې (نارینه ته د ښځې دوه برابره) تر قاعدې لاندې ویشي. په همدې بنسټ که له مړي څخه دوه لورګانې، دوه د زوی لورګانې او یو د زوی زوی پاتې شي، د مړي لورګانې د مال ثلثان دوه پر درې برخې اخلي، پاتې یو ثلث د زوی د لورګانو او د زوی د زوی ترمنځ وېشل کیږي.

که مړي دوه داسې د تره زامن وارثان پرېښودل چې یو یې د ده مورنی ورور هم و، په دې صورت کې مورنی ورور د ذوالفرض په توګه چې په قرآن کریم کې ورته برخه ټاکل شوې، سدس اخلي. پاتې مال چې پنځه سدسه کیږي د دواړو تر منځ د عصوبت په بنسټ نیم په نیمه وېشل کیږي.

په متن کې د مشرکة په نامه چې کومه مسئله راغلې، په هغې کې مېړه، مور او مورني وروڼه ټول مال اخلي او سکه وروڼو ته چې عصبه دي څه نه پاتې کیږي.

**رد**: رد په لغت کې رجوع او بېرته ګرځولو ته وایي او په اصطلاح کې د عصبه و د نشتوالي په صورت کې ذوي الفروضو ته د متروکې  پاتې برخه د هغوی د برخو په اندازه ورکول، رد بلل کیږي.

زوجینو ته ځکه رد نشته چې د دوی خپلوي سببي ده او په مړینې سره یا له منځه ځي او یا ضعیفه کیږي.

د بېلګې په ډول که له مړي څخه مېړه او دوه لوڼې پاتې شي، مېړه ربع (څلورمه برخه) او لوڼې ثلثان (دوه پر درې برخه) اخلي، څرنګه چې د پاتې مال لپاره نور وارثان نشته، بېرته ذوي الفروضو ته رد کیږي، دا چې مېړه ته رد نشته پاتې برخه هم لوڼو ته ورکول کیږي.

**په یو ځای ډوب شوي کسان**: که یوه ډله خپلوان په یوه وخت په اوبو کې ډوب شي یا په داسې توګه په یوه وخت ومري چې څرګنده نشي کوم یو مخکې او کوم یو وروسته مړ دی،

په دې صورت کې که څه هم دوی د یو بل وارثان وي، له یو بل څخه میراث نشي وړلای، ځکه معلومه نه ده چې کوم یو مخکې مړ دی او کوم یو وروسته، یعنې وارث او مورّث جوت او معلوم نه دی.

**په دوو خپلویو میراث**: ومو ویل: که وارث د ذوالفرض او عصبه دواړو په توګه د مړي خپل وي، لکه د تره زوی چې په عین حال کې مورنی ورور هم وي، په دې صورت کې دوه ځلې میراث اخلي.

که د مجوسیانو تر منځ د هغو نکاحګانو له امله چې په اسلام کې حرامې دي او د محرماتو نکاح ګڼل کیږي، کومې خپلوۍ رامنځته شي، شرعا اعتبار نه لري چې دا خپلوی د میراث اخیستلو سبب نه کیږي او دا حکم په ټولو اهل ذمه وکې پلی کیږي.

**د نیکه میراث**: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نظر که نیکه موجود وي وروڼه میراث نشي اخیستلای، یعنې وروڼه په نیکه سره محرومیږي ځکه نیکه د پلار په ځېر دی او په پلار سره وروڼه محرومیږي. یارانو رحمهما الله ویلي: چې د نیکه او وروڼو ترمنځ به مقاسمه کیږي، داسې چې هغه به هم د ورور برابره برخه اخلي، خو که د نیکه برخه پدې صورت کې د ټول مال له درییمی څخه کمیده بیا به مقاسمه نه کیږي، بلکې دریمه برخه به نیکه ته ورکول کیږي او نور مال به د وروڼو تر مینځ ویشل کیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ذوی الفروضو او عصبه و د میراث بېلابېل صورتونه جوړ کړي او میراث دې وربانديې وویشي.

## ارزونه

۱. عصبه تعریف کړئ.

۲. عصبه څو او کوم کوم دي؟

۳. رد تعریف او یو مثال یې بیان کړئ.

٤. په یو وخت د ډوبو شویو کسانو د میراث حکم بیان کړئ.

۵. که د مورث د مړینې په مهال وارث حمل موجود وي، میراث څه ډول وېشل کیږي؟

٦. آیا وروڼه د نیکه په موجودیت کې د میراث مستحق دي؟

# ذوى الارحام

(١) بَابُ ذَوِي الْأَرْحَامِ

(٢) وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ عَصَبَةٌ وَلَا ذُو سَهْمٍ وَرِثَهُ ذَوُو الْأَرْحَامِ وَهُمْ عَشْرَةٌ:

١- وَلَدُ الْبِنْتِ ٢- وَوَلَدُ الْأُخْتِ ٣- وَبِنْتُ الْأَخِ ٤- وَبِنْتُ الْعَمِّ ٥- وَالْخَالُ ٦- وَالْخَالَةُ ٧- أَبُو الْأُمِّ ٨- وَالْعَمُّ لِلْأُمِّ ٩- وَالْعَمَّةُ ١٠- وَوَلَدُ الْأَخِ مِنَ الْأُمِّ وَمَنْ أَدْلَى بِهِمْ.

(٣) وَأَوْلَاهُمْ مَنْ كَانَ مِنْ وَلَدِ الْمَيِّتِ ثُمَّ وَلَدُ الْأَبَوَيْنِ، أَوْ أَحَدِهِمَا وَهُم بَنَاتُ الْإِخْوَةِ وَأَوْلَادُ الْأَخَوَاتِ ثُمَّ وَلَدُ أَبَوَيْ أَبَوَيْهِ، أَوْ أَحَدِهِمَا وَهُم الْأَخْوَالُ وَالْخَالَاتُ وَالْعَمَّاتُ.

(٤) وَإِذَا اسْتَوَى وَارِثَانِ فِي دَرَجَةٍ وَاحِدَةٍ فَأَوْلَاهُمْ مَنْ أَدْلَى بِوَارِثٍ وَأَقْرَبُهُمْ أَوْلَى مِنْ أَبْعَدِهِمْ.

(٥) وَأَبُو الْأُمِّ أَوْلَى مِنْ وَلَدِ الْأَخِ وَالْأُخْتِ، وَالْمُعْتِقُ أَحَقُّ بِالْفَاضِلِ مِنْ سَهْمِ ذَوِي السِّهَامِ إِذَا لَمْ يَكُنْ عَصَبَةٌ سِوَاهُ، وَمَوْلَى الْمُوَالَاةِ يَرِثُ.

(٦) بَابُ حِسَابِ الْفَرَائِضِ

(٧) إِذَا كَانَ فِي الْمَسْأَلَةِ نِصْفٌ وَنِصْفٌ أَوْ نِصْفٌ وَمَا بَقِيَ فَأَصْلُهَا مِنْ اثْنَيْنِ.

(٨) وَإِذَا كَانَ فِيهَا ثُلُثٌ وَمَا بَقِيَ أَوْ ثُلُثَانِ وَمَا بَقِيَ فَأَصْلُهَا مِنْ ثَلَاثَةٍ.

(٩) وَإِذَا كَانَ فِيهَا رُبُعٌ وَمَا بَقِيَ أَوْ رُبُعٌ وَنِصْفٌ فَأَصْلُهَا مِنْ أَرْبَعَةٍ.

(١٠) وَإِنْ كَانَ فِيهَا ثُمُنٌ وَمَا بَقِيَ أَوْ ثُمُنٌ وَنِصْفٌ وَمَا بَقِيَ فَأَصْلُهَا مِنْ ثَمَانِيَةٍ.

## ژباړه

### (۱) د ذوی الآرحامو باب

(۲) که چیرې مړي عصبه او د برخو خاوندان(ذوي الفروض) نه لرل، نو ذوی الارحام یې میراث وړي او هغوی لس دي. ۱- د لور اولاد ۲- دخور اولاد ۳- وریره ٤- د تره لور ٥- ماما ٦- د مور خور (خاله) ۷- د مور پلار ۸- د مور آکا ۹- د پلار خور (ترور) ۱۰- د مورني ورور زوی. او هغه څوک چې نسبت یې (مړي ته) د دوی په واسطه کیږي.

(۳) په دوی کې غوره د میراث په اخیستلو سره هغه څوک دی چې د مړي له اولاد څخه وي، بیا وریسې د پلار او مور اولاد او یا له دوی څخه د یوو اولاد، چې دوی د وروڼو لورګانې، او د خویندو اولادونه دي. بیا د نیا او نیکه اولاد، یا له دوی څخه د یوو اولاد،چې دوی ماماګان او د مور خورګانې (خاله ګانې) او تروریانې (عمه ګانې) دي.

(٤) کله چې دوه وارثان مړي ته په یوه درجه کې وي لومړیتوب د هغه دی چې مړی ته یې نسبت په وارث کیږي. او په دوی کې نږدې له لیرې څخه غوره او مقدم دی.

(٥) د مور پلار، له وراره او خوریې څخه غوره او وړاندې دی، آزاد کړای شوی (معتَق) د سهمونو د خاوندانو څخه د زیات شوی (مال) حقدار دی، کله چې له ده څخه پرته بل عصبه نه وي، او مَولَی الموالات میراث وړي.

### (۲) د میراث د ویش باب

(۷) کله چې په مسأله کې نیمایي، او نیمایي، یا نیمایي او څه چې پاتې وو، نو اصل یې له دوو څخه دی.

(۸) خو کله چې په مسأله کې دریمه او څه چې پاتې وو او یا دوه پر درې او له هغو څخه څه چې پاتې وو، نو اصل یې له دریو څخه دی.

(۹) او کله چې څلورمه او څه چې پاتې وو او یا څلورمه او نیمایي وه، نو اصل یې له څلورو څخه دی.

(۱۰) اوکه چیرته پکې اتمه او څه چې پاتې وو او یا اتمه او نیمایي او مابقي وو، نو اصل یې له اتو څخه دی.

**شرحه**:

کله چې یو څوک مړ شي په داسې حال کې چې نه عصبه لري او نه د سهم خاوندان، نو په دې صورت کې میراث ذوي الارحام اخلي. د دې اساس دا قرآني نص دی چې فرمایي: ﴿وَأُوْلُواْ الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾ (الاحزاب: ٦)

**ژباړه**: د الله تعالی د کتاب له مخې ځینې خپلوان د ځینو نورو نه د میراث زیات حقداره دي. نو معلومه شوه چې خپلوان د میراث په اخیستلو سره له بیت المال څخه اولی او حقدار دي.

**د ذوی الآرحامو د میراث ترتیب**: ذوی الارحام هغه لس تنه دی چې په متن کې په تفصیل سره ذکر شول، په دوی کې د حقداری مسأله داسې ده لکه څنګه چې په عصبه وکې وه، کله چې ځانته وي ټول مال وړي، خو که نور ورسره یوځای شي بیا هغه معتبر دی چې په خپلوی کې نږدې وي، لکه: د مړي د اولاد له لوري خپلوان د هغه د ورونو له لوري له خپلوانو څخه غوره ګڼل کیږي. د دې پسې هغه دي چې په درجه کې مړي ته نږدې وی، لکه: د مړي لور د هغې له لور څخه مخکې ګرځي. د دې نه وروسته هغه ذوي الارحام دي چې خپلوي یې پیاوړې وي، لکه هغه خپلوان چې اصل یې وارث وي له هغو خپلوانو څخه غوره دي چې اصل یې وارث نه وي، لکه: د لور د لور لور او د ځوی د لور لور دې صورت کې ټول د ځوی د لمسی دي او د لور لمسی ته هیڅ نشته، نو ترتیب یې په لاندې توګه دی:

۱- هغه دي چې د مړي د اولادې څخه وي.

۲- فاسد نیکه یعنې د مور پلار.

۳- د مړي د مور او پلار اولاده یا د دوی څخه د یواولاده چې دا دورونړو او خویندو لورګانې دي.

٤- د مړي د نيکه اولاده چې هغه ماماګان، خاله ګانې او عمه ګانې دي.

**د ميراث د ويشلو طريقه**: کله چې په ميراث کې دوه داسې وارثان جمع شي چې هر يو د نيمايي ميراث مستحق وي، يا يو د نيمايي اوبل د پاتې مال مستحق وي، نو دلته به مسأله له دوو څخه حل کيږي، لکه يوه ښځه مړه شوه، خاوند او يو سکه خور ورڅخه پاتې شوه، يا يې خاوند او اکا له ځان څخه وروسته پريښود، نو مسأله به له دوو څخه حل کيږي. په لومړۍ مسأله کې نيم مال د ميړه او نيم د سکه خور کيږي، او په دويمه کې نيم د خاوند او پاتې نيم د اکا کيږي.

اوکه چيرې په ميراث کې دريمه او پاتې مال ؤ، يا دوه ثلثه او پاتې مال ؤ، نو دلته مسأله له دريو څخه حل کيږي. که په مسأله کې څلورمه برخه او پاتې مال، يا څلورمه او نيمايي ميراث ؤ، نو دلته به ميراث د څلورو څخه تقسيميږي. اوکه په مسأله کې اتمه او پاتې مال و، يا د اتمې او نيمايي ميراث مستحق و، مسأله به د اتو څخه حل کيږي. د دريو اصل لپاره مثال: کله چې د مړي وارثان مور او اکا وي، يا دوه لورګانې او اکا وي. د څلورو اصل لپاره مثال: خاوند او د ښځې اولادونه دي او يا ښځه او اکا. د اتو مثال: ښځه او زوی دی او يا ښځه او لور ده لنده داچې دا پورتني مثالونه له دريو، څلورو، او اتو څخه حل کيږي.

## ارزونه

١ـ که مړی نه ذوي الفروض لري اونه عصبات نو د ميراث مستحقين يې څوک دي؟ خپله خبره په دليل سره روښانه کړئ.

٢ـ په ذوی الارحامو کې د ميراث لومړنی حقدار څوک دی؟ ترتيب يې بيان کړئ.

٣ـ د دوو اصل څخه څه وخت مسأله پيلېږي؟ د مثال په ترڅ کې يې روښانه کړئ.

٤ـ د دريو او څلورو اصل څخه يوه مسأله حل کړئ.

# عول

(١) العول

(٢) وَإِنْ كَانَ فِيهَا نِصْفٌ وَثُلُثٌ أَوْ نِصْفٌ وَسُدُسٌ فَأَصْلُهَا مِنْ سِتَّةٍ، وَتَعُولُ إِلَى سَبْعَةٍ وَثَمَانِيَةٍ وَتِسْعَةٍ وَعَشْرَةٍ، وَلَا تَعُولُ إِلَى غَيْرِ ذَلِك.

(٣) وَإِذَا كَانَ مَعَ الرُّبْعِ ثُلُثٌ أَوْ سُدُسٌ، فَأَصْلُهَا مِنْ اثْنَيْ عَشَرَ، وَتَعُولُ إِلَى ثَلَاثَةَ عَشَرَ وَخَمْسَةَ عَشَرَ وَسَبْعَةَ عَشَرَ.

(٤) وَإِذَا كَانَ مَعَ الثُّمنِ سُدُسَانِ أَوْ ثُلُثَانِ، فَأَصْلُهَا مِنْ أَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ، وَتَعُولُ إِلَى سَبْعَةٍ وَعِشْرِينَ.

(٥) وَإِذَا انْقَسَمَتْ الْمَسْأَلَةُ عَلَى الْوَرَثَةِ فَقَدْ صَحَّتْ، وَإِنْ لَمْ تَنْقَسِمْ سِهَامُ كُلِّ فَرِيقٍ مِنْهُمْ عَلَيْهِمْ، فَاضْرِبْ عَدَدَهُمْ فِي أَصْلِ الْفَرِيضَةِ وَعَولِهَا إِنْ كَانَتْ عَائِلَةً، فَمَا خَرَّجَتْ صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْأَلَةُ.

(٦) فَإِنْ وَافَقَ سِهَامُهُمْ عَدَدُهُمْ ضَرَبْتَ وَفْقَ عَدَدِهِمْ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ.

(٧) فَإِنْ لَمْ يَنْقَسِمْ سِهَامُ فَرِيقَيْنِ مِنْهُمْ أَوْ أَكْثَرَ فَاضْرِبْ أَحَدَ الْفَرِيقَيْنِ فِي الْآخَرِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي الْفَرِيقِ الثَّالِثِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ.

(٨) فَإِنْ تَسَاوَتْ الْأَعْدَادُ أَجْزَأَ أَحَدُهُمَا عَنْ الْآخَرِ كَامْرَأَتَيْنِ وَأَخَوَيْنِ فَاضْرِبْ اثْنَيْنِ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ.

(٩) وَإِنْ كَانَ أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ جُزْءًا مِنَ الْآخَرِ أَجْزَأَ الْأَكْثَرُ عَنْ الْأَقَلِّ كَأَرْبَعِ نِسْوَةٍ وَأَخَوَيْنِ إِذَا ضَرَبْتَ الْأَرْبَعَةَ أَجْزَأَك عَنْ عَدَدِ الْأَخَوَيْنِ.

(١٠) فَإِنْ كَانَ أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ مُوَافِقًا لِلْآخَرِ، ضَرَبْتَ وَفْقَ أَحَدِهِمَا فِي جَمِيعِ الْآخَرِ، فَإِذَا

صَحَّتْ الْمسآلةُ، فَاضْرِبْ سِهَامَ كُلِّ وَارِثٍ فِي التَّرِكَةِ ثُمَّ اقْسِمْ مَا اجْتَمَعَ عَلَى مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْفَرِيضَةُ يَخْرُجْ حَقَّ ذَلِكَ الْوَارِثِ.

## ځوابونه

### (۱) عول

(۲) اوکه چیرته په مسألې کې نیمايي او دریمه وه او یا نیمايي او شپږمه وه، نو اصل یې له شپږو څخه دی. (د شپږو اصل) اوو، اتو، نهو او لسو ته عول کوي، او له دې پرته نورو ته عول نه کوي.

(۳) کله چې له څلورمې برخې سره دریمه او یا شپږمه یوځای شي نو مسألې اصل یې له دولسو څخه دی. (دا اصل) دیارلسو، څوارلسو او اوو لسو ته عول کوي.

(٤) کله چې د اتمې برخې سره دوه سُدسه، یا دوه ثُلثه وو، نو (د مسئلی) اصل یې د څلیریشتو څخه دی چې یوازې اووه ویشتو ته عول کوي.

(٥) که چیرې په وارثانو مسأله د تقسیم وړ وه نو مسأله صحیح شوه، اوکه په هرې ډلې باندې خپلې برخې نه ویشل کیدې، نو د دوی عدد د مسألې په اصل کې او که عولیه وه د هغې په عول کې ضرب کړه، نوکوم څه چې را ووتل، مسأله ور څخه صحیح ده.

(٦) که د دوی برخې د دوی د (سرونو) د شمیر سره موافقی راغلې، نو د دوی د (سرونو) د شمیر توافق به په اصل مسأله کې ضرب کړای شي.

(۷) که له دوی څخه د دوو یا ډیرو ډلو برخې د تقسیم وړ نه وي، نو یوه ډله د دوی به په بله ډله کې ضرب کړای شي، بیا دې مجموعه په دریمه ډله کې ضرب او بیا دې د ټولو مجموعه په اصل د مسألې کې ضرب کړای شی.

(۸) که عددونه مساوي وو، نو یو له بل څخه کافي کیږي. لکه د مړي دوه ښځې او دوه وروڼه، نو دوه په اصل مسأله کې ضرب کړه.

(۹) که یو عدد له بل څخه جزء ؤ، نو غټ عدد له وړوکي څخه کافي کیږي. لکه څلور شپږ او دوه ورونه کله چې څلورو ته ضرب ورکړای شي نو کافي کیږي ستا لپاره د دوو ورونو له شمیر څخه.

(۱۰) که یو له دوو عددو څخه د بل عدد سره موافق ؤ، نو د دوی د یو وفق ته به په ټولو کې ضرب ورکړې. کله چې مسأله صحیح شوه، نو د هر وارث برخې ته په ترکه کې ضرب ورکړه، بیا یې مجموعه په هغه عدد وویشه چې فریضې ورڅخه صحت موندلی دی، نو پدې توګه به د وارث حق را څرګند شي.

## شرحه

عول په لغت کې میل (کږېدلو)، ظلم او زیادت ته وایي چې دلته یې معنا زیاتوالی دی او د میراث د علم په اصطلاح کې په مخرج کې زیاتوالی راوستل دي، په هغه صورت کې چې کله خپلو مستحقینو ته برخې نه شي رسولای.

## د میراث مسالو اصول:

د میراث د مسألو اصول اووه عدده دي. دوه، درې، څلور،شپږ، اته، دولس، او څلیریشت، چې دا د عول او عدم عول له مخې په دوه ډوله دي. یو هغه ا صول دي چې عول نه کوي او بل هغه دي چې عول کوي. هغه عددونه چې عول نه کوي څلور دي ۱- دوه ۲- درې ۳- څلور ٤- اته او هغه اصول چې عول پکې راځي هغه درې دي. ۱- شپږ ۲- دولس ۳- څلیریشت.

د شپږو اصل اوو، اتو، نهو، او لسو ته عول کوي. د دولسو اصل، دیارلسو، پنځلسو او اوولسو ته عول کوي.

او د څلیریشتو اصل اوویشتو ته عول کوي. په دې معنا چې شپږ څلور عوله لري، دولس درې عوله او څلیریشت یو عول لري.

**له شپږو څخه اووه ته د عول کولو مثال**: ښځه وفات شوه خاوند او دوه خويندې ترې پاتې شوې. د مسألې اصل شپږ دی او اوو ته عول کوي، د خاوند برخه درې او د خويندو څلور پدې ترتيب، ۳ + ٤= ۷.

**له شپږو نه اتوته د عول مثال**: ښځه مړه شوه خاوند، يوه خور او مور ورڅخه پاتې شول. د مسألې اصل شپږ دی او اتوته لوړيږي، خاوند او خور ته درې درې ورکول کيږي مورته دوه، پدې ترتيب ۲+۳+۳ = ۸

**له شپږو څخه نهو ته د عول مثال**: ښځه وفات شوه، خاوند دوه سکنۍ خويندې او دوه مورني ورونه ترې پاتې شول، د مسألې اصل شپږ دی او نهو ته عول کوي د خاوند درې، د سکنۍ خويندو څلوراو دوه مورنيو ورونو ته، پدې ترتيب ۳ + ٤ +۲= ۹

**له شپږو څخه لسو ته د عول مثال**: ښځه وفات شوه خاوند، يوه سکه خور دوه مورني ورونه، مور او يوه پلرنۍ خور ترې پاتې شول. د مسألې اصل شپږ دی او لسو ته عول کوي. درې د خاوند درې د خور، دوه د د دوو مورنيو ورونو، يوه د مور او د پلرنۍ خور هم يوه برخه کيږي، پدې ترتيب ۱+۱+۲+۳+۳ = ۱۰

دولس درې عوله کوي. ديارلسو، پنځلسو او اوو لسوته

**د دولسو نه ديارلسو ته د عول مثال**: احمد مړ شو. يوه ښځه، دوه سکه خويندې او مور ترې پاتې شول. د مسألې اصل دولس دی او ديارلسو ته عول کوي، د ښځې درې، د دوو خويندو اته او د مور دوه رسيږي، پدې ترتيب ۲+۸+۳ = ۱۳

**د دولسو نه پنځلسو ته د عول مثال**: توريالی مړ شو، يوه ښځه، دوه سکه خويندې، مور او مورنۍ خور ورڅخه پاتې شول. د مسألې اصل دولس او پنځلسو ته عول کوي، د ښځې درې، د خويندو اته، د مور دوه او د مورنۍ خورهم دوه رسيږي پدې ترتيب ۲+۲+۸+۳ = ۱۵

**د دولسو څخه اوو لسو ته د عول مثال**: ننګيالی وفات شو درې ښځې، اته سکه

خويندې، څلور مورنۍ خويندې او دوه نياګانې ترې پاتې شوې. دلته هم د مسألې اصل دولس دی او اوولسو ته عول کوي، دريو ښځو ته درې، د اتو خويندو ته اته دي، د څلورو مورنيو خويندو څلور کيږي او د دوه نياګانو ته دوه رسيږي، پدې ترتيب ۲+۴+۸+۳ = ۱۷.

**څليريشت يو عول کوي او هغه اوو ويشتو ته**

**د څليريشتو څخه اوووويشتو ته د عول مثال**: خالد وفات شو، يوه ښځه، پلار، مور او دوه لورګانې ورڅخه پاتې شوې. د مسألې اصل څليريشت او اوووويشتو ته عول کوي. د ښځې درې د پلار څلور، د مور هم څلور دي، او د دوه لورګانو شپاړس کيږي پدې ترتيب ۱۶+۴+۴+۳ = ۲۷

**د مسايلوتصحيح**

۱- که د هرې ډلې سهمونه په وارثانو ويشل کيدل بيا کوم ضرب او تقسيم ته اړتيا نشته بلکې همدا اصل صحيح دی، لکه: پلار، مور او دوه لوڼه. د مسألې اصل شپږ دی، پلار او مور ته يو يو اولوڼو ته ثلثان چې له شپږو څخه څلور دي ورکول کيږي، او هرې لور ته دوه دوه رسيږي.

۲- که د کومې ډلې سهمونه په دوی نه ويشل کيدل، خو د سهمونو او رؤوسو ترمنځ تباين و، نو ټول رؤوس به د مسألې په اصل يا عول کې که عايله وه ضرب کړل شي، څه چې راووتل هغه يې تصحيح ده، لکه: پلار، مور او درې لوڼه. د دې مسألې اصل د تيرې په شان شپږ دی، پلار او مور ته يويو اود لوڼو برخه څلور کيږي، ځنګه چې برخې څلور او رؤوس(د لوڼو شمير درې دی، څلور په دريو پوره نه ويشل کيږي، نو دلته به ټول رؤوس(۳) د مسألې په اصل کې چې شپږ دي ضرب کړل شي، د ضرب حاصل چې ۱۸ کيږي د مسألې تصحيح شميرل کيږي. د دې لپاره چې د هروارث برخه څرګنده شي، نو هرې ډلې چې د مسألې له اصل څخه څه وړي، هغه ته په ضريب کې چې دلته ۳ دي ضرب ورکول کيږي، نو پدې حساب سره مور اوپلار ته درې درې او ټولو لوڼو ته ۱۲ چې د هرې يوې ٤ سهمه کيږي ور رسيږي.

۳- که کسر بيا هم په يوه ډله و، خو د سهامو او رؤوسو ترمنځ توافق و، بيا دې وفق په اصل

مسأله کې ضرب شي، لکه: مور، پلار او شپږ لوڼه، دلته هم مسأله د شپږو څخه ده او هماغه شان ویشل کیږي، خو د لوڼو سهمونه څلور او شمیر یې شپږ دي، دلته د څلورو او شپږو تر منځ په دوو توافق موجود دی، یعنې دواړه په دوو ویشل کیږي، چې په میراث کې ورته توافق بالنصف وایي، شپږ چې په دوو وویشي دري کیږي، نو دریو ته په اصل مسأله کې چې شپږ دي ضرب ورکول کیږي، د ضرب حاصل یې ۱۸ کیږي او د دې څخه هرې لور ته دوه دوه رسیږي.

٤- که کسر د یوې ډلې څخه په زیاتو و، خو د سهامو او رؤوسو تر منځ تباین و، په دې صورت کې به رؤوس په خپل منځ کې ضرب کړې، بیا به یې د ضرب حاصل په اصل مسأله کې ضرب کړي، څه چې راووتل هغه د مسألې تصحیح ده، لکه: دوه ښځې، دري لوڼه او پنځه ترونه. دلته د مسألې اصل ۲٤ دی، ښځو ته اتمه چې د څلیرشتو څخه دري، او ثلثان د لوڼو چې د څلیریشتو څخه ۱٦ او نور پاتې مال ترونو ته ورکول کیږي. که مسألې ته ځیر شو کسر د ښځو او لوڼو په ډله لیدل کیږي، د ښځو سهمونه دري او شمیر یې دوه دی نو ترمنځ یې تباین د ی، همدا راز د ۱٦ او ۳ ترمنځ، نو د لته داسې عملیه اجرا کوو: ۲× ۳ = ٦ × اصل مسأله(۲٤)= ۱٤٤. د ښځو برخه ۱۸ هرې ښځې ته۹، ۹ رسیږي، د لوڼو برخه ۹٦ چې هرې لور ته ۳۲ رسیږي او د ترونو برخه ۳۰ چې هر یو ته ٦، ٦ رسیږ.ي.

٥- که د هرې ډلې په کومې چې کسر دی، د سرونو شمیر سره مساوي و، نو یو عدد له ټولو څخه کافي دی او همدا به په اصل مسأله کې ضرب کړي، لکه: دوه ښځې او دوه ترونه، د دې مسألې اصل ٤ دی، څلورمه یې یو دی د ښځو کیږي او پاتې دري د ترونو دي. دلته دوه په څلورو کې ضربو، چې د ضرب حاصل یې ۸ دی، ښځو ته دوه چې هرې یوې ته یو یو رسیږي او د ترونو برخه شپږ، چې هر یو ته ۳، ۳رسیږي.

٦- که د مکسورو رؤوسو تر منځ تداخل و، نو غټ عدد ته به د مسألې په اصل کې ضرب ورکړي، د ضرب حاصل یې د مسألې تصحیح ده، لکه ٤ ښځې او ۲ ورونه، دلته هم د مسألې

اصل ٤ دی، د ښځو یو او د ترونو ۳ سهمه دي، نو ٤ په ٤ کې ضربوو، چې مجموعه یې ١٦ کېږي، هرې ښځې ته یو یو او هر ورو ته ٦،٦ رسیږي.

٧- که مکسورو رؤوسو پخپل منځ کې توافق درلود، نو د یو وفق ته په بل ټول عدد کې ضرب ورکړه او بیا د ضرب حاصل ته په اصل مسأله کې،لکه: ٤ ښځې او شپږ وروڼه، دلته هم د مسألې اصل ٤ دی، د ښځو یو او د ورڼو ۳ سهمه دي، خو د څلورو او شپږو تر منځ توافق بالنصف دی، نو د څلورو نصف دوه دی، چې په شپږو کې ضربیږي او د ضرب حاصل یې دولس کیږي او دا دولس په څلورو کې چې د مسألې اصل دی ضربیږي، مجموعه یې اته څلوېښت کیږي، د دې څخه هرې ښځې ته درې درې او هر ورور ته شپږ شپږ رسیږي.

## د ترکې څخه د هر وارث برخه معلومول

که غواړې چې د هر وارث برخه د ترکې څخه معلومه کړئ، نو د هر وارث برخې ته په ترکه کې ضرب ورکړه، خه چې راووتل بیا هغه د مسألې په تصحیح و ویشه لکه: د یو مړي څخه ٢٤٠٠٠ افغانۍ په میراث پا ته شوي، وارثان یې یوه ښځه، یوه لور او درې زامن دي.

**حل**: د مسألې اصل ٨ دی، ښځې او لور ته یو یو سهم او هر زوی ته دوه دوه سهمه رسیږي. اوس که غواړو چې د هر یو برخه د ترکې څخه چې ٢٤٠٠٠ افغانۍ دي معلومه کړو، لاندې عملیه اجرا کوو:

**د ښځې او لور برخه**: ١× ٢٤٠٠٠ تقسیم ٨= ٣٠٠٠، نو پدې حساب سره ښځې او لور ته درې درې زره افغانۍ رسیږي.

**د زامنو برخې**: ٢× ٢٤٠٠٠تقسیم ٨= ٦٠٠٠، نو هر زوی ته ٦٠٠٠ افغانۍ رسیږي. په لنډ حساب سره ویلای شو: اتلس زره افغانۍ د زامنو، درې زره د لور او درې زره افغانۍ د ښځې حق کیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په ټولګي کې د ځلیریشتو څخه اوو ویشتو ته د عول مسئله تمثیل او حل کړي.

## ارزونه

۱- عول د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ.

۲- شپږ څو عوله کوي یو مثال یې ولیکئ ؟

۳- د میراث د مسألو اصول څو دي ؟

٤- دولس څو عوله کوي یو یې په مثال کې واضح کړئ.

# مناسخه

(١) المناسخة

(٢) فَإِنْ لَمْ تُقْسَمْ التَّرِكَةُ حَتَّى مَاتَ أَحَدُ الْوَرَثَةِ، فَإِنْ كَانَ نَصِيبُهُ مِنَ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ يَنْقَسِمُ عَلَى عَدَدِ رُءُوسِ وَرَثَتِهِ، فَاقْسِمْهُ وَقَدْ صَحَّتْ مِنْهُ الْمسألة، وَإِنْ لَمْ يَنْقَسِمْ، صَحَّحْتَ فَرِيضَةَ الْمَيِّتِ الثَّانِي بِالطَّرِيقَةِ الَّتِي ذَكَرْنَاهَا، ثُمَّ ضَرَبْتَ إِحْدَى الْمسألتَيْنِ فِي الْأُخْرَى.

(٣) إِذَا لَمْ يَكُنْ سِهَامُ الْمَيِّتِ الثَّانِي تُوَافِقُ مَا صَحَّتْ مِنْهُ فَرِيضَتُهُ، فَإِنْ كَانَتْ سِهَامُهُمْ مُوَافِقَةً، فَاضْرِبْ وَفْقَ الْمسألةِ الثَّانِيَةِ فِي الْأُولَى، فَمَا اجْتَمَعَ صَحَّتْ مِنْهُ الْمسألتَانِ.

(٤) فَكُلُّ مَنْ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمسألةِ الْأُولَى، يَأْخُذُهُ مَضْرُوبًا فِيمَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْأَلَةُ الثانية فِي وَفْقِ الْمسألةِ الثَّانِيَةِ، وَكُلُّ مَنْ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمسألةِ الثَّانِيَةِ، يَأْخُذُهُ مَضْرُوبًا فِي وَفْقِ تَرِكَةِ الْمَيِّتِ الثَّانِي.

(٥) وَإِذَا صَحَّحْتَ مسألةَ الْمُنَاسَخَةِ، وَأَرَدْتَ مَعْرِفَةَ نَصِيبِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ حَبَّاتِ الدِّرْهَمِ، قَسَمْتَ مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمسألةُ عَلَى ثَمَانِيَةٍ وَأَرْبَعِينَ، فَمَا خَرَجَ أَخَذْتَ لَهُ مِنْ سِهَامِ كُلِّ وَارِثٍ حَبَّةً.

## ژباړه

(١) مناسخه

(٢) كه تركه تر هغه وخته تقسيم نه شوه تر څو چې له وارثانو څخه يو تن مړ شو، كه برخه يې د لومړي مړي د وارثانو د سرونو په شمير تقسيميده، نو تقسيم يې كړه، په تحقيق سره مسأله له دې څخه صحيح شوه. او كه نه تقسميده، نو د مړي ميراث په هغه طريقه صحيح كړه، چې

مونږ ذکر کړه، نو بیا به یوې(مسألې) ته په بله کې ضرب ورکړي.

(۳) که د دویم مړی سهم د لومړۍ مسألی سره توافق نه درلود، هغه چې د میراث مسأله یې ورڅخه صحیح کیږي، که سهمونو یې د سرونو سره توافق درلود، نو بیا د دوهمې مسألی وفق ته په لومړۍ کې ضرب ورکړه، څه چې راووتل، دواړه مسألې به ورڅخه صحیح شي.

(٤) نو هر څوک چې یو څه د لومړۍ مسألې څخه لري، نو د دویمې مسألې په وفق کې به یې په ضرب ورکولو سره اخلي، او هر څوک چې یو څه شی د مسألې څخه لري، نو هغه د دویم مړي د ترکې په وفق کې ضرب کړه.

(٥) هرکله چې د مناسخې مسأله صحیح شوه، او تا غوښتل چې د حباتو له درهم څخه د هر یوه برخه وپیژنې، نو له کوم څخه چې مسأله صحیح شوه، هغه به په اته څلویښتو تقسیم کړې. نو څه چې را ووتل نو دده لپاره به د هر وارث له سهم څخه یوه دانه واخلي.

## شرحه

مناسخه د مفاعلې له باب څخه ده چې لغوي معنا یې نقلول دي او د میراث د علم په اصطلاح کې په مرگ سره د ځینو وارثانو د برخو نقلول دي پخوا له تقسیم څخه هغه چا ته چې له ده څخه میراث وړي.

### د مناسخې حالات

مناسخه درې صورته لري چې په لاندې ډول بیانیږي.

لومړی صورت: کله چې میراث تقسیم نشي تر دې چې یو وارث مړ شي، نو اول باید د لومړي مړي مسأله تصحیح شي. لکه لاندې مثال: یو سړی مړ شو یوه ښځه، یوه سکه خور او څلور اکاگان ورڅخه پاتې شول. بیا میراث تر هغه وخته تقسیم نه شو چې یو اکا یې مړ شو. او هغه د خپل وروڼو څخه پرته بل وارث نه درلود، نو مسأله له څلورو حل کیږي، یوه برخه د ښځې، د خور نیم چې دوه دي او د اکاگانو یوه برخه میراث شو، چې دا په اکاگانو د تقسیم وړ نه

دی، دلته به څلور په څلورو کې ضرب کړي، چې مجموعه شپاړس کيږي. نو د ښځې څلور برخې، د خور اته برخې او د اکاګانو څلور برخې شوې، چې د هر يوه يو، يو سهم رسيږي، نو څنګه چې د مړ اکا سهم د لومړی مسألې څخه يو دی، نو په دريو ورونو سم نه تقسيميږي، نو دري په شپاړسو کې ضرب کړه، چې اته څلويښت شي، پدې حساب د ښځې دولس برخې، د خور څليريشت او د دريو اکاګانو دولس برخې رسيږي، چې د هر يو يې څلور برخې اخلي.

**دويم د توافق صورت**: کله چې د سهمونو او د ميرا ث خاوندانو ترمنځ توافق و، لکه خاوند او دوه ورونړه، دا مسأله د څلورو څخه صحيح کيږي، بيا ميړه مړ شو او د ځان څخه وروسته يې څلور زامن پريښودل، څنګه چې زوج ته د اصل مسألی څخه دوه رسيدلی، نو د دی څلورو او دوو ترمنځ توافق بالنصف موجود دی، نو دوه په څلورو کې ضربوو، چې مجموعه يې اته کيږي او له همدې څخه دواړه مسألی تصحيح کيږي، چې څلور د ورونړو او څلور د ميړه د اولاد شوی.

**دريم د تبائن صورت**: د مړي څخه ميړه(زيد) مور(سميه)، پلار(محمد) او يو زوی(احمد) پاته شول، د دې مسألې اصل دولس دی، بيا زوی(احمد) مړ شو، چې له ځان څخه وروسته يي زوی(سهيل) پلار(زيد) نيا(سميه) او نيکه(محمد) پريښودل، او دوی هغه کسان دي چې لومړی مړی پريښي وو، مړی(احمد) له دولسو څخه پنځه په لاس کې لري، او د ده(احمد) د خپلې مسألې اصل شپږ دی، د دواړو(د مافي اليد(٥)او مسألې(٦)) ترمنځ تباين دی، نو دويمې مسألې ته په اوله کې ضرب ورکړه، يعني شپږو ته په دولسو کې، چې حاصل يې دوه اويا کيږي. زيد چې په لومړی مسأله کې ميړه او په دويمه کې پلار دي، ١٨ د لومړی او پنځه د دويمې څخه اخلي چې مجموعه يې(٢٣) کيږي اخلي، نيکه(محمد) لپاره په دويمه کې هيڅ شی نشته، ځکه چې دا د مور پلار دي، د مور(سميه) لپاره چې په لومړی کې مور ده (١٢) دي او په دويمه کې نيا ده(٥) کيږي، اخلي، چې د دواړو حقونو مجموعه يې اوولس ده او زوی يواځې په دويمه کې دی او له همدې څخه شل اخلي.

**د تصحيح څخه وروسته د هر وارث برخه معلومول**

کله چې د مناسخې مسایل تصحیح شول، نو ټول هغه وارثان چې د لومړۍ مسألې څخه یې څه وړي، هغه به د دویمې مسألې په وفق کې ضرب کړې، که مضروب وفق و او یا به یې په ټوله کې ضرب کړي او چا چې د دویمې څخه څه وړي وي، هغه به د مافي الید( د دویم مړي ترکې) په وفق یا ټول کې ضرب کړي.

## ارزونه

۱. مناسخه د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ.

۲. مناسخه څو صورته لري ؟ هر صورت یې روښانه کړئ.

۳. د مناسخې د مسایلو د تصحیح څخه وروسته د هر وارث برخه څنګه معلومیږي؟ په مثال کې یې روښانه کړئ.